د علماو، طلباو، مقررینو او عامو مسلمانانو دپاره په مختلفو موضوع ګانو باندې

د تقریرونو یوه مفصله، معتمده، علمي، او تحقیقي ذخیره:

# اِصلاحي

# مُدلّل تقریرونه

اووم جلد


تألیف:

ابو الشمس مولانا نور الهدیٰ عفی عنه

مدرس دار العلوم فیض القرآن اکاخیل کالونی، مردان



زیر اهتمام

کفایت الله ازمانی

0344-9995990

مکتبه اعزازیه محله جنګی پشاور

جاده میوند پخته فروشی کابل: 0764857797

د عُلماو ، طُلباو ، مُقرّرينو او عامو مسلمانانو د پاره په مختلفو موضوع گانو باندې
د تقريرونو يوه مُفصّله ، مُعتمَده ، عِلمي ، او تحقيقي ذَخِيره :

# اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنه

جلد ۷

**تقديم**

نَضِيلَةُ الشَّيْخ ، أُسْتَاذُ الْعُلَمَاء **مولانا عبدالباقي حقاني صاحب** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَة
د دارالعلوم حقانيه اکوړه ختک د سياسي علومو اُستاذ

**تاليف**


اَبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدٰى عُفِيَ عَنْهُ
مُدَرِّس دَارُالعلوم فيضُ القُرآن اکاخيل کالونی ، مردان

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**د کتاب نوم:** اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنه جلد ۷

**تقديم:** فَضِيْلَةُ الشَّيْخ، اُسْتَاذُ الْعُلَمَاء
**مولانا عبدالباقي حقاني صاحب** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَة
د دارالعلوم حقانيه اکوړه خټک د سياسي علومو اُستاذ


**مؤلف:** اَبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدٰى عُفِيَ عَنْهُ
مُدَرِّس دَارُالعلوم فيضُ القُرآن اکاخيل کالونی مردان
فون نمبر ۰۳۰٦ ۵۴۴۷۱۷۴


**کمپوزر:** مؤلف پخپله


**د چاپ کال:** ۱٤۳۹هـ ق ، ۱۳۹٦هـ ش، مطابق ۲۰۱۸ ء

**مکتبه اعزازيه**
محله جنگي پشاور

**زير اهتمام:** کفايت الله ارماني ۰۳٤٤-۹۹۹۵۹۹۰



**نوټ:** د کتاب ټول حقوق د مکتبه اعزازيه سره محفوظ دي

# تقديم

## فَضِيلَةُ الشَّيخ، أُستَاذُ العُلَمَاء مولانا عبدالباقي حقاني صاحب

دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ العَالِيَة

د دارالعلوم حقانيه اکوړه خټک د سیاسي علومو اُستاذ

**حالاً**: مَكّةُ المُكَرّمة

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ خَلَقَ الإِنْسَانَ وَبِيَدِهِ زِمَامُ الهُدٰى، رَفَعَهُ وَأَسْعَدَهُ بِنُوْرِ الهُدٰى كَمَا صَرَّحَ بِهِ إِمَامُ الهُدٰى، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الأَنْبِيَاءِ وَإِمَامِ الخُطَبَاءِ، مُحَمَّدِ ﷺ المُصْطَفٰى وَرَسُوْلِهِ المُجْتَبٰى، وَعَلٰى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ الَّذِيْنَ هُمْ رُؤَسَاءُ المُصْلِحِيْنَ وَسَادَاتُ الخُطَبَاءِ، وَعَلٰى مَنْ تَبِعَهُ وَتَبِعَهُمْ فِيْ إِعْدَادِ الخَطِيْبِ إِلٰى يَوْمِ الجَزَاءِ.

الله تعالی انسان د خپل عبادت د پاره پیدا کړی، او دده د رُشد او هدایت لپاره یې پیغمبران علیهم الصّلاة والسلام رالیږلي، د آخري پیغمبر نه وروسته د پیغمبرانو سلسله ختمه شوی، او د دوی مَنصبي فرض علماو ته سپارل شوي، د رسول الله صلی الله علیه وسلم وینا ده: اَلعُلَمَاءُ وَرَثَةُ الأَنْبِيَاءِ. علماء د انبیاو وارثان دي.

د علماو دا فرض دي چې خلک د الله تعالی په دین پوهه کړي، او په دِین باندې د عمل لپاره یې آماده کړي.

په دین باندې د عمل لپاره په قرآن او سُنت کې د ترغیب او ترهیب دواړه طریقې بیان شوي دي، د سالِم فطرت خاوندانو لپاره یوازې ترغیب کفایت کوي، او په دین کې د کمزورو خلقو لپاره د ترهیب ضرورت هم وي.

خلکو ته د ترغیب او ترهیب په مؤثرې طریقې سره بیانولو په وجه په انسان باندې یو ښه اَثر کیږي، او په نتیجه کې په دین باندې عمل ته آماده کیږي.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : إِنَّ مِنَ الْبَيَانِ لَسِحْرًا .
د ځینې خلکو ویناوې د سِحر په شان په خلکو کې اَثر کوي .
د علماو د پاره ضروري ده چې په مؤثرې طریقې سره د خلکو راهنمایي اوکړي تر څو د خلکو د اِصلاح ذریعه اوګرځي .

د خِطابت په فن کې متقدّمینو ، متأخرینو او معاصرو علماو په مختلفو ژبو کې کتابونه لیکلي دي ، جَزَاهُمُ اللهُ خَيْرًا .

د هر کتاب خپل خپل خصوصیات وي ، البته په پښتو ژبه کې تر اُوسه یو جامِع او زړه پورې کتاب موجود نه ؤ ، د وخت تقاضا وه چې د خطیبانو حضراتو لپاره په پښتو ژبه کې یو جامِع کتاب اولیکلې شي تر څو د دوی عِلمي ضرورتونه پوره شي ، او په مؤثرې طریقې سره د خلکو راهنمایي وکړي .

اَلحمدُ لله دغه تَشه او د وخت ضرورت په مردان کې د دارالعلوم فیض القرآن مُمتاز مُدرِّس **مولانا نُورالهدیٰ صاحب** دامت برکاتهم العالیة پوره کړ ، او داسې بې مِثاله او جامِع کتاب یې د " اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنه " په نامه د خطیبانو حضراتو خدمت ته پیش کړ چې د نورو کتابونو د مطالعې نه یې مُستغنِي کړل ، او د اسلامي کتب خانې د پښتو حصه یې غني وګرځوله ، په هره موضوع کې یې د کتابُ الله ، د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم د سُنتو نه اِستدلال کړی ، ددینه نه لازیات یې د اَسلافو علماو اَقوال ، او د موضوع سره مناسب د صالحینو واقعات هم بیان کړي دي . جَزَاهُ اللهُ خَيْرًا .

دا کتاب په اُووه ( ۷ ) جلدونو مشتمل دی ، او ماشاء الله د مؤلِف حوصله نوره هم مضبوطه ده ، او دا سلسله یې جاري ساتلې ده .

الله تعالی یاد کتاب ته دومره مقبولیت عطاء کړی چې په کم وخت کې څو کرت چاپ شوي ، مختلفو ژبو ته ترجمه شوي ، او د زیاتو خطیبانو د توجُه وَړ ګرځیدلې دی .

هر هغه خطيب چې په مؤثرې طريقې سره د خلکو د رُشد او اصلاح عَزم لري د دې کتاب څخه به مُستغني نه وي .

اَلحَمدُلِلّٰهِ . زيرِ نظر کتاب د رُومبنيو حِصو د بِالاستيعاب کتَنې شرَف راته حاصل شوی ، او وروستنی حصې مو اِنتخابًا اوکتلی ، ماشاءالله په هره موضوع او عنوان د مُؤلِف د اِخلاص آثار ښکاري .

دده د اِخلاص د آثارو نه دا هم دی چې کله نوموړي د بنده نه په خپل کتاب د نظر د ليکنې غوښتنه اوکړه نو څه وخت روسته په حرمينو شريفينو کې په دې کتاب د نظر د ليکنې موقع راته پيدا شوه ، او ددې سره سره مو مؤلِف او دده کتاب ته د قبوليت دُعاوې هم اوکړی .

د يادونې وَړ ده چې مؤلِف حَفِظَهُ الله ددې کتاب نه وړاندې هم د طالبانو د عِلمي اِستعداد د اُوچتولو په مُوخه يو زړه پورې کتاب د " أَلأَسْئِلَةُ وَالأَجْوِبَةُ الْفَاضِلَةُ لِتَشْحِيْذِ الأَذْهَانِ الْكَامِلَةِ " په نامه ليکلی چې په عِلمي حلقاتو کې اهلِ عِلمو ترې ډيره فائده واخيسته ، او د اهلِ علمو د پوره توجُه وَړګرځيدلی .

او ددينه علاوه په دې اَواخِرو کې يې په مختلفو ژبو ( پښتو ، اُردو ، فارسي ، عربي او انګريزي ) کې د خطابت په موضوع يو نادر کتاب د " **هر تقرير په مُختلفو ژبو کې** " په نامه خطيبانو ته ډالی کړی .

عرض دا چې مؤلِف په عِلمي دُنيا کې زړه پورې خدمت کړی ، او په داسې موضوعاتو يې قلم اُوچت کړی چې د وخت اَهم ضرورت او تقاضا ده ، او په دې موضوعاتو د وړاندينې علماو کافي او شافِي ليکنه هم وجود نه لري .

په عِلمي حلقاتو کې د مشرانو علماو دا عِلمي فرض دی چې د داسې بااِستعداده ليکوالانو علماو حَوصلې اُوچتې کړي ، او د دوی عِلمي خدمت ته د قدر په سترګه اوګوري ، او مؤلِف لازيات عِلمي خدمت ته تَشويق کړي .

او د هَمزولو او کشرانو دا فرض دي چې دداسې عِلمي خدمتونو څخه فائده واخلي ، په ليکنه کې د داسې ليکوالانو د تجربو څخه فايده اُوچته کړي ، او خپل عِلمي ضرورت ترې پوره کړي .

الله تعالی دې د مؤلِف دا عِلمي خدمتونه په خپل دَربار کې قبول کړي ، د مسلمانانو د اصلاح ذريعه دې يې وګرځوي ، دده او دده د والدينو اُستاذانو او ټولو ذَوِی الحُقوقو لپاره دې صدقهٔ جاريه اوګرځوي ، او په راتلونکې کې دې الله تعالی د مزيد خدمت توفيق ورکړي ، او دده لپاره دې يې الله تعالی د هغې ورځې د نِجات ذريعه اوګرځوي په کومه ورځ چې لَا يَنْفَعُ مَالٌ وَّلَا بَنُوْنَ . اِلَّا مَنْ اَتَى اللهَ بِقَلْبٍ سَلِيْمٍ .

وَمَا ذٰلِكَ عَلَى اللهِ بِعَزِيْزٍ.

وَصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ

**عبدالباقي حقاني**

د دارالعلوم حقانيه اکوړه خټک د سياسي علومو استاذ

**حالاً : مکة المکرّمة.**

٢٨ / ١ / ٢٠١٨

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# سریزه ( د اووم جلد )

نَحْمَدُهٗ وَنُصَلِّيْ عَلٰی رَسُوْلِهِ الْکَرِیْمِ ، اَمَّابَعْدُ!

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ، اَلشُّکْرُ لِلّٰهِ . ددې کتاب اُووم (۷) جِلد هم د اَهمو موضوع ګانو په شمول پوره شو ، تاسو یقین اوکړئ چې د مدرسې د دَرسي کتابونو د مُطالعې او د دَرس د ټائِم نه علاوه نور مسلسل ټوله ورځ تر د شپې د یوې بجې پورې دا ټول وخت ما ددې کتاب تالیف ته وقف کړی .

د شپږم جِلد په آخِر کې مې چې په کومو موضوع ګانو باندې د لیکلو تذکره کړې وه په هغې کې بعضې په دې جِلد کې اُولیکلې شوی ، او باقي پاتې به اِنْ شَاءَ الله په راتلونکي **آتم** (۸) **جلد** کې اُولیکم ، **د الله** ﷻ **په توفیق سره به** اِنْ شَاءَ الله **دا سلسله همداسې جاري وي .**

ربِ کریم دې دا ټول کتابونه د خپلې رضا ذریعه اوګرځوي ، پروَردګارِ عالَم دې دا د معاشرې د اِصلاح سبب اُوګرځوي ، او رَبِّ لایَزال دې دا کتابونه زما ، زما د والدینو ، اُستاذانو او ټول اُمتِ مسلمه د پاره د مغفرت او نِجات ذریعه اوګرځوي .

آمِیْن یَارَبَّ الْعَالَمِیْن .

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ

ستاسو د دُعاؤ اُمیدوار :

**ابوالشمس نُورُالهدٰی عفی عنه**

**نوټ** : که د کتاب متعلق یا بله څه مفیده مشوره وي نو مُؤلِف سره په دې نمبر رابطه کولې شئ . موبائل نمبر : ۵۴۴۷۱۷۴ ۰۳۰۶

# اِظهارِ تَشَكُّرُ ( مَنَنَه )

زه د خپل مشر ورور ، فَضِيلَةُ الشَّيخ ، جَامِعُ المَعقُول وَالمَنقُول ، مُجَاهِدِ كبير ، صَاحِبُ التَّألِيفَاتِ الكَثِيرَة ، اُستَاذِي وَ اُستَاذُ العُلَمَاء

اَلحاج **مولانا عبدالباقي حقاني صاحب** دَامَت بَرَكَاتُهُمُ العَالِيَة

د دارالعلوم حقانيه اکوړه خټک د سياسي علومو اُستاذ

د زړه د کومې مَنَنَه او شکريه اَداء کوم چې دوی د تدريس ، د کتابونو د تاليف او نورو ډيرو عِلمي مصروفياتو باوجود بيا هم زما کتاب ته پوره تَوَجُّه ورکړه ، او سَږ کال د عُمرې په دې بَابرکته سفر او قيمتي لمحاتو کې يې په حرمَينو شريفَينو کې په دې کتاب باندې داسې د عِلم نه ډک تقريظ اوليکل چې د تبَرُّک سره سره يې ديته بې مثاله حُسن هم وَرداِلى کړو ، همدارنګې ددې کتاب د اِفاديت او مقبوليت د پاره يې خصوصي دُعاګانې هم اوکړې ، الله ﷻ دې دوی ته ددې اَجر په دواړه جهانه ورکړي .

د تَحدِيث بِالنِّعمَة په طور دا خبره کوم : الله رب العزت چې زما دې کتاب "اِصلاحي مُدلَّل تقريرونه" ته دا څومره مقبوليت ورکړې نو ددې سَرچشمه ، بُنياد او د مقبوليت راز زمونږ د والدينو دُعاګانې او زمونږ همدا اُستاذِ محترم دی، دا خو د دوی د ښه تربيت ، سَرپرستۍ ، او راهنمايۍ نتيجه ده چې الله ﷻ ما عاجز بنده ته هم ددې عظيم دِيني خدمت توفيق رانصيبه کړو . اَلحَمدُ لِلّٰه، اَلشُّکرُ لِلّٰه

الله ﷻ دې د دوی د شَفقت دا سورې زمونږ په سرونو باندې هميشه قائِم لري ، ربِ کريم دې دوی ته د دواړو جهانو سعادت او خوشحالي ور نصيبه کړي .

آمِين يَارَبَّ العَالَمِين

**ابوالشمس نُورُالهدٰی عفٰی عنه**

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# اجمالي فهرست


| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱. | تَقْدِيْم : فَضِيْلَةُ الشَّيْخ ، اُسْتَاذُ العُلَمَاء مولانا عبدالباقي حقاني صاحب دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ العَالِيَة . د دارالعلوم حقانيه اکوړه خټک د سياسي علومو اُستاذ | ت |
| ۲. | سريزه ( د اُووَم جلد ) | خ |
| ۳. | اِظهارِ تشکّر ( مننه ) | د |
| ۴. | ۱. په اِسلام کې د مانځه اهميت او مقام | ۱ |
| ۵. | ۲. د مانځه فضائل او فوائد | ۵۸ |
| ۶. | ۳. بغير عُذره د مونځ پريخودلو سزاګانې او نقصانات | ۱۲۰ |
| ۷. | ٤. په جَمعې سره د مونځ کولو اهميت او فضائل | ۱۷۹ |
| ۸. | ۵. بغير عُذره د جَمعې پريخودو سزاګانې | ۲۵۴ |
| ۹. | ٦. په مانځه کې د خُشوع اهميت او فضائل | ۲۷۹ |
| ۱۰. | د ټول مونځ معنٰى | ۳۳۷ |
| ۱۱. | خوشخبري ( د اَتم جِلد ) | ۳۴۲ |

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# تفصيلي فهرست



| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱. | تَقۡرِيۡم : فَضِيۡلَةُ الشَّيۡخ، أُسۡتَاذُ الۡعُلَمَاء **مولانا عبدالباقي حقاني صاحب** دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَة . د دارالعلوم حقانيه اکوړه خټک د سياسي علومو اُستاذ | ت |
| | سريزه ( د اُووَم جلد ) | خ |
| | اِظهارِ تشکّر ( مَنَنه ) | د |
| | **۱. په اِسلام کې د مانځه اهميت او مقام** | ۱ |
| ۲. | د مانځه اَهميت | ۳ |
| ۳. | مونځ په هر عاقِل بالِغ مسلمان باندې فرضِ عين دی | ۳ |
| ۴. | په قرآن کريم کې د مانځه تذکره | ۴ |
| ۵. | د مانځه فرضيت | ۵ |
| ٦. | مسلمانانوته د مانځه حکم | ۵ |
| ۷. | په خپله نبي عليه السلام ته د مانځه حکم | ۷ |
| ۸. | الله تعالی د کاميابه مؤمنانو اَوّلنې او آخِرنې عَمل مونځ ذکر کړی | ۷ |
| ۹. | په صبر او مانځه سره د مدد حاصلولو حکم | ۸ |
| ۱۰. | په قرآن مجيد کې د نورو عباداتو په نسبت د مانځه تذکره او اَحکامات زيات.. | ۹ |
| ۱۱. | مونځ په مخکيني شريعتونو کې هم ؤ | ۱۰ |
| ۱۲. | د حضرت ابراهيم عليه السلام په نزد د مانځه اَهميت | ۱۰ |
| ۱۳. | حضرت اسماعيل عليه السلام به هم خپل کور واله ؤ ته د مانځه حکم کولو | ۱۱ |
| ۱۴. | حضرت لقمان عليه السلام هم ځوي ته د مانځه قائمولو حکم کړې ؤ | ۱۱ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۱۵. | حضرت موسی علیه السلام او حضرت هارون علیه السلام ته د مانځه حکم | ۱۲ |
| ۱٦. | د بني اِسرائیلو نه د مونځ متعلق کلکه وعده اخیستل شوې وه | ۱۲ |
| ۱۷. | په قرآن کریم کې د حضرت عیسیٰ علیه السلام د مانځه تذکره | ۱۲ |
| ۱۸. | په قرآن کریم کې د حضرت زکریا علیه السلام د مانځه تذکره | ۱۳ |
| ۱۹. | مونځ د اِسلام په بُنیادي اَرکانو کې دویم غټ رُکن دی | ۱۳ |
| ۲۱. | مونځ د دِین ستَن ده | ۱۴ |
| ۲۲. | د نبي علیه السلام آخري وصیت د مانځه متعلق وُ | ۱۴ |
| ۲۳. | د اِسلام راوړو نه پس اول د مونځ تعلیم ورکول | ۱۵ |
| ۲۴. | د الله ﷻ په نزد محبوب ترین عبادت په خپل وخت باندې مونځ کول دي | ۱٦ |
| ۲۵. | په قیامت کې به د انسان سره د ټولو نه مخکې د مونځ حِساب کولې شي | ۱۸ |
| ۲٦. | مونځ د نبي علیه السلام د سترګو یَخوالې دی | ۱۹ |
| ۲۷. | بغیر د مونځ نه دِین کامِل ندی | ۲۰ |
| ۲۸. | حضرت عُمر رضی الله عنه د مانځه متعلق سَرکاري فرمان صادِر کړې وُ | ۲۱ |
| ۲۹. | مونځ کوونکې د الله ﷻ سره مُناجات کوي | ۲۲ |
| ۳۰. | د مُلاعلي قاري رحمه الله وینا | ۲۲ |
| ۳۱. | مونځ د مُومن مِعراج دی | ۲۳ |
| ۳۲. | د شاه ولي الله رحمه الله وینا | ۲۴ |
| ۳۳. | د امام غزالي رحمه الله وینا | ۲۵ |
| ۳۴. | مونځ د ټولو فرښتو او د ټولو مخلوقاتو د عبادت مجموعه او جامِع عبادت.. | ۲۵ |
| ۳۵. | مونځ نبي علیه السلام ته د مِعراج په شپه باندې په تُحفه کې ورکړل شوی | ۲٦ |
| ۳٦. | **دا هر مونځ اول په مخکیني پیغمبرانو کې یو پیغمبر کړی** | ۲۹ |
| ۳۷. | د سهَر مونځ د ټولو نه مخکې حضرت آدم علیه السلام کړی | ۲۹ |
| ۳۸. | د ماسپخین مونځ د ټولو نه مخکې حضرت ابراهیم علیه السلام کړی | ۳۰ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۳۹. | د مازيګر مونځ د ټولو نه مخکې، حضرت يونس عليه السلام کړې وُ | ۳۱ |
| ۴۰. | د ماښام مونځ د ټولو نه مخکې حضرت داؤد عليه السلام کړی | ۳۳ |
| ۴۱. | د ماسخوتن مونځ د ټولو نه مخکې حضرت موسی عليه السلام کړی | ۳۴ |
| ۴۲. | د ماسخوتن د مانځه په باره کې دويم قول | ۳۵ |
| ۴۳. | د انسان مَقصدِ حيات | ۳٦ |
| ۴۴. | په ټولو کائناتو کې مُعزز او ښائسته بني آدم دی | ۳٦ |
| ۴۵. | ټول کائنات د انسان د فائدې د پاره پيدا شوي | ۳٦ |
| ۴٦. | انسان صرف د الله ﷻ د عبادت د پاره پيدا شوی | ۳۸ |
| ۴۷. | مَنطِقي طرزِ استِدلال | ۳۸ |
| ۴۸. | د عباداتو فردِ کامِل مونځ دی | ۳۸ |
| ۴۹. | په کومه زمکه چې مونځ اوشي دا په نورو زمکو فخر کوي | ۴۰ |
| ۵۰. | د مونځ ګزار تعظيم | ۴۰ |
| ۵۱. | اولاد ته د مانځه حکم | ۴۱ |
| ۵۲. | د مانځه سره د نبي عليه السلام مِينه | ۴۲ |
| ۵۳. | په غزوه خَندق کې د مونځ قَضا کيدو په وجه کافرانو ته سختې خېرې کول | ۴۵ |
| ۵۴. | **د صحابه کرامو د مانځه سره مينه** | ۴٦ |
| ۵۵. | حضرت عُمر رضي الله عنه د زخمي کيدو باوجود مونځ اوکړو | ۴٦ |
| ۵٦. | حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د ضرورت باوجود بيا هم مونځ پرې نه خُود | ۴۸ |
| ۵۷. | د مانځه سره د حضرت فاطمې رضي الله عنها مِينه | ۴۹ |
| ۵۷. | په غشي باندې د لړيدو باوجود مونځ او تلاوت جاري ساتل | ۴۹ |
| ۵۸. | د شهيد کيدو نه مخکې د مونځ کولو خواهش کول | ۵۱ |
| ۵۹. | **د نورو اسلافو د مانځه سره مِينه** | ۵۲ |
| ٦۰. | اويس قرني رحمه الله به ټوله شپه په عبادت کې مشغول وُ | ۵۲ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۶۱. | امام ابو يوسف رحمه الله به د ورځې دوه سوه ركعته نفل كول | ۵۲ |
| ۶۲. | رابعه بصريه به په شوارُوز كې زر ركعته نفل كول | ۵۲ |
| ۶۳. | حضرت داؤد عليه السلام ته د الله ﷻ وَحي | ۵۴ |
| ۶۴. | د يوې ويِنځې د مانځه سره مِينه | ۵۵ |
| ۶۵. | د كليمې ويلو نه روستو د مِسلمانۍ غټه نخه مونځ كول دي | ۵۶ |
| ۶۶. | د غونډ تقرير خلاصه | ۵۶ |
| ۶۷. | دُعا | ۵۷ |
| | **۲. د مانځه فضائل او فوائد** | ۵۸ |
| ۶۸. | تمهيدي خبره | ۶۰ |
| ۶۹. | ۱. د مانځه په وجه انسان د بې حيايۍ او بدو كارونو نه منع كيږي | ۶۰ |
| ۷۰. | ۲. د مونځ كولو په وجه انسان د الله ﷻ د رَحمت مُستحِق كرځي | ۶۲ |
| ۷۱. | ۳. مونځ كوونكې به د خَوف او حُزن نه په اَمن وي | ۶۳ |
| ۷۲. | ۴. د مانځه په وجه د انسان گناهونه معاف كيږي | ۶۳ |
| ۷۳. | د پنځو مونځونو مثال داسې دى لكه د صفا اُوبو په نهر كې د ورځې پنځه ... | [illegible] |
| ۷۴. | په پنځو مونځونو سره گناهونه داسې رژيږي لكه د خزان په موسم كې چې ... | ۶۵ |
| ۷۵. | مونځ د مخكينې گناهونو د پاره كفاره ده | ۶۶ |
| ۷۵. | يو اعتراض او د هغې جواب | ۷۰ |
| ۷۶. | د اَودس او مونځ په وجه د گناهونو نه مكمل صفا كيدل | ۷۱ |
| ۷۷. | ۵. د پنځو مونځونو په حفاظت سره د مغفرت وَعده | ۷۲ |
| ۷۸. | ۶. د مونځ په كولو سره د جنت مستحِق كيدل | ۷۳ |
| ۷۹. | مونځ د جنت گنجي ده | ۸۱ |
| ۸۰. | ۷. د مونځ په وجه په جنت كې د نبي ﷺ ملگرتيا نصيبه كيدل | ۸۱ |
| ۸۱. | ۸. مونځ كوونكي به د صدّيقينو او شُهداؤ سره ملگري وي | ۸۲ |

| صفحه | موضوع | نمبر شمار |
| --- | --- | --- |
| ۸۳ | ۹. د مونځ په کولو سره د جهنم نه محفوظ کیدل | ۸۲. |
| ۸۵ | د سهَر او مازیګر په وختونو کې د فرښتو ډیوټي بدلیږي | ۸۳. |
| ۸۹ | ۱۰. مونځ د الله ﷻ د قرب او نزدیکت ذریعه ده | ۸۴. |
| ۸۹ | ۱۱. په مونځ کولو سره د الله ﷻ دیدار نصیبه کیدل | ۸۵. |
| ۹۰ | ۱۲. مونځ د مؤمن د پاره نُور دی | ۸۶. |
| ۹۱ | ۱۳. د مونځ کولو په وجه د انسان نه غفلت او شیطاني اَثر ختمیږي | ۸۷. |
| ۹۲ | ۱۴. مونځ د هر مصیبت او هرې پریشانۍ عِلاج دی | ۸۸. |
| ۹۳ | ۱۵. د مونځ په وجه انسان ته د الله ﷻ مدد او مَعیَت حاصلیږي | ۸۹. |
| ۹۴ | ۱۶. د مونځ او دُعا په وجه د غَل نه حفاظت | ۹۰. |
| ۹۷ | ۱۷. په مونځ سره د حضرت آدم علیه السلام د خَتې دانه ختمه شوه | ۹۱. |
| ۹۷ | ۱۸. د مونځ ګزارو مخونه به د قیامت په ورځ د نمَر په شان ﷺ پرقیږي او جنت... | ۹۲. |
| ۹۹ | ۱۹. په پابندۍ سره مونځ کول د مُتّقیانو صفت دی | ۹۳. |
| ۱۰۰ | ۲۰. د مونځ کوونکو د پاره بشارت | ۹۴. |
| ۱۰۱ | **۲۱. د مانځه فوائد** | ۹۵. |
| ۱۰۱ | ۱. د مانځه لس فوائد | ۹۶. |
| ۱۰۲ | ۲. د مانځه نهه فوائد | ۹۷. |
| ۱۰۴ | د مونځ ګزار د پاره درې عزتونه | ۹۸. |
| ۱۰۴ | **۲۲. پنځه وخته د مونځ فرض کیدو حکمتونه** | ۹۹. |
| ۱۰۵ | اول حکمت | ۱۰۰ |
| ۱۰۵ | دویم حکمت | ۱۰۱ |
| ۱۰۶ | دریم حِکمت | ۱۰۲ |
| ۱۰۶ | څلورم حِکمت | ۱۰۳ |
| ۱۰۶ | پنځم حِکمت | ۱۰۴ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۱۰۵ | شپږم حِکمت | ۱۰۷ |
| ۱۰۶ | أووم حِکمت | ۱۰۷ |
| ۱۰۷ | اَتم حِکمت | ۱۰۸ |
| ۱۰۸ | ۲۳. الله تعالى د مونځ قائمونکو او خپل کور والو ته د مونځ حُکم کوونکو مَدحه کړی | ۱۰۹ |
| ۱۰۹ | ۲۴. مونځ د رُوح غِذا ده | ۱۰۹ |
| ۱۱۰ | **۲۵. د مونځ کولو سائنسي او طِبّي فوائد** | ۱۱۰ |
| ۱۱۱ | د مونځ په کتلو سره د يو غيرمُسلِمه ډاکټر حيرانتيا | ۱۱۰ |
| ۱۱۲ | د مانځه په باره کې د يو اَمريکائي ډاکټر تجرِبه | ۱۱۱ |
| ۱۱۳ | د يُورَپ والهٔ بهترين وَرزش مکمل د مانځه د اَفعالو په شان دی | ۱۱۱ |
| ۱۱۴ | ۲۶. په مونځ کولو سره د زړه د مرضونو نه حفاظت | ۱۱۲ |
| ۱۱۵ | په مونځ سره د زړه د مرض عِلاج کول | ۱۱۳ |
| ۱۱۶ | ۲۷. د مونځ په وجه د مَخ نُورانيت زياتيږي | ۱۱۴ |
| ۱۱۷ | د يو اَمريکائي ډاکټر اِقرار | ۱۱۴ |
| ۱۱۸ | ۲۸. په مانځه کې د اِمام نه د تلاوت آوريدو سائنسي او طِبّي فوائد | ۱۱۴ |
| ۱۱۹ | ۲۹. د رکوع کولو سائنسي او طِبّي فوايد | ۱۱۵ |
| ۱۲۰ | ۳۰. د سجدې کولو سائنسي او طِبّي فوائد | ۱۱۶ |
| ۱۲۱ | واقعه | ۱۱۶ |
| ۱۲۲ | ۳۱. د سجدې کولو په وجه دِماغي بيمارياني ختميدل | ۱۱۶ |
| ۱۲۳ | د واشنګټن د يو ډاکټر اِقرار | ۱۱۷ |
| ۱۲۴ | ۳۲. په سجدې کولو سره د مِعدې د مرضونو علاج | ۱۱۷ |
| ۱۲۵ | ۳۳. د دوه سجدو په مينځ کې د ناستې سائنسي او طِبّي فوائد | ۱۱۷ |
| ۱۲۶ | ۳۴. په سلام ګرځولو سره د سينې بيمارۍ بنه کيدل | ۱۱۸ |
| ۱۲۷ | خلاصه ، دُعا | ۱۱۹ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| | **۳. بغير عُذره د مونځ پرېښودلو شراکاني او نقصانات** | ۱۲۰ |



| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۱۲۹ | تمهيدي خبره | ۱۲۲ |
| ۱۳۰ | مونځ پرېښودل ګناه کبيره ده | ۱۲۲ |
| ۱۳۱ | قصداً مونځ پرېښودل کُفر ته نزدې کوونکې عمَل دی | ۱۲۲ |
| ۱۳۲ | د بېلمازه کس اِيمان هميشه په خطره کې وي | ۱۲۵ |
| ۱۳۳ | د قصداً مونځ پرېښودونکي کس دِين او اِيمان کامِل نه وي | ۱۲۵ |
| ۱۳۴ | مونځ پرېښودونکې د الله ﷻ د ذِمې نه بَرِي دی | ۱۲۷ |
| ۱۳۵ | صحابه کرامو به د مونځ پرېښودل خطرناک عمَل ګڼل | ۱۲۹ |
| ۱۳۶ | د بېلمازه په باره کې د امام احمد بن حنبل رحمه الله قول | ۱۳۰ |
| ۱۳۷ | د بېلمازه په باره کې د نورو اَئمهٔ اَقوال | ۱۳۱ |
| ۱۳۸ | په مونځ کې سستي کول د مُنافِقانو علامه ده | ۱۳۲ |
| ۱۳۹ | د مونځ نه غافِله خلقو د پاره هلاکت | ۱۳۳ |
| ۱۴۰ | د مونځ ضائع کوونکو د پاره د جهنم سزا | ۱۳۴ |
| ۱۴۱ | جهنميان به جهنم ته د تللو يوه وجه "مونځ نه کول" بيان کړي | ۱۳۵ |
| ۱۴۲ | د بېلمازه حشر به په قيامت کې د فِرعون، هامان او نورو کافرانو سره وي | ۱۳۵ |
| ۱۴۳ | د کافرانو سره د بېلمازه د حشَر وجه | ۱۳۷ |
| ۱۴۴ | په مونځ پرېښودونکي باندې د الله ﷻ غضَب نازلېږي | ۱۳۸ |
| ۱۴۵ | مونځ پرېښودونکې بَدبخته او محرومه دی | ۱۳۹ |
| ۱۴۶ | واقعه: بغير عُذره د مونځ پرېښودو ګناه ډېره سخته ده | ۱۴۰ |
| ۱۴۷ | اِبليس د يوې سجدې نه کولو په وجه تر قيامته پورې لعنتي شو | ۱۴۲ |
| ۱۴۸ | مونځ پرېښودل ډېر نقصاني دي | ۱۴۲ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۴۹ | د مونځ پريخودو سزا | ۱۴۳ |
| ۱۵۰ | مونځ په خپل وخت کې کول فرض دي | ۱۴۵ |
| ۱۵۱ | د حضرت جبريل عليه السلام امامت | ۱۴۷ |
| ۱۵۲ | بغير عُذره مونځ د خپل وخت نه روستو کول ګناه ده | ۱۴۷ |
| ۱۵۳ | په مونځ کې سستي کولو سره په عذابِ قبر کې مبتلاء کيدل | ۱۴۹ |
| ۱۵۴ | په مونځ کې سستي کول د ابليس خوښ عمل دی | ۱۵۰ |
| ۱۵۵ | بغير عُذره مونځ نه کوونکې پير او عاشقِ رسُول نشي جوړيدی | ۱۵۲ |
| ۱۵۶ | د مونځ نه کولو د پاره د سړو عجيبه بهانه | ۱۵۵ |
| ۱۵۷ | نبي ﷺ به د ټولو کارونو کولو باوجود بيا هم عبادات اداء کول | ۱۵۵ |
| ۱۵۸ | صحابه کرام | ۱۵۵ |
| ۱۵۹ | امام ابوحنيفه رحمه الله | ۱۵٦ |
| ۱٦۰ | امام ابويوسف رحمه الله | ۱۵٦ |
| ۱٦۱ | امام محمد رحمه الله | ۱۵٦ |
| ۱٦۲ | مولانا ګنګوهي رحمه الله د ضرورت باوجود بيا هم مونځ پرې نه خود | ۱۵٦ |
| ۱٦۳ | د مونځ نه کولو د پاره د ښځو عجيبه بهانې | ۱۵۷ |
| ۱٦۴ | د جهاد ، سياست او نورو دِيني کارونو په وجه مونځ پريخودل جائز ندي | ۱۵۷ |
| ۱٦۵ | بيلمازه کس د ورځې پنځه پيرې د الله ﷻ نافرماني کوي | ۱۵۸ |
| ۱٦٦ | د بېلمازه د سپيره توب په وجه باغونه او فصلونه اُوچيدل | ۱۵۹ |
| ۱٦۷ | مومِن قصدًا د مونځ پريخودلو جُرأت نشي کولی | ۱٦۰ |
| ۱٦۸ | خلاصه | ۱٦۱ |
| ۱٦۹ | **بغير عُذره د مونځ پريخودونکي کس متعلق د نورو علماؤ اَقوال** | ۱٦۲ |
| ۱۷۰ | **بغير عُذره د مونځ پريخودونکي کس متعلق د اَحنافو قول** | ۱۷۲ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| | **٤ . په جَمعې سره د مونځ كولو اهميت او فضائل** | ۱۷۹ |
| ۱۷۱ | په شريعتِ مُحمّدي كې په جَمعې سره د مونځ كولو اَهميت | ۱۸۰ |
| ۱۷۲ | په قرآن كريم كې د جَمعې د مانځه حكم | ۱۸۰ |
| ۱۷۳ | په مرضِ وفات كې د نبي ﷺ جَمعې ته تلل | ۱۸۲ |
| ۱۷۴ | په جَمعې سره د مونځ كولو شرعي حيثيت | ۱۸۴ |
| ۱۷۵ | د جَمعې په باره كې د وُجوب قول، او دلائل | ۱۸۵ |
| ۱۷۶ | اولني دليل | ۱۸۶ |
| ۱۷۷ | دويم دليل | ۱۸۶ |
| ۱۷۸ | دريم دليل | ۱۸۶ |
| ۱۷۹ | اولني حديث | ۱۸۶ |
| ۱۸۰ | دويم حديث | ۱۸۶ |
| ۱۸۱ | دريم حديث | ۱۸۸ |
| ۱۸۲ | د جَمعې په باره كې د سُنتِ مؤكده كيدو قول او دلائل | ۱۹۱ |
| ۱۸۳ | د جمهورو علماؤ دليل | ۱۹۱ |
| ۱۸۴ | ددې مسئلې خلاصه | ۱۹۴ |
| ۱۸۵ | جَمعه د اِسلام د شعائرو نه ده | ۱۹۴ |
| ۱۸۶ | **په جَمعې سره د مونځ كولو فضائل او فوائد** | ۱۹۵ |
| ۱۸۷ | ۱ . د جَمعې مونځ د ځانله مونځ كولو نه اُووه وِيشت درجې اَفضل دى | ۱۹۵ |
| ۱۸۸ | ځانله مونځ كول د جَمعې ثواب ته هيڅ كله نه رَسي | ۱۹۷ |
| ۱۸۹ | ۲ . په جَمعې سره مونځ كونكي ته د حَج ثواب ملاويږي | ۱۹۸ |
| ۱۹۰ | ۳ . په جَمعې سره د مونځ كولو په عِوض كې په جَنت كې ميلمَستيا | ۱۹۹ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۹۲ | ۴. په جمعې سره د ماسخوتن او سهر مونځ کوونکي ته د ټولې شپې د عبادت ثواب ملاويږي | ۱۹۹ |
| | د حديث تشريح | ۲۰۰ |
| ۱۹۳ | ۵. په جَمعې سره د سهَر مونځ کول د ټولې شپې هغه نفلي عبادت نه بهتر دی چې بيا د سهَر جَمعه ورنه پاتې شي | ۲۰۰ |
| ۱۹۴ | ٦. جَمعې ته د تللو په وجه مخکيني گناهونه معاف کيدل، او دَرجې اُوچتيدل | ۲۰۲ |
| ۱۹۵ | ۷. جَمعې ته د تللو په وجه په هر قدم نيکی ليکلې شي | ۲۰٦ |
| ۱۹٦ | ۸. د جَمعې په مانځه سره الله ﷻ خوشحاليږي | ۲۰۹ |
| ۱۹۷ | ۹. په تياره کې جَمعې ته د تلونکي خلقو د پاره زيرې | ۲۰۹ |
| ۱۹۸ | ۱۰. څلوېښت ورځې تکبيرِ اُولی سره مونځ کوونکي د پاره دوه بشارتونه | ۲۱۰ |
| ۱۹۹ | ۱۱. د جَمعې په اِراده جُمات ته تللو سره د جَمعې ثواب ملاويږي | ۲۱۱ |
| ۲۰۰ | ۱۲. چې په کور کې اُودس اوکړي او جُمات ته د جَمعې په اِراده روان شي نو تر واپس کيدو پورې ورته د مانځه ثواب ليکلې شي | ۲۱۲ |
| ۲۰۱ | نبي عليه السلام به په وخت باندې جَمعې ته تللو | ۲۱۲ |
| ۲۰۲ | صحابه کرامو به د تجارت او دُنيوي کارونو باوجود د جَمعې د مانځه پوره اِهتمام کولو | ۲۱۳ |
| ۲۰۳ | **زمونږ د اَسلافو سره د جَمعې د مانځه ډير قدر وُ** | ۲۱۴ |
| ۲۰۴ | ۱. حضرت عُمر رضي الله عنه د جَمعې تللو په کفاره کې د قجورو غونډ باغ صدقه کړو | ۲۱۵ |
| ۲۰۵ | ۲. د جَمعې په فوت کيدو اُووه (۷) ورځې خفگان کول | ۲۱۵ |
| ۲۰٦ | ۳. د جَمعې تللو په وجه تعزيت ته خلق راتلل | ۲۱٦ |
| ۲۰۷ | ۴. د فالِج وَهلو باوجود جَمعې ته تلل | ۲۱٦ |
| ۲۰۸ | **اَسلافو به د تکبيرِ اُولی پوره اهتمام کولو** | ۲۱۷ |
| ۲۰۹ | ۱. د امامِ اَعمش نه د اُويا کالو پورې تکبيرِ اُولی نه وُ فوت شوی | ۲۱۷ |
| ۲۱۰ | ۲. د محمد ابن سماعة نه په څلوېښتو کالو کې تکبيرِ اُولی نه وُ فوت شوی | ۲۱۷ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۱۱ | ۳ . سَعيد بن المُسَيّب ديرش كاله پورې د آذان نه مخكې په جُمات كې موجود ؤ | ۲۱۸ |
| ۲۱۲ | ۴ . د حاجي سيد عابد حسين نه په آته ويشت (۲۸) كاله تكبيرِ اُولى نه ؤ فوت شوى | ۲۱۸ |
| ۲۱۳ | ۵ . د حضرت مِيَا جي نور محمد نه په دَرويشت (۲۳) كاله كې تكبيرِ اولى نه ؤ فوت شوى | ۲۱۸ |
| ۲۱۴ | ٦ . د مولانا رشيد احمد گنگوهي نه په دوه ويشت (۲۲) كاله كې تكبيرِ اُولى نه ؤ فوت شوى | ۲۱۹ |
| ۲۱۵ | ۷ . شمس الدين ''التمش'' د بادشاهۍ سره د تكبيرِ اُولى پابندي كوله | ۲۲۰ |
| ۲۱٦ | **په جَمعې سره د مونځ كولو حِكمتونه** | ۲۲۱ |
| ۲۱۷ | اول حِكمت | ۲۲۱ |
| ۲۱۸ | دويم حِكمت | ۲۲۱ |
| ۲۱۹ | دريم حِكمت | ۲۲۱ |
| ۲۲۰ | څلورم حِكمت | ۲۲۱ |
| ۲۲۱ | پنځم حِكمت | ۲۲۲ |
| ۲۲۲ | شپږم حِكمت | ۲۲۳ |
| ۲۲۳ | اُووم حِكمت | ۲۲۳ |
| ۲۲۳ | آتم حِكمت | ۲۲۴ |
| ۲۲۴ | نهَم حِكمت | ۲۲۳ |
| ۲۲۵ | لسم حِكمت | ۲۲۳ |
| ۲۲٦ | شريعت د مسلمانانو د اِجتماع د پاره بهترين ترتيب مقرر كړى | ۲۲۴ |
| ۲۲۷ | افسوس | ۲۲۴ |
| ۲۲۸ | د غونډ تقرير خلاصه | ۲۲۵ |
| ۲۲۹ | دُعا | ۲۲۵ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۳۰ | د اول صف فضائل | ۲۲۶ |
| ۲۳۱ | د صفونو سيده کولو او برابرولو اهميت | ۲۲۸ |
| ۲۳۲ | اول به رُومبي صَف پوره کولې شي | ۲۳۳ |
| ۲۳۳ | چې په رُومبي صَف کې ځای وي نو روستو خانله اودريدل مکروهه دي | ۲۳۳ |
| ۲۳۴ | په روستو صف کې د ځانله اودريدونکي کس حُکم | ۲۳۴ |
| ۲۳۵ | مسئله | ۲۳۴ |
| ۲۳۶ | د سستۍ په وجه هميشه په رُومبي صَف کې د نه شامليدونکي کس د پاره وعيد | ۲۳۶ |
| ۲۳۷ | په صَفونو کې خالي ځای پريخودل ندي پکار | ۲۳۷ |
| ۲۳۸ | جُمعه په چا واجب ده؟ | ۲۳۹ |
| ۲۳۹ | ښځو د پاره په کور کې د مونځ کولو ثواب زيات دی | ۲۴۰ |
| ۲۴۰ | په ځنې حالاتو کې جُمعې ته حاضريدل ضروري ندي | ۲۴۰ |
| ۲۴۱ | ۱. د سختې يَخنۍ او باران په وخت | ۲۴۱ |
| ۲۴۲ | ۲. چې کله خوراک حاضر شي او دې ډير اوږې وي | ۲۴۲ |
| ۲۴۳ | ۳. د تشو متيازو يا اَودس ماتي د تقاضې په وخت | ۲۴۳ |
| ۲۴۴ | ۴. نور شَرعي عُذرونه | ۲۴۵ |
| ۲۴۵ | بعضې خلق جَمعې ته د راتلو نه مَنع کول جائز دي | ۲۴۶ |
| ۲۴۶ | بَدبُوداره څيز خوړونکې | ۲۴۶ |
| ۲۴۷ | چې دده د خُولې يا جامو نه بَدبويي ځي | ۲۴۸ |
| ۲۴۸ | په جُمات کې شَر و فساد جوړوونکې | ۲۴۹ |
| ۲۴۹ | د جَمعې پريخودو نور عُذرونه | ۲۵۰ |
| ۲۵۰ | د جَمعې پريخودو د پاره شل (۲۰) عُذرونه | ۲۵۲ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| | **۵. بغير عُذره د جَمعې پرېښودو سزاګانې او نقصانات** | ۲۵۴ |
| ۲۵۱ | بَغير عُذره جَمعې پرېښودونكي د پاره د قيامت په ورځ ذلت او رَسوائي | ۲۵۶ |
| ۲۵۲ | په جَمعه كې د نه شريكيدونكو خلقو په كورونو باندې د اُور لګولو دَهمكي | ۲۵۸ |
| ۲۵۳ | په جَمعه كې د نه شريكيدو په وجه نبي عليه السلام حضرت محجَن ﷺ ته زُورَنه وركړه | ۲۶۰ |
| ۲۵۴ | بَغير عُذره د جَمعې او جُمعې مونځ پرېښودونكې د جهنم مُستحق دى | ۲۶۲ |
| ۲۵۵ | د آذان آوريدو نه پس جَمعې ته نه تلونكي د پاره وَعيد | ۲۶۳ |
| ۲۵۶ | بَغير عُذره ځان له مونځ كوونكي ته كامِل ثواب نه ملاويږي | ۲۶۴ |
| ۲۵۷ | جَمعې ته په نه حاضريدلو سره د سَر قلم كولو دَهمكي وركول | ۲۶۷ |
| ۲۵۸ | بغير عُذره د جَمعې پرېښودونكې د سُنن هُدىٰ پرېښودونكې دى | ۲۶۸ |
| ۲۵۹ | بغير عُذره د جَمعې په پرېښودو سره په زړه باندې مُهر لګيدل | ۲۶۸ |
| ۲۶۰ | منافقانو ته د سهَر او ماسخوتن جَمعې ته حاضريدل ډير ګران وي | ۲۶۹ |
| ۲۶۱ | په جَمعې سره مونځ نه كوونكو خلقو باندې شيطان غالِب كيږي | ۲۷۱ |
| ۲۶۲ | قوّت په اِجتماعيت كې دى | ۲۷۲ |
| ۲۶۳ | د اِمام نه مخكې سَر اُوچتولو باندې وَعيد | ۲۷۳ |
| ۲۶۴ | اول حديث | ۲۷۳ |
| ۲۶۵ | د حديث تشريح | ۲۷۳ |
| ۲۶۶ | د امام نه مخكې سر اُوچتولو سره سَر د خَر په شان ګرځيدل | ۲۷۵ |
| ۲۶۷ | دويم حديث | ۲۷۶ |
| ۲۶۸ | د افسوس مقام | ۲۷۷ |
| ۲۶۹ | د غونډ تقرير خلاصه | ۲۷۸ |
| ۲۷۰ | دُعا | ۲۷۸ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| | **٦. په مانځه کې د خُشوع اَهميت او فضائل** | ۲۷۹ |
| ۲۷۱ | د مسلمانانو د کاميابۍ د پاره اَوّلنۍ شرط په خُشوع سره مونځ کول دي | ۲۸۰ |
| ۲۷۲ | په مانځه کې د خُشوع مطلب | ۲۸۱ |
| ۲۷۳ | په خُشوع او عاجزۍ سره د مونځ کولو حکم | ۲۸۲ |
| ۲۷۴ | په مونځ کې خُشوع او حُضورِ قلبي د مونځ رُوح دی | ۲۸۳ |
| ۲۷۵ | بغير د خُشوع نه مونځ داسې دی لکه بې رُوحه مړ جسَد | ۲۸۳ |
| ۲۷۶ | د علامه ابن قيم رحمه الله قول | ۲۸۴ |
| ۲۷۷ | د خُشوع په باره کې د عُلماؤ اَقوال | ۲۸۴ |
| ۲۷۸ | د سفيان ثوري رحمه الله قول | ۲۸۴ |
| ۲۷۹ | د حسن بَصري رحمه الله قول | ۲۸۵ |
| ۲۸۰ | د امام غزالي رحمه الله قول | ۲۸۵ |
| ۲۸۱ | هر مونځ قبليدل ضروري نه دي | ۲۸۵ |
| ۲۸۲ | په مونځ کې اَخوا ديخوا کتونکي ته د الله ﷻ رَحمت مُتوَجِه نه وي | ۲۸۶ |
| ۲۸۳ | د مونځ ثواب د خُشوع او آدابو په مِقدار وي | ۲۸۷ |
| ۲۸۴ | په خُشوع سره دوه رکعته مونځ د ټولې شپې د عبادت نه بهتر دی | ۲۸۸ |
| ۲۸۵ | **په خشوع او عاجزۍ سره د مونځ کولو فضائل** | ۲۸۹ |
| ۲۸۶ | ۱. د خُشوع واله مانځه سره مخکيني ټول ګناهونه معاف کيږي | ۲۸۹ |
| ۲۸۷ | ۲. په خُشوع سره مونځ کوونکو د پاره د مغفرت ذِمه داري | ۲۹۱ |
| ۲۸۸ | ۳. په خُشوع واله مانځه سره جنت نصيبه کيږي | ۲۹۱ |
| ۲۸۹ | ۴. په خُشوع سره انسان ته مونځ آسانه او مَحبوب جوړيږي | ۲۹۲ |
| ۲۹۰ | ۵. په خُشوع سره مونځ کوونکي ته به د قيامت په ورځ د الله ﷻ د وړاندې اُودريدل آسان وي | ۲۹۳ |
| ۲۹۱ | ٦. په خُشوع سره د مونځ کولو نورې فائدې | ۲۹۴ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۹۲ | د مونځ په وخت دَ نبي عليه السلام حالت | ۲۹۴ |
| ۲۹۳ | په مانځه کې د نبي عليه السلام ژړا | ۲۹۵ |
| ۲۹۴ | په مونځ کې د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه حالت | ۲۹۶ |
| ۲۹۵ | عبدالله بن زبير رضي الله عنه به په ډير اِطمينان او خُشوع سره مونځ کول | ۲۹۸ |
| ۲۹۶ | د مونځ په وخت د حضرت علي رضي الله عنه حالت | ۲۹۹ |
| ۲۹۷ | د مونځ په وخت د علي بن الحسين رحمه الله حالت | ۳۰۰ |
| ۲۹۸ | په مانځه کې د بعضې نورو اَسلافو حالت | ۳۰۰ |
| ۲۹۹ | اِمام بُخاري اُوولس (۱۷) ځايه مچۍ اُوچيچل خو مونځ يې مات نه کړو | ۳۰۱ |
| ۳۰۰ | په مونځ کې د لاس په پريکيدلو نه پوهيدل | ۳۰۱ |
| ۳۰۱ | په مونځ کې د خپې په پريکيدو نه پوهيدل | ۳۰۲ |
| ۳۰۲ | په مانځه کې د مچۍ په چيچلو نه پوهيدل | ۳۰۳ |
| ۳۰۳ | د حاتم زاهد رحمه الله د مونځ کيفيت | ۳۰۴ |
| ۳۰۴ | په مانځه کې د زين العابدينؒ الله جل جلاله طرف ته متوجِّه کيدل | ۳۰۶ |
| ۳۰۵ | په مانځه کې د مُسلم بن يسارؒ الله جل جلاله طرف ته متوجِّه کيدل | ۳۰۶ |
| ۳۰۶ | په مانځه کې د سفيان ثوريؒ الله جل جلاله طرف ته متوجِّه کيدل | ۳۰۸ |
| ۳۰۷ | په مانځه کې د يعقوب قاريؒ الله جل جلاله طرف ته متوجِّه کيدل | ۳۰۸ |
| ۳۰۹ | د خلف بن ايوبؒ د مونځ کيفيت | ۳۰۹ |
| ۳۰۹ | د يوې زَنانه د مانځه کيفيت | ۳۰۹ |
| ۳۱۰ | په اِخلاص او توَجّه سره د مونځ کولو ثواب زيات دی | ۳۱۰ |
| ۳۱۱ | په مانځه کې د قلبي توَجّه برابرولو طريقه | ۳۱۱ |
| ۳۱۲ | نبي عليه السلام به توَجّه خرابوونکې څيز د مخې نه لرې کول | ۳۱۲ |
| ۳۱۳ | په مانځه کې د نن صبا خلقو حالت | ۳۱۴ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۳۱۴ | **په مانځه کې د خشوع پیدا کولو اسباب** | ۳۱۵ |
| ۳۱۵ | شیطان د وسوسو اچولو په وجه د انسان د مونځ خشوع ختمول غواړي | ۳۱۵ |
| ۳۱۶ | ۱. تلاوت او د مانځه الفاظ په صحیح طریقې او پوره توجّه سره اداء کول | ۳۱۶ |
| ۳۱۷ | ۲. په آیتونو او د مانځه په معنٰی کې تدبّر کول | ۳۱۶ |
| ۳۱۷ | ۳. په مانځه کې دا سوچ کول چې "زه الله ﷻ گورم" یا "هغه ما گوري" | ۳۱۷ |
| ۳۱۸ | ۴. په مانځه کې دا تصوّر کول چې "الله ﷻ ماته جواب راکوي" | ۳۱۸ |
| ۳۱۹ | ۵. په اطمینان او سُکون سره مونځ کول | ۳۱۹ |
| ۳۲۰ | ۶. په خُشوع سره د مونځ کولو فضائل ذِهن ته راوستل | ۳۲۰ |
| ۳۲۱ | ۷. په مانځه کې بل طرف ته توجّه نه کول | ۳۲۰ |
| ۳۲۲ | ۸. توجّه خرابوونکي شیان د مخې نه لرې کول | ۳۲۱ |
| ۳۲۳ | ۹. په داسې کپړو کې مونځ نه کول چې په هغې کې تصویرونه او نقشونه وي | ۳۲۲ |
| ۳۲۴ | ۱۰. په مانځه کې خُوله وازې (اَسویلې) کنټرول کول | ۳۲۲ |
| ۳۲۵ | ۱۱. اَودس ماتې ته د سخت ضرورت باوجود مونځ نه کول | ۳۲۳ |
| ۳۲۶ | ۱۲. چې خوراک حاضر شي او دې سخت اُوږې وي نو اول خوراک کول | ۳۲۳ |
| ۳۲۷ | **د زَر زَر مونځ کولو سزا** | ۳۲۵ |
| ۳۲۸ | زَر زَر مونځ کوونکي ته نبي علیه السلام دوباره د مانځه کولو حکم اوکړو | ۳۲۶ |
| ۳۲۹ | د یو سوال جواب | ۳۲۸ |
| ۳۳۰ | زَر زَر مونځ کوونکې د نبي علیه السلام د دِین او طریقې اِتباع نه کوي | ۳۲۸ |
| ۳۳۱ | زَر زَر مونځ کول الله ﷻ ته مقبول نه دی | ۳۳۱ |
| ۳۳۲ | د مونځ دُعا او خبرې | ۳۳۲ |
| ۳۳۳ | بَد ترین غَل هغه دی چې د مانځه نه غلا کوي | ۳۳۴ |
| ۳۳۴ | زَر زَر مونځ کوونکې گویا د الله ﷻ سره مُناجات نه خوَښوي | ۳۳۴ |
| ۳۳۵ | مونځ د نبي علیه السلام د سُنتو موافِق کول په کار دي | ۳۳۵ |
| ۳۳۶ | د غونډ تقریر خلاصه | ۳۳۶ |
| ۳۳۷ | **د ټول مونځ معنٰی** | ۳۳۷ |

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ حٰفِظُوْا عَلَى الصَّلَوٰتِ وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى وَقُوْمُوْا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ ﴾ البقرة آية ٢٣٨

# په اِسلام کښې د مانځه اَهميت او مقام

تالِيف


اَبُو الشَّمْس مولانا نُوْرُ الْهُدٰى عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُ العلوم فيضُ القُرآن اكاخيل كالونی مردان

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# په اسلام کې د مانځه اهميت او مقام

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِيْنُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنُؤْمِنُ بِهِ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ، وَنَعُوْذُبِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَامُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَاهَادِيَ له . وَنَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَاشَرِيْکَ لَهُ وَنَشْهَدُ اَنَّ سَيِّدَنَا وَنَبِيَّنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُه ،

اَمَّابَعْدُ فَأَعُوْذُبِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ. قَالَ اللهُ تَبَارَکَ وَتَعَالٰى فِى الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ حٰفِظُوْا عَلَى الصَّلَوٰتِ وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى وَقُوْمُوْا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ ﴾ . (۱)

وَقَالَ تَعَالٰى : ﴿ اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ ﴾ . (۲)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : اِنَّ اَحَدَكُمْ اِذَا صَلّٰى يُنَاجِيْ رَبَّهُ... (۳)

وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَام : اِنَّ اَوَّلَ مَا يُحَاسَبُ بِهِ الْعَبْدُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ عَمَلِهِ صَلَاتُهُ ، فَإِنْ صَلُحَتْ فَقَدْ اَفْلَحَ وَاَنْجَحَ ، وَاِنْ فَسَدَتْ فَقَدْ خَابَ وَخَسِرَ . (۴) صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم

---

(۱) سورة البقرة آية ۲۳۸

(۲) سورة العنكبوت آية ۴۵ .

(۳) صحيح البخاري بَابُ: اَلْمُصَلِّيْ يُنَاجِيْ رَبَّهُ عَزَّوَجَلَّ رقم ۵۳۱ ، ورقم ۴۰۵ بَابُ حَكِّ الْبُزَاقِ بِالْيَدِ مِنَ الْمَسْجِدِ ، ورقم ۴۱۳ . صحيح مسلم رقم ۵۴ ( ۵۵۱ ) باب النهي عن البصاق في الصلاة وغيرها ، مسند ابي داؤد الطيالسي رقم ۲۰۸۶ ، مشكوة المصابيح باب القراءة في الصلاة الفصل الثالي رقم الحديث ۸۵۶ ( ۳۵ ) ، ورقم ۷۴۶ ( ۵۸ ) .

(۴) سنن الترمذي بَابُ مَا جَاءَ أَنَّ أَوَّلَ مَا يُحَاسَبُ بِهِ الْعَبْدُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الصَّلَاةُ رقم الحديث ۴۱۳ ، سنن ابن ماجه بَابُ مَا جَاءَ فِي أَوَّلِ مَا يُحَاسَبُ بِهِ الْعَبْدُ الصَّلَاةُ رقم الحديث ۱۴۲۵ ، سنن النسائي رقم الحديث ۴۶۵ ، ورقم ۴۶۶ ، مشكاة المصابيح باب صلاة التسبيح رقم الحديث ۱۳۳۰ ( ۳ ) .

وفي رواية : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَوَّلُ مَا يُحَاسَبُ بِهِ الْعَبْدُ الصَّلَاةُ، ثُمَّ سَائِرُ الْأَعْمَالِ.
المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۱۲۵۵ ، ورقم ۱۲۵۶ ، كنز العمال رقم الحديث ۱۸۸۸۳ .

# د مانځه اهميت

محترمو مسلمانانو وروڼو! د اِسلام په بُنيادي اَرکانو کې دويم غټ رُکن د مانځه دی، دا په ټولو عباداتو کې بهترين عبادت دی، په قرآن کريم او احاديثو کې د اِيمان نه روستو ډير تاکيد د مانځه راغلی، مونځ د مُؤمن مِعراج دی، دا د رَحمتِ خداوندي حاصلولو يو عظيم سبَب دی، په قيامت کې به د انسان سره د ټولو نه مخکې د مانځه حِساب کولې شي، د اِسلام او کفر په مينځ کې فرق کوونکې همدا مونځ خودلې شوی.

مونځ د اِسلام داسې عظيم رُکن دی که ددې په باره کې دا وويلې شي چې "د اِسلام دارُومدار په همدې مونځ باندې دی" نو دا به مُبالغه نه وي.

## مونځ په هر عاقِل بالِغ مسلمان باندې فرضِ عين دی

په هر عاقِل بالِغ مسلمان باندې د ورځې پنځه وخته مونځ فرضِ عين دی، که دا مالداروي يا غريب، مسافِروي يا مُقيم، صحيح وي يا مريض، حاکِم وي يا محکوم، نارينه وي يا زَنانه، عالِم وي يا جاهِل، د اَمن حالت وي يا د يَرې.

تر دې پورې چې د کافرانو سره د مقابلې په وخت که په ميدانِ جنګ کې تُورې چليږي، غَشي ويشتل کيږي، ګولۍ وريږي، بَمُونه خلاصيږي خو په دې سختو حالاتو کې بيا هم مونځ مکمل معاف نه دی، بلکه د انسان په ذِمه فرضِ عين دی.

(البته که کولې يې مشکل وو نو روستو به يې اداء کوي. همدغه رنګې کله په شرائطو کې، کله په عدد کې، او کله په اَفعالو کې تخفيف راځي، خو د حائضې او نفاسې د مخصوص حالاتو نه علاوه د بل هيچا نه مکمل مونځ نه ساقطيږي). (١)

چې تر څو پورې د مسلمان هوش او حَواس باقي وي، او دده په جِسم کې رُوح وي نو په ده باندې مونځ فرضِ عين دی. (٢)

---

(١) د زَنانه نه صرف د حيض او نفاس په حالت کې مونځونه ساقطيږي ځکه ددې په راګرځولو کې حرَج دی، ددې مسئلې تفصيلي احکامات په اَتم جلد کې په فِقهي مسائلو کې ذکر دي، هلته يې اوګوره. ابوالشمس عفي عنه

(٢) أوجبها الله على كل حال ولم يعذر بها مريضا، ولا خائفا، ولا مسافرا، ولا غير ذلك. بل وقع التخفيف تارة في شروطها، وتارة في عددها، وتارة في أفعالها، ولم تسقط مع ثبات العقل. منزلة الصلاة في الاسلام د. سعيد بن علي بن وهف القحطاني ج١ ص ٢١ المبحث الرابع خصائص الصلاة في الإسلام.

شريعت چې د مانځه د پاره کوم شرائط او آرکان مقرر کړي دا هم کله د صاحبِ عُذر نه ساقطيږي خو مونځ به بيا هم کوي .

مثلا : که يو کس په ولاړه مونځ نشي کولی نو په ناسته به يې کوي ، که په ناسته يې نشي کولی نو په ملاسته به يې کوي ، که رکوع او سجده نشي کولی نو په اِشاره به يې کوي ، که اَودس نشي کولی يا اُوبه نه وي نو تيمُم به وهي ، که د بَدن پټولو د پاره ورسره کپړه نه وي نو په بَربنډ بدن به يې کوي ، که قِبله ورته نه وي معلوم نو تَحرِّي او سُوچ به اوکړي چې په کوم طرف يې ظنِ غالِب راشي هماغه طرف ته به مونځ اوکړي ، که گُونګ کس قراءت نشي کولی نو بغير د قراءت نه به مونځ کوي ، که په ميدانِ جنګ يا د يَرې په حالت کې د اُودريدو موقع نه وي نو په سورلۍ باندې د سوريدو په حالت کې به په روانه روانه مونځ کوي .

په نورو دِينونو ( عيسائيت ، يهوديت وغيره ) کې د عبادت د پاره گرجو او مَندَرونو ته تلل ضروري دی ليکن په اِسلام کې د مونځ په باره کې دا حکم هم نشته چې گني دا د جُمات نه علاوه په بل ځای کې نه صحيح کيږي ، بلکه که په يو ځای کې جُمات نه وي نو دا په مَخ د زمکه په هر ځاي کې صحَيح کيږي ، تر دې پورې چې که کِشتۍ د سمندر په چپو کې روانه وي ، يا جِهاز پاس په هوا کې روان وي نو بيا هم په دې کې مونځ کيږي .

دغه وجه ده چې په قرآن کريم او احاديثو کې په مختلفو عنواناتو سره د مانځه اَهميت او فوائد بيان شوي ، او د بِلا عُذره مونځ پريخودونکي د پاره سختې سزاګانې ذکر شوي .

په همدې اَساس په نن موضوع کې به اِن شاء الله درته د مانځه اَهميت ، عَظمت او مقام بيانوم :

## په قرآن کريم کې د مانځه تذکره

مونځ داسې اَهم عبادت دی چې په قرآن مجيد کې صراحتًا يو سل او نهه ( ١٠٩ ) ځايونو کې د مانځه ذِکر راغلی ، او د حضرت شاه رفيع الدين رحمه الله د تحقيق مطابق په قرآن کريم کې په مختلفو عنواناتو سره صراحتًا يا اِشارةً اُووه سوه ( ٧٠٠ ) پېرې د مانځه تذکره شوی .

ددې نه هم د مانځه اَهميت معلوميږي ، ځکه که په قرآن کريم کې صرف يو پېره د مانځه حکم شوې وی نو دا به په مسلمانانو باندې فرض وُ ، او ددې کول به لازمي وو ، خو ليکن الله ﷻ چې دومره ډيرې پېرې ددې حکم اوکړو نو په دې سره ددې اَهميت بيانول مقصود دي ، چې مونځ معمولي عبادت مه ګڼئ ، بلکه په دې کې د مسلمانانو د دُنيا او آخرت دواړو کاميابي پرته ده .

بهر حال په قرآن کريم کې د مانځه تذکره په ډيرو ځايونو کې راغلې خو زه به درته صرف يو څو آيتونه ذکر کړم ، د هغې نه پس به د احاديثو مبارکهٔ نه ددې اَهميت واضح کړم :

## د مانځه فرضيت

الله رب العزت فرمايي : ﴿ إِنَّ الصَّلَوٰةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَٰبًا مَّوْقُوتًا ﴾ . (۱)

ترجمه : بېشکه مونځ په مؤمنانو باندې په خپل مقرر وختونو کې فرض کړې شوې دی .

## مسلمانانو ته د مانځه حکم

۱ . الله تعالی فرمايي : ﴿ وَأَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا الزَّكَوٰةَ ۚ وَمَا تُقَدِّمُوا لِأَنفُسِكُم مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِندَ اللَّهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴾ . (۲)

ترجمه : او تاسو مونځ قائموئ او زکوة ورکوئ ، او تاسو چې د خپلو ځانونو د پاره وړاندې څه نيکي ليږئ نو هغه به د الله ﷻ سره ( موجود ) بيا مومئ ، بيشکه الله ﷻ هغه کارونه ګوري کوم چې تاسو کوئ .

**فائده** : د مونځ قائمولو مطلب دادی چې انسان مونځ هميشه په پابندئ سره کوي ، او ورسره ورسره د مانځه د شرائطو ، اَرکانو ، واجبو ، سُنتو او آدابو لحاظ هم ساتي . (۳)

---

(۱) سورة البقرة آية ۱۱۰ .

(۲) سورة البقرة آية ۱۱۰ .

(۳) ﴿ وَيُقِيمُونَ الصَّلَوٰةَ ﴾ أي يديمونها ويحافظون عليها في مواقيتها بحدودها وأركانها وهيآتها. يقال: قام بالأمر وأقامه إذا أتى به يعطي حقوقه . لأن الحقيق بالمدح من راعى حدودها الظاهرة من الفرائض والسنن، وحقوقها الباطنة كالخشوع والإقبال على الله تعالى. السراج المنير في الإعانة على معرفة بعض معاني كلام ربنا الحكيم الخبير ۱۷/۱ البقرة آية ۳

۲ . الله تعالی فرمایي :

﴿ حٰفِظُوا عَلَى الصَّلَوٰتِ وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى وَقُوْمُوْا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ ﴾ . (۱)

ترجمه : تاسو د ټولو مونځونو حفاظت کوي ، او بیا خاصکر د مینځني مونځ ( یعنی د مازیګر د مانځه خو ډیر حفاظت کوئ ) او الله ﷻ ته په عاجزی ( او آدب ) سره اُودریږئ .

۳ . په سورة مزمّل کې ذکر دي :

﴿ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ﴾ . (۲)

ترجمه : او تاسو مونځ قائموئ ( یعنی په پابندی سره يې کوئ ) او زکوة ورکوئ .
همدغه شان حکم د قرآن کریم په نورو سورتونو کې هم ذکر دی . (۳)

۴ . په سورة ابراهیم کې په ډیر بهترین آنداز کې مسلمانانو ته د مانځه او خرچ کولو حکم شوی ، الله رب العزت نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته فرمایي :

﴿ قُلْ لِّعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا يُقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَيُنْفِقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيْهِ وَلَا خِلٰلٌ ﴾ . (۴)

ترجمه : ( اې پیغمبره ! ) زما هغه بندګانو ته ووايه چا چې ایمان راوړی چې دوی دې مونځ قائم کړي ( یعنی په پابندی سره دې يې کوي ) ، او مونږ چې ورته څه ورکړي دي د هغې نه دې په پټه او ښکاره ( د نیکی په لاره کې ) خرچ کوي ، وړاندې ددې نه چې هغه ورځ راشي چې نه به په هغې کې اخیستل او خرڅول وي ، او نه به دوستي فائده ورکوي .

---

(۱) سورة البقرة آية ۲۳۸ .

(۲) سورة المزمل آية ۲۰ .

(۳) په سورة مجادله کې ذکر دي : ﴿ فَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ﴾ . المجادلة آية ۱۳ .

په سورة حج کې ذکر دي : ﴿ فَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَاعْتَصِمُوْا بِاللّٰهِ ، هُوَ مَوْلٰىكُمْ ، فَنِعْمَ الْمَوْلٰى وَنِعْمَ النَّصِيْرُ ﴾ الحج آية ۷۸

په سورة بقره کې ذکر دي : ﴿ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَارْكَعُوْا مَعَ الرّٰكِعِيْنَ ﴾ . البقرة آية ۴۳ .

په سورة النور کې ذکر دي : ﴿ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴾ . النور آية ۵۶ .

(۴) سورة ابراهيم آية ۳۱ .

## په خپله نبي عليه السلام ته د مانځه حکم

نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته هم دا حکم شوي ؤ چې د خپل کور واله ؤ او خپلوانو ته د مانځه حکم کوه، او په خپله هم ورباندې پابَند اوسه، الله تعالی فرمايي:

وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلٰوةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا ۖ لَا نَسْئَلُكَ رِزْقًا ۖ نَحْنُ نَرْزُقُكَ ۗ وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوٰى. (١)

ترجمه: ته خپل کور واله ؤ (خپلوانو او مؤمنانو) ته د مانځه حکم کوه او په خپله هم په دې قائم (پابَند) اوسه، مونږ تا نه (داسې) رُوزي نه غواړو (چې د هغې په وجه د تا نه فرضي عبادات پاتې کيږي) بلکه همدا مونږ تا ته (او نورو خلقو ته) رُوزي ورکوو، او ښه اَنجام د پرهيزګارۍ دی.

## الله تعالی د کاميابه مؤمنانو اَوّلنې او آخِرنې عَمل مونځ ذکر کړی

محترمو مسلمانانو! د مانځه د اَهميت اَندازه تاسو ددې نه هم معلومولې شئ چې د قرآن مجيد په سورة مؤمنون کې الله تعالی د کاميابه مؤمنانو شپږ صفات ذکر کړي، په هغې کې په اَوّلني او آخِرني صفت کې د مانځه تذکره ده، الله تعالی فرمايي:

﴿ قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ. الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ خٰشِعُوْنَ ﴾. (٢)

ترجمه: يقينًا هغه مومنان (په دُنيا او آخرت دواړو کې) کامياب شو کوم چې په خپلو مونځونو کې عاجزي کوونکي دي (يعنی د الله ﷻ د يَرې نه چپ ولاړ وي).

په ورپسې آيتونو کې الله تعالی د کاميابه مؤمنانو نور صفات هم ذکر کړي چې د فضول خبرو نه ځان ساتي، زکٰوة ورکوي، د خپلو شرمګاهو حفاظت کوي، او د خپلو اَمانتونو او وعدو لحاظ ساتي. (٣)

---

(١) سورة طه آية ١٣٢.

(٢) المؤمنون آية ١، ٢.

(٣) **نوټ**: د کاميابه مومنانو دا شپږ واړه صفتونه په تفصيل سره ما په خپل بل کتاب "هر تقرير په مُختلفو ژبو کې" په صفحه ٣٥٥ باندې په اُردو ژبه کې ذکر کړي، هلته د سورة مومنون د اول آيت نه تر د يوولسم آيت پورې د هر آيت پوره تشريح او تفصيل ذکر دی. ابوالشمس عفي عنه.

په آخر کې الله ﷻ د کامیابه مومنانو صفت دا بیان کړی چې :

﴿ وَالَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَوٰتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ﴾ . (۱)

ترجمه : او مومنان هغه دي چې دوی د خپلو مونځونو حفاظت کوي .

**فائده** : ددې نه به تاسو ته د مانځه اهمیت معلوم شوې وي چې د کامیابه مومنانو اولني صفت په مونځ کې خشوع ذکر شو ، او آخرني صفت یې د ټولو مونځونو حفاظت ذکر شو .

بیا الله ﷻ ددې کامیابه مومنانو د پاره د جنّتُ الفِردوس زیرې ورکړی :

﴿ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْوٰرِثُوْنَ ۔ الَّذِيْنَ يَرِثُوْنَ الْفِرْدَوْسَ ؕ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴾ . (۲)

ترجمه : همدا خلق ( حقیقي ) وارثان ( او حقدار ) دي چې دوی به جنّتُ الفِردوس په میراث کې اخلي ، او دوی به په دې کې همیشه اوسیږي .

## په صبر او مانځه سره د مدد حاصلولو حکم

په قرآن کریم کې مومنانو ته په صبر او مانځه سره د مدد حاصلولو حکم راغلی ، الله تعالی فرمايي :

﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ﴾ . (۳)

ترجمه : اې د ایمان خاوندانو ! تاسو ( په هره سختۍ کې ) په صبر او مانځه سره مدد حاصلوئ ، بیشکه الله تعالی د صبر کوونکو خلقو ملګرې دی .

په یو بل آیت کې ددې تذکره داسې شوی :

﴿ وَاسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ ؕ وَاِنَّهَا لَكَبِيْرَةٌ اِلَّا عَلَى الْخٰشِعِيْنَ ﴾ . (۴)

---

(۱) سورة المؤمنون آية ۹ .

(۲) سورة المؤمنون آية ۱۰ ، ۱۱ .

(۳) سورة البقرة آية ۱۵۳ .

(۴) سورة البقرة آية ۴۵ .

ترجمه: او تاسو مدد غواړئ د الله ﷻ نه په صبر او مونځ کولو سره، او يقيناً دا مونځ ډير درُوند (او ګران) کار دی مګر څوک چې عاجزي کوونکي دي (او د الله ﷻ نه ويرېږي نو دوی ته مونځ کول آسان دي).

## په قرآن مجيد کې د نورو عباداتو په نسبت د مانځه تذکره او اَحکامات زيات ذِکر دي

په قرآن مجيد کې مونځ، روژه، زکوة، حج، جِهاد او نور ډير اَحکام ذکر دي خو په دې ټولو کې ډير تفصيلي اَحکامات صِرف د مانځه ذِکر دي، مثلاً په قرآن مجيد کې د اَودس، غُسل او تيَمّم ذِکر شته، د مانځه د پاره د جامو د پاکوالي ذِکر شته، د قِيام، قُعود، رکوع، سجدې، تسبيح او تَحميد ذِکر شته، د صلوة خَوف ذِکر شته. خلاصه دا چې په قرآن مجيد کې چې څومره تفصيلي احکامات د مانځه ذِکر دي دومره د نورو عباداتو ندي ذِکر.

د مانځه اَهميت ددې نه هم معلوميږي چې الله تعالی په قرآن مجيد کې د مونځ نه تعبير په ايمان سره هم کړی. ربِّ کريم فرمايي:

﴿ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ ﴾. (۱)

ترجمه: او الله تعالی نه ضائع کوي ايمان (يعنی مونځونه (۲)) ستاسو.

اګر چې مونځ هم د خير په کارونو او عباداتو کې شامل دی خو ليکن ددې د اَهميت او عظمتِ شان واضح کولو د پاره په قرآن مجيد کې په خصوصي او اِمتيازي طريقې سره ددې ذکر شوی، الله تعالی فرمايي:

﴿ وَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِمْ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ وَإِقَامَ الصَّلَاةِ ﴾ ... (۳)

ترجمه: او مونږ وَحي اوکړه دوی ته د ښکو کارونو کولو او د مانځه قائمولو ...

---

(۱) سورة البقرة آية ۱۴۳.

(۲) ﴿ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ ﴾ يعنی صلاتکم الی بيت المقدس. منزلة الصلاة فی الاسلام ج۱ ص۱۸.

(۳) سورة الانبياء آية ۷۳. / همدارنګې سورة العنکبوت کې هم په خصوصي طور د مانځه ذکر شوی، الله تعالی فرمايي:

﴿ اُتْلُ مَا أُوحِيَ إِلَيْكَ مِنَ الْكِتَابِ وَأَقِمِ الصَّلَاةَ ﴾. سورة العنكبوت آية ۴۵.

## مونځ په مخکيني شريعتونو کې هم وُ

مونځ داسې بهترين عبادت دی چې دا په مخکيني شريعتونو کې هم وُ ، بلکه په هر آسماني شريعت کې د ايمان نه پس اَوّلنې حکم د مانځه وُ ، د حضرت آدم عليه السلام نه رانيولې تر د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم پورې د هر پيغمبر په اُمت باندې مونځ فرض وُ ، البته د مانځه په کيفيت ، تعداد ، او د وختونو په تعين کې فرق وُ ، خو نَفسِ مونځ په هر شريعت کې وُ .

همدارنګې هر پيغمبر ته مونځ دير محبوب عمل وُ ، په خپله يې هم ددې اِهتمام کړې وُ ، او خپل قوم ته يې هم ددې دعوت ورکړی وُ .

## د حضرت ابراهيم عليه السلام په نزد د مانځه اَهميت

کله چې حضرت ابراهيم عليه السلام د الله ﷻ په حکم سره حضرت هاجره رضي الله عنها او تِي خُور ماشوم "حضرت اسماعيل عليه السلام" د بَيتُ الله په خوا کې په هغه شاړ بې آب و ګياه ځای کې پريخودل ، نو هلته چې حضرت ابراهيم عليه السلام کومه دُعا کړې وه په هغې کې يې هم د دوی د مانځه قائمولو دُعا کړې وه ، الله تعالی د حضرت ابراهيم عليه السلام دُعا داسې ذکر کړې :

﴿ رَبَّنَآ إِنِّىٓ أَسۡكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِى بِوَادٍ غَيۡرِ ذِى زَرۡعٍ عِندَ بَيۡتِكَ ٱلۡمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ ...﴾ . (١)

ترجمه : اې زمونږه ربه ! ما خپل اَولاد ستا د کور ( کعبې ) سره نزدې په داسې يو ميدان کې دېره ( آباد ) کړو چې په دې کې فصل ( اُوبه او ګياه ) نشته ، اې زمونږ ربه ! دا ددې د پاره چې دوی مونځ قائم کړي . . .

همدارنګې حضرت ابراهيم عليه السلام د خپل ځان او خپلو بچو د پاره هم د مونځ قائمولو دُعا غوښتې وه :

---

(١) سورة ابراهيم آية ٣٧ .

﴿رَبِّ اجْعَلْنِي مُقِيمَ الصَّلَوٰةِ وَمِن ذُرِّيَّتِي ۚ رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَآءِ﴾ . (۱)

ترجمه : اې زما ربه ! ما او زما اَولاد د مونځ قائموونکي ( يعنی په پابندۍ سره کوونکي ) اُوګرځوه .

## حضرت اسماعيل عليه السلام به هم خپل کور واله ؤ ته د مانځه حکم کولو

په قرآن کريم کې الله تعالی د حضرت اسماعيل عليه السلام مَدحه کړی چې هغوی به خپل کور واله ؤ ته د مانځه حکم کولو ، الله ربّ العزت فرمايي :

﴿ وَكَانَ يَأْمُرُ أَهْلَهُ بِالصَّلَوٰةِ وَالزَّكَوٰةِ وَكَانَ عِندَ رَبِّهِ مَرْضِيًّا ﴾ . (۲)

حضرت اسماعيل عليه السلام به خپل کور واله ؤ ته د مانځه او زکوة حکم کولو ، او دې د خپل رَب په نزد ډيره غوره ؤ .

## حضرت لقمان عليه السلام هم ځوي ته د مانځه قائمولو حکم کړې ؤ

حضرت لقمان عليه السلام هم خپل ځوي ته په پابندۍ سره د مونځ قائمولو حکم کړې ؤ ، الله رب العزت په قرآن کريم کې هغه نصيحت رانقل کړی کوم چې حضرت لقمان عليه السلام خپل ځوي ته کړې ؤ :

﴿ يَٰبُنَيَّ أَقِمِ الصَّلَوٰةَ وَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ وَانْهَ عَنِ الْمُنكَرِ وَاصْبِرْ عَلَىٰ مَآ أَصَابَكَ ۖ إِنَّ ذَٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ ﴾ . (۳)

ترجمه : اې زما بچيه ! مونځ قائم کړه ( يعنی په پابندۍ سره يې کوه ) ، او ( خلقو ته ) د نيکۍ حکم کوه او د بدۍ نه يې منع کوه ، او کوم مصيبت چې تاته در اُورسي نو په هغې صبر کوه بيشکه دا ( د مصيبت په وخت صبر کول ) د هِمت د کارونو نه دی .

(۱) سورة ابراهيم آية ۴۰ .

(۲) سورة مريم آية ۵۵ .

(۳) سورة لقمان آية ۱۷ .

## حضرت موسى عليه السلام او حضرت هارون عليه السلام ته د مانځه حکم

حضرت موسى عليه السلام او حضرت هارون عليه السلام ته هم دا حکم شوې و :

﴿ ... وَأَقِيمُوا الصَّلٰوةَ ۗ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ ﴾ . (۱)

ترجمه : ... تاسو مونځ قائم کړئ ، او زيرې ورکړئ مؤمنانو ته .

## د بني اسرائيلو نه د مونځ متعلق کلکه وعده اخيستل شوې وه

د بني اسرائيلو نه چې د کومو کارونو کلکه وعده اخيستل شوې وه په هغې کې دا هم وو

﴿ ... وَأَقِيمُوا الصَّلٰوةَ وَآتُوا الزَّكٰوةَ ﴾ . (۲)

ترجمه : ...او تاسو مونځ قائموئ او زکوة ورکوئ .

الله تعالى ورته دا هم فرمايلي وو :

﴿ إِنِّي مَعَكُمْ ۖ لَئِنْ أَقَمْتُمُ الصَّلٰوةَ ﴾ . (۳)

ترجمه : بيشکه زه ستاسو ملګرې يم که چيرته تاسو مونځ قائم کړو .

## په قرآن کريم کې د حضرت عيسىٰ عليه السلام د مانځه تذکره

حضرت عيسى عليه السلام چې په زانګو کې کومې خبرې کړې وى په هغې کې دوى دا هم ويلي وو :

﴿ وَأَوْصٰنِي بِالصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ مَا دُمْتُ حَيًّا ﴾ . (۴)

ترجمه : او الله تعالى ماته د مانځه او زکوة وصيت ( يعنى حکم ) کړى تر څو پورې چې زه ژوندې يم .

---

(۱) سورة يونس آية ۸۷ . / په سورة طه کې ذکر دي چې حضرت موسى عليه السلام ته د الله ﷻ د طرفه دا حکم شوې و : ﴿ وَأَقِمِ الصَّلٰوةَ لِذِكْرِي ﴾ . سورة طه آية ۱۴ . ترجمه : او ته قائم کړم مونځ زما د ياد د پاره .

(۲) سورة البقرة آية ۸۳ .

(۳) سورة المائدة آية ۱۲ .

(۴) سورة مريم آية ۳۱ .

## په قرآن کريم کې د حضرت زکريا عليه السلام د مانځه تذکره

د حضرت زکريا عليه السلام په باره کې په قرآن کريم کې ذکر دي :

﴿ فَنَادَتْهُ الْمَلَٰٓئِكَةُ وَهُوَ قَآئِمٌ يُصَلِّي فِي الْمِحْرَابِ ﴾ . (۱)

ترجمه : پس آواز او کړو ده ته فرښتو او دې په مِحراب کې ولاړ ؤ مونځ يې کولو .

همدارنګې په قرآن کريم کې د نورو پيغمبرانو او نورو قومونو د مانځه تذکره هم شته .(۲)

## مونځ د اِسلام په بُنيادي اَرکانو کې دويم غټ رُکن دی

مونځ د دِيني عمارت بُنيادي ستَن او اَهم رُکن دی ، دا د ټولو عباداتو سردار دی ، د بخاري شريف حديث دی ، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ : شَهَادَةِ أَنْ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللهِ ، وَإِقَامِ الصَّلَاةِ ، وَإِيْتَاءِ الزَّكَاةِ ، وَالْحَجِّ ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ . (۳)

د اِسلام بُنياد په پنځو (۵) شيانو قائم کړې شوی : ۱ . د " لَآ إِلَٰهَ إِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَسُوْلُ اللهِ " ګواهي ورکول (يعنی ددې خبرې ګواهي ورکول چې : نشته دې لائق د عبادت مګر يو الله ﷻ دی ، او محمد ﷺ د الله ﷻ رسول دی) . ۲ . مونځ کول . ۳ . زکوة ورکول ۴ . حج کول ۵ . او د رمضان المبارک روژې نيول . (۴)

---

(۱) سورة آل عمران آية ۳۹ .

(۲) حضرت شعيب عليه السلام به ډير مونځونه کول نو ګمراهانو ورته وويل : ﴿ قَالُوْا يٰشُعَيْبُ اَصَلٰوتُكَ تَاْمُرُكَ اَنْ نَّتْرُكَ مَا يَعْبُدُ اٰبَآؤُنَآ ... ﴾ . سورة هود آية ۸۷ .

(۳) صحيح البخاري بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ » رقم الحديث ۸ ، صحيح مسلم بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ رقم ۱۹ (۱۶) ، ورقم ۲۱ (۱۶) ، سنن الترمذي باب ما جاء بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ رقم الحديث ۲۶۰۹ ، سنن النسائي رقم ۵۰۰۱ ، مشكاة المصابيح كتاب الايمان الفصل الاول رقم الحديث ۴ (۳) .

(۴) ( بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ ) اى أعمال الإسلام خمس هي له كالدعائم بالنسبة للبناء لا وجود له إلا بها . تعليق مصطفى البغا على البخاري .

## مونځ د دين ستن ده

١. رسولُ الله ﷺ فرمايي: اَلصَّلَاةُ عِمَادُ الدِّيْنِ . (١) مونځ د دين ستَن ده.

٢. د ترمذي شريف حديث دى، نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي:

... رَأسُ الْأَمْرِ الْإِسْلَامُ ، وَعَمُوْدُهُ الصَّلَاةُ ، وَذِرْوَةُ سَنَامِهِ الْجِهَادُ ... (٢)

د دِين سَر (او دارُومدار) اِسلام دى، ددې ستَن مونځ دى، او ددې د قُب اُوچتوالې (يعنى شان و شوکت) جِهاد دى. نو لکه څرنګې چې د ستَن په غورځيدو سره عِمارت غورځيږي همدغه شان په قصدًا مونځ پريخودلو سره هم دِينداري ختميږي.

## د نبي ﷺ آخِري وصيت د مانځه متعلق وُ

نبي کريم صلى الله عليه وسلم چې په آخِري وخت کې د اَحکامو متعلق کوم وصيت اُمت ته کړې وُ هغه د مانځه او د غلامانو د حقوقو اَداکولو متعلق وُ، د ابوداؤد شريف حديث دى، حضرت علي ﷺ فرمايي: كَانَ آخِرُ كَلَامِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : اَلصَّلَاةَ اَلصَّلَاةَ ، اِتَّقُوا اللهَ فِيْمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ . (٣)

---

(١) كنز العمال كتاب الصلاة الفصل الثاني " في فضائل الصلاة " رقم الحديث ١٨٨٨٩ ، ورقم ١٨٨٩١ .

وفي رواية: اَلصَّلَاةُ عَمُوْدُ الدِّيْنِ . رواه ابونعيم في الحلية وهو حديث حسن ، الجامع الصغير ٢ / ١٢٠ ، كنز العمال كتاب الصلاة الفصل الثاني " في فضائل الصلاة " رقم الحديث ١٨٨٩٠ .

ملا علي قاري رحمه الله په مرقاة کې د مانځه په باره کې ليکلي: لِأَنَّهَا عِمَادُ الدِّيْنِ ؛ وَلِأَنَّهَا تَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ ؛ وَلِأَنَّهَا فَرْقٌ بَيْنَ الْمُؤْمِنِ وَالْكَافِرِ ، وَالْمُطِيْعِ وَالْعَاصِيْ ، وَلِأَنَّهَا نَجْوَى بَيْنَ الْعَبْدِ وَرَبِّهِ . وَهِيَ مِعْرَاجُ الْمُؤْمِنِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح ج١ ص٥٢٣ في تشريح حديث ٥٨٥ .

(٢) الترمذي كتاب الإيمان باب ما جاء في حرمة الصلاة ٥/ ١١ برقم ٢٦١٦ وقال : حديث حسن صحيح . واخرجه ابن ماجه كتاب الفتن باب كف اللسان في الفتنة ٢ ، واحمد ٥/ ٢٣١ ، وحسنه الألباني في إرواء الغليل ٢/ ١٣٨ . مشكوة المصابيح كتاب الايمان الفصل الثاني رقم الحديث ٢٩ (٢٨) . مسند احمد رقم الحديث ٢٢٠٦٨ حَدِيثُ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ.

(٣) سنن ابي داؤد بَابٌ فِي حَقِّ الْمَمْلُوكِ رقم الحديث ٥١٥٦ ، سنن ابن ماجه بَابُ هَلْ أَوْصَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحديث ٢٦٩٨ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ١٥٨٠٠ .

د رسول الله صلى الله عليه وسلم آخري وصيت ( د شرعي اَحکامو په باره کښې (۱) ) دا وُ : مونځ ، مونځ ( يعنی د مانځه حفاظت کوئ ) او د خپلو غلامانو (او مَاتَحْتو ) په باره کښې د الله تعالیٰ نه اُويريږئ (يعنی د دوی حقوق اداء کوئ ) . (۲)

## د اِسلام راوړو نه پس اول د مونځ تعليم ورکول

مونځ دومره اَهم عبادت دی چې د نبي عليه السلام په زمانه کښې به څوک مسلمان شو نو صحابه کرامو به د ټولو نه اول هغه ته مونځ خودلو ،حضرت ابومالک اشجعي رضي الله عنه فرمايي:

كَانَ الرَّجُلُ إِذَا أَسْلَمَ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَّمُوهُ الصَّلَاةَ . (۳)

چې کله به يو کس د نبي عليه السلام په زمانه کښې اِسلام راوړو نو صحابه کرامو به هغه ته اول مونځ خودلو .

او په خپله د پيغمبر عليه السلام طريقه دا وه چې چا به اسْلام راوړو نو د توحيد نه روستو به يې د هغه نه د مانځه عَهد اخيستو ، او په هغه به يې د مانځه شرط لږول .

علامه ابن حجر رحمه الله په فتح الباري کښې ليکلي دي :

---

(۱) ( آخِرُ كَلَامِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ) أي في الأحكام، وإلا فقد جاء أن آخر كلامه على الإطلاق "الرفيق الأعلى" . شرح محمد فؤاد عبد الباقي على سنن ابن ماجه في تشريح حديث رقم ۲۶۹۸ .

(۲) وفي رواية : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه قَالَ : كَانَتْ عَامَّةُ وَصِيَّةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ حَضَرَتْهُ الْوَفَاةُ وَهُوَ يُغَرْغِرُ بِنَفْسِهِ : اَلصَّلَاةَ ، وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ . سنن ابن ماجه بَابُ هَلْ أَوْصَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم ۲۶۹۷ .

وفي رواية : فعن أم سلمة رضي الله عنها أنها قالت : كان من آخر وصية رسول الله صلى الله عليه وسلم: الصلاة الصلاة وما ملكت أيمانكم، حتى جعل نبي الله صلى الله عليه وسلم يجلجلها في صدره وما يفيض بها لسانه. احمد ۶/ ۲۹۰ ، ۳۱۱ ، ۳۲۱ ، وصححه الألباني في إرواء الغليل ۷/ ۲۳۸ . منزلة الصلاة في الاسلام ج۱ ص۱۲ .

(۳) المعجم الكبير للطبراني ج۸ ص۳۱۷ رقم الحديث ۸۱۸۶ ، وقال في المجمع ۱ /۲۹۳ : رواه الطبراني والبزار ورجاله رجال الصحيح .

وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَّلُ مَا يَشْتَرِطُ بَعْدَ التَّوْحِيْدِ إِقَامَةُ الصَّلَاةِ لِأَنَّهَا رَأْسُ الْعِبَادَاتِ الْبَدَنِيَّةِ ... (۱)

نبي کريم صلی الله عليه وسلم به ( په نوي مسلمان باندې ) د توحيد نه روستو اوّلنې شرط د مونځ قائمولو لړولو ، ځکه مونځ د ټولو عباداتو بدنيه وُ جَرړه (او بُنياد ) دی.

او پيغمبر عليه السلام به هم چې چاته څه وصيت کولو نو په هغې کې به يې ورته د مانځه وصيت هم کولو . حضرت قُرَّة بن دَعْمُوص ﷺ فرمايي چې په حجّة الوداع کې زمونږ ملاقات د نبي عليه السلام سره اوشو ، مونږ ورته ووېل :

يَا رَسُوْلَ اللهِ! مَا تَعْهَدُ إِلَيْنَا ؟

اې د الله رسوله ! تاسو مونږ ته څه وصيت کوی ؟

رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل :

أَعْهَدُ إِلَيْكُمْ أَنْ تُقِيْمُوا الصَّلَاةَ .. وَتُؤْتُوا الزَّكَاةَ ، وَتَحُجُّوا الْبَيْتَ الْحَرَامَ ، وَتَصُوْمُوْا رَمَضَانَ ... (۲)

زه تاسو ته دا وصيت کوم چې تاسو مونځ قائموئ ، زکوة ورکوئ ، د بيتُ الله حج کوئ ، او د رمضان روژې نيسئ ...

## د الله ﷻ په نز د محبوب ترين عبادت په خپل وخت باندې مونځ کولږ دي

۱ . د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی ، حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي چې ما د نبي کريم صلی الله عليه وسلم نه پوښتنه اوکړه :

أَيُّ الْعَمَلِ أَحَبُّ إِلَى اللهِ ؟

په ټولو اَعمالو کې الله ﷻ ته ډير محبوب ( او خوښ ) عمل کوم يو دی ؟

---

(۱) فتح الباري لابن حجر رحمه الله ج۲ ص۷ قَوْلُهُ بَابُ الْبَيْعَةِ عَلَى إِقَامِ الصَّلَاةِ.

(۲) عَنْ قُرَّةَ بْنِ دَعْمُوصٍ ﷺ قَالَ : أَلْفَيْنَا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ فَقُلْنَا : يَا رَسُوْلَ اللهِ! مَا تَعْهَدُ إِلَيْنَا ؟ قَالَ : " أَعْهَدُ إِلَيْكُمْ أَنْ تُقِيْمُوا الصَّلَاةَ ، وَتُؤْتُوا الزَّكَاةَ ، وَتَحُجُّوا الْبَيْتَ الْحَرَامَ ، وَتَصُوْمُوْا رَمَضَانَ ... شعب الايمان للبيهقي رقم الحديث ۳۹۲۸ .

نبي عليه السلام وفرمايل : اَلصَّلاَةُ عَلٰى وَقْتِهَا .

په خپل وخت باندې مونځ کول ( الله ﷻ ته ډير محبوب عمل دى ) .

ما ورته وويل : ثُمَّ أَيٌّ ؟ د مونځ نه پس بيا کوم عمل الله ﷻ ته ډير محبوب دى ؟

پيغمبر عليه السلام وفرمايل :

ثُمَّ بِرُّ الْوَالِدَيْنِ . د مونځ نه پس د مور او پلار سره احسان کول .

ما ورته وويل : ثُمَّ أَيٌّ ؟ ددې نه پس بيا کوم عمل الله ﷻ ته ډير محبوب دى ؟

نبي عليه السلام وفرمايل :

اَلْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ . (۱) د الله ﷻ په لاره کې جهاد کول .

**تشريح** : په دې حديث کې الله ﷻ ته محبوب ترين عمل مونځ خودلې شوى ، خو په بعضو احاديثو کې د ټولو نه بهترين عمل په فقيرانو باندې خوراک خودلې شوى ، په بعضو کې د ټولو نه بهترين عمل دا خودلې شوى چې د انسان د ژبې او لاس نه نور مسلمانان محفوظ وي ، په بعضو احاديثو کې د ټولو نه بهترين عمل جهاد خودلې شوى .

**تطبيق** : نو په دې ټولو احاديثو کې تطبيق دادى چې د هر عمل د افضل والي وجوهات او حيثيات مختلف دي ، هر عمل په خپل ځاى افضل دى .

---

(۱) حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي : قَالَ : سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَيُّ الْعَمَلِ أَحَبُّ إِلَى اللهِ ؟ قَالَ : « اَلصَّلاَةُ عَلٰى وَقْتِهَا » قَالَ : ثُمَّ أَيٌّ ؟ قَالَ : « ثُمَّ بِرُّ الْوَالِدَيْنِ » قَالَ : ثُمَّ أَيٌّ ؟ قَالَ : « اَلْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ » . صحيح البخاري بَابُ فَضْلِ الصَّلاَةِ لِوَقْتِهَا رقم الحديث ۵۲۷ ، و رقم ۷۵۳۴ بَابُ وَسَمَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّلاَةَ عَمَلًا ... ، صحيح مسلم بَابُ بَيَانِ كَوْنِ الْإِيمَانِ بِاللهِ تَعَالَى أَفْضَلَ الْأَعْمَالِ رقم الحديث ۱۳۹ ( ۸۵ ) ، مسند ابي داؤد الطيالسي رقم الحديث ۳۷۰ ، مشكاة المصابيح كتاب الصلوة الفصل الاول حديث ۵ ، و رواه النسائي في المواقيت رقم ۶۰۹ ، و احمد في مسنده ۱/ ۴۱۰ ، ۴۳۹ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۵۱ .

وفي رواية : عَنْ أُمِّ فَرْوَةَ ، قَالَتْ : سُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الْأَعْمَالِ أَفْضَلُ ؟ قَالَ : « اَلصَّلاَةُ فِيْ أَوَّلِ وَقْتِهَا » . رواه ابوداؤد كِتَابُ الصَّلاَةِ بَابٌ فِي الْمُحَافَظَةِ عَلَى وَقْتِ الصَّلَوَاتِ رقم الحديث ۴۲۶ ، واحمد في مسنده ۵/ ۱۴۷ والبيهقي ۲/ ۲۹۹ ، ۳۰۰ ، ۳/ ۱۲۵ .

ځکه چې د پيغمبر عليه السلام نه چا هم د بهتر عمل پوښتنه کړې نو دوی د هغه کس د رَغبت، د هغه د مِزاج، او د وخت مناسب جواب ورکړی.

مثلاً د اِسلام په شروع کې جهاد د خلقو د حال مناسب وُ نو نبي عليه السلام وفرمايل چې جهاد د ټولو نه بهترين عمل دی، کله چې نبي ﷺ څه خلق اُوږي او غريبانان اُوليدل نو د دوی سره د اِمداد کولو د پاره يې خلقو ته وفرمايل چې افضل ترين عمل صدقه ده.

مونځ هم چونکه د الله ﷻ سره د قُربِ حقيقي ذريعه وه نو ځکه رسول الله ﷺ وفرمايل چې الله ﷻ ته په ټولو اَعمالو کې بهترين عمل په خپل وخت باندې مونځ کول دي.

۲. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

وَاعْلَمُوا أَنَّ خَيْرَ أَعْمَالِكُمُ الصَّلَاةُ، وَلَنْ يُحَافِظَ عَلَى الْوُضُوْءِ إِلَّا مُؤْمِنٌ. (۱)

تاسو پوهه شئ چې ستاسو په اَعمالو کې بهترين عمل مونځ دی، او د اَودس حفاظت صرف مومِن کوي.

## په قيامت کې به د انسان سره د ټولو نه مخکې د مونځ حِساب کولې شي

د ترمذي شريف حديث دی، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

إِنَّ أَوَّلَ مَا يُحَاسَبُ بِهِ الْعَبْدُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ عَمَلِهِ صَلَاتُهُ، فَإِنْ صَلُحَتْ فَقَدْ أَفْلَحَ وَأَنْجَحَ، وَإِنْ فَسَدَتْ فَقَدْ خَابَ وَخَسِرَ. (۲)

---

(۱) رواه احمد في مسنده رقم الحديث ۲۲۳۷۸، ورقم ۲۲۴۱۴، و رقم ۲۲۴۳۶، وابن ماجه رقم الحديث ۲۷۷، ورقم ۲۷۸، والحاكم في المستدرک ۱/۳۰، ومالک في الموطا رقم ۳۴. المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۴۱ رقم الحديث ۱۲۲.

وفي رواية: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اَلصَّلَاةُ خَيْرُ مَوْضُوعٍ، فَمَنِ اسْتَطَاعَ أَنْ يَسْتَكْثِرَ فَلْيَسْتَكْثِرْ.

رواه الطبراني في المعجم الاوسط رقم الحديث ۲۴۳، فتح الملهم ج۲ ص ۳۱۹، كنز العمال ج۷ ص ۲۰۶.

(۲) سنن الترمذي بَابُ مَا جَاءَ أَنَّ أَوَّلَ مَا يُحَاسَبُ بِهِ الْعَبْدُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الصَّلَاةُ رقم ۴۱۳، سنن ابن ماجه بَابُ مَا جَاءَ فِي أَوَّلِ مَا يُحَاسَبُ بِهِ الْعَبْدُ الصَّلَاةُ رقم الحديث ۱۴۲۵، سنن النسائي رقم الحديث ۴۶۵، و رقم ۴۶۶، مشكاة المصابيح باب صلاة التسبيح رقم ۱۳۳۰ (۳). / وفي رواية: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَوَّلُ مَا يُحَاسَبُ بِهِ الْعَبْدُ الصَّلَاةُ، ثُمَّ سَائِرُ الْأَعْمَالِ. المعجم الكبير للطبراني رقم ۱۲۵۵، و رقم ۱۲۵۶، كنز العمال رقم ۱۸۸۸۳.

بیشکه د قیامت په ورځ به د بنده سره دده په اعمالو کې د ټولو نه اوّلنې حساب دده د مونځ کولې شي ، پس که چیرته دده مونځ صحیح وُ نو دې کامیاب او بامُراده دی ، او که چیرته مونځ یې خراب وُ نو دې تاواني ار نقصان واله دی .

ګویا د انسان د کامیابۍ او ناکامۍ مِعیار مونځ ګرځولې شوی ، پس که دده مونځ صحیح وُ نو دې کامیاب دی ، او که مونځ یې صحیح نه وُ نو دې ناکام دی .

همدارنګې د انسان د مانځه د کمال او نقصان نه به دنورو اَعمالو کمال او نقصان معلومولې شي ، دا مضمون په دې راتلونکي حدیث کې واضح شوی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

أَوَّلُ مَا يُحَاسَبُ بِهِ الْعَبْدُ صَلَاتُهُ فَإِنْ صَلُحَتْ صَلُحَ سَائِرُ عَمَلِهِ ، وَإِنْ فَسَدَتْ صَلَاتُهُ فَسَدَ سَائِرُ عَمَلِهِ . (۱)

د قیامت په ورځ به د بنده سره د ټولو نه مخکې دده د مونځ حساب کولې شي ، که چیرته مونځ یې ښه وُ نو باقي اَعمال به یې هم ښه وي ، او که چیرته مونځ یې فاسِد وُ نو باقي اَعمال به یې هم خراب وي .

## مونځ د نبي علیه السلام د سترګو یخوالې دی

نبي کریم صلی الله علیه وسلم د خپلو سترګو یَخوالې مونځ ګرځولی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

وَجُعِلَ قُرَّةُ عَيْنِي فِي الصَّلَاةِ . (۲)

او زما د سترګو یَخوالې په مونځ کې ایخودل شوی .

(۱) صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۳۷۶ (۲۷) كنزالعمال رقم الحديث ۱۸۸۸ ، و رواه الطبراني في الاوسط ، ولاباس باسناده ان شاء الله ، مختصرالاحكام مستخرج الطوسي على جامع الترمذي ج۲ ص ۳۶۵ .

(۲) پوره حدیث داسې دی : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: حُبِّبَ إِلَيَّ مِنَ الدُّنْيَا النِّسَاءُ ، وَالطِّيبُ، وَجُعِلَ قُرَّةُ عَيْنِي فِي الصَّلَاةِ . سنن النسائي بَابُ حُبِّ النِّسَاءِ رقم الحديث ۳۹۳۹ ، ورقم ۳۹۴۰ ، وقال الالباني رحمه الله : هذا حديث حسن صحيح ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۱۰۱۲ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم ۲۶۷۶ ، مشكاة المصابيح رقم ۵۲۶۱ (۳۱) .

# بغير د مونځ نه دِين کامِل ندی

۱ . رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

لَا دِيْنَ لِمَنْ لَّا صَلَاةَ لَهُ ، إِنَّمَا مَوْضِعُ الصَّلَاةِ مِنَ الدِّيْنِ كَمَوْضِعِ الرَّأْسِ مِنَ الْجَسَدِ . (۱)

څوک چې مونځ نه کوي د هغه دِين نشته ، بيشکه په دِين کې د مونځ مقام داسې دی لکه په بَدن کې چې سَر کوم مقام دی .

يعنى لکه څرنګې چې د سَر نه بغير انسان ژوندې نه شي پاتې کيدی نو همدغه زنګې د مونځ نه بغير دِين هم باقي نشي پاتې کيدی .

او لکه څرنګې چې د انسان د ټولو طاقتونو مرکز او مَنبَع سَر دی ، که دا سَر د جِسم نه جدا کړې شی نو بيا باقي جِسم بې رُوحه لاش پاتې کيږي ، بيا خلق ديته انسان نه وايي ، همدغه شان حيثيت په دِين کې د مونځ هم دی ، چې دا د پوره دِين سَرچشمه ده ، که چيرته مونځ نه وي نو بيا دِيني ژوند هم نه پاتې کيږي .

۲ . په احاديثو کې دا واقعه ذکر ده چې د ثقيف يو وَفد نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته راغی ، پيغمبر عليه السلام دوی په مسجدِ نبوي کې کينول ، د خبرو په دَوران کې دوی څه شرطونه په نبي ﷺ کيښودل چې په هغې کې دا هم وو چې مونږ به د جهاد ، زکوة او مونځ نه مُستثنٰی يو (يعنی مونږ به دا کارونه نه کوو) ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :

لَا خَيْرَ فِيْ دِيْنٍ لَيْسَ فِيْهِ رُكُوْعٌ . (۲)

---

(۱) المعجم الاوسط للطبراني رقم الحديث ۲۲۹۲ ، ورواه الطبراني في الصغير ، الترغيب والترهيب ۱ /۲۴۶ ، كنز العمال كتاب الصلاة الفصل الثاني في فضائل الصلاة . رقم الحديث ۱۸۹۷۲ ،

وفي رواية : لَا سَهْمَ فِي الْإِسْلَامِ لِمَنْ لَّا صَلَاةَ لَهُ . مسند البزار رقم الحديث ۸۵۳۹ ، الدرالمنثور في التفسير بالمأثور ج۱ ص ۷۰۶ . په اسلام کې د هغه څا حصه نشته چې هغه مونځ نه کوي .

(۲) عَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ ﷺ أَنَّ وَفْدَ ثَقِيْفٍ لَمَّا قَدِمُوْا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْزَلَهُمُ الْمَسْجِدَ لِيَكُوْنَ أَرَقَّ لِقُلُوْبِهِمْ . فَاشْتَرَطُوْا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ لَا يُحْشَرُوْا ، وَلَا يُعْشَرُوْا ، وَلَا يُجَبُّوْا ، وَلَا يُسْتَعْمَلَ عَلَيْهِمْ مِنْ غَيْرِهِمْ . فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « لَا خَيْرَ فِيْ دِيْنٍ لَيْسَ فِيْهِ رُكُوْعٌ » . المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۸۳۷۲ .

په هغه دين کې هيڅ خير نشته چې په هغې کې رکوع ( يعنی د الله ﷻ د وړاندې ټيټيدل او مونځ ) نه وي.

## حضرت عُمر ﷺ د مانځه متعلق سَرکاري فرمان صادرِ کړې وُ

صحابه کرامو هم مانځه ته ډير اَهميت ورکول ، د حضرت عُمر رضي الله عنه په دَورِ خلافت کې مسلمانانو ته ډير فتوحات حاصل شوي وو ، د قيصر و قِصریٰ محلات د مسلمانانو په قبضه کې راغلي وو ، حضرت عُمر ﷺ چې په څومره علاقه باندې حکومت کولو د هغې نه نن صبا تقريبًا پنځلس (١٥) مُلکونه جوړ شوي ، دومره لوي حکومت يې وُ .

په مؤطا امام مالک او مشکوة شريف کې دا روايت نقل دی چې : حضرت عُمر ﷺ په خپل دَورِ خلافت کې خپلو ټولو عامِلانو ( د اِسلامي حکومت حاکمانو ) ته دا سَرکاري فرمان ليکلې وُ :

إِنَّ أَهَمَّ أَمْرِكُمْ عِنْدِيْ الصَّلَاةُ ، فَمَنْ حَفِظَهَا وَحَافَظَ عَلَيْهَا حَفِظَ دِيْنَهُ ، وَمَنْ ضَيَّعَهَا فَهُوَ لِمَاسِوَاهَا أَضْيَعُ . (١)

بيشکه ستاسو په ټولو کارونو کې زما په نزد ډير اَهم ( او مُهتَم بِالشّان ) کار مونځ دی ، پس چا چې ددې حفاظت اوکړو ( يعنی د اَرکانو او شرائطو سره يې اَداء کړو ) او ددې نِگهباني يې اوکړه (يعنی هميشه يې اَداء کولو ، په رِيا او نمائِش سره يې باطل نه کړو ) نو ده د خپل دِين (د نورو اُمورو هم ) حفاظت اوکړو ، او چا چې مونځ ضائع کړو نو دې د دِين د نورو اُمورو هم زيات ضائع کوونکې (او بَربادوونکې ) دی .

**فائده** : د حضرت عمر ﷺ ددې اِرشاد نه هم معلومه شوه چې مونځ د ټول اسلامي ژوند معلومولو د پاره مِعيار دی ، چې څوک څومره ددې ډير حفاظت کوي دومره به دې د نورو اِسلامي اعمالو هم حفاظت کوي ، او چې څومره يو انسان د مونځ لحاظ نه ساتي نو دومره به دې د نورو اِسلامي اعمالو لحاظ هم نه ساتي .

---

(١) موطا امام مالک بَابُ وُقُوتِ الصَّلَاةِ رقم الحديث ٦ ، مشکاة المصابيح کتاب الصلوة باب مواقيت الصلوة الفصل الثالث رقم الحديث ٥٨٥ (٥) .

ځکه چې مونځ د دِين ستَن ده ، دا په حقوقُ الله کې داخل دی ، او س چې يو کس د حقوقُ الله لحاظ نه ساتي نو هغه به د حقوقُ العبادو لحاظ څه اُوساتي ؟

حضرت عُمر ﷛ دا فرمان د ټولو صوبو حاکمانو او ګورنرانو ته ځکه ليږلې وُ چې عام طور حاکمان دا ګمان کوي چې زما په سَر د قوم ډيرې ذِمه دارياني دي نو که مونځ رانه پاتې شي دا خبر دی ، حضرت عُمر ﷛ دوی ته دا واضحه کړه چې زما په نزد د ټولو نه اَهم کار مونځ کول دي ، ددې نه بله داسې غټه ذِمه داري نشته چې د هغې په وجه انسان مونځ قضاء کړي .

# مونځ کوونکې د الله ﷻ سره مُناجات کوي

مونځ دومره عظيم عبادت دی چې څوک په مانځه اُودريږي نو دا ګويا د الله ﷻ سره مُناجات او خبرې کوي ، د بخاري شريف حديث دی ، رسول الله ﷺ فرمايي :

إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا صَلَّى يُنَاجِيْ رَبَّهُ... (۱)

بيشکه کله چې په تاسو کې يو کس مانځه ته اُودريږي نو يقيناً چې دې د خپل رَب سره مُناجات کوي .

**د مُلاعلي قاري رحمه الله وينا :** ملاعلي قاري رحمه الله په مِرقاة المفاتيح شرح مشکاة المصابيح کې د "يُنَاجِيْ رَبَّهُ" مطلب دا بيان کړی :

أَيْ يُحَادِثُهُ وَيُكَالِمُهُ، وَهُوَ كِنَايَةٌ عَنْ كَمَالِ قُرْبِهِ الْمَعْنَوِيِّ، لِأَنَّ الصَّلَاةَ مِعْرَاجُ الْمُؤْمِنِ . (۲)

---

(۱) صحيح البخاري بَابُ: اَلْمُصَلِّيْ يُنَاجِيْ رَبَّهُ عَزَّ وَجَلَّ رقم ۵۳۱ ، ورقم ۴۰۵ بَابُ حَكِّ الْبُزَاقِ بِالْيَدِ مِنَ الْمَسْجِدِ ، ورقم ۴۱۳ ، صحيح مسلم رقم ۵۴ ( ۵۵۱ ) باب النهي عن البصاق في الصلاة وغيرها ، مسند ابي داؤد الطيالسي رقم ۲۰۸۶ ، مشکوة المصابيح باب القراءة في الصلاة الفصل الثاني رقم الحديث ۸۵۶ (۳۵) ، ورقم ۷۳۶ (۵۸) .

(۲) مرقاة المفاتيح شرح مشکوة المصابيح ج۲ ص ۷۰۲ في تشريح حديث ۸۵۶ بَابُ الْقِرَاءَةِ فِي الصَّلَاةِ .

ملا علي قاري رحمه الله په يو بل ځای کې ددې تشريح داسې کړې : ( يُنَاجِيْ رَبَّهُ ) أَيْ: يُخَاطِبُهُ بِلِسَانِ الْقَائِلِ كَالْقِرَاءَةِ وَالذِّكْرِ وَالدُّعَاءِ، وَبِلِسَانِ الْحَالِ كَأَنْوَاعِ أَحْوَالِ الْإِنْتِقَالِ، وَلِذَا قِيْلَ: اَلصَّلَاةُ مِعْرَاجُ الْمُؤْمِنِ . مرقاة المفاتيح شرح مشکوة المصابيح ج۲ ص ۶۲۵ في تشريح حديث ۷۳۶ .

د خپل رب سره د مناجات مطلب دادی چې دې د الله ﷻ سره خبرې کوي ، او دا کنايه ده د '' کمالِ قربِ معنوي '' نه ، ځکه مونځ خو د مُومن د پاره معراج دی . (۱)

بهر حال ، د مُناجات معنی داده چې د يو چا سره په تنهائي کې د راز خاص خبرې کول .. نو چې کله يو کس په مانځه اودرېږي نو دا هم د خپل رب سره د راز و نياز او سَرګوشۍ خبرې کوي ، د همدې د وجې انسان ته په کار دي چې په ډير اَدب او توَجّه سره مونځ اوکړي ، ځکه که يو کس د دُنيا د يو عام بادشاه په مخکې ولاړ وي نو په ډير اَدب ولاړ وي ، بې ځايه حرکتونه نکوي ، نو اوس چې يو کس په مانځه کې د اَحْكَمُ الْحَاكِمِين ، د بادشاهانو د بادشاه په مخکې ولاړ وي او د هغه سره په مناجات کې مشغول وي نو په کار داده چې دې په طريقِ اَولٰی سره د ټولو آدابو لحاظ اوساتي .

## مونځ د مُومن معراج دی

امام رازي رحمه الله تفسير کبير کې د نبي کريم ﷺ دا حديث رانقل کړی:

اَلصَّلَاةُ مِعْرَاجُ الْمُؤْمِنِ . (۲)

---

(۱) ملا علي قاري رحمه الله بل ځای ليکلي : ( وَإِذَا عِيسٰى قَائِمٌ يُصَلِّيْ ) : فِيْهِ إِيْمَاءٌ إِلَى أَنَّ الصَّلَاةَ مِعْرَاجُ الْمُؤْمِنِ مِنْ حَيْثُ أَنَّهَا حَالَةُ حُضُوْرِ الرَّبِّ ، وَكَمَالِ الْقُرْبِ فِي الْحَالَاتِ، وَأَنْوَاعِ الْإِنْتِقَالَاتِ ، وَهُوَ مِنْ أَعْظَمِ اللَّذَّاتِ عِنْدَ عُشَّاقِ الذَّاتِ وَالصِّفَاتِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح ج۹ ص ۳۷۷۴ في تشريح حديث ۵۸٦٦ .

(۲) تفسير الرازي ۱/ ۲۲٦ ، التفسير المظهري ج٦ ص ۵۳۹ . و ج٦ ص ۴۱۵ .

بل ځای امام رازي رحمه الله ليکلي : إِنَّ مُحَمَّدًا عَلَيْهِ السَّلَامُ لَمَّا أَنْعَمَ اللهُ عَلَيْهِ بِأَنْ رَفَعَهُ إِلَى قَابَ قَوْسَيْنِ قَالَ عِنْدَ ذٰلِكَ: '' اَلتَّحِيَّاتُ الْمُبَارَكَاتُ الصَّلَوَاتُ الطَّيِّبَاتُ لِلّٰهِ '' وَالصَّلَاةُ مِعْرَاجُ الْمُؤْمِنِ، فَلَمَّا وَصَلَ الْمُؤْمِنُ فِيْ مِعْرَاجِهِ إِلَى غَايَةِ الْإِكْرَامِ وَهِيَ أَنْ جَلَسَ بَيْنَ يَدَيِ اللهِ وَجَبَ أَنْ يَقْرَأَ الْكَلِمَاتِ الَّتِيْ ذَكَرَهَا مُحَمَّدٌ عَلَيْهِ السَّلَامُ ، فَهُوَ أَيْضًا يَقْرَأُ التَّحِيَّاتِ ، وَيَصِيْرُ هٰذَا كَالتَّنْبِيْهِ عَلَى أَنَّ هٰذَا الْمِعْرَاجَ الَّذِيْ حَصَلَ لَهُ شُعْلَةٌ مِنْ شَمْسِ مِعْرَاجِ مُحَمَّدٍ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَقَطْرَةٌ مِنْ بَحْرِهِ وَهُوَ تَحْقِيْقُ قَوْلِهِ : فَأُولٰئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ أَنْعَمَ اللهُ عَلَيْهِمْ مِنَ النَّبِيِّيْنَ . تفسير الرازي ج۱ ص ۲۲۳ . / امام رازي رحمه الله په دې باندې مستقل فصل قائم کړی : اَلْفَصْلُ الْخَامِسُ فِيْ أَنَّ الصَّلَاةَ مِعْرَاجُ الْعَارِفِيْنَ . او ددې د لاندې يې پوره تشريح کړی . تفسير الرازي ج۱ ص ۲۲۳ .

مونځ د مومن معراج دی. (۱)

## د شاه ولي الله رحمه الله وينا:

شاه ولي الله رحمه الله په حجة الله البالغة کې ليکلي: وَالصَّلَاةُ مِعْرَاجُ الْمُؤْمِنِ معدة للتجليات الأخروية... وَسببٌ عَظِيمٌ لِمَحبّة الله وَرحمته. (۲)

مونځ د مومنانو د پاره مِعراج دی، او په آخرت کې چې د تجلياتِ الهيه کومې نظارې چې مومنانو ته نصيبه کيږي دا مونځ د هغې اِستعداد پيدا کولو د پاره خاص ذريعه ده... او دا د الله ﷻ د محبت او رحمت حاصلولو د پاره يوه لويه ذريعه ده.

محترمو! نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته چې الله تعالى د معراج دا کومه عظيمه مرتبه ورکړې دا يې په کائناتو کې بل هيچا ته نده ورکړې، ځکه پيغمبر عليه السلام د معراج په شپه هغه ځای ته اُورسيده چې هلته حضرت جبريل عليه السلام هم نه شو رسيدی.

---

(۱) وَأَمَّا الصَّلَاةُ فَقَدْ قِيلَ: كَانَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِعْرَاجَانِ: مِعْرَاجٌ فِي عَالَمِ الْحِسِّ مِنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى، ثُمَّ إِلَى عَالَمِ الْمَلَكُوتِ، وَمَحَلِّ الْمَلَإِ الْأَعْلَى. وَمِعْرَاجٌ فِي عَالَمِ الْأَرْوَاحِ مِنَ الشَّهَادَةِ إِلَى الْغَيْبِ، ثُمَّ مِنَ الْغَيْبِ إِلَى غَيْبِ الْغَيْبِ. فَلَمَّا أَرَادَ أَنْ يَرْجِعَ قَالَ الرَّبُّ تَبَارَكَ وَتَعَالَى: اَلْمُسَافِرُ إِذَا عَادَ إِلَى وَطَنِهِ أَتْحَفَ أَصْحَابَهُ، وَإِنَّ تُحْفَةَ أُمَّتِكَ الصَّلَاةُ الْجَامِعَةُ بَيْنَ الْمِعْرَاجَيْنِ الْجِسْمَانِيِّ بِالْآدَابِ، وَالْأَفْعَالِ، وَالرُّوحَانِيِّ بِالْأَذْكَارِ، وَالْأَحْوَالِ. وَلِهَذَا وَرَدَ: اَلصَّلَاةُ مِعْرَاجُ الْمُؤْمِنِ. مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح ج۱ ص۵۵.

(۲) حجة الله البالغة ج۱ ص۱۳۸ بَاب أسرار الصَّلَاة.

شاه ولي الله رحمه الله دا هم ليکلي: اِعْلَم أَنَّ الصَّلَاةَ أعظم العِبَادَات شَأْنًا وأوضحها برهانًا وأشهرها فِي النَّاس وأنفعها فِي النَّفس وَلذَلِك اعتنى الشَّارِع بِبَيَان فَضلهَا وَتَعْيِين أَوْقَاتهَا وشروطها وأركانها وآدابها و رخصها ونوافلها اعتناء عَظِيم لم يفعل فِي سَائِر أَنْوَاع الطَّاعَات، وَجعلهَا من أعظم شَعَائِر الدّين. حجة الله البالغة ج۱ ص ۳۱۵ من أبْوَاب الصَّلَاة. پوهه شه چې مونځ په ټولو عباداتو کې د ډير لوي شان واله عبادت دی، په ټولو عباداتو کې په اعتبار د بُرهان سره ډير واضحه دی، په نېکو انسانانو کې ډير مشهور دی، د نفس د تزکيه او تربيت د پاره ډير فائده مند دی، د غه وجه ده چې شريعت دد ې د فضائلو، اَوقاتو، شرائطو، اَرکانو، آدابو او نوافلو داسې اِهتمام کړی دی چې دا يې د نورو عباداتو ندی کړی، د همدغه خصوصياتو او اِمتيازاتو په وجه شريعت دا مونځ د دين د عظيمو شعائرو (او نخو) نه ګرځولې دی.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه علاوه د نورو مسلمانانو په وَس کې خو دا نشته چې د چې د اُووه (۷) آسمانونو د پاسه مَلاءِ اَعلیٰ او سِدرةُ المنتهیٰ ته اُورسي نو د پیغمبر علیه السلام په برکت نورو مؤمنانو ته د مانځه معراج ورکړې شو ، ځکه چې کله انسان په مانځه اُودرېږي نو ده ته د الله ﷻ قرب ، مناجات او هَمکلامي نصیبه کیږي . (۱)

**د امام غزالي رحمه الله وینا** : امام غزالي رحمه الله په مکاشفة القلوب کې د بکر بن عبدالله قول رانقل کړی ، دې وايي : اې انسانه ! که ته دا غواړې چې د خپل مالکِ حقیقي دَربار اوِ حُضور ته بغیر د اجازې او بغیر د ترجمان نه داخل شې نو داخل شه ، چا ورنه پوښتنه اوکړه چې دا څنګه کیدې شي؟ ده ورته ووېل :

اول پوره اَودس اوکړه ، بیا جُمات ته لاړ شه ، او په مانځه اُودرېږه ، نو دا د الله ﷻ په دَربار کې حاضرېدل دي . (۲)

مونځ د بنده او الله ﷻ په مینځ کې داسې یو تعلق دی چې د دې مثال په بل هیڅ شي کې نه پیدا کیږي ، همدا وجه ده چې چاته د مونځ خوَند او مزه حاصله شي هغه د دې نه بغیر بیا په بل هیڅ شي کې اِطمینان او سکون نه کوري ، په سختو او مشکلو حالاتو کې هم د مانځه پابندي کوي .

## مونځ د ټولو فرښتو او د ټولو مخلوقاتو د عبادت مجموعه او جامِع عبادت دی

مونځ داسې اَهم عبادت دی چې دا د ټولو فرښتو د عباداتو مجموعه ده ، ځکه بعضې فرښتې مسلسل د الله ﷻ په دَربار کې په ولاړه عبادت کوي ، بعضې د رکوع په حالت کې دي ، بعضې د سجدې په حالت کې دي ، بعضې د قعود په حالت کې دي ، بعضې مسلسل تسبیح وايي ، بعضې تَحمید وايي ، بعضې په تکبیر ویلو کې مصروفه دي ، او بعضې په مُناجات کې مشغوله دي . الله تعالی دې اُمتِ محمّدیه سره دا اِحسان اوکړو چې په مونځ کې یې دا ټول عبادات راجَمع کړل ، او نبي ﷺ ته یې د معراج په شپه په تحفه کې ورکړو .

---

(۱) اصلاحي خطبات ج ۱۴ ص ۲۱۷ .

(۲) مکاشفة القلوب باب ۱۴ .

همدارنګې د مخکینې اُمتونو په مانځه کې چې د حَمد و ثناء ، مُناجات او دُعا کوم اَرکان، یا اَذکار وو هغه ټول ددې اُمت په مانځه کې هم جَمع دي.

همدارنګې دا نور مخلوقات هم عبادت کوي خو د هر چا عبادت ځانله ځانله دی: د اُونو عبادت قِیام دی، د غرونو عبادت قُعود دی، د حیواناتو عبادت رکوع ده، د حشراتو عبادت سجده ده او په مانځه کې دا ټول عبادات راجَمع دي، ځکه په مانځه کې قِیام هم شته، قعود هم شته، رکوع هم شته، او سجده هم شته. (۱)

امام غزالي رحمه الله په کیمیایٔ سعادت کې لیکلي: چې د توحید نه پس د الله ﷻ په نزد محبوب ترین عمل همدا مونځ دی، ځکه که د مونځ نه علاوه ورته بل شی محبوب وی نو فرښتې به یې بیا په هغې مصروفه کړې وی، حالانکه فرښتې همیشه په مانځه مصروفه دي، ځنې فرښتې په رکوع کې دي، ځنې په سجده کې دي، ځنې په قِیام کې دي او ځنې په قعده کې دي. (۲)

## مونځ نبي ﷺ ته د مِعراج په شپه باندې په تحفه کې ورکړل شوی

د اسلام ټول اَحکامات (که دا عبادات دي یا مُعاملات، که فرائض دي یا واجبات، که اَوامِر دي یا نواهي دا ټول) د حضرت جبرائیل علیه السلام په واسطه په زمکه نازل شوي، خو صِرف مونځ داسې فرضي عبادت دی چې دا رسولُ الله صلی الله علیه وسلم ته بغیر د واسطې نه د اُوو (۷) آسمانونو د پاسه د سِدرةُ المُنتَهٰی سره نزدې د تُحفې په طور ورکړې شوی، او همدا خبره د مانځه د عَظمت د پاره کافي ده.

د مِعراج په شپه اول پنځوس مونځونه فرض شوي وو، بیا د حضرت موسی علیه السلام په وینا سره نبي ﷺ بار بار د الله ﷻ دَربار ته تللو او په هره پېره به الله ﷻ پنځه پنځه مونځونه ورته معاف کول، تر دې پورې چې پنځه پاتې شو، او پنځه څلویښت ورته الله ﷻ معاف کړل، او دا یې هم ورته وفرمایل چې څوک دا پنځه مونځونه اَداء کوي نو ثواب

(۱) خطبات حکیم الامت لمولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله، ندای ممبر و محراب ج۴ ص ۱۸۶.

(۲) کیمیای سعادت للامام غزالي رحمه الله څلورم اصل د مانځه په باره کې.

به ورته د پنځوسو مونځونو ورکوم، نو په عمَل کې پنځه مونځونه دي ليکن په تَله د ميزان کې د ثواب په اِعتبار سره پنځوس دي.

په بخاري، مسلم او نورو د احاديثو په کتابونو کې د معراج واقعه په تفصيل سره ذِکر ده (خو زه به ورته صرف د مانځه متعلق خبره رانقل کړم)، رسول الله ﷺ فرمايي:

... فَفَرَضَ عَلَيَّ خَمْسِيْنَ صَلَاةً فِيْ كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ.

بيا الله تعالى په مابانديې په شپه او ورځ کې پنځوس (۵۰) مونځونه فرض کړل.

کله چې زه شپږم آسمان کې حضرت موسى عليه السلام ته راغلم هغه راته ووېل:

مَا فَرَضَ رَبُّكَ عَلَى أُمَّتِكَ؟ ستا رب ستا په اُمت بانديې څه فرض کړل؟

ما ورته ووېل: خَمْسِيْنَ صَلَاةً فِيْ كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ. په شپه او ورځ کې پنځوس مونځونه.

هغه راته ووېل:

اِرْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَسَلْهُ التَّخْفِيْفَ فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا تُطِيْقُ ذٰلِكَ فَإِنِّيْ بَلَوْتُ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ وَخَبَرْتُهُمْ.

ته خپل رَب ته واپس لاړ شه او د مونځونو د تعداد په حقله ورنه د تخفيف (يعنى کموالي) درخواست اوکړه، ځکه ستا اُمت ددې (پنځوسو مونځونو کولو) طاقت نه لري، ما بني اِسرائيل آزمائيلي دي او د هغوی اِمتحان مې اخيستې دی.

نبي عليه السلام فرمايي چې زه (د حضرت موسى عليه السلام په مشوره) د خپل رب دَربار ته لاړم، او ورته اُومې ويل: يَا رَبِّ! خَفِّفْ عَلَى أُمَّتِيْ.

اې زما رَبه! زما په اُمت بانديې (د مونځونو د تعداد په باره کې) آساني اوکړه.

فَحَطَّ عَنِّيْ خَمْسًا. نو الله جل جلاله د ما نه پنځه مونځونه کم کړل.

کله چې حضرت موسى عليه السلام ته واپس راغلم نو ورته مې ووېل: الله جل جلاله د مانه پنځه مونځونه کم کړل، موسى عليه السلام راته وفرمايل: ستا اُمت د دومره ډيرو مونځونو کولو طاقت نه لري، ته واپس خپل رَب ته لاړ شه او د هغه نه ددې د کمولو درخواست اوکړه نبي عليه السلام فرمايي:

فَلَمْ أَزَلْ أَرْجِعُ بَيْنَ رَبِّي وَبَيْنَ مُوْسٰى حَتّٰى قَالَ : يَا مُحَمَّدُ ! إِنَّهُنَّ خَمْسُ صَلَوَاتٍ كُلَّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ لِكُلِّ صَلَاةٍ عَشْرٌ فَذٰلِكَ خَمْسُوْنَ صَلَاةً .

زه همدغه شان د خپل رَب او حضرت موسی ﷺ په مینځ کې تلم راتلم ( په هره پېره به پنځه مونځونه راته معاف کیدل ، په آخري ځل هم راته پنځه مونځونه معاف شو ) تر دې پورې چې الله ﷻ راته وفرمایل : اې محمد ! په شپه او ورځ کې فرض خو دا پنځه مونځونه دي خو په دې کې د هر مونځ ثواب د لسو مونځونو برابر دی ، نو دا پنځه مونځونه په ثواب کې د پنځوسو مونځونو برابر دي .

د حدیث په آخر کې ذکر دي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي چې زه بیا ښکته آسمان ته واپس راغلم ، حضرت موسی ﷺ ته مې صورتِ حال بیان کړو ، هغه راته ووېل :

اِرْجِعْ إِلٰى رَبِّكَ فَسْئَلْهُ التَّخْفِيْفَ .

ته خپل رَب ته واپس لاړ شه ، او د دې پنځو مونځونو د کمولو سوال ورنه اوکړه .

نبي ﷺ فرمایي چې ما حضرت موسی ﷺ ته ووېل :

قَدْ رَجَعْتُ إِلٰى رَبِّي حَتّٰى اسْتَحْيَيْتُ مِنْهُ . (١)

---

(١) په مشکاة شریف کې دا حدیث په دې الفاظو ذکر دی : نبي علیه السلام فرمایي : .... فَفَرَضَ عَلَيَّ خَمْسِيْنَ صَلَاةً فِيْ كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ ، فَنَزَلْتُ إِلٰى مُوْسٰى . فَقَالَ : مَا فَرَضَ رَبُّكَ عَلٰى أُمَّتِكَ ؟ قُلْتُ : خَمْسِيْنَ صَلَاةً فِيْ كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ . قَالَ : اِرْجِعْ إِلٰى رَبِّكَ فَسْئَلْهُ التَّخْفِيْفَ فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا تُطِيْقُ ذٰلِكَ فَإِنِّيْ بَلَوْتُ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ وَخَبَرْتُهُمْ . قَالَ : فَرَجَعْتُ إِلٰى رَبِّيْ . فَقُلْتُ : يَارَبِّ ! خَفِّفْ عَلٰى أُمَّتِيْ . فَحَطَّ عَنِّيْ خَمْسًا . فَرَجَعْتُ إِلٰى مُوْسٰى . فَقُلْتُ : حَطَّ عَنِّيْ خَمْسًا قَالَ : إِنَّ أُمَّتَكَ لَا تُطِيْقُ ذٰلِكَ فَارْجِعْ إِلٰى رَبِّكَ فَسْئَلْهُ التَّخْفِيْفَ . قَالَ : فَلَمْ أَزَلْ أَرْجِعُ بَيْنَ رَبِّيْ وَبَيْنَ مُوْسٰى حَتّٰى قَالَ : يَا مُحَمَّدُ ! إِنَّهُنَّ خَمْسُ صَلَوَاتٍ كُلَّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ لِكُلِّ صَلَاةٍ عَشْرٌ فَذٰلِكَ خَمْسُوْنَ صَلَاةً . مَنْ هَمَّ بِحَسَنَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا كُتِبَتْ لَهُ حَسَنَةً فَإِنْ عَمِلَهَا كُتِبَتْ لَهُ عَشْرًا ، وَمَنْ هَمَّ بِسَيِّئَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا لَمْ تُكْتَبْ لَهُ شَيْئًا ، فَإِنْ عَمِلَهَا كُتِبَتْ لَهُ سَيِّئَةً وَاحِدَةً . قَالَ : فَنَزَلْتُ حَتَّى انْتَهَيْتُ إِلٰى مُوْسٰى فَأَخْبَرْتُهُ . فَقَالَ : اِرْجِعْ إِلٰى رَبِّكَ فَسْئَلْهُ التَّخْفِيْفَ . فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : فَقُلْتُ : قَدْ رَجَعْتُ إِلٰى رَبِّيْ حَتَّى اسْتَحْيَيْتُ مِنْهُ . مشكاة المصابيح باب فى المعراج الفصل الاول رقم الحديث ٥٨٦٣ ( ٢ ) ، صحيح مسلم رقم ٢٥٩ ( ١٦٢ ) بَابُ الْإِسْرَاءِ بِرَسُوْلِ اللهِ ﷺ إِلَى السَّمَاوَاتِ وَفَرْضِ الصَّلَوَاتِ . صحيح البخاري باب كيف فرضت الصلاة فى الاسراء رقم الحديث ٣٤٩ .

زه خپل رَب ته بار بار ورغلې يم اوس ماته د هغه نه حَياء راځي ( چې ددې پنځو مونځونو د کمولو سوال ورنه اوکړم ) .

# دا هر مونځ اول په مخکينې پيغمبرانو کې يو پيغمبر کړی

د فِقه حَنفي د مشهور کتاب " هداية " په شرح " عناية " کې ددې پنځو مونځو متعلق ډيره بهترينه خبره بيان شوی .

صاحب د " عناية " ليکلي چې مونږ دا کوم پنځه مونځونه کوو په دې کې دا هر مونځ اول په مخکينې پيغمبرانو کې يو پيغمبر کړی ، نو الله ﷻ ته د هغه دا مونځ دومره خوښ شوی چې هغه يې په دې اُمت فرض کړی .

# د سهَر مونځ د ټولو نه مخکې حضرت آدم عليه السلام کړی

صاحب د " عناية " ليکلي چې د سهَر مونځ د ټولو نه مخکې حضرت آدم عليه السلام اداء کړی ، ځکه کله چې حضرت آدم عليه السلام د جنت نه رابښکته کړې شو نو په دغه وخت کې په ټوله دُنيا کې شپه وه او سخته تياره وه ، ده چونکه ددې نه مخکې تياره نه وه ليدلی ( ځکه په جنت کې خو رَڼا وه ) ، دې سخت اُويريد ( ځکه دده سره دا يَره وه چې په دې تياره کې به ژوند څنګه تيرېږي ؟ دلته خو هيڅ شی په نظر نه راځي ) ، هر کله چې صبا رااُوخَت ( هر طرف ته رَڼا شوه ) :

صَلّٰی رَكْعَتَيْنِ شُكْرًا لِلّٰهِ تَعَالٰی : اَلرَّكْعَةُ الْأُوْلٰی لِلنَّجَاةِ مِنْ ظُلْمَةِ اللَّيْلِ ، وَالثَّانِيَةُ شُكْرًا لِرُجُوْعِ ضَوْءِ النَّهَارِ ، فَكَانَ ذٰلِكَ سَبَبُ كَوْنِهَا رَكْعَتَيْنِ ، وَفُرِضَتْ عَلَيْنَا . (۱)

---

(۱) وَلِأَنَّ صَلَاةَ الْفَجْرِ أَوَّلُ مَنْ صَلَّاهَا آدَمُ عَلَيْهِ السَّلَامُ حِيْنَ أُهْبِطَ مِنَ الْجَنَّةِ وَأَظْلَمَتْ عَلَيْهِ الدُّنْيَا ، وَجَنَّ اللَّيْلُ وَلَمْ يَكُنْ يَرٰی قَبْلَ ذٰلِكَ فَخَافَ خَوْفًا شَدِيْدًا ، فَلَمَّا انْشَقَّ الْفَجْرُ صَلّٰی رَكْعَتَيْنِ شُكْرًا لِلّٰهِ تَعَالٰی : اَلرَّكْعَةُ الْأُوْلٰی لِلنَّجَاةِ مِنْ ظُلْمَةِ اللَّيْلِ ، وَالثَّانِيَةُ شُكْرًا لِرُجُوْعِ ضَوْءِ النَّهَارِ ، فَكَانَ ذٰلِكَ سَبَبُ كَوْنِهَا رَكْعَتَيْنِ ، وَفُرِضَتْ عَلَيْنَا . العناية شرح الهداية ۱/۲۱۷ كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ الْمَوَاقِيْتِ .

همدا خبره علامه شامي رحمه الله هم ليکلي : الدر المختار و حاشيه ابن عابدين ۱/۳۵۷ كتاب الصلاة .

حضرت آدم علیه السلام ( د نمر راختلو نه وړاندې ) د الله ﷻ د رَضا د پاره د شکرانې په طور دوه رکعته مونځ اوکړو ، د همدې د وجې نه د سهر مونځ دوه رکعته دی ( الله ﷻ ته د حضرت آدم علیه السلام دا مونځ دومره خوښ شو چې ) دا په مونږ باندې هم فرض کړې شو .

## د ماسپخین مونځ د ټولو نه مخکې حضرت ابراهیم علیه السلام کړی

د ماسپخین مونځ د ټولو نه مخکې حضرت ابراهیم علیه السلام اداء کړی ، ده دا مونځ هغه وخت اَداء کړو کله چې دې د خپل ځوي " حضرت اسماعیل علیه السلام " د ذبح کولو په اِمتحان کې کامیاب شو نو د شکریې په طور یې څلور رکعته مونځ اَداء کړو .

یو رکعت یې د حضرت اسماعیل علیه السلام د ذَبحې په اِمتحان کې د کامیابۍ په عِوض کې شکرًا اداء کړو چې الله ﷻ د ځوي د غم نه محفوظ کړو ( ځکه اِمتحان هم پوره شو ، او حضرت اسماعیل علیه السلام هم د ذَبحې نه بچ شو ) .

دویم رکعت یې په دې شکریه کې اداء کړو چې د حضرت اسماعیل علیه السلام په بدله کې د جنت نه ګډ راغی .

دریم رکعت یې په دې شکریه کې اداء کړو چې الله ﷻ ورنه راضي شو او بَراهِ راست یې ورسره خِطاب اوکړو ، الله تبارک وتعالی فرمایي :

﴿ وَنَادَيْنَٰهُ أَن يَٰٓإِبْرَٰهِيمُ ، قَدْ صَدَّقْتَ ٱلرُّءْيَآ ۚ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ ﴾ . (۱)

ترجمه : او مونږ ورته آواز اوکړو چې اې ابراهیم ! بیشکه تا خوب رښتیا کړو ، بیشکه مونږ نېکانو ته همدغه شان بَدله ورکوو .

څلورم رکعت یې ددې په شکریه کې اَداء کړو چې حضرت اسماعیل علیه السلام ذَبح کیدو ته غاړه کیښوده ، او په دې تکلیف باندې یې صبر اوکړو .

---

(۱) الصافات آية ۱۰۴ ، ۱۰۵ .

((( لکه په قرآن کريم کې ذدې بيان شته چې حضرت ابراهيم عليه السلام خپل ځوي ته وفرمايل :

﴿ يٰبُنَيَّ اِنِّيْٓ اَرٰى فِي الْمَنَامِ اَنِّيْٓ اَذْبَحُكَ فَانْظُرْ مَاذَا تَرٰى ۚ قَالَ يٰٓاَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ سَتَجِدُنِيْٓ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ مِنَ الصّٰبِرِيْنَ ﴾ . (۱)

ترجمه : اې بچيه ! زه په خوب کې دا ګورم چې زه تا ذبح کوم ، پس ته اوګوره ( غور اوکړه ، او ماته اُووايه چې ) ستا څه رايه ده ؟ اسماعيل عليه السلام ورته وويل : اې زما پلاره ! تاته چې د څه حکم شوي دی هماغه کار اوکړه ، اِن شاء الله ته به ما ډير زَر د صبر کوونکو نه اُومومی )))

نو حضرت ابراهيم عليه السلام ددې څلورو خبرو په شُکريه کې څلور رکعته د شکريې مونځ اَداء کړو ، الله تعالی ته دا دومره خوښ شو چې دا يې په دې اُمت باندې فرض کړو .

وَكَانَ ذٰلِكَ مِنْهُ تَطَوُّعًا وَقَدْ فُرِضَ عَلَيْنَا. (۲)

اګر چې دا مونځ حضرت ابراهيم عليه السلام د شُکريې په طور نفلي اَداء کړې وُ خو په مونځ باندې فرض کړې شو .

## د مازيګر مونځ د ټولو نه مخکې حضرت يونس عليه السلام کړې وُ

د مازيګر مونځ د ټولو نه مخکې حضرت يونس عليه السلام اَداء کړې وُ ، کله چې الله جل جلاله ده ته د ماهي په خېټه کې د څلورو تيارو نه نجات ورکړو ، يوه د شپې تياره ، دويمه د سمندر د اُوبو تياره ، دريمه د ماهي د خېټې تياره ، او څلورمه د وريځې تياره .

---

(۱) الصافات آية ۱۰۲ .

(۲) قِيْلَ : أَوَّلُ مَنْ صَلّٰى بَعْدَ الزَّوَالِ إِبْرَاهِيْمُ عَلَيْهِ السَّلَامُ حِيْنَ أُمِرَ بِذَبْحِ الْوَلَدِ صَلّٰى أَرْبَعًا . اَلْأُوْلَى : شُكْرًا لِذَهَابِ غَمِّ الْوَلَدِ ، وَالثَّانِيَةُ : شُكْرًا لِنُزُوْلِ الْفِدَاءِ ، وَالثَّالِثَةُ : لِرِضَا اللهِ تَعَالٰى حِيْنَ نُوْدِيَ { قَدْ صَدَّقْتَ الرُّؤْيَا . الصافات: ۱۰۵ } وَالرَّابِعَةُ : لِصَبْرِ وَلَدِهٖ عَلٰى مَضَرَّةِ الذَّبْحِ . وَكَانَ ذٰلِكَ مِنْهُ تَطَوُّعًا وَقَدْ فُرِضَ عَلَيْنَا. العناية شرح الهداية ۱ / ۲۲۰ كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ الْمَوَاقِيْتِ .

فَصَلَّاهَا شُكْرًا تَطَوُّعًا وَأُمِرْنَا بِهَا. (۱)

نو حضرت يونس عليه السلام د هري تيارې نه د نجات په شکريه کې څلور رکعته د شکريې مونځ اوکړو، الله ﷻ ته دا مونځ دومره خوښ شو چې مونږ ته يې هم ددې حکم اوکړو.

((( د حضرت يونس عليه السلام واقعه په قرآن مجيد کې ذکر ده، او مُفسّرينو په تفصيل سره ليکلې ده، الله رب العزت د حضرت يونس عليه السلام په باره کې فرمايي:

﴿ فَنَادَىٰ فِي الظُّلُمَاتِ أَن لَّا إِلَٰهَ إِلَّا أَنتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ الظَّالِمِينَ. فَاسْتَجَبْنَا لَهُ وَنَجَّيْنَاهُ مِنَ الْغَمِّ ۚ وَكَذَٰلِكَ نُنجِي الْمُؤْمِنِينَ ﴾. (۲)

ترجمه: حضرت يونس عليه السلام په تورو تيارو کې دا آواز اوکړو چې (اې الله!) د تا نه علاوه بل څوک معبود نشته، ته (د هر قسمه عيبونو نه) پاک يې، بيشکه زه په خپل ځان

---

(۱) قِيلَ: وَأَوَّلُ مَنْ صَلَّى الْعَصْرَ يُونُسُ عَلَيْهِ السَّلَامُ حِينَ أَنْجَاهُ اللهُ تَعَالَى مِنْ أَرْبَعِ ظُلُمَاتٍ وَقْتَ الْعَصْرِ: ظُلْمَةِ الزَّلَّةِ، وَظُلْمَةِ اللَّيْلِ، وَظُلْمَةِ الْمَاءِ، وَظُلْمَةِ بَطْنِ الْحُوتِ. فَصَلَّاهَا شُكْرًا تَطَوُّعًا وَأُمِرْنَا بِهَا. العناية شرح الهداية ۱ / ۲۲۱ كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ الْمَوَاقِيتِ.

(۲) سورة الانبياء آية ۸۷، ۸۸.

په تفسير زاد المسير کې ددې تيارو په باره کې مختلف اقوال نقل دي: قوله تعالى: ﴿فَنَادَىٰ فِي الظُّلُمَاتِ﴾ فيها ثلاثة أقوال: أحدها: أنه ظُلمةُ البَحرِ، وظُلمةُ بطنِ الحُوتِ، وظلمةُ اللَّيلِ قاله سعيدُ بنُ جُبَير وقتادة والأكثرون. والثاني: أن حُوتًا جاء فابتَلَعَ الحُوتَ الّذِي هو في بطنه فنادى في ظُلمةِ حُوتٍ، ثم في ظُلمةِ حُوتٍ، ثم في ظُلمةِ البَحرِ. قاله سالم بن أبي الجعد. والثالث: أنها ظلمةُ الماء، وظلمةُ مِعَى السَّمكة، وظلمةُ بطنها. قاله ابن السائب. تفسير زاد المسير ج۳ ص ۲۱۰ سورة الانبياء في تشريح آية ۸۷ .

قال الطبري رحمه الله في تفسيره والصواب من القول في ذلك أن يقال: إن الله تعالى ذكره أخبر عن يونس أنه ناداه في الظلمات، ولا شك أنه قد عني بإحدى الظلمات: بطن الحوت، وبالأخرى: ظلمة البحر، وفي الثالثة اختلاف، ولا دليل يدلّ على أي ذلك من أي، فلا قول في ذلك أولى بالحق من التسليم لظاهر التنزيل. تفسير طبري ۹/ ۷۷

باندې د زياتي کوونکو نه يم ، الله ﷻ فرمايي چې پس مونږ د ده دُعا قبوله کړه ، او د غم نه مو ورته نجات ورکړو ، او همدغه شان مومنانو ته هم مونږ د غم نه نجات ورکوو ))).

## د ماښام مونځ د ټولو نه مخکې حضرت داؤد عليه السلام کړی

د ابوداؤد شريف په شرح " بذلُ المجهود " کې علامه خليل احمد سهارنپوري رحمه الله ليکلي چې د ماښام مونځ د ټولو نه مخکې حضرت داؤد عليه السلام کړې وُ .

په دې کې هيڅ شک نشته چې اَنبياء کرام د ګناهونو نه معصوم وو ، يعنى د انبياء کرامو نه هيڅ قِسمه ګناه نه کيده ، البته که څه لغزَش يا خلافِ ادب کار به د انبياء کرامو نه اوشو نو په دې باندې هم د الله ﷻ د طرفه هغوی ته تَنبيه ورکولې شوه ، او د هغوی اِصلاح به کولې شوه .

بهرحال ، د حضرت داؤد عليه السلام نه څه لغزَش ( خلافِ ادب کار ) شوې وُ ، کله چې ورته الله ﷻ هغه معاف کړو نو حضرت داؤد عليه السلام ددې په شکريه کې د ماښام په وخت د څلور رکعته مونځ کولو نيت اُوتړل ، کله يې چې درې رکعته پوره کړل نو هغه خلافِ ادب کار ورته رایاد شو ، په ژړا شو ، دومره ډير يې اُوژړل چې څلورم رکعت يې او نه کړې شو ، نو په همدې درې رکعتونو يې اِکتفاء اوکړه ، الله تعالى ته د هغه دا درې رکعته مونځ دومره خوَښ شو چې دا يې په دې اُمت باندې فرض کړل . (۱)

---

(۱) په " بذل المجهود " کې ذکر دي : وغفر لداؤد عند المغرب ، فقام فصلى اربع رکعات ، فجهد في الثالثة اى تعب فيها عن الإتيان بالرابعة لشدة ما حصل له من البکاء على ما اقترفه مما هو خلاف الاولى به ، فصارت المغرب ثلاثاً . بذل المجهود في حل ابي داؤد لمولانا خليل احمد السهارنپوري رحمه الله ج۳ ص ۱۰۴ کتاب الصلاة باب في المواقيت .

په عنايه کې نقل دي چې د ماښام مونځ د ټولو نه اول حضرت عيسى عليه السلام کړې وُ . قِيْلَ : وَأَوَّلُ مَنْ صَلَّى الْمَغْرِبَ شُكْرًا تَطَوُّعًا عِيْسٰى عَلَيْهِ السَّلَامُ حِيْنَ خَاطَبَهُ اللهُ تَعَالٰى بِقَوْلِهٖ { أَأَنْتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُوْنِيْ ... المائدة آية ۱۱۶ } وَكَانَ ذٰلِكَ بَعْدَ غُرُوْبِ الشَّمْسِ ، فَالْأُوْلٰى لِنَفْيِ الْأُلُوْهِيَّةِ عَنْ نَفْسِهٖ ، وَالثَّانِيَةُ لِنَفْيِهَا عَنْ وَالِدَتِهٖ ، وَالثَّالِثَةُ لِإِثْبَاتِهَا لِلّٰهِ ، وَفِيْهِ نَظَرٌ . العناية شرح الهداية ۱ / ۲۲۲ كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ الْمَوَاقِيْتِ .

## د ماسخوتن مونځ د ټولو نه مخکې حضرت موسی علیه السلام کړی

د ماسخوتن مونځ د ټولو نه مخکې حضرت موسی علیه السلام کړی ، کله چې حضرت موسی ﷺ د حضرت شعيب ﷺ سره په مَدين کې لس کاله تېر کړل ، او بيا واپس د خپلې بي بي سره مِصر ته راتلو ، د بي بي ئي ماشوم هم په خېټه ؤ ، د سفر په دَوران کې ورنه لاره هم ورکه شوه ، سفر هم ډير اُوږد ؤ ، نو دده سره څلور غمونه وو : يو د بي بي غم ، دويم د خپل ورور " حضرت هارون علیه السلام " غَم ، دريم د خپل دُشمن " فرعون " غَم ، څلورم د بچي د پيدا کيدو غم .

((( کله چې ده د خپلې بي بي سره سفر کولو ، دا د واورې يَخه او تياره شپه وه ، په دې حالت کې يې بي بي ته د وِلادت تکليف هم شروع شو ، د چَقماق (بَکرې) د کانړي نه اُور هم نه راوتلو ، ده په همدې پريشانئ کې اُوليد چې په کُوه ِطور باندې څه اُور بليږي ، ده خپلې بي بي ته وويل : ته دلته اوسه زه د کوهِ طور نه د اُور شُعله راوړم ، کله چې کوهِ طور ته اُورسيدو نو د الله ﷻ سره د هَمکلامئ شرَف ورته حاصل شو ، او هغه څلور واړه غمونه يې هم ختم شو .

په قرآن کريم کې الله تعالى د حضرت موسی علیه السلام دا واقعه څو ځايه ذکر کړی ، په سورة طه کې داسې ذکر کړه ، الله ﷻ فرمايي :

﴿ إِذْ رَا نَارًا فَقَالَ لِأَهْلِهِ امْكُثُوا إِنِّيٓ اٰنَسْتُ نَارًا لَّعَلِّيٓ اٰتِيكُمْ مِّنْهَا بِقَبَسٍ أَوْ أَجِدُ عَلَى النَّارِ هُدًى ۝ فَلَمَّآ أَتٰىهَا نُودِيَ يٰمُوسٰى ۝ إِنِّيٓ أَنَا رَبُّكَ فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ ۚ إِنَّكَ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى ۝ وَأَنَا اخْتَرْتُكَ فَاسْتَمِعْ لِمَا يُوحٰى ۝ ﴾.(۱)

ترجمه : هر کله چې حضرت موسی علیه السلام اُور اُوليد نو خپلې بي بي ته يې وفرمايل : تاسو دلته ايسار شئ ، بيشکه ما اُور ليدلې دی ، اُميد دی چې زه تاسو ته د هغې نه يوه شُعله راوړم ، يا زه د اُور سره خوا کې د لارې خودونکې (يا لار ) اومومم ، هر کله

(۱) سورة طه آية ۱۰ تا ۱۳ .

چې موسی عليه السلام دې اُونې ته راغی نو آواز ورته اوشو چې : اې موسی ! بيشکه زه ستا رَب يم ، پس ته خپلې پنړې اُوباسه ، بيشکه ته د طُوی په پاک ميدان کې ولاړ يې ، او ما ته غوره کړې يې ، پس کومه وَحي چې درته کيږي هغه واوره ))) .

پس کله چې الله جل جلاله حضرت موسی عليه السلام ته د دې څلورو واړو غمونو نه نجات ورکړو

صَلّٰى أَرْبَعًا تَطَوُّعًا ، وَأُمِرْنَا بِذٰلِكَ . (۱)

ده ( د ماسخوتن په وخت د دې څلورو پريشانيانو نه د نجات په شکريه کې ) څلور رکعته مونځ اوکړو ، ( الله تعالی ته دده دا مونځ ډير خوَښ شو ) پس مونږ ته هم د دې د کولو حکم اوکړې شو .

## د ماسخوتن د مانځه په باره کې دويم قول :

علامه خليل احمد سهارنپوري رحمه الله په بذلُ المجهود کې ليکلي :

وَاَوَّلُ مَنْ صَلَّى الْعِشَاءَ الْآخِرَةَ نَبِيُّنَا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . (۲)

د ټولو نه اول د ماسخوتن مونځ زمونږ پيغمبر محمّدُ رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم اداء کړې دی .

---

(۱) ـ قِيْلَ : وَأَوَّلُ مَنْ صَلَّى الْعِشَاءَ مُوسٰى عَلَيْهِ السَّلَامُ حِيْنَ خَرَجَ مِنْ مَدْيَنَ وَضَلَّ الطَّرِيْقَ . وَكَانَ فِيْ غَمِّ الْمَرْأَةِ ، وَغَمِّ أَخِيْهِ هَارُوْنَ ، وَغَمِّ عَدُوِّهِ فِرْعَوْنَ ، وَغَمِّ أَوْلَادِهِ . فَلَمَّا نَجَّاهُ اللهُ تَعَالٰى مِنْ ذٰلِكَ كُلِّهِ وَنُوْدِيَ مِنْ شَاطِئِ الْوَادِيْ صَلّٰى أَرْبَعًا تَطَوُّعًا ، وَأُمِرْنَا بِذٰلِكَ . العناية شرح الهداية ۱ / ۲۲۲ كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ الْمَوَاقِيْتِ .

صاحب د عنايه دد دې اقوالو په آخر کې ليکلي دي : وَهٰذِهِ الْأَقْوَالُ الَّتِيْ ذَكَرْتُهَا عَقِيْبَ كُلِّ صَلَاةٍ وَجَدْتُهَا فِيْ شَرْحِ شَيْخِي الْعَلَّامَةِ قِوَامِ الدِّيْنِ الْكَاكِيِّ رَحِمَهُ اللهُ مَنْقُوْلَةً عَنْ أَبِي الْفَضْلِ مَعَ زِيَادَاتٍ فَنَقَلْتُهَا مُخْتَصَرَةً . العناية شرح الهداية ۱ / ۲۲۳ كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ الْمَوَاقِيْتِ .

(۲) بذل المجهود في حل ابي داؤد لمولانا خليل احمد السهارنوري رحمه الله ج۳ ص ۱۰۴ كتاب الصلاة باب في المواقيت ، امالي الاحبار ج۲ ص ۳۶۴ .

# د انسان مقصد حيات

محترمو مسلمانانو ! په دې کې هیڅ شک نشته چې : الله ﷻ په دې ټولو کائناتو کې مُعزز او ښائسته بني آدم پيدا کړی ، بيا يې دا ټول کائنات د انسان د فائدې د پاره پيدا کړي ، خو انسان صرف د الله ﷻ د عبادت د پاره پيدا شوی ، او په عبادت کې فَردِ کامل مونځ دی ، ګويا انسان د مونځ د پاره پيدا شوی .

ددې خبرو تفصيل درته په يو څو غټو عُنواناتو کې بيانوم :

## په ټولو کائناتو کې مُعزز او ښائسته بني آدم دی

په ټولو مخلوقاتو کې الله ﷻ بني آدم ته ډير عزت ورکړی ، الله تعالى فرمايي :

﴿ وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيٓ اٰدَمَ ﴾.(۱)

ترجمه : او بيشکه مونږ عزت ورکړی دی اَولاد د آدم (عليه السلام) ته .

همدارنګې د شکل و صورت په اِعتبار سره يې هم دا انسان ډير ښائسته پيدا کړی ، رَبّ کريم فرمايي : ﴿ لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِيٓ اَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ ﴾.(۲)

ترجمه : بيشکه مونږ انسان په ډير ښائسته (مُعتدِل شکل او ) صورت پيدا کړو .

## ټول کائنات د انسان د فائدې د پاره پيدا شوي

بيا دا ټول کائِنات الله ﷻ د انسان د خدمت او فائدې د پاره پيدا کړي ، الله تعالى فرمايي :

﴿ هُوَ الَّذِيْ خَلَقَ لَكُمْ مَّا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا ﴾ .(۳)

ترجمه : الله تعالى هغه ذات دی چې په زمکه کې دا ټول هر څه يې ستاسو د فائدې د پاره پيدا کړل.

---

(۱) سورة بني اسرائيل ( الاسراء ) آية ۷۰ .

(۲) سورة التين آية ۴ .

(۳) سورة البقرة آية ۲۹ .

په سورة لقمان کې ذکر دي، الله تعالى فرمايي:

﴿ اَلَمْ تَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ سَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ وَاَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهٗ ظَاهِرَةً وَّبَاطِنَةً ﴾.(۱)

ترجمه: آيا تاسو نه دي کتلي چې الله تعالى مُسَخّر کړي دي ستاسو د پاره (يعنى ستاسو د فائدې د پاره يې په کار لګولي دي) څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په زمکه کې دي، او الله تعالى په تاسو باندې خپل ښکاره او پټ نِعمتونه پوره کړي دي.

په سورة ابراهيم کې ذکر دي:

﴿ اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَاَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَخْرَجَ بِهٖ مِنَ الثَّمَرٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۚ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْفُلْكَ لِتَجْرِيَ فِي الْبَحْرِ بِاَمْرِهٖ ۚ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْاَنْهٰرَ ۞ وَسَخَّرَ لَكُمُ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ دَآئِبَيْنِ ۚ وَسَخَّرَ لَكُمُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ ۞ وَاٰتٰىكُمْ مِّنْ كُلِّ مَا سَاَلْتُمُوْهُ ؕ وَاِنْ تَعُدُّوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ لَا تُحْصُوْهَا ؕ ﴾.(۲)

ترجمه: الله تعالى هغه ذات دى چې آسمانونه او زمکه يې پيدا کړل، د آسمان نه يې اُوبه نازلې کړى (يعنى د ِبره نه يې باران راأو وَرول)، بيا يې په دې اُوبو سره (مختلف قِسمه) ميوې راُوويستى چې دا ستاسو د پاره رِزق دى، او تابِع يې کړه ستاسو د پاره کِشتىٔ چې د هغه په حکم باندې په سمندر کې روانه وي، او ستاسو د پاره يې دَريابونه تابِع کړل (يعنى ستاسو د فائدې د پاره يې پيدا کړل)، او نمَر او سپوږمى يې ستاسو د پاره په کار اُولګول چې دوى هميشه روان وي، او شپه او ورځ يې ستاسو د فائدې د پاره پيدا کړل، او تاسو ته يې ټول هغه څيزونه درکړل کوم چې تاسو غوښتل، او که چيرته تاسو د الله ﷻ نِعمتونه شمارل اوغواړئ نو هغه (د ډير والي په وجه) نه شي شميرلى.

په حديث شريف کې هم دا مضمون ذکر دى، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

(۱) سورة لقمان آية ۲۰.

(۲) سورة ابراهيم آية ۳۲-۳۴.

... اَلدُّنۡيَا خُلِقَتۡ لَكُمۡ .(۱) دُنیا ستاسو د پاره پیدا کړې شوې ده.

## انسان صرف د الله ﷻ د عبادت د پاره پيدا شوی

کله چې د قرآن کريم او اَحادیثو نه دا خبره ثابته شوه چې دا ټول کائنات (یعنی زمکه، آسمانونه، غرونه، سمندرونه، نمَر، سپوږمۍ، اُونې بوټي وغيره دا ټول هر څه) د انسان د فائدې او خِدمت د پاره پیدا دي نو اوس دا معلومول غواړي چې دا انسان د څه مقصد د پاره پیدا دی؟

او دا خو د عقل، نَقل او مُشاهدې هم خِلاف ده چې گني انسان دې خالِصه د خوراک څکاک یا د کائناتو د خدمت د پاره پیدا وي. بلکه خامخا به د انسان يو مقصدِ حیات هم وي، نو قرآن کريم ددې بيان په خپله باندې کړی، الله تعالی فرمايي:

﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ ﴾.(۲)

ترجمه: او ما ندې پیدا کړي پیریان او انسانان مگر ددې د پاره چې دوی زما عبادت اوکړي

معلومه شوه چې د انسان مقصدِ حيات د الله ﷻ عبادت کول دي.

**مَنطقي طرزِ استدلال:**

په مَنطِقي اصولو باندې (یعنی د صُغرٰی، کُبرٰی جوړولو، او حَدِ اَوسَط کټ کولو نه روستو) به اوس ددې دوه خبرو نتيجه داسې رااُووځي:

کائنات د انسان د پاره پیدا دي ، انسان د عبادت د پاره پيدا دی

نو نتيجه دارااُووته: کائنات د عبادت د پاره پيدا دي.

## د عباداتو فردِ کامِل مونځ دی

کله چې دا معلومه شوه چې انسان د عبادت د پاره پیدا دی نو اوس په دې خبره ځان پوهه کړئ چې د عباداتو فَردِ کامِل مونځ دی، ځکه مونځ بِالذّات عبادت دې، او دا نور

(۱) شعب الإيمان رقم الحديث ۱۰۰۹۷ الزهد و قصر الامل.

(۲) سورة الذاريات آية ۵۶.

عبادات ( لکه روژه ، زکوة ، حج وغيره ) بِالذّات عبادات ندي ، بلکه خالِصه د اِمتِثالِ اَمرِ خُداوَندي (يعنی د الله ﷻ د حُکم منلو ) په وجه عبادات دي .

ځکه د عبادت معنی داده : د مُعزز ذات د وړاندې ډيره عاجزي او ذِلت ښکاره کول . او دا معنی صرف په مونځ کې ده ، وجه داده چې د مونځ ټول هَيئَت او اَفعال د عاجزی دي ، مثلاً قيام ، قراءت ، رکوع ، سجده وغيره ټول په اِنتهائي عاجزی دلالت کوي .

د مونځ نه علاوه په دې نورو عباداتو کې دا معنی نشته ، مثلاً په روژه کې د خوراک څکاک وغيره نه ځان منع کول او ځان مُستغنِي کول دي ، يا مثلاً په زکوة کې فقيرانو ته مال ورکول دي . او دا ظاهره خبره ده چې په اِستغناء ، ورکولو ، او عاجزی کې ډير فرق دی ، ځکه د اِستغناء او ورکولو صفت خو د الله ﷻ هم دی .

معلومه شوه چې مونځ بِالذّات عبادت دی ، او دې نورو ته چې مونږ عبادات وايو دا د اِمتِثالِ اَمرِ خُداوَندي په وجه .

خلاصه دا چې دا ټول کائنات د انسان د خدمت د پاره پيدا شوي ، او انسان د عبادت د پاره پيدا شوی ، او په عبادت کې فردِ کامِل مونځ دی ، نو ګويا انسان د مونځ د پاره پيدا شوی ، او س چې څوک مونځ نه کوي نو ده خپل مقصدِ حيات پريخې دی . (۱)

بل دا چې کوم انسان د مونځ حفاظت کوي نو دې به خامخا د دِين د نورو اُمورو هم حفاظت کوي ، او چې د مونځ حفاظت نه کوې نو دې به يقيني د دِين د نورو اُمورو لحاظ هم نه ساتي . ګويا چې د دِين د نورو اُمورو بَقاء هم په مونځ باندې قائم ده ، که مونځ وي نو دِين به هم وي ، او که مونځ نه وي نو دِين به هم نه وي .

ځکه خو حضرت عُمر ﷺ په خپل دَورِ خلافت کې خپلو ټولو عامِلانو ته د مانځه د اَهميت متعلق سَرکاري فرمان ليکلې وُ . (۲)

---

(۱) خطبات حکيم الاسلام ج ۹ ص ۳۴ أهميت نماز ط . مکتبه عمر فاروق

(۲) إِنَّ أَهَمَّ أَمْرِكُمْ عِنْدِيْ الصَّلَاةُ . فَمَنْ حَفِظَهَا وَحَافَظَ عَلَيْهَا حَفِظَ دِيْنَهُ . وَمَنْ ضَيَّعَهَا فَهُوَ لِمَا سِوَاهَا أَضْيَعُ .
موطا امام مالک بَابُ وُقُوتِ الصَّلَاةِ رقم الحديث ٦ ، مشکاة المصابيح کتاب الصلوة باب مواقيت الصلوة الفصل الثالث رقم الحديث ٥٨٥ (٥) .

## په كومه زمكه چې مونځ اوشي دا په نورو زمكو فخر كوي

مونځ داسې بهترين عبادت دی چې د زمكې په كومه حصه باندې مونځ اوشي يا پرې د الله ﷻ ذِكر او تلاوت اُوشي نو د زمكې دا حصه په دې خواؤ شا زمكو باندې فخر كوي او خوشحاله وي، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

مَا مِنْ بُقْعَةٍ يُذْكَرُ اللهُ فِيهَا بِصَلَاةٍ إِلَّا فَخَرَتْ عَلَى مَا حَوْلَهَا مِنَ الْبِقَاعِ ، واسْتَبْشَرَتْ بِذِكْرِاللهِ مُنْتَهَاهَا إِلَى سَبْعِ أَرَضِيْنَ. (۱)

د زمكې په كومه حصه چې مونځ او د الله تعالی ذِكر اوشي نو د زمكې دا حصه په ګېر چاپيره زمكو باندې فخر كوي، او ددې ذِكرُ الله په وجه دا دومره خوشحاله شي چې ددې خوشحالی اِنتهاء تر د اُوومې زمكې پورې اُورسي.

## د مونځ ګزار تعظيم

حضرت ابو امامة رضي الله عنه فرمايي: چې كله نبي كريم صلی الله عليه وسلم د خيبر نه واپس تشريف راوړو نو دوه غلامان ورسره وو، حضرت علي رضي الله عنه ورته وفرمايل:

يَارَسُوْلَ اللهِ! أَخْدِمْنَا؟

اې د الله رسوله! مونږ ته د خدمت د پاره يو خادِم راكړه.

نبي عليه السلام ورته وفرمايل:

خُذْ أَيَّهُمَا شِئْتَ. په دې دواړو كې چې ستا كوم خوښ وي هغه واخله.

حضرت علي رضي الله عنه ورته وفرمايل: تاسو يې راله خوښ كړئ، رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل:

خُذْ هٰذَا وَلَا تَضْرِبْهُ، فَإِنِّيْ قَدْ رَأَيْتُهُ يُصَلِّيْ مَقْبَلَنَا مِنْ خَيْبَرَ، وَإِنِّيْ قَدْ نُهِيْتُ عَنْ ضَرْبِ أَهْلِ الصَّلَاةِ.

---

(۱) المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۱۱۴۷۰، كنزالعمال رقم الحديث ۱۸۹۷۶ فضائل الصلاة من الاكمال.

(نبي ﷺ يو غلام ته اِشاره اوکړه او وې فرمايل ) دا غلام واخله خو وَهه يې مه ، ځکه د خيبر نه په واپسۍ باندې ما دې په مانځه کولو ليدلې دی ، او بېشکه زه د مونځ گزار د وهلو نه منع شوې يم . (۱)

# اولاد ته د مانځه حکم

د ابوداؤد شريف حديث دی رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مُرُوْا أَوْلَادَكُمْ بِالصَّلَاةِ وَهُمْ أَبْنَاءُ سَبْعِ سِنِيْنَ ، وَاضْرِبُوْهُمْ عَلَيْهَا وَهُمْ أَبْنَاءُ عَشْرٍ ، وَفَرِّقُوْا بَيْنَهُمْ فِي الْمَضَاجِعِ . (۲)

تاسو خپل اَولاد ته د اُووه ( ۷ ) کالو په عُمر باندې د مانځه حکم کوئ ، او د لسو کالو په عُمر کې يې د مونځ په نه کولو باندې وهئ ، او ( چې دې عُمر ته اُورسي نو ) د هغوی بِسترې جُدا کړئ ( يعنی ځانله ځانله يې څملوئ ) .

**فائده** : په دې حديث کې مسلمانانو ته دا حکم شوی چې خپلو بچو ته د اُووه کالو په عُمر باندې د مانځه حکم کوي ، ددې د پاره چې په کم عُمرۍ کې د مانځه په کولو باندې عادت شي ، او چې کله بالِغ کيدو ته نزدې شي يعنی د لسو ( ۱۰ ) کالو عُمر ته اُورسي او د وينا باوجود مونځ نه کوي نو بيا په هغوی باندې په زوره او وَهلو سره مونځ کول په کار دي ، خو دا وهل به داسې وي چې بَدني نقصان ورته او نه رسي ، او د لسو کالو په عُمر کې دوی ځانله ځانله څملول په کار دي ، دوه ورونه ، يا وررور او خور ، او يا پردې هلک او جينۍ په يوه بستره کې څملول ندي په کار .

(۱) عَنْ أَبِي أُمَامَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقْبَلَ مِنْ خَيْبَرَ وَمَعَهُ غُلَامَانِ ، فَقَالَ عَلِيٌّ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! أَخْدِمْنَا ؟ فَقَالَ : « خُذْ أَيَّهُمَا شِئْتَ » . فَقَالَ : خِرْ لِيْ . قَالَ : « خُذْ هٰذَا وَلَا تَضْرِبْهُ ، فَإِنِّيْ قَدْ رَأَيْتُهُ يُصَلِّيْ مَقْبَلَنَا مِنْ خَيْبَرَ ، وَإِنِّيْ قَدْ نُهِيْتُ عَنْ ضَرْبِ أَهْلِ الصَّلَاةِ » . مسند احمد رقم الحديث ۲۲۲۲۷ حديث أبي أمامة ... بن عجلان .. و رقم ۲۲۱۵۴ . و رواه الطبراني ، مجمع الزوائد ۴ / ۲۳۳ ، كنز العمال رقم الحديث ۱۹۰۲۰ .

(۲) سنن ابي داؤد بَابُ مَتَى يُؤْمَرُ الْغُلَامُ بِالصَّلَاةِ رقم الحديث ۴۹۵ ، مشكاة المصابيح كتاب الصلاة الفصل الثاني رقم الحديث ۵۷۲ ( ۹ ) ، كنز العمال رقم الحديث ۴۵۳۲۴ .

# د مانځه سره د نبي عليه السلام مينه

د نبي عليه السلام د مانځه سره ډير عِشق، مِينه او قلبي تعلق وُ، د يو څو احاديثو ذِكر كولو نه به تاسو ته دا معلومه شي.

۱. د مشكوة شريف حديث دى، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

جُعِلَ قُرَّةُ عَيْنِيْ فِي الصَّلَاةِ. (۱)

زما د سترګو يَخوالي په مانځه کې ايخودل شوى. (۲)

۲. همدارنګې د مونځ په وجه به رسولُ الله صلى الله عليه وسلم او صحابه کرامو ته د زړه اِطمينان او سکون نصيبه کيدو.

د ابوداؤد شريف حديث دى، نبي کريم ﷺ حضرت بلال رضي الله عنه ته وفرمايل:

قُمْ يَا بِلَالُ ! فَأَرِحْنَا بِالصَّلَاةِ. (۳)

اې بلال! پاڅه (آذان اوکړه) او مونږ ته په مونځ کولو سره راحت رااورسوه.

---

(۱) پوره حديث داسې دى: حُبِّبَ إِلَيَّ النِّسَاءُ، وَالطِّيبُ، وَجُعِلَ قُرَّةُ عَيْنِيْ فِي الصَّلَاةِ. مسند احمد رقم الحديث ۱۲۲۹۳، السنن الكبرى للبيهقي ۷/۷۸، المستدرک على الصحيحين للحاكم ۲/۱۷۴ رقم الحديث ۲۶۷۶، وقال: صحيح الاسناد علي شرط مسلم و غيرهم، وصححه الالباني في صحيح الجامع رقم ۳۱۲۴.

وفي رواية: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: حُبِّبَ إِلَيَّ مِنَ الدُّنْيَا النِّسَاءُ، وَالطِّيبُ، وَجُعِلَ قُرَّةُ عَيْنِيْ فِي الصَّلَاةِ. سنن النسائي بَابُ حُبِّ النِّسَاءِ رقم ۳۹۳۹، ورقم ۳۹۴۰، وقال الالباني هذا حديث حسن صحيح.

(۲) (جُعِلَ قُرَّةُ عَيْنِيْ فِي الصَّلَاةِ) النبي صلى الله عليه وسلم يحصل له السرور العظيم، واللذة العظيمة في صلاته، لانه يستحضر عظمة الله و يناجيه، و يدعوه، فيحصل له كمال المناجاة مع الرب تبارک وتعالى. شرح السيوطي عن سنن النسائي، وحاشية السندي ۷/۶۳، ۶۴، ولسان العرب لابن منظور ۵/۸۷، والمصباح المنير ۲/۴۹۷، الخشوع في الصلاة في ضوء الكتاب والسنة ج ۱ ص ۸۲.

(۳) سنن ابي داؤد بَابٌ فِي صَلَاةِ الْعَتَمَةِ رقم الحديث ۴۹۸۶، و رقم ۴۹۸۵، مسند احمد رقم ۲۳۰۸۰، وصححه الالباني في مشكاة المصابيح رقم ۱۲۵۳، كنزالعمال رقم ۲۰۹۵۴.

په يو روايت کې دا ذکر دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم حضرت بلال رضي الله عنه ته وفرمايل: « يَا بِلَالُ! أَقِمِ الصَّلَاةَ أَرِحْنَا بِهَا ». سنن ابي داؤد بَابٌ فِي صَلَاةِ الْعَتَمَةِ رقم الحديث ۴۹۸۵.

**فائده** : چونکه حضرت بلال ﷺ د مسجدِ نبوي مُؤذِن وُ نو ځکه يې په خصوصي طريقې سره ده ته حکم اوکړو .

۳ . په صحيح احاديثو کې دا مضون ډير ځايه راغلی چې رسولُ الله صلی الله عليه وسلم به دشپې دومره ډير مونځونه کول چې قدمونه مبارک به يې د ډيرو اُودريدو په وجه اوپړسيدل ، بلکه امام بخاري رحمه الله په دې باندې مُستقِل باب قائم کړی :

" بَابُ قِيَامِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّيْلَ حَتَّى تَرِمَ قَدَمَاهُ " او بيا يې ددې لاندې هغه احاديث ذکر کړي په کوم کې چې دا مضمون ذکر دی :

حضرت مغيره رضي الله عنه فرمايي چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم به کله مانځه ته اُودريد نو دومره اُوږد مونځ به يې کولو حَتَّى تَرِمَ قَدَمَاهُ أَوْ سَاقَاهُ تر دې پورې چې دواړه قدمونه يا دواړه پونډۍ مبارکې به يې (د ډيرو اُودريدو په وجه) اوپړسيدی.

د نبي عليه السلام نه ددې په باره کې پوښتنه اوشوه ( چې تاسو ولې دومره اُوږد مونځ کوئ ؟ حالانکه الله ﷻ خو تاسو ته مخکيني او روستوني ټولو لغزشونه معاف کړي ) پيغمبر ﷺ ورته وفرمايل : أَفَلاَ أَكُونُ عَبْدًا شَكُورًا . آيا زه د الله تعالی شکرګزار بنده جوړ نه شم؟ (يعنی زه دا د شکريې اداء کولو د پاره کوم) . (۱)

---

(۱) عَنْ زِيَادٍ، قَالَ: سَمِعْتُ الْمُغِيرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يَقُولُ : إِنْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيَقُومُ لِيُصَلِّيَ حَتَّى تَرِمَ قَدَمَاهُ أَوْ سَاقَاهُ . فَيُقَالُ لَهُ . فَيَقُولُ : أَفَلاَ أَكُونُ عَبْدًا شَكُورًا . صحيح البخاري رقم الحديث ۱۱۳۰ .

وفي رواية : قَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا : « كَانَ يَقُومُ حَتَّى تَفَطَّرَ قَدَمَاهُ » وَالفُطُورُ : الشُّقُوقُ . صحيح البخاري رقم الحديث ۱۱۳۰ بَابُ قِيَامِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّيْلَ حَتَّى تَرِمَ قَدَمَاهُ .

په صحيح مسلم کې دا حديث په دې الفاظو نقل دی : قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى وَرِمَتْ قَدَمَاهُ . قَالُوا: قَدْ غَفَرَ اللهُ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ . قَالَ : « أَفَلاَ أَكُونُ عَبْدًا شَكُورًا » . صحيح مسلم "بَابُ إِكْثَارِ الْأَعْمَالِ وَالِاجْتِهَادِ فِي الْعِبَادَةِ رقم الحديث ۸۰ ( ۲۸۱۹ ) .

وفي رواية : أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى حَتَّى انْتَفَخَتْ قَدَمَاهُ . فَقِيلَ لَهُ : أَتَكَلَّفُ هٰذَا؟ وَقَدْ غَفَرَ اللهُ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ . فَقَالَ : « أَفَلاَ أَكُونُ عَبْدًا شَكُورًا » . صحيح مسلم ۷۹ ( ۲۸۱۹ )، سنن الترمذي رقم ۴۱۲ ، سنن النسائي رقم ۱۶۴۴ .

۴ . بعضې وخت به رسول الله صلی الله علیه وسلم د شپې په نوافلو اُودريد نو په اول رکعت کې به يې مکمل سورة بقرة وُويله ، چې د رَحمت آيت به راغی هلته به يې دُعا اُوغوښته ، او چې د عذاب آيت به راغی نو د الله ﷻ د عذاب نه به يې پناه اُوغوښته ، بيا به يې رکوع او سجده دومره اُوږده اوکړه څومره به يې چې قيام اُوږد کړې وُ .

بيا به يې په دويم رکعت کې سورة آل عمران وويل ، په دريم رکعت کې به يې سورة النساء ، او په څلورم رکعت کې به يې سورة المائدة وويله .

ګويا چې په څلورو رکعتونو کې به يې څه کم څلور سيپارې اُوويلې . (۱)

۵ . همدارنګې رسول الله صلی الله علیه وسلم به په مانځه کې ډير زيات ژړل :

وَكَانَتْ دُمُوْعُهُ تَقَعُ فِيْ مُصَلَّاهُ كَوَكْفِ الْمَطَرِ . (۲)

د دوی اُوښکې به په مُصَلّه باندې د باران د څاڅکو په شان راڅڅيدې .

---

(۱) په مسلم شريف کې دا حديث ذکر دی : عَنْ حُذَيْفَةَ ﷺ قَالَ: صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ لَيْلَةٍ . فَافْتَتَحَ الْبَقَرَةَ . فَقُلْتُ : يَرْكَعُ عِنْدَ الْمِائَةِ . ثُمَّ مَضَى . فَقُلْتُ : يُصَلِّي بِهَا فِي رَكْعَةٍ . فَمَضَى . فَقُلْتُ : يَرْكَعُ بِهَا . ثُمَّ افْتَتَحَ النِّسَاءَ فَقَرَأَهَا . ثُمَّ افْتَتَحَ آلَ عِمْرَانَ فَقَرَأَهَا . يَقْرَأُ مُتَرَسِّلًا . إِذَا مَرَّ بِآيَةٍ فِيهَا تَسْبِيحٌ سَبَّحَ ، وَإِذَا مَرَّ بِسُؤَالٍ سَأَلَ . وَإِذَا مَرَّ بِتَعَوُّذٍ تَعَوَّذَ . ثُمَّ رَكَعَ . فَجَعَلَ يَقُولُ : « سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ » . فَكَانَ رُكُوعُهُ نَحْوًا مِنْ قِيَامِهِ . ثُمَّ قَالَ : « سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ » . ثُمَّ قَامَ طَوِيلًا قَرِيبًا مِمَّا رَكَعَ . ثُمَّ سَجَدَ . فَقَالَ : « سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى » . فَكَانَ سُجُودُهُ قَرِيبًا مِنْ قِيَامِهِ . صحيح مسلم بَابُ اسْتِحْبَابِ تَطْوِيلِ الْقِرَاءَةِ فِي صَلَاةِ اللَّيْلِ رقم الحديث ۲۰۳ ( ۷۷۲ ) ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۳۶۸۶ .

امام بيهقي رحمه الله په السنن الكبرى کې دا حديث رانقل کړی : عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ ﷺ قَالَ : قُمْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةً فَقَامَ فَقَرَأَ سُورَةَ الْبَقَرَةِ لَا يَمُرُّ بِآيَةِ رَحْمَةٍ إِلَّا وَقَفَ فَسَأَلَ . وَلَا يَمُرُّ بِآيَةِ عَذَابٍ إِلَّا وَقَفَ فَتَعَوَّذَ . قَالَ : ثُمَّ رَكَعَ بِقَدْرِ قِيَامِهِ يَقُولُ فِي رُكُوعِهِ : " سُبْحَانَ ذِي الْجَبَرُوتِ وَالْمَلَكُوتِ وَالْكِبْرِيَاءِ وَالْعَظَمَةِ " . ثُمَّ سَجَدَ بِقَدْرِ قِيَامِهِ . ثُمَّ قَالَ فِي سُجُودِهِ مِثْلَ ذَلِكَ . ثُمَّ قَامَ فَقَرَأَ بِآلِ عِمْرَانَ . ثُمَّ قَرَأَ سُورَةً سُورَةً . السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۳۶۸۹ بَابُ الْوُقُوفِ عِنْدَ آيَةِ الرَّحْمَةِ وَآيَةِ الْعَذَابِ وَآيَةِ التَّسْبِيحِ .

(۲) المستطرف في كل فن مستظرف لشهاب الدين أبو الفتح محمد بن احمد بن منصور الأبشيهي ۱ / ۱۳ الفصل الثاني في الصلاة وفضلها ، ربيع الابرار ۲ / ۱۰۳ باب الدين ومايتعلق به .

## په غزوه خَندق کې د مونځ قضا کيدو په وجه کافرانو ته سختې خېرې کول

د مانځه د اَهميت اَندازه تاسو ددې نه هم معلومولې شئ چې د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم د مانځه سره دومره مِينه وه چې يوه ورځ په غزوه خَندق کې د کافرانو سره د سختې مقابلې او تيراَندازئ په وجه د نبي عليه السلام نه څلور مونځونه قضاء شو ، په دې کې د مازيگر مونځ هم وُ ، پيغمبر عليه السلام ددې مونځونو په قضاء کيدو سخت خفه شو ، ددې قضائي يې را اُوګرځوله ، او کافرانو ته يې سختې خېرې اوکړې .

په بخاري شريف او مسلم شريف کې دا حديث ذِکر دی ، حضرت علي ﷺ فرمايي چې رسولُ الله صلی الله عليه وسلم د غزوه خَندق په ورځ کافرانو ته دا خېرې اوکړې :

مَلَأَ اللهُ بُيُوْتَهُمْ وَقُبُوْرَهُمْ نَارًا ، شَغَلُوْنَا عَنِ الصَّلَاةِ الْوُسْطٰى حَتّٰى غَابَتِ الشَّمْسُ . (۱)

الله تعالی دې ددې کافرانو کورونه او قبرونه د اُور نه ډک کړي ځکه دوی مونږ د مازيگر مونځ نه مشغوله کړو (يعنی د دوی په وجه د مونږ نه د مازيگر مونځ قضاء شو ) تر دې پورې چې نمر ډُوب شو .

**د عبرت مقام** : دلته ذِهن ته دا **اِعتراض** راځي چې په غزوه اُحد کې نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته سخت تکليف رسيدلې وُ ، غاښونه مبارک يې شهيدان شوي وو خو بيا يې هم کافرانو ته خېرې نه وې کړی ، ليکن د غزوه خَندق په موقع يې کافرانو ته سختې خېرې اوکړی ، ددې څه وجه وه ؟

نو ددې مختصر **جواب** دادی چې په غزوه اُحد کې نبي عليه السلام ته تکليف رسيدل د

---

(۱) عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : لَمَّا كَانَ يَوْمُ الْأَحْزَابِ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَلَأَ اللهُ بُيُوْتَهُمْ وَقُبُوْرَهُمْ نَارًا ، شَغَلُوْنَا عَنِ الصَّلَاةِ الْوُسْطٰى حَتّٰى غَابَتِ الشَّمْسُ . صحيح البخاري بَابُ الدُّعَاءِ عَلَى الْمُشْرِكِيْنَ بِالْهَزِيْمَةِ وَالزَّلْزَلَةِ رقم الحديث ۲۹۳۱ ، ورقم ۴۱۱۱ بَابُ غَزْوَةِ الْخَنْدَقِ وَهِيَ الْأَحْزَابُ ، صحيح مسلم رقم ۲۰۵ (۶۲۷) باب الدليل لمن قال : الصلاة الوسطى هي صلاة العصر ، سنن ابن ماجه رقم الحديث ۶۸۴ .

وفي رواية : عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمَ الْخَنْدَقِ : « حَبَسُوْنَا عَنْ صَلَاةِ الْوُسْطٰى صَلَاةِ الْعَصْرِ مَلَأَ اللهُ بُيُوْتَهُمْ وَقُبُوْرَهُمْ نَارًا » . سنن ابي داؤد بَابٌ فِي وَقْتِ صَلَاةِ الْعَصْرِ رقم الحديث ۴۰۹ ، مشكاة المصابيح باب فضائل الصلاة الفصل الاول رقم الحديث ۶۳۳ (۱۰) .

دوی ذاتي معامله وه ، او دوی په خپله ذاتي معامله کې چاته خبرې ندې کړي ، ليکن په غزوه أحد کې د کافرانو سره د مقابلې په وجه د نبي عليه السلام نه مونځ قضاء کيدل ذاتي معامله نه وه بلکه دا د حقوق الله سره تعلق لري ، او مونځ په ټولو عباداتو کې آهم عبادت دی ، بيا خاصکر د مازيګر مونځ د آهميت واضح کولو د پاره نبي ﷺ کافرانو ته سختې خبرې اوکړی چې دې کافرانو د مونږ نه د مازيګر مونځ قضاء کړو او مونږ ته يې رُوحاني تکليف راأورسول نو الله تعالى دې د دوی کورونه (او قبرونه) د أور نه ډک کړي . (١)

همدارنګې د طائف په سفر کې هم کافرانو پيغمبر عليه السلام ته ډير تکليف رسولې ؤ ، تر دې چې پَنړې مبارکې يې د وينو نه ډکې شوې وی ليکن بيا هم رسول الله صلى الله عليه وسلم هغوی ته خبرې نه وې کړی ، بلکه د هدايت دُعا يې ورته کړې وه ، ليکن د غزوه خَندق په موقع چې د کافرانو په وجه ورنه مونځ قضاء شو نو ددې په وجه ورته دومره غټ تکليف أورسيدو چې کافرانو ته يې سختې خبرې اوکړی .

## د صحابه کرامو د مانځه سره مينه

د صحابه کرامو هم د مانځه سره ډير شوق او مِينه وه ، د اِيمان تازه کيدلو په خاطر درته ديو څو صحابه کرامو واقعات را نقل کوم :

### حضرت عُمر ﷺ د زخمي کيدو باوجود مونځ اوکړو

١ . حافظ ذهبي رحمه الله په کتاب الکبائر کې ليکلي چې کله حضرت عُمر رضي الله عنه په نيزه باندې أووهلې شو ، (سخت زخمي شو) ، نو دوی ته د مانځه متعلق خبره اوکړې شوه ، ده ورته وويل : آو ، په اسلام کې د هغه چا حصه نشته چې هغه مونځ ضائع کړي .

وَصَلَّى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَجُرْحُهُ يَثْعَبُ دَمًا . (٢)

(١) مظاهر حق شرح مشكاة المصابيح باب فضائل الصلاة الفصل الاول في تشريح حديث رقم ٦٣٣ (١٠) .

(٢) وَلما طعن عمر بن الخطاب رَضِيَ الله عَنهُ . قيل لَهُ : اَلصَّلَاة يَا أَمِير الْمُؤمنِينَ ! قَالَ : نعم أما أَنَّه لَا حَظّ لأحد فِي الْإِسْلَام أضاع الصَّلَاة . وَصَلَّى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَجرحه يثعبُ دَمًا . الكبائر للذهبي اَلْكَبِيرَة الرَّابِعَة فِي ترك الصَّلَاة ص ٢٠ .موطا امام مالك رقم ١١٧ ، مصنف عبدالرزاق الصنعاني رقم ٥٧٩ ، و ٥٨٠ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ١٦٧٣ ، معرفة السنن والآثار رقم ٢٢٨٧ ، شرح السنّة للبغوي رقم ٣٣٠ .

حضرت عُمر رضي الله عنه په داسې حالت کې مونځ اوکړو چې د زخم نه يې وينه بهيده .

۲ . دا واقعه بعضې علماؤ په تفصيل سره نقل کړی : چې حضرت عُمر ﷺ صحابه کرامو ته د سهَر جَمعه کوله ، ابو لُؤ لُؤ مجوسي دې په نېزه باندې اُووهل ، حضرت عُمر رضي الله عنه چې کله د بدن نه وِينه وَتل اُوليده نو وې فرمايل :

قُوْلُوْا لِعَبْدِ الرَّحْمنِ بْنِ عَوْفٍ فَلْيُصَلِّ بِالنَّاسِ .

تاسو عبد الرحمن بن عوف ﷺ ته ووايئ چې خلقو ته مونځ اوکړي .

بيا په حضرت عُمر رضي الله عنه باندې بې هُوشي راغله ، خلقو کورته وې ورو ، مسلسل په بې هوشئ کې وُ ، کله چې په هوش کې راغی نو دده سره چې کوم خلقو موجود وو هغوی ته يې اوکتل او ورته وې ويل : أَصَلَّى النَّاسُ ؟ آيا خلقو مونځ اوکړو ؟

دوی ورته وويل : آو ( مونځ يې اوکړو ) ، نو ده ورته وويل :

لَا إِسْلَامَ لِمَنْ تَرَكَ الصَّلَاةَ . د هغه چا اسلام کامِل ندې چې څوک مونځ پرېږدي .

بيا يې اُوبه راأوغوښتې ، اَودس يې اوکړو ، ثُمَّ صَلَّى، وَجُرْحُهُ يَنْزِفُ دَمًا . (۱)

---

(۱) كان أمير المؤمنين عُمر بن الخطّاب رضي الله عنه يصلّي بالنّاس صلاة الفجر . فطعنه أبو لؤلؤة المجوسي، فقال عُمر حين رأى نزف الدماء: قُوْلُوْا لِعَبْدِ الرَّحْمن بن عَوْفٍ فَلْيُصَلِّ بِالنَّاسِ . ثم غُشي على عمر رضي الله عنه . فحُمل فأدخلوه بيته . ثم صلّى بالناس عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه . فأنكر الناس صوت عبد الرحمن، ولم يزل عمر رضي الله عنه في غشية واحدة . حتى أسفر . فلمّا أسفر أفاق . فنظر في وجوه مَن حوله فقال: '' أَصَلَّى النَّاسُ ؟ '' قالوا: نعم . فقال: '' لَا إِسْلَامَ لِمَنْ تَرَكَ الصَّلَاةَ '' ثم دعا بوضوء فتوضأ . ثُمَّ صَلَّى، وَجُرْحُهُ ينزفُ دَمًا . ثم أمر بعد صلاته من يسأل عن من قتله ؟ فأخبروه أنه طعنه أبو لؤلؤة . فقال عمر رضي الله عنه : الحمد لله الذي لم يجعل قاتلي يحاجّني عند الله بسجدة سجدها له قط . فكان عمر بن الخطاب رضي الله عنه حريصًا على صلاة المسلمين، وكان ذلك أعظم عنده من نفسه . فسأل بقول : '' أصلّى الناس؟ '' . ثم أقبل على صلاته . ثم بعد أن صلّى سأل عن من قتله رضي الله عنه ؟

ذكره ابن القيم رحمه الله عن ابن زنجويه بسنده إلى عمر رضي الله عنه في كتاب الصلاة وحكم تاركها ص ۲٦. وانظر: مناقب أمير المؤمنين عمر بن الخطاب لابن الجوزي ص ۲۱٥ - ۲۱٦. الخشوع في الصلاة في ضوء الكتاب والسنة لسعيد بن وهف القحطاني ج۱ ص ۱۱۰ .

بيا يې مونځ اوكړو حالانكه د زخم نه يې وينه روانه وه .

**فائده** : د حضرت عُمر رضي الله عنه په نزد د مانځه دومره اَهميت وُ چې كله په هوش كې راغى نو د خپل ځان غم ورسره نه وُ بلكه د مسلمانانو د مانځه غَم ورسره وُ نو ځكه يې پوښتنه اوكړه : أَصَلَّى النَّاسُ ؟ آيا خلقو مونځ اوكړو ؟

بيا يې په خپله هم اَودس اوكړو ، او د سخت زخمي كيدو باوجود بيا يې هم مونځ اوكړو، حالانكه د زخم نه يې وينه روانه وه .

## حضرت ابن عباس ﷺ د ضرورت باوجود بيا هم مونځ پرې نه خُود

كله چې د حضرت عبدالله بن عباس ﷺ د سترګو نظر كمزورې شو ، او نابينا شو نو خلقو ورته ووېل : چې ستا د سترګو علاج كيدې شي خو يو څو ورځې به د پرهيز په خاطر مونځ پرېږدى ، ځكه د دې علاج په دَوران كې حركت نقصاني دى ، ده ورته ووېل : مونځ زه هيڅ كله نه پرېږدم ، ځكه رسولُ الله ﷺ فرمايي : مَنْ تَرَكَ صَلَاةً لَقِيَ اللهَ وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ (۱)

څوک چې (بغير عُذره) مونځ پرېږدي نو دې به د قيامت په ورځ د الله ﷻ سره په داسې حالت كې مخامخ كيږي چې الله ﷻ به ورباندې غصه وي .

نو اې خلقو ! ماته رَنديدل خوَښ دي ليكن د الله ﷻ غضَب او غصه څنګه برداشت كړم ؟(۲)

**فائده** : حضرت عبدالله بن عباس ﷺ ته اګر چې شرعًا د علاج په خاطر مونځ روستو كول جائز وو ليكن دوى نابينائي خوَښه كړه خو مونځ پرېخودل يې خوَښ نه كړل .

---

(۱) دا حديث په ډيرو كتابونو كې نقل دى : المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۱۱۷۸۲ ، المستخرج من الاحاديث المختارة مما لم يخرجه البخاري و مسلم ۱۲ /۸۷ رقم الحديث ۱۰۰ ، و رواه البزار ، معجم الزوائد و منبع الفوائد رقم الحديث ۱۶۳۲ بَابٌ فِي تَارِكِ الصَّلَاةِ ، كنزالعمال رقم الحديث ۱۸۸۷۵ .

(۲) مكاشفة القلوب باب ۳۹ . دا واقعه علامه ابن حجر په الزواجر كې داسې رانقل كړى : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ، قَالَ: لَمَّا قَامَ بَصَرِيْ أَيْ ذَهَبَ مَعَ بَقَاءِ صِحَّةِ الحَدَقَةِ ، قِيْلَ نُدَاوِيْكَ وَتَدَعُ الصَّلَاةَ أَيَّامًا؟ قَالَ : لَا ، إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : مَنْ تَرَكَ الصَّلَاةَ لَقِيَ اللهَ وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ . الزواجر عن اقتراف الكبائر لابن حجر الهيتمي كِتَابُ الصَّلَاةِ اَلْكَبِيْرَةُ السَّادِسَةُ وَالسَّبْعُوْنَ تَعَمُّدُ تَرْكِ الصَّلَاةِ ۱ /۲۱۸ .

## د مانځه سره د حضرت فاطمې رضي الله عنها مينه

۱. د حضرت فاطمې رضي الله عنها د مانځه سره دومره مِينه وه چې کله به د شپې په مانځه باندې اُودريده نو دومره اُوږد مونځ به يې کولو :

حَتّٰى تَوَرَّمَتْ قَدَمَاهَا .(۱)

تر دې پورې چې دواړه قدمونه مبارک به يې( د ډيرواُوږدو اُودريدو په وجه ) اُوپړسيدل .

۲. يو پېره حضرت فاطمه رضي الله عنها د ژمي په يَخو او اُوږدو شپو کې په تهجدو باندې اُودريده ، د دوه رکعتَو نفلو نيت يې اُوتړل ، د قرآن کريم يو يو آيت يې ډير په اِطمينان او سکون سره لوستلو ، دومره ډير تلاوت يې اوکړو چې کله يې سلام اُوګرځول نو وې کتل چې صُبح صادِق نزدې دی ( يعنی د سهَر داخليدو ته لږ وخت پاتې ؤ ) ، لاسونه يې د دُعا د پاره اُوچت کړل ، په ژړا شوه ، او الله ﷻ ته يې عَرض وکړو :

اې الله ! ما خو صرف د دوه رکعتونو نفلو نيت تړلې ؤ ، دا شپه څومره لنډه وه ، دا خو صرف په دوه رکعته کولو سره ختمه شوه .

سبحاَن الله . حضرت فاطمې رضي الله عنها دومره په خوَند او اِطمينان سره مونځ او تلاوت کولو چې تر سهره پورې په نفلو ولاړه وه خو بيا يې هم الله ﷻ ته د شپو د لنډ والي شکايت اوکړو .

## په غشي باندې د لږيدو باوجود مونځ او تلاوت جاري ساتل

يو صحابي په مانځه ولاړ ؤ ، د دُشمن د طرفه مسلسل په غشو لږيدو ليکن بيا يې هم په ډير اِطمينان سره مونځ او تلاوت جاري ساتلو .

د ابوداؤد شريف حديث دی ، حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي چې مونږ د نبي کريم صلی الله عليه وسلم سره غزوه ذات الرقاع ته اُووتو ، يو کس د مُشرکينو يوه ښځه قتل کړه ،

---

(۱) المستطرف في كل فن مستظرف لشهاب الدين أبو الفتح محمد بن احمد بن منصور الأبشيهي ۱ /۱۳ الفصل الثاني في الصلاة وفضلها ، ربيع الابرار ۲ /۱۰۲ باب الدين وما يتعلق به .

د هغې خاوند قسَم وکړو چې زه به تر هغه وخته پورې په آرام نه کينم چې تر څو پورې د محمد (صلی الله عليه وسلم) د ملګرو وينه توی نه کړم (او ددې بدَل وا نه خلم) ، نو دې د نبي ﷺ د لښکر پسې شاته پَټ پَټ راروان ؤ ، پيغمبر عليه السلام په يو ځای کښې پړاؤ واچول ، صحابه کرامو ته يې وفرمايل :

مَنْ رَجُلٌ يَكْلَؤُنَا ؟ کوم کس به زمونږ پهره (حفاظت) وکړي ؟

نو يو کس د مهاجرينو او يو کس د انصارو نه ديته تيار شو ، نبي عليه السلام ورته وفرمايل : تاسو ددې دَرې (غونډَۍ) په سَر باندې پهره کوئ.

کله چې دا دواړه هلته لاړل (دوی په خپل مينځ کښې پهره تقسيم کړه ، چې نمبر په نمبر په پهره کوو) نو مهاجر صحابي د آرام کولو د پاره څملاست ، او اَنصاري د مانځه د پاره اُودريده (ځکه ده د ځان سره سوچ وکړو چې د هسې ويخ اُودريدلو نه خو دا ښه ده چې په مانځه باندې اُودرېږم ، هاغه مشرک هم چونکه د دوی پسې پټ راروان ؤ)

کله چې هغه مشرک دلته رااُورسيد نو دا اَنصاري صحابي يې په مانځه باندې ولاړ اُوليد ، دې پوهه شو چې دا خو د خپل قوم مُحافِظ او پهره دار دی ، نو دې مشرک دا صحابي په غشي باندې اُوويشت ، دا غشې ده په بدن کښې ننوت ، دې صحابي دا غشې راوُويست ، او خپل مونځ يې جاري اُوساتل ،

تر دې پورې چې دې مشرک دا صحابي په درې (۳) غشو باندې اُوويشتو (هر غشې به ده په وجود کښې ننَوتو ، او ده به راويستو ، اګر چې ده د وجود نه وينه روانه وه) خو ده بيا هم خپل مونځ جاري ساتلو (آخر ده سره دا يَره پيدا شوه چې هسې نه په ډيرو غشو ويشتلو دې حالت ته اُورسم چې بيا د صحابه کرامو حفاظت رانه پاتې شي نو) بيا ده رکوع او سجده وکړه (مونځ يې پوره کړو) ، او هغه خپل مهاجر ملګرې يې راپاڅول ، دې مشرک ته چې د دوی بيداريدل معلوم شو نو هغه لاړ اُوتختيد ، کله چې دې مهاجر صحابي په دې انصاري صحابي باندې بهيدونکې وينه اُوليده نو ورته وې ويل :

سُبْحَانَ اللهِ أَلَا أَنْبَهْتَنِيْ أَوَّلَ مَارَمٰى ؟ سبحان الله ، کله چې هغه په تا باندې د اول غشي ګوذار اوکړو نو تا ولې زه هلته راپا نه څولم ؟

ده ورته وويل : كُنْتُ فِيْ سُوْرَةٍ أَقْرَؤُهَا فَلَمْ أُحِبَّ أَنْ أَقْطَعَهَا . (۱)

ما ( په مانځه کې ) يو سورة لوستلو نو ما دا نه خوښول چې زه دا په مينځ کې پريږدم (نو ځکه مې ته نه راپاڅولې).

**فائده** : سبحان الله ، دې صحابي په مانځه کې د سورة په لوستلو کې دومره خوند او لذت محسوسول چې مسلسل يې په وجود باندې غشي لږيدل ، وينه ورنه روانه وه خو بيا يې هم په مينځ کې مونځ پريخودل نه خوښول .

## د شهيد کيدو نه مخکې د مونځ کولو خواهش کول

د احاديثو په کتابونو کې د حضرت خُبيب ﷺ واقعه ذکر ده چې دې کافرانو نيولې وُ ، بيا يې دده د وژلو اراده اوکړه ، ده ورته وويل :

دَعُوْنِيْ أُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ . ما پريږدئ چې زه دوه رکعته مونځ اوکړم .

( هغوی ورته اجازه اوکړه ) نو ده دوه رکعته مونځ اوکړو ، بيا يې کافرانو ته وويل :

---

(۱) عَنْ جَابِرٍ، قَالَ : خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْنِيْ فِيْ غَزْوَةِ ذَاتِ الرِّقَاعِ فَأَصَابَ رَجُلٌ امْرَأَةَ رَجُلٍ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ، فَحَلَفَ أَنْ لَا أَنْتَهِيَ حَتَّى أُهْرِيْقَ دَمًا فِيْ أَصْحَابِ مُحَمَّدٍ، فَخَرَجَ يَتْبَعُ أَثَرَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَنَزَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْزِلًا، فَقَالَ: مَنْ رَجُلٌ يَكْلَؤُنَا ؟ فَانْتَدَبَ رَجُلٌ مِنَ الْمُهَاجِرِيْنَ وَرَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ، فَقَالَ : « كُوْنَا بِفَمِ الشِّعْبِ »، قَالَ: فَلَمَّا خَرَجَ الرَّجُلَانِ إِلَى فَمِ الشِّعْبِ اِضْطَجَعَ الْمُهَاجِرِيُّ، وَقَامَ الْأَنْصَارِيُّ يُصَلِّيْ، وَأَتَى الرَّجُلُ فَلَمَّا رَأَى شَخْصَهُ عَرَفَ أَنَّهُ رَبِيْئَةٌ لِلْقَوْمِ، فَرَمَاهُ بِسَهْمٍ فَوَضَعَهُ فِيْهِ فَنَزَعَهُ، حَتَّى رَمَاهُ بِثَلَاثَةِ أَسْهُمٍ، ثُمَّ رَكَعَ وَسَجَدَ، ثُمَّ انْتَبَهَ صَاحِبُهُ، فَلَمَّا عَرَفَ أَنَّهُمْ قَدْ نَذِرُوْا بِهِ هَرَبَ، وَلَمَّا رَأَى الْمُهَاجِرِيُّ مَا بِالْأَنْصَارِيِّ مِنَ الدَّمِ، قَالَ : سُبْحَانَ اللهِ أَلَا أَنْبَهْتَنِيْ أَوَّلَ مَا رَمٰى .قَالَ :كُنْتُ فِيْ سُوْرَةٍ أَقْرَؤُهَا فَلَمْ أُحِبَّ أَنْ أَقْطَعَهَا . سنن ابي داؤد باب الوضوء من الدّم رقم الحديث ۱۹۸ .

په نورو رواياتو کې ورسره دا الفاظ هم ذکر دي چې دې انصاري صحابي ورته وويل :

كُنْتُ فِيْ سُوْرَةٍ أَقْرَؤُهَا فَلَمْ أُحِبَّ أَنْ أَقْطَعَهَا حَتَّى أُنْفِذَهَا . فَلَمَّا تَابَعَ عَلَيَّ الرَّمْيَ رَكَعْتُ فَآذَنْتُكَ، وَايْمُ اللهِ لَوْلَا أَنْ أُضَيِّعَ ثَغْرًا أَمَرَنِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِحِفْظِهِ لَقُطِعَ نَفْسِيْ قَبْلَ أَنْ أَقْطَعَهَا . أَوْ أُنْفِذَهَا . المستدرک على الصحيحين للحاکم رقم الحديث ۵۵۷ وقال الحاکم : هذا حديث صحيح الاسناد ، السنن الکبری للبيهقي رقم الحديث ۶۶۳ .

لَوْلَا أَنْ تَرَوْا أَنَّ مَا بِي جَزَعٌ مِنَ الْمَوْتِ لَزِدْتُ . (۱) که چيرته تاسو زما متعلق دا ګمان نه کولی چې ګنې زه د مرګ نه ويريږم نو ما به دا مونځ نور هم اُوږد کړې وی .

## د نورو اسلافو د مانځه سره مينه

## اُويس قرني رحمه الله به ټوله شپه په عبادت کښې مشغول ؤ

د اُويس قرني رحمه الله په باره کښې نقل دي چې دې به د شپې نه اُوده کيدو ، ده به فرمايل ما بَالُ الملائکةِ لا تفتر ونحنُ نفتر . (۲)

د تعجب خبره ده چې فرښتې په عبادت کولو نه ستړې کيږي او مونږ (باوجود ددينه چې اَشرفُ المخلوقات يو او مونږ) دې ستړي شو .

## امام ابويوسف رحمه الله به د ورځې دوه سوه رکعته نفل کول

امام ابويوسف رحمه الله د مانځه سره دومره شوق ؤ باوجود ددينه چې دې قاضيُ القضاة ؤ ، د قضاء ذِمه دارۍ اداء کولو باوجود به يې بيا هم په هره ورځ دوه سوه (۲۰۰) رکعته نفل مونځ کولو. (۳)

## رابعه بصريه به په شوارُوز کښې زَر رکعته نفل کول

رابعه بصريه عدويه يوه نيکه بي بي تېره شوې ، دې به په شوارو کښې زر (۱۰۰۰) رکعته نفل کول ، چا ورته پوښتنه اوکړه : مَا تَطْلُبِيْنَ بِهٰذَا ؟

---

(۱) .... ثُمَّ خَرَجُوا بِهِ مِنَ الْحَرَمِ لِيَقْتُلُوْهُ ، فَقَالَ : دَعُوْنِي أُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ ، فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ ، ثُمَّ قَالَ : لَوْلَا أَنْ تَرَوْا أَنَّ مَا بِي جَزَعٌ مِنَ الْمَوْتِ ، لَزِدْتُ ، فَكَانَ أَوَّلَ مَنْ سَنَّ الرَّكْعَتَيْنِ عِنْدَ الْقَتْلِ ، ثُمَّ قَالَ :
وَلَسْتُ أُبَالِيْ حِيْنَ أُقْتَلُ مُسْلِمًا ❁ عَلٰى أَيِّ شِقٍّ كَانَ لِلّٰهِ مَصْرَعِيْ . صحيح ابن حبان رقم الحديث ۷۰۳۹ ذِكْرُ خُبَيْبِ بْنِ عَدِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ .

(۲) كان أُويس القرني لا ينام ليلة ويقول : ما بال الملائكة لا تفتر ونحن نفتر . ربيع الأبرار و نصوص الاخيار ج۲ ص ۲۶۹ الباب السادس والعشرون الدين وما يتعلق به من ذكر الصلاة والصوم ....، المستطرف في كل فن مستظرف لشهاب الدين أبو الفتح محمد بن احمد بن منصور الأبشيهي ۱/۱۳ الفصل الثاني في الصلاة وفضلها .

(۳) لداى ممبر و محراب ج۳ ص ۱۸۱ .

په دې دومره ډېرو مونځونو کولو سره ستا مقصد څه شی دی ؟

دې ورته وويل :

لَا اُرِيْدُ بِهٖ ثَوَابًا ، وإنّما اَفْعَلُهُ لِكَيْ يسرّ به رسولُ الله صلى الله عليه وسلم يومَ الْقِيامةِ .

فيقولُ لِلأنبياءِ : اُنْظُرُوْا إِلى اِمْرَأَةٍ اُمَّتِيْ هٰذَا عَمَلُهَا . (۱)

زه په دې نوافلو سره د ثواب اراده نه لرم ، دا زه صرف ددې د پاره کوم چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د قيامت په ورځ په دې باندې خوشحاله شي ، او نورو انبياء کرامو ته وفرمايي : تاسو زما د اُمت دې (کمزورې) زَنانه ته اُوګورئ ، دا زَر (۱۰۰۰) رکعته نفل ددې (د يو شواروز) عمل دی . (نو نبي عليه السلام به د نورو اَنبياؤ د وړاندې سَر لوړې او خوشحاله شي ) .

د رابعه بصريه په حالاتو کې ذکر دي چې يو ځل يو کس ديته راغی چې دُعا ورته واخلي، خو دا د ماسپخين په مانځه ولاړه وه ، دې سړي سوچ اوکړو چې لږ روستو به راشم دې به مونځ خلاص کړې وي . چې روستو راغی نو دا په نوافلو ولاړه وه ، دا کس لاړ ، چې مازيګر راغی نو دا د مازيګر په مانځه ولاړه وه ، د مانځه نه پس په ذِکر و اَذکارو کې مشغوله شوه ، دا کس لاړ ، چې ماښام راغی نو دا د ماښام په مانځه ولاړه وه ، د مانځه نه پس يې د اَوّابينو په کولو شروع اوکړه ، دا کس لاړ ، چې ماسخوتن راغی ، نو دا د ماسخوتن د مانځه نه پس په نوافلو اُودريده ، ډېر اُوږده اُوږده رکعتونه يې کول .

---

(۱) رابعة العدوية القيسية ثم المصرية رأس العابدات ، ورئيس الناسكات القانتات الخائفات الوجلات .... كانتْ تصلي الفَ ركعة في اليوم والليلة . فقيل له : ما تطلبين بهذا ؟ قالت : لَا اُرِيْدُ بِهٖ ثَوَابًا ، وإنّما اَفْعَلُهُ لِكَيْ يسر به رسولُ الله صلى الله عليه وسلم يومَ القيامة . فيقولُ لِلأنبياء : اُنْظُرُوْا إِلى اِمْرَأَةٍ اُمَّتِيْ هٰذَا عَمَلُهَا . الكواكب الدرية في تراجم السادة الصوفية لزين الدين محمد عبدالرؤف المناوي ، تحقيق محمد اديب الجادر الجزء الاول القسم الاول ص ۲۸٦ .

په المستطرف کې دا واقعه داسې ذکر ده : وكانت رابعة العدوية تصلّي في اليوم والليلة ألف ركعة ، وتقول : وَاللهِ مَا أُرِيْدُ بِهَا ثَوَابًا وَلَكِنْ لِيسر ذلك رسول الله صلى الله عليه وسلم . ويقول للأنبياء عليهم الصلاة والسلام : اُنْظُرُوْا إِلى اِمْرَأَةٍ مِنْ أُمَّتِيْ هٰذَا عَمَلُهَا فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ . المستطرف في كل فن مستظرف لشهاب الدين ابو الفتح محمد بن احمد بن منصور الأبشيهي ۱۳/۱ الفصل الثاني في الصلاة وفضلها .

دې سړي ډير اِنتظار اوکړو خو دې سلام نه ګرځول ، آخِر دا کس په اِنتظار ستړې شو ، ورنه لاړ ، د ځان سره يې وويل چې سهَر به راشم .

رابعه بصريه ټوله شپه په نوافلو او عبادت کې تېره کړه ، سهَر چې دا کس راغی نو وې کتل چې دا په مانځه ولاړه وه ، د مانځه نه پس په ذِکر و اَذکارو کې مشغوله شوه ، چې کله يې د اِشراق مونځ اوکړو نو د لږ وخت د پاره اُوده شوه .

دا کس وايي چې ما اِنتظار کول ، ډير لږ خوب يې اوکړو ، ناڅاپه د يَرې په حالت کې د خوب نه راپاڅيده ، سترګې يې مږلی ، او دا دُعا يې اوکړه :

اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ أَعُوْذُبِکَ مِنْ عَيْنٍ لَا تَشْبَعُ مِنَ النَّوْمِ .

اې الله ! زه پناه غواړم په تا سره د داسې سترګو نه چې هغه په خوب نه مړيږي .

دا يې وويل ، راپاڅيد ، اَودس يې اوکړو او بيا يې په عبادت شروع اوکړه . (۱)

**فائده** : سبحان الله . چې کله يو صِنفِ نازک زَنانه دومره عبادت کولې شي نو بيا خو په کار ده چې سړې د دې نه ډير کوشش اوکړي .

## حضرت داؤد عليه السلام ته د الله ﷻ وَحي

حضرت داؤد عليه السلام ته الله ﷻ وَحي اوکړه :

يَا دَاوُدُ ! كذب مَنِ ادَّعٰى مَحَبَّتِيْ ، وإذا جنّ عليه الليلُ نام عَنِّيْ ، اَلَيْسَ كلُّ مُحِبٍّ يُحبُّ الخلوةَ بِحَبِيْبِه ؟ (۲)

اې داؤد ! هغه کس دروغجن دی چې هغه زما د محبت دعوی کوي خو چې کله په ده باندې شپه راشي بيا دې د مانه اُوده شي ، آيا هر عاشِق د خپلې معشوقې سره يو ځای والې نه خوښوي ؟

(۱) خطبات فقیر ج۱۱ ص۱۵٦ ، اهل دل کے تڑپادینے والے واقعات ج۲ ص۲۵ .

(۲) المستطرف في كل فن مستظرف لشهاب الدين أبو الفتح محمد بن أحمد بن منصور الأبشيهي ۱ /۱۳ الفصل الثاني في الصلاة وفضلها . ربيع الابرار و نصوص الاخيار ج۲ ص ۹۵ باب الدين وما يتعلق به من ذكر الصلاة والصوم والحج ...

# د يوې وينځې د مانځه سره مينه

په روض الرّياحين کې يوه واقعه ذکر ده : ابوعامر رحمه الله فرمايي چې يو ځل ما په بازار کې يوه وينځه اُوليده چې په ډير اَرزان قيمت خرڅيده ، ما چې ورته اوکتل نو د ډيرې کمزورتيا په وجه يې ښېټه د ملا سره يو ځای شوې وه ، وينبتان يې گډوډ وو ، او رَنگ يې ( د کمزورتيا نه ) تَک زيړ وُ ، زما وربانديې رَحم راغی ، نو ما دا وينځه واخيسته .... دا دومره عبادت گزاره وينځه وه چې ددې به هميشه د ورځې روژه وه ، او د شپې به يې ټوله شپه د الله ﷻ عبادت کولو .

ابوعامر وايي : کله چې اختر رانزدې شو نو ما ورته ووېل چې صبا وختي به بازار له ځو چې د اختر د پاره ضروري شيان واخلو ، دې ووېل :

يَا مَوْلَايَ مَا أَعْظَمُ شُغْلَكَ بِالدُّنْيَا .

اې زما سرداره ! ته په دُنيا کې څومره مصروفه يې .

بيا کمرې ته ننَوته ، په مانځه يې شروع اوکړه ، مسلسل به يې تلاوت کولو ، تر دې پورې چې دې آيت ته رااُورسيده :

....وَيُسْقَىٰ مِن مَّاءٍ ، يَتَجَرَّعُهُ وَلَا يَكَادُ يُسِيغُهُ وَيَأْتِيهِ الْمَوْتُ مِن كُلِّ مَكَانٍ وَمَا هُوَ بِمَيِّتٍ وَمِن وَرَائِهِ عَذَابٌ غَلِيظٌ . (۱)

ترجمه : ... او په دې سرکشه ضدي کس به د نَوُونو اُوبه څکولې شي ، دې به يې په گوټ گوټ څکي ، خو د حَلق نه به يې ښکته نشي تيرولی ، او ده ته به مرګ د هر ځای نه راځي ليکن هغه به مَړ کيږي نه ، او دده روستو به ډير سخت عذاب وي .

دې وينځې بار بار دا آيت تلاوت کولو :

حَتَّىٰ صَاحَتْ صَيْحَةً فَارَقَتْ فِيهَا الدُّنْيَا رَضِيَ اللهُ عَنْهَا . (۲)

---

(۱) سورة ابراهيم آية ۱۶ ، ۱۷ .

(۲) روض الرياحين ص ۳۵۷ الحكاية التاسعة والسبعون بعد الثلاث مئة .

تر دې پورې چې دې (د الله ﷻ د يَرې نه) يوه چغه اُووهله (بې هُوشه شوه او په زمکه رااُوغورځيده) او ددې دُنيا نه يې رِحلت اوکړو، يعنی وفات شوه.

## د کليمې ويلو نه روستو د مسلمانۍ غټه نخه مونځ کول دي

محترمو مسلمانانو ! د کليمې ويلو نه روستو د مسلمانۍ غټه نَخه مونځ کول دي، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

علم الإسلام الصلاة . فَمَنْ فَرَّغَ لها قلبه وحافظ عليها بحدّها ووقتها وسننها فهو مؤمن. (۱)

د اِسلام علامه (او نَخه) مونځ کول دي، پس څوک چې مانځه ته خپل زړه فارغ کړي، ددې د حدودو، وختونو او سُنتو حفاظت اوکړي نو دا کس مؤمن دی.

د اسلام نه علاوه دا نور عبادات په هر چا فرض ندي، او نه په هره ورځ اداء کيږي، مثلاً روژه په غونډ کال کې صرف د رمضان په مياشت کې فرض ده، زکوة صِرف په صاحبِ نصاب باندې د کال تيريدو نه پس فرض دی، حَج په مالدار باندې په ټول عُمر کې صرف يو ځل فرض دی، ليکن صرف مونځ داسې عبادت دی چې دا د کال په دولسو مياشتو کې په هر عاقِل بالِغ مسلمان باندې په هر شوا روز کې پنځه پيرې فرض دی.

معلومه شوه چې د اِيمان نه پس د مسلمانۍ علامه او غټه نخه صرف مونځ دی، دغه وجه ده چې د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کې به چا اِيمان راوړو نو د کليمې ويلو او عقائدو خودلو نه روستو به ورته د مونځ تعليم ورکولې شو.

## د غونډ تقرير خلاصه

د غونډ تقرير خلاصه دا رااُووته چې په اِسلام کې د مونځ ډير اُوچت مقام دی، په قرآن کريم او احاديثو کې ددې ډير تاکيد راغلی، دا د اِسلام په بُنيادي اَرکانو کې اَهم رُکن دی، مونځ د دِين ستَن ده، د نبي عليه السلام د سترګو يَخوالې دی، پيغمبر عليه السلام آخِري وصيت هم د موځ متعلق کړی، دا د الله ﷻ په نزد مَحبوب ترين عبادت دی، مونځ د

(۱) کنز العمال كتاب الصلاة الباب الأول: في فضل الصلاة ووجوبها رقم الحديث ۱۸۸۷۰ .

الله ﷻ سره مُناجات کول دي، او په قيامت کې به د انسان سره اولنې حِساب هم د مونځ کولې شي.

## دُعا

الله تبارک و تعالی دې زمونږ په زړونو کې د مانځه اَهميت او عَظمت پيدا کړي، او ربّ کريم دې مونږ ټولو ته په صحيح طريقې سره د مانځه اداء کولو توفيق راکړي.

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن.

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

**نوټ**: د مانځه د مختلفو موضوعاتو متعلق ضروري فِقهي مسائِل او نور اَهم بَحثونه په اَتم (۸) جِلد کې ذِکر دي.

**ابوالشمس عفي عنه**

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ ﴾ العنكبوت آية ۴۵.

# د مانځه فضائِل او فوائِد

تالیف

اَبُو الشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدٰى عُفِيَ عَنْهُ

• مُدَرِّس دَارُالعلوم فيض القُرآن اكاخيل كالونى مردان

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# د مانځه فضائل او فوائد

اَلۡحَمۡدُ لِحَضۡرَةِ الۡجَلَالَةِ ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ الرِّسَالَةِ ، وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصۡحَابِهٖ الَّذِيۡنَ هُمۡ أَهۡلُ الۡفَضۡلِ وَالۡعَدَالَةِ .

اَمَّا بَعۡدُ فَأَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ . قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الۡقُرۡآنِ الۡمَجِيۡدِ وَالۡفُرۡقَانِ الۡحَمِيۡدِ :

﴿ اُتۡلُ مَاۤ اُوۡحِیَ اِلَيۡكَ مِنَ الۡكِتٰبِ وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ ؕ اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنۡهٰى عَنِ الۡفَحۡشَآءِ وَالۡمُنۡكَرِ ؕ وَلَذِكۡرُ اللّٰهِ اَكۡبَرُ ؕ وَاللّٰهُ يَعۡلَمُ مَا تَصۡنَعُوۡنَ ﴾ . (١)

وَقَالَ رَسُوۡلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ : خَمۡسُ صَلَوَاتٍ اِفۡتَرَضَهُنَّ اللّٰهُ تَعَالٰى ، مَنۡ أَحۡسَنَ وُضُوۡءَهُنَّ ، وَصَلَّاهُنَّ لِوَقۡتِهِنَّ ، وَأَتَمَّ رُكُوۡعَهُنَّ وَخُشُوۡعَهُنَّ كَانَ لَهٗ عَلَى اللّٰهِ عَهۡدٌ أَنۡ يَغۡفِرَ لَهٗ ، وَمَنۡ لَمۡ يَفۡعَلۡ فَلَيۡسَ لَهٗ عَلَى اللّٰهِ عَهۡدٌ إِنۡ شَاءَ غَفَرَ لَهٗ ، وَإِنۡ شَاءَ عَذَّبَهٗ . (٢)

وَقَالَ عَلَيۡهِ السَّلَامُ : مِفۡتَاحُ الۡجَنَّةِ الصَّلَاةُ ، وَمِفۡتَاحُ الصَّلَاةِ الۡوُضُوۡءُ . (٣)

صَدَقَ اللّٰهُ الۡعَظِيۡمُ

---

(١) سورة العنكبوت آية ٤٥ .

(٢) سنن ابي داؤد كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابٌ فِي الۡمُحَافَظَةِ عَلٰى وَقۡتِ الصَّلَوَاتِ رقم الحديث ٤٢٥ ، و صححه الالباني في صحيح سنن ابي داؤد ١٢٥/١ ، مشكوة المصابيح كتاب الصلوة الفصل الثاني رقم الحديث ٥٧٠ (٧) ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ٣١٦٦ ، ورقم ٦٥٠٠ ، شرح السنّة للبغوي رقم ٩٧٨ ، سنن ابن ماجه رقم ١٤٠١ ، و رواه احمد في مسنده ٣١٧/٥ ، ٣٢٢ ، والبيهقي ٢١٥/٢ رقم ٤٦٧ ، وروى مالك نحوه .

(٣) سنن الترمذي أَبۡوَابُ الطَّهَارَةِ بَابُ مَا جَاءَ أَنَّ مِفۡتَاحَ الصَّلَاةِ الطُّهُوۡرُ رقم الحديث ٤ ، مشكاة المصابيح كتاب الطهارة الفصل الثالث رقم الحديث ٢٩٤ (١٢) ، مسند احمد ٣٤٠/٣ .

## تمهيدي خبره

محترمو مسلمانانو ورونو ! مونځ د اِسلام اَهم او بُنيادي رُکن دی ، دا د اسلام او مسلمانۍ غټه نَخه ده ، په قرآن کريم او ا حاديثو کې د مانځه ډير اَهميت فضائِل او فوائِد بيان شوي ، په تېره موضوع کې مې درته د مانځه اَهميت او مقام بيان کړې وُ ، په نن موضوع کې به اِنْ شَاءَ الله درته د مانځه يو څو غټ فضائل او فوائد بيانوم :

## ۱ . د مانځه په وجه انسان د بې حيايۍ او بدو کارونو نه منع کيږي

د قرآن کريم او ډيرو مُستَنَدو احاديثو نه دا خبره ثابته ده چې په مانځه کې داسې تاثير دی چې ددې په وجه انسان د بې حيايۍ خبرو ، بدوکارونو او ګناهونو نه منع کيږي ، الله تعالی نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته فرمايي :

﴿ اُتْلُ مَآ اُوْحِيَ اِلَيْكَ مِنَ الْكِتٰبِ وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ ؕ اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ ؕ ﴾. (۱)

ترجمه : ( اې پيغمبره ! ) ته تلاوت کوه هغه کتاب د کوم چې تاته وَحي کړې شوی ، او مونځ قائم کړه ( يعنی په پابندۍ سره يې کوه ) بيشکه مونځ انسان د بې حيايۍ او ناکاره کارونو ( او ناجائزه خبرو ) نه منع کوي .

**فائده** : اګر چې په دې آيت کې مقصود ټول اُمت ته د تلاوت او مانځه کولو حکم دی ليکن د ترغيب او تاکيد د پاره اول ددې حکم رسولُ الله صلی الله عليه وسلم ته اوکړې شو ، ددې د پاره چې اُمت ته هم ددې د کولو خواهِش پيدا شي ، او د نبي عليه السلام په عمَلي تعليم سره دوی ته په دې باندې عمَل کول آسان شي .

**د آيت تشريح** په مذکوره آيت کې دا خبره هم ذکر شوه چې " مونځ انسان د بې حيايۍ او ناکاره کارونو نه منع کوي " نو ددې مطلب دادی چې کله يو کس د مانځه د ټولو

(۱) سورة العنكبوت آية ۴۵ .

ظاهري او باطني آدابو لحاظ اوساتي ، د نبي عليه السلام په طريقه په خُشوع خُضوع او جَمعي سره مونځ اداء کړي نو داسې انسان ته الله ﷻ د هر قِسمه ګناهونو نه د بچ کيدلو توفيق ورکوي، او که په خطائي کې ورنه ګناه اوشي نو بيا د توبې ويستلو توفيق ورکوي. همدارنګې ده ته د نيکو اعمالو توفيق هم ورکوي. (۱)

حضرت ابوهريرة ﷺ فرمايي چې يو کس نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته راغی او ورته وې فرمايل :

إِنَّ فُلَانًا يُصَلِّيْ بِاللَّيْلِ ، فَإِذَا أَصْبَحَ سَرَقَ .

بيشکه فلانې سړې د شپې تهجد کوي خو چې کله سهَر شي نو بيا غلا کوي ، وسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل :

إِنَّهُ سَيَنْهَاهُ مَا تَقُوْلُ. (۲)

دا مونځ به ډير زر دې د غلا نه منع کړي.

---

(۱) ﴿ إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ ﴾ ووجه ذلك أن العبد المقيم لها، المتمم لأركانها، وشروطها، وخشوعها يستنير قلبه، ويتطهّر فؤاده ، ويزداد إيمانه، وتقوى رغبته في الخير، وتقل رغبته في الشرّ، فبالضرورة مداومتها والمحافظة عليها على هذا الوجه تنهى عن الفحشاء والمنكر، فهذا من أعظم مقاصدها، وثمراتها. تيسير الكريم الرحمن في تفسير كلام المنان للسعدي ص ٦٣٢.

فإذا صلّى العبد المسلم الصلاة على الوجه الأكمل: بشروطها، وأركانها، و واجباتها، وخشوعها، والتدبّر في قراءتها منعته من الفحشاء والمنكر . سلسلة الاحاديث الصحيحة ص ١٦ ، الخشوع في الصلاة في ضوء الكتاب والسنة ص ١٣٧ .

(۲) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ : إِنَّ فُلَانًا يُصَلِّيْ بِاللَّيْلِ ، فَإِذَا أَصْبَحَ سَرَقَ . قَالَ : « إِنَّهُ سَيَنْهَاهُ مَا تَقُوْلُ » مسند احمد مُسْنَدُ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رقم الحديث ٩٧٧٨ ، إسناده صحيح، رجاله ثقات رجال الشيخين ، واخرجه البزار (رقم ٧٢٠ - كشف الأستار) و رقم ٧٢١ ، ٧٢٢ ، والطحاوي في " شرح مشكل الآثار" (٢٠٥٦) ، وابن حبان (٢٥٦٠) قال الهيثمي: رجاله رجال الصحيح. واخرجه أبو القاسم البغوي في "الجعديات" (٢١٦٠) ، كما في المجمع ٢ / ٢٥٨ ، شعب الايمان للبيهقي ٥٢٥/٢ ، تفسير ابن كثير سورة عنكبوت آيت ٤٥ .

او کوم کس چې د مانځه کولو باوجود بيا هم د ګناهونو نه منع نه شو نو دا دې پوهه شي چې دده په مانځه کې څه قصور يا خلل دی ، يا ده د مانځه پوره حق نه دې اداء کړی نو ځکه ورته د ګناهونو نه د بَچ کيدلو توفيق نه دې ملاوْ شوی ، او په ډيرو احاديثو کې همدا مضمون هم ذکر شوی.

حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي:

مَنْ لَمْ تَأْمُرْهُ صَلَاتُهُ بِالْمَعْرُوْفِ وَتَنْهَهُ عَنِ الْمُنْكَرِ لَمْ يَزْدَدْ مِنَ اللهِ إِلَّا بُعْدًا . (۱)

چاته چې دده مونځ د نيکۍ حکم او نکړي ، او د بَدۍ نه يې منع نه کړي نو دا مونځ ده لره د الله جل جلاله نه نور هم لرې کوي.

## ۳ . د مونځ کولو په وجه انسان د الله ﷻ د رَحمت مُستحِق ګرځي

الله تعالى فرمايي :

﴿ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴾ . (۲)

---

(۱) المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۸۵۴۳ ، شعب الايمان رقم ۲۹۹۳ ، الزهد لابي داؤد رقم الحديث ۱۲۶ ، تنبيه الغافلين .

قال الامام الرازي رحمه الله : المَسْأَلَةُ الثَّالِثَةُ: ..... اَلْمُرَادُ أَنَّ الصَّلَاةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ مُطْلَقًا وَعَلٰى هٰذَا قَالَ بَعْضُ الْمُفَسِّرِيْنَ : اَلصَّلَاةُ هِيَ الَّتِيْ تَكُوْنُ مَعَ الْحُضُوْرِ وَهِيَ تَنْهٰى ، حَتّٰى نقل عنه صلى الله عليه وآله وَسَلَّمَ « مَنْ لَمْ تَنْهَهُ صَلَاتُهُ عَنِ الْمَعَاصِيْ لَمْ يَزْدَدْ بِهَا إِلَّا بُعْدًا » . التفسير الرازي ۶۱/۲۵ سورة العنكبوت آية ۴۵ ط . دار إحياء التراث العربي بيروت .

قال عبد الرحمن بن محمد عوض الجزيري رحمه الله : فالصَّلَاةُ التي تنهي عن الفحشاء والمنكر ، وهي تلك الصلاة التي يكون العبد فيها معظمًا ربه ، خائفًا منه ، راجيًا رحمته ، فحظ كل واحد من صلاته إنما هو بقدر خوفه من الله ، وتأثر قلبه بخشيته ... الفقه على المذاهب الاربعة ۱۵۸/۱ كتاب الصلاة حكمة مشروعيتها ط . دار الكتب العلمية بيروت .

(۲) سورة النور آية ۵۶ .

ترجمه : ( اې مسلمانانو ! ) تاسو د مونځونو پابندي کوئ ، زکوة ورکوئ ، او د رسول (ﷺ) حکم منئ ، ددې د پاره چې په تاسو رَحم اوکړې شي .

## ۳ . مونځ کوونکې به د خَوف او حُزن نه په اَمن وي

الله تعالى فرمايي :

﴿ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴾ .(۱)

ترجمه : بيشکه چا چې اِيمان راوړو ، نيک عملونه يې اوکړه ، مونځ يې قائم کړو ، او زکوة يې ورکړو ، دوى ته به د خپل رَب سره ددې اَجر وي ، نه به په دوى باندې څه يَره وي او نه به غَمجَن وي .

## ٤ . د مانځه په وجه د انسان ګناهونه معاف کيږي

په دې کې هيڅ شک نشته چې مونځ د ټولو نه غوره عبادت ، او بهترين نيک عمل دى ، او په هر نيک عمل سره د انسان مخکيني ګناهونه معاف کيږي .

الله تعالى فرمايي :

﴿ وَأَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ اللَّيْلِ ۚ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ۚ ذَٰلِكَ ذِكْرَىٰ لِلذَّاكِرِينَ ﴾ .(۲)

ترجمه : ( اې پيغمبره ! ) ته د ورځې په دواړو طرفونو ، او د شپې په څه حِصه کې مونځ قائم کړه ( يعنى په پابندۍ سره يې کوه ) ، بيشکه نيکيانې بَدۍ لرې کوي ( او ختموي ) ، دا نصيحت دى د نصيحت کوونکو د پاره .

(۱) سورة البقرة آية ۲۷۷ .

(۲) سورة هود آية ۱۱۴ .

**فائده** : اګر چې په ظاهره خطاب نبي عليه السلام ته دی خو مراد ورنه ټول اُمت دی.

په دې آيت کې الله ﷻ د مونځ د حُکم نه پس د مونځ فائده هم بيان کړه چې:

﴿إِنَّ الْحَسَنٰتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّاٰتِ﴾ بيشکه نيکيانې بَدې ختموي.

مفسّرينو هم ليکلي چې د هر نيک کار په وجه د انسان (صغيره) ګناهونه معاف کولې شي

**د پنځو مونځونو مثال داسې دی لکه د صفا اوبو په نهر کې دورځې پنځه ځله لامبل**

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی، حضرت ابو هريرة رضي الله عنه فرمايي چې يوه ورځ رسول الله صلى الله عليه وسلم صحابه کرامو ته وفرمايل:

أَرَأَيْتُمْ لَوْ أَنَّ نَهْرًا بِبَابِ أَحَدِكُمْ يَغْتَسِلُ مِنْهُ كُلَّ يَوْمٍ خَمْسَ مَرَّاتٍ، هَلْ يَبْقَى مِنْ دَرَنِهِ شَيْءٌ؟

دا راته وُوايئ که چيرته په تاسو د چا د دَروازې مخې ته (د صفا اُوبو) يو نهر بَهيږي، او دې په هغې کې د ورځې پنځه ځلې لامبي نو آيا د ده په بدن به څه خيرې پاتې شي؟

صحابه کرامو ورته وفرمايل: د ده په بَدن به لږ خيرې هم پاتې نشي، نبي ﷺ وفرمايل:

فَذٰلِكَ مَثَلُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ يَمْحُو اللّٰهُ بِهِنَّ الْخَطَايَا. (۱)

---

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: « أَرَأَيْتُمْ لَوْ أَنَّ نَهْرًا بِبَابِ أَحَدِكُمْ يَغْتَسِلُ مِنْهُ كُلَّ يَوْمٍ خَمْسَ مَرَّاتٍ، هَلْ يَبْقَى مِنْ دَرَنِهِ شَيْءٌ؟ » قَالُوْا: لَا يَبْقَى مِنْ دَرَنِهِ شَيْءٌ، قَالَ: « فَذٰلِكَ مَثَلُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ يَمْحُو اللّٰهُ بِهِنَّ الْخَطَايَا ». صحيح مسلم بَابُ الْمَشْيِ إِلَى الصَّلَاةِ تُمْحَى بِهِ الْخَطَايَا، وَتُرْفَعُ بِهِ الدَّرَجَاتُ رقم الحديث ۲۸۳ (۶۶۸) باب فضل الصلوات الخمس، صحيح البخاري باب: الصلوة الخمس كفارة رقم الحديث ۵۲۸، مشكاة المصابيح كتاب الصلوة الفصل الاول رقم الحديث ۵۶۵ (۲)، سنن الترمذي باب مثل الصلوات الخمس رقم ۲۸۶۸.

وفي رواية: عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: « اَلصَّلَوَاتُ الْخَمْسُ كَفَّارَةٌ لِمَا بَيْنَهَا. ثُمَّ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَرَأَيْتَ لَوْ أَنَّ رَجُلًا كَانَ يَعْتَمِلُ، فَكَانَ بَيْنَ مَنْزِلِهِ وَمُعْتَمَلِهِ خَمْسَةُ أَنْهَارٍ، فَإِذَا أَتَى مُعْتَمَلَهُ عَمِلَ فِيْهِ مَا شَاءَ اللّٰهُ فَأَصَابَهُ الْوَسَخُ أَوِ الْعَرَقُ، فَكُلَّمَا مَرَّ بِنَهْرٍ اِغْتَسَلَ، مَا كَانَ ذٰلِكَ يُبْقِيْ مِنْ دَرَنِهِ؟ فَكَذٰلِكَ الصَّلَاةُ، كُلَّمَا عَمِلَ خَطِيْئَةً فَدَعَا وَاسْتَغْفَرَ غُفِرَ لَهُ مَا كَانَ قَبْلَهَا ». رواه الهيثمي في مجمع الزوائد و منبع الفوائد ۲۹۸/۱ رقم الحديث ۱۶۵۵، والسيوطي في الدر المنثور ۳۵۵/۳، والطبراني في المعجم الكبير ۳۶/۶. وقال الهيثمي في المجمع: رَوَاهُ الْبَزَّارُ، وَالطَّبَرَانِيُّ فِي الْأَوْسَطِ وَالْكَبِيْرِ وَزَادَ فِيْهِ: « ثُمَّ صَلَّى صَلَاةً اِسْتَغْفَرَ غَفَرَ اللّٰهُ لَهُ مَا كَانَ قَبْلَهَا ». وَفِيْهِ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ قُرْطٍ ذَكَرَهُ ابْنُ حِبَّانَ فِي الثِّقَاتِ، وَبَقِيَّةُ رِجَالِهِ رِجَالُ الصَّحِيْحِ.

همدا مثال د پنځو مونځونو دی چې الله تعالی په دې سره ټول ( صغیره ) ګناهونه ختموي.

**فائده** : رسولُ الله صلی الله علیه وسلم د مثال په ذریعه صحابه کرامو ته دا خبره واضحه کړه چې لکه څرنګې چې په صفا اوبو کې لامبلو سره په بَدن خیرې نه پاتې کیږي نو همدغه شان په دې پنځو مونځونو سره هم انسان د ګناهونو نه صفا کیږي.

## په پنځو مونځونو سره ګناهونه داسې رژیږي لکه د خزان په موسم کې چې د اُونو نه پاڼې رژیږي

د مشکوة شریف حدیث دی ، حضرت ابوذر ﷺ فرمایي چې یوه ورځ نبي کریم صلی الله علیه وسلم د ژمي په موسم کې بهَر تشریف راوړو ، د ( خزان په وجه د ) اُونو پاڼې په خپله راغورځیدی ، رسولُ الله صلی الله علیه وسلم د یوې اُونې دوه څانګې اُونیوی ( او وې خوَزولی ) ، راوي وایي چې ( په دې نیولو او خوَزولو سره یو دَم ) د اُونې نه پاڼې رااُوغورځیدی ، پیغمبر علیه السلام ( ماته ) وفرمایل :

يَا أَبَا ذَرٍّ ! اې ابوذره !

ما ورته وویل :

لَبَّيْكَ يَا رَسُوْلَ اللهِ . اې د الله رسوله ! حاضِریم.

نبي علیه السلام وفرمایل :

إِنَّ الْعَبْدَ الْمُسْلِمَ لَيُصَلِّي الصَّلَاةَ يُرِيْدُ بِهَا وَجْهَ اللهِ . فَتَهَافَتَ عَنْهُ ذُنُوْبُهُ كَمَا يَتَهَافَتُ هٰذَا الْوَرَقُ عَنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ . (١)

---

(١) عَنْ أَبِي ذَرٍّ ﷺ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ زَمَنَ الشِّتَاءِ وَالْوَرَقُ يَتَهَافَتُ ، فَأَخَذَ بِغُصْنَيْنِ مِنْ شَجَرَةٍ قَالَ: فَجَعَلَ ذٰلِكَ الْوَرَقُ يَتَهَافَتُ ، قَالَ : فَقَالَ: « يَا أَبَا ذَرٍّ ! » قُلْتُ : لَبَّيْكَ يَا رَسُوْلَ اللهِ . قَالَ : « إِنَّ الْعَبْدَ الْمُسْلِمَ لَيُصَلِّي الصَّلَاةَ يُرِيْدُ بِهَا وَجْهَ اللهِ . فَتَهَافَتَ عَنْهُ ذُنُوْبُهُ كَمَا يَتَهَافَتُ هٰذَا الْوَرَقُ عَنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ » .
مشكاة المصابيح كتاب الصلاة الفصل الثالث رقم الحديث ٥٧٦ ( ١٣ ) ، مسند احمد حديث أَبِي ذَرٍّ الْغِفَارِيِّ رقم الحديث ٢١٥٥٦ ، الترغيب والترهيب ١ / ٢٢٨

چې کله يو مسلمان بنده خالصه د الله ﷻ د رَضا د پاره مونځ اوکړي نو دده نه ګناهونه داسې رژيږي لکه څرنګې چې ددې اونې نه پاڼې رژيږي. (۱)

# مونځ د مخکيني ګناهونو د پاره کفاره ده

۱ . د مسلم شريف حديث دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

مَا مِنَ امْرِئٍ مُسْلِمٍ تَحْضُرُهُ صَلَاةٌ مَكْتُوبَةٌ فَيُحْسِنُ وُضُوءَهَا وَخُشُوعَهَا وَرُكُوعَهَا، إِلَّا كَانَتْ كَفَّارَةً لِمَا قَبْلَهَا مِنَ الذُّنُوبِ مَا لَمْ يُؤْتِ كَبِيرَةً، وَذٰلِكَ الدَّهْرَ كُلَّهُ. (۲)

په کوم مسلمان چې د فرض مانځه وخت راشي، او دا ددې د پاره په ښه طريقې سره اَودس اوکړي، بيا په خُشوع او ښه طريقې سره رکوع (او سجده) اوکړي نو دا مونځ به دده د پاره د مخکيني ګناهونو د پاره کفاره شي خو چې ده کبيره ګناه نه وي کړي، او په مانځه سره د ګناهونو د مغفرت دا سَعادت به انسان ته ټول عُمر حاصل وي.

يعنی دا سعادت د څه معلوم وخت سره خاص نه دی، بلکه په ټول عُمر کې چې کله هم انسان په ښه طريقې سره اَودس اوکړي، بيا په خُشوع او صحيح طريقې سره رکوع، سجده او ټول مونځ اوکړي نو په دې سره به دده ټول صغيره ګناهونه معاف کولې شي. (۳)

---

(۱) وفي رواية: عَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ قَالَ: كُنَّا مَعَ سَلْمَانَ تَحْتَ شَجَرَةٍ، فَأَخَذَ غُصْنًا مِنْهَا، فَنَفَضَهُ فَتَسَاقَطَ وَرَقُهُ، فَقَالَ: أَلَا تَسْأَلُونِي عَمَّا صَنَعْتُ؟ فَقُلْنَا: أَخْبِرْنَا، فَقَالَ: كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ظِلِّ شَجَرَةٍ فَأَخَذَ غُصْنًا مِنْهَا فَنَفَضَهُ فَتَسَاقَطَ وَرَقُهُ، فَقَالَ: «أَلَا تَسْأَلُونِي عَمَّا صَنَعْتُ؟» فَقُلْنَا: أَخْبِرْنَا يَا رَسُولَ اللهِ، فَقَالَ: «إِنَّ الْعَبْدَ الْمُسْلِمَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ تَحَاتَّتْ عَنْهُ خَطَايَاهُ كَمَا تَحَاتَّ وَرَقُ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ». رواه احمد في مسنده رقم الحديث ۲۳۷۱۶، والهيثمي في المجمع ۱/۲۹۷، وقال الهيثمي رواه الطبراني في الكبير والصغير والبزار، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۳۶ رقم الحديث ۱۳۲.

(۲) صحيح مسلم رقم ۷ (۲۲۸)، مشكوة المصابيح كتاب الطهارة الفصل الاول رقم الحديث ۲۸۶ (۶).

(۳) ﴿وَذٰلِكَ الدَّهْرَ كُلَّهُ﴾ أي التكفير بسبب الصلاة مستمرٌ في جميع الأزمان لا يختص بزمان دون زمان. شرح محمد فؤاد عبد الباقي على صحيح مسلم.

۲. نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي:

مَنْ أَتَمَّ الْوُضُوْءَ كَمَا أَمَرَهُ اللهُ تَعَالَى فَالصَّلَوَاتُ الْمَكْتُوبَاتُ كَفَّارَاتٌ لِمَا بَيْنَهُنَّ. (۱)

چا چې اَودس په داسې طریقې سره پوره اوکړو په کومه طریقه چې الله ﷻ ددې اَمر کړی دی نو دا فرض مونځونه د هغې ګناهونو د پاره بخونکي (او ختموونکي) ګرځي کوم چې ددې (پنځو مونځونو وختونو په) مینځ کې شوي وي.

۳. حضرت ابو ایوب ﵁ به فرمایل: إِنَّ كُلَّ صَلَاةٍ تَحُطُّ مَا بَيْنَ يَدَيْهَا مِنْ خَطِيئَةٍ. (۲)

بیشکه هر مونځ مخکیني ګناهونه ختموي.

٤. نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي:

إِنَّ الصَّلَوَاتِ تُذْهِبُ الذُّنُوبَ كَمَا يُذْهِبُ الْمَاءُ الدَّرَنَ. (۳)

بیشکه مونځونه ګناهونه داسې ختموي لکه څرنګې چې اُوبه خېرې ختموي.

۵. د حضرت عثمان ﵁ د غلام "حارث" نه روایت دی، چې یوه ورځ حضرت عثمان ﵁ ناست وُ، مونږ هم ورسره ناست وو، په دې کې مؤذن (آذان کوونکې) راغی، حضرت عثمان ﵁ د اُوبو یو لوخې رااُوغوښت، اَودس یې اوکړو، او بیا یې وفرمایل:

---

(۱) صحیح مسلم - بَابُ فَضْلِ الْوُضُوءِ وَالصَّلَاةِ عَقِبَهُ رقم الحدیث ۱۱ (۲۳۱).

(۲) إِسْنَادُهُ حَسَنٌ. رواه احمد في مسنده رقم الحدیث ۲۳۵۰۳، والهیثمي في مجمع الزوائد بَابُ فَضْلِ الصَّلَاةِ وَحَقْنِهَا لِلدَّمِ ۲۹۸/۱ رقم الحدیث ۱۶۵۳، والسیوطي في الدرالمنثور ۳۵۳/۳، وابونعیم في حلیة الاولیاء ۱۹۰/۵. المتجرالرابح في ثواب العمل الصالح ص ۴۹ رقم الحدیث ۱۵۵.

وفي روایة: عَنْ سَلْمَانَ الْفَارِسِيِّ ﵁ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اَلْمُسْلِمُ يُصَلِّيْ وَخَطَايَاهُ مَرْفُوعَةٌ عَلَى رَأْسِهِ، كُلَّمَا سَجَدَ تَحَاتَّتْ عَنْهُ. فَيَفْرُغُ مِنْ صَلَاتِهِ وَقَدْ تَحَاتَّتْ عَنْهُ خَطَايَاهُ». رواه الهیثمي في مجمع الزوائد ۳۰۰/۱ رقم الحدیث ۱۷۶۸، والسیوطي في الدر المنثور ۳۵۵/۳، وَرَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْكَبِيرِ وَالصَّغِيرِ وَالْبَزَّارُ. المتجرالرابح في ثواب العمل الصالح ص ۴۷ رقم الحدیث ۱۴۳.

(۳) رواه احمد في مسنده رقم الحدیث ۵۱۸ مُسْنَدُ أَهْلِ الْبَيْتِ رِضْوَانُ اللهِ عَلَيْهِمْ أَجْمَعِينَ.

رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ وُضُوْئِي هٰذَا .

ما رسول الله صلى الله عليه وسلم ليدلې وُ چې دا ماڅنګه اَودس اوکړو همدغه شان اَودس هغوی هم اوکړو ، بيا يې وفرمايل :

مَنْ تَوَضَّأَ وُضُوْئِي ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى صَلَاةَ الظُّهْرِ غُفِرَ لَهُ مَا كَانَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ الصُّبْحِ . ثُمَّ صَلَّى الْعَصْرَ غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهَا وَبَيْنَ صَلَاةِ الظُّهْرِ . ثُمَّ صَلَّى الْمَغْرِبَ غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهَا وَبَيْنَ صَلَاةِ الْعَصْرِ . ثُمَّ صَلَّى الْعِشَاءَ غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهَا وَبَيْنَ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ . ثُمَّ لَعَلَّهُ أَنْ يَبِيْتَ يَتَمَرَّغُ لَيْلَتَهُ . ثُمَّ إِنْ قَامَ فَتَوَضَّأَ وَصَلَّى الصُّبْحَ غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهَا وَبَيْنَ صَلَاةِ الْعِشَاءِ .

څوک چې همدغه شان اَودس اوکړي ، بيا پاڅي د ماسپخين مونځ اوکړي نو د ماسپخين او سهَر په مينځ کې ګناهونه به ده ته معاف کړې شي ،

بيا چې کله د مازيګر مونځ اوکړي نو د ماسپخين او مازيګر په مينځ کې ګناهونه به ده ته معاف کړې شي ،

بيا چې کله د ماښام مونځ اوکړي نو د ماښام او مازيګر په مينځ کې ګناهونه به ده ته معاف کړې شي ،

بيا چې کله د ماسخوتن مونځ اوکړي نو د ماسخوتن او ماښام په مينځ کې ګناهونه ده ته معاف کړې شي ،

بيا چې د شپې اُوده شي او سهَر راپاڅي اَودس وکړي نو د سهر او ماسخوتن په مينځ کې ګناهونه ده ته معاف کړې شي :

وَهُنَّ الْحَسَنَاتُ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ . دا ټولې نيکيانې بَديانې (يعنی ګناهونه) ختموي .

په هغه ځای کې موجود خلقو حضرت عثمان ﷺ ته ووېل :

هٰذِهِ الْحَسَنَاتُ ، فَمَا الْبَاقِيَاتُ يَا عُثْمَانُ ؟

اې عثمانَ ! دا خو حسَنات ( نيکيانې ) دي هغه باقيات (يعنی باقي پاتې کيدونکي اَعمالِ صالِحه ) څه شی دی ؟

حضرت عثمان رضي الله عنه ورته وفرمايل: هغه " لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ ، وَسُبْحَانَ اللهِ ، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ ، وَاللهُ أَكْبَرُ ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ " دي. (۱)

**٦** . د مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

اَلصَّلَوَاتُ الْخَمْسُ ، وَالْجُمُعَةُ إِلَى الْجُمُعَةِ ، وَ رَمَضَانُ إِلَى رَمَضَانَ ، مُكَفِّرَاتٌ مَا بَيْنَهُنَّ إِذَا اجْتَنَبَ الْكَبَائِرَ . (۲)

چې کله يو انسان د کبيره ګناهونو نه ځان ساتي نو دا پنځه مونځونه د ټولو هغه صغيره ګناهونو د پاره کفاره (او ختمونکي) ګرځي کوم چې په دې مينځني وختونو کې شوي وي، همدارنګې د يوې جُمعې نه تر د بلې جُمعې پورې، او د يو رمضان نه تر د بل رمضان پورې دا هم د هغه صغيره ګناهونو د پاره کفاره ګرځي کوم چې دد ې په مينځ کې شوي وي.

**د حديث مطلب**: ددې حديث مطلب دادی چې که يو کس دا پنځه واړه مونځونه او د جُمعې مونځ په پابندۍ سره کوي، او د رمضان روژې نيسي نو کوم صغيره ګناهونه چې ددې پنځو مونځونو په دې مينځني وخت کې شوي وي نو دا به ددې مونځونو په کولو سره معاف کيږي، او کوم ګناهونه چې د يوې جُمعې نه تر د بلې جُمعې پورې په دې مينځني

---

(۱) عنِ الحَارِثَ مَوْلى عُثْمَانَ ، يَقُوْلُ : جَلَسَ عُثْمَانُ يَوْمًا ، وَجَلَسْنَا مَعَهُ فَجَاءَهُ الْمُؤَذِّنُ فَدَعَا بِمَاءٍ فِي إِنَاءٍ - أَظُنُّهُ سَيَكُوْنُ فِيْهِ مُدٌّ - فَتَوَضَّأَ ثُمَّ قَالَ : رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ وُضُوْئِيْ هٰذَا ، ثُمَّ قَالَ: « وَمَنْ تَوَضَّأَ وُضُوْئِيْ ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى صَلَاةَ الظُّهْرِ غُفِرَ لَهُ مَا كَانَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ الصُّبْحِ ، ثُمَّ صَلَّى الْعَصْرَ غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهَا وَبَيْنَ صَلَاةِ الظُّهْرِ ، ثُمَّ صَلَّى الْمَغْرِبَ غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهَا وَبَيْنَ صَلَاةِ الْعَصْرِ ، ثُمَّ صَلَّى الْعِشَاءَ غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهَا وَبَيْنَ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ ، ثُمَّ لَعَلَّهُ أَنْ يَبِيْتَ يَتَمَرَّغُ لَيْلَتَهُ ، ثُمَّ إِنْ قَامَ فَتَوَضَّأَ وَصَلَّى الصُّبْحَ غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهَا وَبَيْنَ صَلَاةِ الْعِشَاءِ ، وَهُنَّ الْحَسَنَاتُ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ » قَالُوْا : هٰذِهِ الْحَسَنَاتُ ، فَمَا الْبَاقِيَاتُ يَا عُثْمَانُ ؟ قَالَ : هُنَّ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ ، وَسُبْحَانَ اللهِ ، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ ، وَاللهُ أَكْبَرُ ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ . رواه احمد في مسنده ۱ /۱۳۷ رقم الحديث ۵۱۳ مُسْنَدُ أَهْلِ الْبَيْتِ رِضْوَانُ اللهِ عَلَيْهِمْ أَجْمَعِيْنَ ، و رواه المنذري في الترغيب ۱ / ۲۳۹ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۴۹ رقم الحديث ۱۵۴ .

(۲) صحيح مسلم بَابُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ وَالْجُمُعَةِ إِلَى الْجُمُعَةِ ، وَرَمَضَانَ إِلَى رَمَضَانَ مُكَفِّرَاتٌ لِمَا بَيْنَهُنَّ مَا اجْتُنِبَتِ الْكَبَائِرُ رقم الحديث ۱٦ ( ۲۳۳ ) .

وخت کې شوي وي نو دا به د جُمعې د مانځه په برکت سره معاف کيږي ، او کوم ګناهونه چې د يو رمضان نه تر د بل رمضان پورې په دې مينځني وخت کې شوي وي نو دا به د رمضانُ المبارک د روژو په برکت سره معاف کيږي .

البته د کبيره ګناهونو سپيره توب دومره تيز دی چې ددې د معاف کولو د پاره د توبې ضرورت دی ، خو که الله ﷻ يې چاته اوغواړي نو بغير د توبې نه يې هم ورته معاف کولې شي ، ځکه د هغه نه څوک تپوس کوونکې نشته .

## يو اعتراض او د هغې جواب :

دلته ذِهن ته دا اعتراض راځي چې کله د پنځو مونځونو په وجه د انسان ګناهونه معاف شي نو بيا د جُمعې په مونځ او روژې سره کوم ګناهونه معاف کولې شي ؟

ددې اعتراض په جواب کې ملا علي قاري رحمه الله په مرقاة شرح مشکوة کې ليکلي دي چې په دې درې واړو (يعنی پنځو مونځونو ، د جُمعې مونځ او روژه ) کې د صغيره ګناهونو ختمولو صلاحيت شته ، اوس که ددې کس نه صغيره ګناهونه شوي وي نو هغه به ورباندې ختم کړې شي ، او که صغيره ګناهونه يې پاتې نشي نو بيا به ده ته ددې په عِوض کې نيکۍ ليکلې شي ، او دده درجې به پرې اُوچتولې شي . (۱)

شيخ عبدالحق رحمه الله فرمايلي چې په دې درې واړو کې د صغيره ګناهونو ختمولو صلاحيت شته نو که په پنځو مونځونو کې د څه کوتاهۍ او نقصان په وجه د ګناهونو ختمولو صلاحيت پاتې نشي نو بيا به د جُمعې په مانځه سره دده ګناهونه ختمولې شي ، او که چيرته د جُمعې په مانځه کې د څه کمي په وجه په دې کې د ګناهونو ختمولو صلاحيت پاتې نشي نو بيا به د روژې نيولو په وجه دده ګناهونه ختمولې شي .

---

(۱) فَإِنْ قُلْتَ : إِذَا وُجِدَ بَعْضُ الْمُكَفِّرَاتِ فَمَا يُكَفِّرُ غَيْرُهُ ؟ قُلْتُ : أَجَابَ الْعُلَمَاءُ عَنْ ذٰلِكَ بِأَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ صَالِحٌ لِلتَّكْفِيرِ ، فَإِنْ وَجَدَ صَغِيرَةً أَوْ صَغَائِرَ كَفَّرَهَا ، وَإِلَّا كُتِبَتْ بِهِ حَسَنَاتٌ وَرُفِعَتْ بِهِ لَهُ دَرَجَاتٌ . مرقاة المفاتيح شرح مشکاة المصابيح كِتَابُ الصَّلَاةِ ۲/ ۵۰۷ رقم الحديث ۵۶۴ .

او که دا درې واړه په صحيح طريقې سره اداء نه کړې شي نو بيا به دا عبادات په شريکه په ښه شان او کاملې طريقې سره دده صغيره ګناهونه ختموي.

ددې مثال داسې دی لکه په يو کور کې چې ډيرې ډيوې وي نو چې څومره ډيوې زياتې وي نو همدومره به په کور کې رڼا هم په ښه او کاملې طريقې سره وي. (۱)

# د اُودس او مونځ په وجه د ګناهونو نه مکمل صفا کيدل

۱ . اُوړد حديث دی، نبي کريم صلی الله عليه وسلم حضرت عَمرو بن عَبَسه رضي الله عنه ته اوفرمايل:

وَ إِذَا تَوَضَّأْتَ فَاغْسِلْ يَدَيْكَ ، فَإِنَّكَ إِذَا غَسَلْتَ يَدَيْكَ خَرَجَتْ خَطَايَاكَ مِنْ ذِرَاعَيْكَ، ثُمَّ إِذَا مَسَحْتَ بِرَأْسِكَ خَرَجَتْ خَطَايَاكَ مِنْ أَطْرَافِ شَعْرِكَ . ثُمَّ إِذَا غَسَلْتَ رِجْلَيْكَ خَرَجَتْ خَطَايَاكَ مِنْ رِجْلَيْكَ .

کله چې ته اُودس کوې نو دواړه لاسونه اُووينځه ، ځکه چې کله ته دواړه لاسونه اُووينځې نو ستا ګناهونه به ستا د دواړو لاسونو نه رااُووځي، بيا چې کله ته د سَر مسح اوکړې نو ستا ګناهونه به ستا د ويښتانو د سَرونو نه اُووځي، بيا چې کله ته دواړه خپې اُووينځې نو ستا ګناهونه به ستا د خپو نه اُووځي.

. پس بيا که ته په خپل مجلس کې ناست وې نو تا ته به ددې اُودس ثواب ملاويږي، او که ته پاڅې د خپل رَب ذِکر او حمَد بيان کړې او دوه رکعته داسې مونځ اوکړې چې د زړه نه الله ﷻ طرف ته متوجه يې: كُنْتَ مِنْ خَطَايَاكَ كَيَوْمِ وَلَدَتْكَ أُمُّكَ . (۲)

---

(۱) مظاهر حق شرح مشکوة ج۲ في تشريح الحديث المذکور.

(۲) .... وَ إِذَا تَوَضَّأْتَ فَاغْسِلْ يَدَيْكَ ، فَإِنَّكَ إِذَا غَسَلْتَ يَدَيْكَ خَرَجَتْ خَطَايَاكَ مِنْ ذِرَاعَيْكَ، ثُمَّ إِذَا مَسَحْتَ بِرَأْسِكَ خَرَجَتْ خَطَايَاكَ مِنْ أَطْرَافِ شَعْرِكَ . ثُمَّ إِذَا غَسَلْتَ رِجْلَيْكَ خَرَجَتْ خَطَايَاكَ مِنْ رِجْلَيْكَ . فَإِنْ ثَبَتَّ فِي مَجْلِسِكَ كَانَ لَكَ حَظًّا مِنْ وُضُوئِكَ . وَ إِنْ قُمْتَ فَذَكَرْتَ رَبَّكَ، وَحَمِدْتَهُ، وَ رَكَعْتَهُ رَكْعَتَيْنِ مُقْبِلاً عَلَيْهِمَا بِقَلْبِكَ كُنْتَ مِنْ خَطَايَاكَ كَيَوْمِ وَلَدَتْكَ أُمُّكَ » . المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ الطَّهَارَةِ وَأَمَّا حَدِيثُ عَائِشَةَ رقم الحديث ۵۸۴ ، صحيح ابن خزيمة رقم الحديث ۲۶۰ ، کنز العمال رقم ۳۴۰۶ .

ته به د خپلو ګناهونو نه داسې صفا شي لکه په کومه ورځ چې ته مور زېږولې وې.(۱)

۲. د ابوداؤد شريف حديث دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ وُضُوءَهُ، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ لَا يَسْهُو فِيهِمَا، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ.(۲)

څوک چې اَودس اوکړي او په ښه طريقې سره اَودس اوکړي، بيا داسې دوه رکعته مونځ (په توَجّه سره) اوکړي چې په دې کې (غافله نشي او په دې کې) سَهوه اونکړي نو الله تعالیٰ په دې سره د ده مخکيني ټول ګناهونه معاف کوي.

## ۵. د پنځو مونځونو په حفاظت سره د مغفرت وَعده

د ابوداؤد شريف حديث دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

خَمْسُ صَلَوَاتٍ اِفْتَرَضَهُنَّ اللهُ تَعَالَى، مَنْ أَحْسَنَ وُضُوءَهُنَّ وَصَلَّاهُنَّ لِوَقْتِهِنَّ وَأَتَمَّ رُكُوعَهُنَّ وَخُشُوعَهُنَّ كَانَ لَهُ عَلَى اللهِ عَهْدٌ أَنْ يَغْفِرَ لَهُ، وَمَنْ لَمْ يَفْعَلْ فَلَيْسَ لَهُ عَلَى اللهِ عَهْدٌ، إِنْ شَاءَ غَفَرَ لَهُ وَإِنْ شَاءَ عَذَّبَهُ.(۳)

---

(۱) دا پاس حديث په مسلم شريف کې په دې الفاظو ذکر دی: قَالَ (عَمْرُو بْنُ عَبَسَةَ السُّلَمِيُّ): فَقُلْتُ: يَا نَبِيَّ اللهِ فَالْوُضُوءَ حَدِّثْنِي عَنْهُ. قَالَ: «مَا مِنْكُمْ رَجُلٌ يُقَرِّبُ وَضُوءَهُ فَيَتَمَضْمَضُ، وَيَسْتَنْشِقُ فَيَنْتَثِرُ إِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا وَجْهِهِ، وَفِيهِ، وَخَيَاشِيمِهِ. ثُمَّ إِذَا غَسَلَ وَجْهَهُ كَمَا أَمَرَهُ اللهُ إِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا وَجْهِهِ مِنْ أَطْرَافِ لِحْيَتِهِ مَعَ الْمَاءِ. ثُمَّ يَغْسِلُ يَدَيْهِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ إِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا يَدَيْهِ مِنْ أَنَامِلِهِ مَعَ الْمَاءِ. ثُمَّ يَمْسَحُ رَأْسَهُ إِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا رَأْسِهِ مِنْ أَطْرَافِ شَعْرِهِ مَعَ الْمَاءِ. ثُمَّ يَغْسِلُ قَدَمَيْهِ إِلَى الْكَعْبَيْنِ إِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا رِجْلَيْهِ مِنْ أَنَامِلِهِ مَعَ الْمَاءِ. فَإِنْ هُوَ قَامَ فَصَلَّى، فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ وَمَجَّدَهُ بِالَّذِي هُوَ لَهُ أَهْلٌ، وَفَرَّغَ قَلْبَهُ لِلّٰهِ، إِلَّا انْصَرَفَ مِنْ خَطِيئَتِهِ كَهَيْئَتِهِ يَوْمَ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ». صحيح مسلم كِتَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِينَ بَابُ إِسْلَامِ عَمْرِو بْنِ عَبَسَةَ رقم ۲۹۴ (۸۳۲)

(۲) سنن ابي داؤد بَابُ كَرَاهِيَةِ الْوَسْوَسَةِ وَحَدِيثِ النَّفْسِ فِي الصَّلَاةِ رقم الحديث ۹۰۵، مسند احمد رقم الحديث ۱۷۰۵۴، المعجم الكبير للطبراني رقم ۵۲۴۲، المستدرک علی الصحيحين للحاکم رقم ۳۵۱، شرح السنّة للبغوي بَابُ فَضْلِ مَنْ تَطَهَّرَ فَسَلَّ عَقِيبَهُ رقم الحديث ۱۰۱۳.

(۳) سنن ابي داؤد كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابٌ فِي الْمُحَافَظَةِ عَلَى وَقْتِ الصَّلَوَاتِ رقم الحديث ۴۲۵، وصححه الالباني في صحيح ابي داؤد ۱۲۵/۱، مشكاة المصابيح كتاب الصلاة الفصل الثاني رقم الحديث ۵۷۰ (۷)، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۳۱۶۶ و رقم ۶۵۰۰، شرح السنّة للبغوي رقم ۹۷۸، سنن ابن ماجه رقم ۲۴۰۱، و رواه احمد في مسنده ۳۱۷/۵، ۳۲۲.

پنځه مونځونه الله تعالی فرض کړي دي، څوک چې په ښه طريقې سره ددې د پاره اُودس اوکړي، دا په خپل وخت اداء کړي، ددې رکوع په پوره طريقې سره اداء کړي، او مونځ په خُشوع (او د زړه په حضور) سره اداء کړي، نو دداسې کس د پاره دالله ﷻ کلکه وعده ده چې ده ته به بخَنه کوي (دده ټول صغيره ګناهونه به معاف کوي)، او چا چې داسې او نکړل (يعنی په مذکوره طريقې سره يې مونځ اونکړو، يا يې بالکل مونځ اونکړو) نو دداسې کس د پاره د الله ﷻ هيڅ وعده نشته، که د الله ﷻ خوښه شي نو بخَنه به ورته اوکړي، او که خوښه يې شي نو عذاب به ورکړي.

**فائده**: په دې حديث کې په صحيح طريقې سره د اُودس او مونځ کولو په وجه د ګناهونو د مغفرت او بخَنې وعده شوی، او د حديث د آخِري جُملې نه دا هم معلومه شوه چې څوک په مونځ کې کوتاهي کوي نو داسې کس په سخته خطره کې دی، دداسې کس د مغفرت او بخَنې هيڅ ګارَنټي نشته، که الله ﷻ په خپل رحمت سره اوغواړي نو بخَنه به ورته اوکړي، او يا به ورته ددې سخته سزا ورکړي.

## ٦. د مونځ په کولو سره د جنت مستحق کيدل

۱. الله تعالی فرمايي:

﴿ وَالَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ. اُولٰٓئِكَ فِيْ جَنّٰتٍ مُّكْرَمُوْنَ ﴾. (۱)

ترجمه: او هغه خلق چې د خپلو مونځونو حفاظت کوي، همدا خلق به په جنتونو کې وي، عزت مند به وي.

۲. په ابوداؤ شريف کې دا حديثِ قُدسي ذکر دی، الله تعالی نبي ﷺ ته فرمايي:

اِنِّيْ فَرَضْتُ عَلٰى اُمَّتِكَ خَمْسَ صَلَوَاتٍ وَعَهِدْتُ عِنْدِيْ عَهْدًا اَنَّهُ مَنْ جَاءَ يُحَافِظُ عَلَيْهِنَّ لِوَقْتِهِنَّ اَدْخَلْتُهُ الْجَنَّةَ، وَمَنْ لَمْ يُحَافِظْ عَلَيْهِنَّ فَلَا عَهْدَ لَهُ عِنْدِيْ. (۲)

---

(۱) سورة المعارج آية ۳۴، ۳۵.

(۲) سنن ابي داؤد كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابٌ فِي الْمُحَافَظَةِ عَلَى وَقْتِ الصَّلَوَاتِ رقم الحديث ۴۳۰، سنن ابن ماجه باب ماجاء في فرض الصلوات الخمس والمحافظة عليها رقم ۱۴۰۳، كنزالعمال كتاب الصلاة الباب الاول في فضل الصلوة و وجوبها رقم ۱۸۸۷۲.

اې پيغمبره ! ما ستا په اُمت باندې پنځه مونځونه فرض کړي دي ، او ما په خپله دذې خبرې ذِمه داري هم اخيستې ده چې څوک ماته په داسې حالت کې راشي چې ده ددې پنځو مونځونو په خپل وخت کې د اَداء کولو حفاظت او اِهتمام کړې وي نو زه به دا کس جنت ته داخل کړم ، او چا چې ددې مونځونو حفاظت نه وي کړی نو دده په ما هيڅ ذِمه داري نشته ( دا زما خوښه ده چې معاف کوم يې ، يا سزا ورکوم ). (۱)

۳ . د مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَتَوَضَّأُ فَيُحْسِنُ وُضُوءَهُ ، ثُمَّ يَقُومُ فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ، مُقْبِلٌ عَلَيْهِمَا بِقَلْبِهِ وَوَجْهِهِ إِلَّا وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ. (۲)

---

(۱) وفي رواية : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : خَمْسُ صَلَوَاتٍ كَتَبَهُنَّ اللهُ عَلَى الْعِبَادِ ، فَمَنْ جَاءَ بِهِنَّ لَمْ يُضَيِّعْ مِنْهُنَّ شَيْئًا اِسْتِخْفَافًا بِحَقِّهِنَّ ، كَانَ لَهُ عِنْدَ اللهِ عَهْدٌ أَنْ يُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ ، وَمَنْ لَمْ يَأْتِ بِهِنَّ فَلَيْسَ لَهُ عِنْدَ اللهِ عَهْدٌ ، إِنْ شَاءَ عَذَّبَهُ ، وَإِنْ شَاءَ أَدْخَلَهُ الْجَنَّةَ » . رواه ابوداؤد بَابُ فِيمَنْ لَمْ يُوتِرْ رقم الحديث ۱۴۲۰ ، و رواه النسائي وابن حبان ، و مالک في الموطا ۱۳۲ ، المعجم الرابع ص ۴۶ رقم الحديث ۱۳۹ .

(۲) صحيح مسلم كِتَابُ الطَّهَارَةِ بَابُ الذِّكْرِ الْمُسْتَحَبِّ عَقِبَ الْوُضُوءِ رقم الحديث ۱۷ ( ۲۳۴ ) ، سنن ابي داؤد باب كراهية الوسوسة و حديث النفس في الصلاة رقم الحديث ۹۰۶ ، مشكاة المصابيح كتاب الطهارة الفصل الاول رقم ۲۸۸ ( ۸ ) ، شرح السنّة للبغوي باب فضل من تطهّر فصلى عقيبه رقم الحديث ۱۰۱۴ .

وفي رواية : عَنْ حَنْظَلَةَ الْكَاتِبِ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، يَقُولُ : مَنْ حَافَظَ عَلَى الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ : رُكُوعِهِنَّ ، وَسُجُودِهِنَّ ، وَوُضُوئِهِنَّ ، وَمَوَاقِيتِهِنَّ ، وَعَلِمَ أَنَّهُنَّ حَقٌّ مِنْ عِنْدِ اللهِ دَخَلَ الْجَنَّةَ . _ أَوْ قَالَ _ : « وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ » . إسناده جيّد و رواته رواة الصحيح ، رواه احمد في مسنده رقم ۱۸۳۴۵ حَدِيثُ حَنْظَلَةَ الْكَاتِبِ الْأُسَيْدِيِّ ، صحيح الترغيب والترهيب ج۱ ص ۲۷۶ رقم الحديث ۳۸۱ ( ۳۲ ) ، و رواه الهيثمي في المجمع ۱/ ۲۸۸ ، ۲۸۹ ، كنزالعمال رقم ۱۹۰۵۱ .

وفي رواية : عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو ﷺ قَالَ : صَعِدَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمِنْبَرَ ، فَقَالَ : « لَا أُقْسِمُ ، لَا أُقْسِمُ ، لَا أُقْسِمُ » . ثُمَّ نَزَلَ . فَقَالَ : « أَبْشِرُوا أَبْشِرُوا ، إِنَّهُ مَنْ صَلَّى الصَّلَوَاتِ الْخَمْسَ ، وَاجْتَنَبَ الْكَبَائِرَ دَخَلَ مِنْ أَيِّ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ شَاءَ » . المعجم الكبير للطبراني ۱۳ /۸ رقم الحديث ۳ ، كنزالعمال رقم الحديث ۷۸۱۷ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۱۳۴۰ ( ۳ ) .

کوم مسلمان چې په ښه طريقې سره اودس اوکړي، بيا پاڅي او دوه رکعته داسې مونځ اوکړي چې د زړه نه په پوره توجّه سره الله ﷻ طرف ته متوجّه وي نو دداسې مسلمان د پاره جنت واجبيږي.

٤. د ترمذي شريف حديث دی، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم د حجّة الوداع په موقع په خطبه کې وفرمايل:

اِتَّقُوا اللهَ رَبَّكُمْ، وَصَلُّوا خَمْسَكُمْ، وَصُومُوا شَهْرَكُمْ، وَأَدُّوا زَكَاةَ أَمْوَالِكُمْ، وَأَطِيعُوا ذَا أَمْرِكُمْ تَدْخُلُوا جَنَّةَ رَبِّكُمْ. (۱)

تاسو د الله ﷻ نه اُوويريږئ، خپل پنځه وخته مونځ کوئ، د رمضان روژې نيسئ، د خپلو مالونو زکوة ورکوئ، د خپل امير اطاعت کوئ نو تاسو به د خپل رَب جنت ته داخل شئ.

۵. بيا خاصکر د سهر او مازيگر په مانځه کولو سره خو د جنت خوشخبري په ډيرو احاديثو کې راغلې ده، د بخاري شريف حديث دی، رسول الله ﷺ فرمايي:

مَنْ صَلَّى الْبَرْدَيْنِ دَخَلَ الْجَنَّةَ. (۲)

---

(۱) سنن الترمذي بَابُ مَا ذُكِرَ فِي فَضْلِ الصَّلَاةِ باب ۴۳۴ رقم الحديث ٦١٦ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. شرح السنّة للبغوي ج۱ ص۲۳ رقم الحديث ۱۰.

وفي رواية: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَأَبِي سَعِيدٍ رضي الله عنهما يَقُولَانِ: خَطَبَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا، فَقَالَ: « وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ » ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، ثُمَّ أَكَبَّ. فَأَكَبَّ كُلُّ رَجُلٍ مِنَّا يَبْكِي لَا نَدْرِي عَلَى مَاذَا حَلَفَ؟ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ فِي وَجْهِهِ الْبُشْرَى ـ فَكَانَتْ أَحَبَّ إِلَيْنَا مِنْ حُمْرِ النَّعَمِ ـ ثُمَّ قَالَ: " مَا مِنْ عَبْدٍ يُصَلِّي الصَّلَوَاتِ الْخَمْسَ، وَيَصُومُ رَمَضَانَ، وَيُخْرِجُ الزَّكَاةَ، وَيَجْتَنِبُ الْكَبَائِرَ السَّبْعَ إِلَّا فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ. فَقِيلَ لَهُ: أُدْخُلْ بِسَلَامٍ. رواه النسائي بَابُ وُجُوبِ الزَّكَاةِ رقم الحديث ۲۴۳۸ وابن ماجه، وابن خزيمة وابن حبان، والمنذري في الترغيب ۱/۵۱۵، والسيوطي في الدر المنثور ۲/۱۴۵، ۵/۳۴۳، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۴٦ رقم الحديث ۱۴۱.

(۲) صحيح البخاري كِتَابُ مَوَاقِيتِ الصَّلَاةِ بَابُ فَضْلِ صَلَاةِ الْفَجْرِ رقم الحديث ۵۷۴، صحيح مسلم باب فضل صلاتي الصبح والعصر والمحافظة عليها رقم الحديث ۲۱۵ (٦۳۵)، شعب الايمان رقم ۲۵۸۰، مشكاة المصابيح باب فضائل الصلاة الفصل الاول رقم ٦۲۵ (۲).

څوک چې د يَخ وخت دواړه مونځونه (يعنی د سهَر او مازيګر مونځ) کوي هغه به جنت ته داخليږي.

**فايده**: ملا علي قاري رحمه الله ليکلي دي چې ددې نه د سهَر او مازيګر مونځونه مراد دي، او دا دواړه مونځونه يې په خاص طور سره ځکه ذِکر کړل چې د سهَر مونځ د خوب د غلبې په وجه او د مازيګر مونځ د کاروبار د مَشغولتيا په وجه ګران وي، نو چې څوک ددې دوه مونځونو اِهتمام کوي هغه به يقينًا د نورو مونځونو هم اِهتمام کوي. (۱)

٦. د بخاري او مسلم شريف حديث دی، حضرت ابوهريرة ﷺ فرمايي چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته يو اَعرابي (بانديچي) راغی، او وې ويل:

دُلَّنِيْ عَلٰى عَمَلٍ إِذَا عَمِلْتُهُ دَخَلْتُ الْجَنَّةَ.

اې د الله رسوله! ماته داسې يو عمل اُوښايه چې زه د هغې په کولو سره جنت ته داخل شم.

نبي ﷺ ورته وفرمايل: د الله تعالی عبادت کوه، د هغه سره هيڅوک مه شريکوه، فرض مونځونه په پابندۍ سره کوه، فرضي زکوة ورکوه، او د رمضان روژې نيسه.

بانديچي ووېل: وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ لَا أَزِيْدُ عَلٰى هٰذَا.

قسَم په هغه ذات چې د هغه په قبضه کې زما ساه ده زه به په دې باندې هيڅ زيادت نه کوم

هر کله چې هغه بانديچي واپس روان شو نو نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

---

(۱) لِأَنَّ الصُّبْحَ لَذِيْذُ الْكَرٰى، أَيِ: النَّوْمِ، وَالْعَصْرَ وَقْتُ الْإِشْتِغَالِ بِالتِّجَارَةِ فَمَنْ حَافَظَ عَلَيْهِمَا مَعَ الْمَشَاغِلِ كَانَ الظَّاهِرُ مِنْ حَالِهِ الْمُحَافَظَةَ عَلٰى غَيْرِهِمَا. وَالصَّلَاةُ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ. وَأَيْضًا هٰذَانِ الْوَقْتَانِ مَشْهُوْدَانِ يَشْهَدُهُمَا مَلَائِكَةُ اللَّيْلِ وَمَلَائِكَةُ النَّهَارِ وَيَرْفَعُوْنَ فِيْهِمَا أَعْمَالَ الْعِبَادِ. فَبِالْحَرِيِّ أَنْ يَقَعَ مُكَفِّرًا فَيُغْفَرَ لَهُ وَيَدْخُلَ الْجَنَّةَ. مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح ۲/۵۴۰ في تشريح الحديث رقم ۶۲۴.

(مَنْ صَلَّى الْبَرْدَيْنِ) أي من صلى صلاة الفجر والعصر. لأنهما في بردي النهار أي طرفيه حين يطيب الهواء وتذهب سورة الحر. وقال في الفائق هما الغداة والعشي لطيب الهواء وبرده فيهما. شرح محمد فؤاد عبد الباقي على صحيح مسلم في تشريح الحديث رقم ۲۱۵ (۶۳۵).

مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ ، فَلْيَنْظُرْ إِلَى هٰذَا . (۱)

که چیرته څوک دا تمنّا لري چې هغه یو جنّتي کس ته اُوګوري نو هغه دې دې بانډېچې ته اوګوري . ( ځکه دا جنّتي دی ) .

۷ . حضرت ابوهريرة ﷺ فرمايي چې يو ځل رسولُ الله صلى الله عليه وسلم صحابه کرامو ته وفرمايل :

أُكْفُلُوا لِي بِسِتٍّ خِصَالٍ وَأَكْفُلُ لَكُمُ الْجَنَّةَ .

تاسو ماته د شپږو شیانو ضَمانت راکړئ ( چې ددې حفاظت به کوئ ) زه به تاسو ته د جنت ضَمانت درکړم .

حضرت ابوهريرة ﷺ فرمايي چې ماورته وفرمايل :

مَا هِيَ يَا رَسُوْلَ اللهِ ؟ اې د الله رسوله ! هغه شپږ شيان کوم دي ؟

نبي عليه الصلاة والسلام وفرمايل :

اَلصَّلَاةُ ، وَالزَّكَاةُ ، وَالْأَمَانَةُ ، وَالْفَرْجُ ، وَالْبَطْنُ ، وَاللِّسَانُ . (۲)

---

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : أَنَّ أَعْرَابِيًّا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فَقَالَ : دُلَّنِي عَلَى عَمَلٍ إِذَا عَمِلْتُهُ دَخَلْتُ الْجَنَّةَ ، قَالَ : « تَعْبُدُ اللهَ لَا تُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا ، وَتُقِيمُ الصَّلَاةَ الْمَكْتُوبَةَ ، وَتُؤَدِّي الزَّكَاةَ الْمَفْرُوضَةَ ، وَتَصُومُ رَمَضَانَ » قَالَ : وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا أَزِيدُ عَلَى هٰذَا . فَلَمَّا وَلَّى قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ ، فَلْيَنْظُرْ إِلَى هٰذَا » صحيح البخاري كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ وُجُوبِ الزَّكَاةِ رقم الحديث ۱۳۹۷ ، صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيمَانِ بَابُ بَيَانِ الْإِيمَانِ الَّذِي يُدْخَلُ بِهِ الْجَنَّةُ .. رقم الحديث ۱۵ ( ۱۲ ) .

( أعرابي ) قيل هو سعد بن الأخرم . تعليق مصطفى البغا على البخاري .

(۲) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ يُحَدِّثُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، أَنَّهُ قَالَ لِمَنْ حَوْلَهُ مِنْ أُمَّتِهِ : « اُكْفُلُوا لِي بِسِتٍّ خِصَالٍ وَأَكْفُلُ لَكُمُ الْجَنَّةَ » . قُلْتُ : مَا هِيَ يَا رَسُوْلَ اللهِ ؟ قَالَ : « اَلصَّلَاةُ ، وَالزَّكَاةُ ، وَالْأَمَانَةُ ، وَالْفَرْجُ ، وَالْبَطْنُ ، وَاللِّسَانُ » . اسناده حسن . رواه الطبراني في المعجم الاوسط رقم الحديث ۴۹۲۵ ، و رقم ۵۸۹۹ ، ومجمع الزوائد و منبع الفوائد كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ فَرْضِ الصَّلَاةِ رقم الحديث ۱۶۱۷ ، و رواه المنذري في الترغيب ۲/۳ ، وابن كثير في التفسير ۴۲/۶ ، والسيوطي في الدر ۱ / ۲۳۶ ، ۲۹۵ ، والهندي في الكنز رقم ۲۳۵۳۲ ، و رقم ۲۳۵۳۰ .

( هغه شپږ شيان دادي : ) د مونځ ، زکوة ، آمانت ، شرمګاه ، خيټې او ژبې حفاظت کول .

۸ . حضرت ابو هريرة ﷺ فرمايي چې د قضاعه قبيلې دوه کسانو په يو ځل د رسول الله صلی الله عليه وسلم په لاس باندې اِسلام راوړو ، په دې دواړو کې يو کس په جهاد کې شهيد شو ، دا دويم يو کال پس ( په خپل مرګ ) وفات شو .

حضرت طلحة بن عبيد الله ﷺ فرمايي چې ما دا روستي کس په خوب کې اُوليد چې د شهيد نه مخکې جنت ته داخل کړې شو ، نو زه په دې سره ډير حيران شوم ( چې د شهيد مرتبه خو ډيره اُوچته وي نو په کار ده چې جنت ته اول دا داخل شوې وی ) ، کله چې سهر شو نو ما په خپله يا يو بل کس رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ددې تذکره اوکړه ، نبي عليه السلام وفرمايل :

أَلَيْسَ قَدْ صَامَ بَعْدَهُ رَمَضَانَ ، وَصَلَّى سِتَّةَ آلَافِ رَكْعَةٍ ، أَوْ كَذَا وَكَذَا رَكْعَةً صَلَاةَ السَّنَةِ ؟ (۱)

( په دې کې د تعجب څه خبره ده ) آيا دې روستي کس د اول د شهادت نه پس د رمضان روژې نه وې نيولی ؟ آيا ده ( په دې کال کې ) شپږ زره رکعته مونځ زيات نه دې کړی ؟ آيا ده دومره دومره رکعته د کال د مانځه ندي کړي ؟

دا حديث په سنن ابن ماجه او نورو د احاديثو په کتابونو کې په تفصيل سره ذکر دی ، د هغې په آخِر کې دا هم ذکر دي چې رسولُ الله صلی الله عليه وسلم صحابه کرامو ته وفرمايل :

---

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : كَانَ رَجُلَانِ مِنْ بَلِيٍّ حَيٍّ مِنْ قُضَاعَةَ أَسْلَمَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . وَاسْتُشْهِدَ أَحَدُهُمَا . وَأُخِّرَ الْآخَرُ سَنَةً . قَالَ طَلْحَةُ بْنُ عُبَيْدِ اللهِ ﷺ : فَأُرِيتُ الْجَنَّةَ . فَرَأَيْتُ الْمُؤَخَّرَ مِنْهُمَا أُدْخِلَ قَبْلَ الشَّهِيدِ . فَتَعَجَّبْتُ لِذٰلِكَ . فَأَصْبَحْتُ . فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . أَوْ ذُكِرَ ذٰلِكَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « أَلَيْسَ قَدْ صَامَ بَعْدَهُ رَمَضَانَ ، وَصَلَّى سِتَّةَ آلَافِ رَكْعَةٍ . أَوْ كَذَا وَكَذَا رَكْعَةً صَلَاةَ السَّنَةِ ؟ » رواه احمد في مسنده مُسْنَدُ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ۱۲ / ۱۲٦ رقم الحديث ۸۳۹۹ ، والسيوطي في الدر المنثور ۱ / ۲۹۵ ، والهيثمي في المجمع ۱۰ / ۲۰۳ ، والمنذري في الترغيب ۲ / ۲۴۴ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۳۷۲ (۲۳) ، المعجم الرابع ص ۴۷ رقم الحديث ۱۲۵ .

فَلَمَا بَيْنَهُمَا أَبْعَدُ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ . (۱)

( چې کله دې دويم کس د اول د شهادت نه پس يو کال د رمضان روژې زياتې نيولي ، او په يو کال کې يې ډيرې سجدې کړي ) نو بيا خو د دوی دواړو په مينځ کې د زمکې او آسمان فرق دی .

**فائده** : تاسو واوريده چې دا دويم کس د ډيرو روژو او ډيرو مونځونو په وجه د شهيد نه مخکې جنت ته داخل کړې شو .

۹ . حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمايي چې يوه ورځ نبي کريم صلی الله عليه وسلم په صحابه کرامو تېر شو ، نو دوی ته يې وفرمايل :

هَلْ تَدْرُوْنَ مَا يَقُوْلُ رَبُّكُمْ عَزَّ وَجَلَّ ؟ آيا تاسو پوهيږئ چې ستاسو رَب څه فرمايي :

صحابه کرامو ورته وفرمايل :

اَللهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ . الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ بنه پوهيږي .

پيغمبر عليه السلام ( د اِهتمام د پاره ) درې ځلې دا پوښتنه اوکړه ، بيا يې وفرمايل چې الله تعالی فرمايي :

---

(۱) پوره حديث په ابن ماجه او نورو د احاديثو په کتابونو کې داسې ذکر دی : عَنْ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ ﷺ : أَنَّ رَجُلَيْنِ قَدِمَا عَلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ إِسْلَامُهُمَا جَمِيْعًا ، وَكَانَ أَحَدُهُمَا أَشَدَّ اِجْتِهَادًا مِنْ صَاحِبِهِ . فَغَزَا الْمُجْتَهِدُ مِنْهُمَا فَاسْتُشْهِدَ . ثُمَّ مَكَثَ الْآخَرُ بَعْدَهُ سَنَةً . ثُمَّ تُوُفِّيَ . قَالَ طَلْحَةُ ﷺ : فَرَأَيْتُ فِيْمَا يَرَى النَّائِمُ كَأَنِّيْ عِنْدَ بَابِ الْجَنَّةِ . إِذَا أَنَا بِهِمَا وَقَدْ خَرَجَ خَارِجٌ مِنَ الْجَنَّةِ . فَأَذِنَ لِلَّذِيْ تُوُفِّيَ الْآخِرَ مِنْهُمَا . ثُمَّ خَرَجَ فَأَذِنَ لِلَّذِيْ اسْتُشْهِدَ . ثُمَّ رَجَعَا إِلَيَّ فَقَالَا لِيْ : اِرْجِعْ فَإِنَّهُ لَمْ يَأْنِ لَكَ بَعْدُ . فَأَصْبَحَ طَلْحَةُ يُحَدِّثُ بِهِ النَّاسَ ، فَعَجِبُوْا لِذٰلِكَ . فَبَلَغَ ذٰلِكَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : « مِنْ أَيِّ ذٰلِكَ تَعْجَبُوْنَ ؟ » قَالُوْا : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! هٰذَا كَانَ أَشَدَّ اِجْتِهَادًا ثُمَّ اسْتُشْهِدَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ . وَ دَخَلَ هٰذَا الْجَنَّةَ قَبْلَهُ . فَقَالَ : « أَلَيْسَ قَدْ مَكَثَ هٰذَا بَعْدَهُ سَنَةً ؟ » قَالُوْا : بَلٰى . قَالَ : « وَأَدْرَكَ رَمَضَانَ فَصَامَهُ ؟ » قَالُوْا : بَلٰى . قَالَ : « وَصَلّٰى كَذَا وَكَذَا سَجْدَةً فِي السَّنَةِ ؟ » قَالُوْا : بَلٰى . قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « فَلَمَا بَيْنَهُمَا أَبْعَدُ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ » . سنن ابن ماجه كِتَابُ تَعْبِيْرِ الرُّؤْيَا بَابُ تَعْبِيْرِ الرُّؤْيَا رقم الحديث ۳۹۲۵ ، مسند احمد رقم ۱۴۰۳ مُسْنَدُ أَبِيْ مُحَمَّدٍ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، صحيح ابن حبان رقم ۲۹۸۲ ، كنز العمال رقم ۴۲۶۳۶ ، السنن الكبری للنسائي رقم ۶۵۳۰ .

وَعِزَّتِي وَجَلَالِي لَا يُصَلِّيهَا عَبْدٌ لِوَقْتِهَا إِلَّا أَدْخَلْتُهُ الْجَنَّةَ . وَمَنْ صَلَّاهَا لِغَيْرِ وَقْتِهَا إِنْ شِئْتُ رَحِمْتُهُ ، وَإِنْ شِئْتُ عَذَّبْتُهُ . (۱)

زما دې په خپل عزت او جَلال باندې قسَم وي چې څوک هم دا مونځونه په خپل وخت باندې اداء کړي زه به دا کس جنت ته داخل کړم ، او چې څوک يې بې وَخته اداء کوي نو که زما خوښه شي رَحم به ورباندې اوکړم ، او که مې خوښه شي نو عذاب به ورکړم .

۱۰ . د مسلم شريف حديث دی ، حضرت معدان بن طلحة رحمه الله فرمايي چې ما د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم آزاد کرده غلام " حضرت ثوبان ﷺ " سره ملاقات اوکړو ما ورته وويل :

أَخْبِرْنِي بِعَمَلٍ أَعْمَلُهُ يُدْخِلُنِي اللهُ بِهِ الْجَنَّةَ ؟

ماته د داسې يو عمل په باره کې خبر راکړه چې زه هغه اوکړم او دهغې په وجه الله ﷻ ماته جنت راکړي.

حضرت ثوبان ﷺ (زما سوال اَوريدو سره) چپ شو ، ما ورنه دوباره همدا پوښتنه اوکړه ، هغه بيا خاموش ؤ ، ما په دريم ځل ورنه همدا پوښتنه اوکړه ، هغه راته وويل :

دا سوال ما د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم نه کړې ؤ نو هغوی راته په جوابِ کې وفرمايل :

عَلَيْكَ بِكَثْرَةِ السُّجُوْدِ لِلّٰهِ . فَإِنَّكَ لَا تَسْجُدُ لِلّٰهِ سَجْدَةً إِلَّا رَفَعَكَ اللهُ بِهَا دَرَجَةً . وَحَطَّ عَنْكَ بِهَا خَطِيْئَةً .

---

(۱) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلَى أَصْحَابِهِ يَوْمًا . فَقَالَ لَهُمْ : « هَلْ تَدْرُوْنَ مَا يَقُوْلُ رَبُّكُمْ عَزَّ وَجَلَّ ؟ » قَالُوْا : اَللهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ . قَالَهَا ثَلَاثًا . قَالَ : « وَعِزَّتِي وَجَلَالِي لَا يُصَلِّيهَا عَبْدٌ لِوَقْتِهَا إِلَّا أَدْخَلْتُهُ الْجَنَّةَ . وَمَنْ صَلَّاهَا لِغَيْرِ وَقْتِهَا إِنْ شِئْتُ رَحِمْتُهُ . وَإِنْ شِئْتُ عَذَّبْتُهُ » . المعجم الكبير للطبراني ۱۰ /۲۲۸ رقم الحديث ۱۰۵۵۵ ، والهيثمي في المجمع ۱ /۳۰۲ ، والهندي في الكنز رقم الحديث ۳۰۲۷ ، ۱۹۳۰ ، ۱۹۳۲ ، والسيوطي في الدرالمنثور ۱ /۲۹۵ ، ۲۹۶ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۵۲ رقم الحديث ۱۷۳ .

ته ډيري سجدې کوه ، ځکه چې ته کله هم د الله ﷻ د رَضا د پاره يوه سجده اوکړې نو الله رب العزت به په دې سره ستا يوه درجه اُوچتوي ، او ستا يوه ګناه به معاف کوي . (چې ددې په وجه به ته جنت ته هم داخل شې ) .

معدان رحمه الله فرمايي چې بيا زما ملاقات د حضرت ابودرداء رضي الله عنه سره اوشو ، د هغه نه هم ما همدا سوال اوکړو ( چې داسې عمل راته اُوښايه چې د هغې په کولو سره الله ﷻ ما جنت ته داخل کړي ) نو هغه هم راته همدا جواب راکړو کوم چې راته حضرت ثوبان رضي الله عنه راکړې وُ . (۱)

## مونځ د جنت ګنجي ده

د ترمذي شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مِفْتَاحُ الْجَنَّةِ الصَّلَاةُ ، وَمِفْتَاحُ الصَّلَاةِ الْوُضُوْءُ . (۲)

د جنت ګنجي (چابي) مونځ دی ، او د مانځه ګنجي اُودس دی .

## ۷ . د مونځ په وجه په جنت کې د نبي عليه السلام ملګرتيا نصيبه کيدل

د مونځ يوه فايده داده چې ددې په وجه انسان ته په جنت کې د نبي عليه الصلاة والسلام ملګرتيا نصيبه کيږي .

---

(۱) عن مَعْدَان بْن أَبِي طَلْحَةَ الْيَعْمَرِيّ ، قَالَ : لَقِيتُ ثَوْبَانَ مَوْلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فَقُلْتُ : أَخْبِرْنِي بِعَمَلٍ أَعْمَلُهُ يُدْخِلُنِي اللهُ بِهِ الْجَنَّةَ ؟ أَوْ قَالَ قُلْتُ : بِأَحَبِّ الْأَعْمَالِ إِلَى اللهِ ، فَسَكَتَ ، ثُمَّ سَأَلْتُهُ فَسَكَتَ ، ثُمَّ سَأَلْتُهُ الثَّالِثَةَ ، فَقَالَ : سَأَلْتُ عَنْ ذٰلِكَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فَقَالَ : « عَلَيْكَ بِكَثْرَةِ السُّجُوْدِ لِلّٰهِ ، فَإِنَّكَ لَا تَسْجُدُ لِلّٰهِ سَجْدَةً إِلَّا رَفَعَكَ اللهُ بِهَا دَرَجَةً ، وَحَطَّ عَنْكَ بِهَا خَطِيْئَةً » . قَالَ مَعْدَانُ : ثُمَّ لَقِيتُ أَبَا الدَّرْدَاءِ فَسَأَلْتُهُ ، فَقَالَ لِي : مِثْلَ مَا قَالَ لِي ثَوْبَانُ . صحيح مسلم كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ فَضْلِ السُّجُوْدِ وَالْحَثِّ عَلَيْهِ رقم الحديث ۲۲۵ - (۴۸۸) ، مشكاة المصابيح باب السجود وفضله الفصل الاول رقم الحديث ۸۹۷ (۱۱) ، صحيح الترغيب والترهيب رقم ۳۸۵ (۳) .

(۲) سنن الترمذي أَبْوَابُ الطَّهَارَةِ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ أَنَّ مِفْتَاحَ الصَّلَاةِ الطُّهُوْرُ رقم الحديث ۴ ، مشكاة المصابيح كتاب الطهارة الفصل الثالث رقم الحديث ۲۹۴ (۱۲) ، مسند احمد ۳/۳۴۰ .

د مسلم شريف حديث دی ، حضرت رَبيعة بن كعب رضي الله عنه فرمايي چې زه به د شپې د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم په خدمت كې ووم ، دوی ته به مې د اَودس اُوبه او نور د ضرورت اَشياء ( لكه مسواک وغيره ) راوړل ، ( يوه ورځ ) نبي كريم صلی الله عليه وسلم ماته وفرمايل :

سَلْ . ( د دِين او دُنيا په څيزونو كې ) چې څه غواړې د هغې سوال اوكړه .

ما ورته وويل :

أَسْأَلُكَ مُرَافَقَتَكَ فِي الْجَنَّةِ . زه په جنت كې ستاسو ملګرتيا غواړم .

نبي عليه السلام وفرمايل : آيا ددينه علاوه بل شی غواړې ؟ ما ورته وويل : زما سوال همدا دی (بل څه نه غواړم ) ، رسول الله ﷺ وفرمايل :

فَأَعِنِّي عَلَى نَفْسِكَ بِكَثْرَةِ السُّجُوْدِ . (۱)

( چې كله ته دا مرتبه حاصلول غواړې نو ) ته په ډيرو سجدو كولو سره زما مدد اوكړه .

يعنی ته ډير نفلي مونځونه او ډيرې سجدې كوه ، دُعاګانې غواړه ، او زه به هم ستا د آرزو پوره كولو د پاره د الله ﷻ په دَربار كې دُعا او سفارش كوم نو ستا دا آرزو به پوره شي

## ۸ . مونځ كوونكي به د صِدّيقينو او شهداؤ سره ملګري وي

حضرت عمرو بن مُرّة الجهني رضي الله عنه فرمايي چې يو كس نبي عليه السلام ته راغی او ورته وې فرمايل :

اې د الله رسوله ! دا راته وُوايه كه چيرته زه ددې خبرې ګواهي وركړم چې د الله ﷻ نه علاوه بل څوک لائق د عبادت نشته ، او تاسو د الله ﷻ رسول يئ ، او زه پنځه مونځونه كوم، زكوة وركوم ، د رمضان روژې نيسم ، او د رمضان تراويح اداء كوم

(۱) عَنْ رَبِيعَةَ بْنِ كَعْبٍ الْأَسْلَمِيِّ رضي الله عنه قَالَ: كُنْتُ أَبِيتُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَيْتُهُ بِوَضُوْئِهِ وَحَاجَتِهِ . فَقَالَ لِي : « سَلْ » فَقُلْتُ : أَسْأَلُكَ مُرَافَقَتَكَ فِي الْجَنَّةِ . قَالَ : « أَوْ غَيْرَ ذٰلِكَ » قُلْتُ: هُوَ ذَاكَ . قَالَ : « فَأَعِنِّي عَلَى نَفْسِكَ بِكَثْرَةِ السُّجُوْدِ » . صحيح مسلم كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ فَضْلِ السُّجُوْدِ وَالْحَثِّ عَلَيْهِ رقم الحديث ۲۲۶ (۴۸۹) ، سنن ابي داؤد رقم الحديث ۱۳۲۰ ، مشكاة المصابيح باب السجود وفضله الفصل الاول رقم الحديث ۸۹۶ (۱۰) .

فَمِمَّنْ أَنَا ؟ نو زه به د کومې ډلې نه یم ؟ ( یعنی د کومو خلقو سره به ملګرې یم ؟ )
نبي علیه الصلاة والسلام ورته وفرمایل :

مِنَ الصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ . (۱) ته به د صِدِّیقینو او شهیدانو د ډلې نه یې .

# ۹. د مونځ په کولو سره د جهنم نه محفوظ کیدل

۱ . د مسلم شریف حدیث دی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

«لَنْ يَلِجَ النَّارَ أَحَدٌ صَلَّى قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ ، وَقَبْلَ غُرُوبِهَا » - يَعْنِي الْفَجْرَ وَالْعَصْرَ - (۲)

هرګز به هغه کس ( د جهنم ) اور ته داخل نشي څوک چې د نمر راختو نه مخکې او د نمر پریوتو نه مخکې مونځ کوي . یعنی د سهَر او مازیګر مونځ کوي .

**فائده** : په دې حدیث کې د سهَر او مازیګر مونځ فضیلت او عظمت بیان شو ، ځکه د سهَر وخت عام طور سره د آرام وي او د مازیګر وخت د کاروبار کولو وي نو چې کوم کس ددې دوه مونځونو پابندي کوي نو هغه به یقیني د نورو مونځونو هم پابندي کوي ، او ددې مونځونو په وجه به دې د ګناهونو نه هم محفوظ وي ، ځکه د مونځ په وجه انسان د بې حیایۍ او ناجائزو کارونو نه منع کیږي ، الله تعالی فرمایي :

﴿ إِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ ﴾ . (۳)

---

(۱) عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ الْجُهَنِيِّ رضي الله عنه قَالَ : جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فَقَالَ : يَا رَسُولَ اللهِ ! أَرَأَيْتَ إِنْ شَهِدْتُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّكَ رَسُولُ اللهِ ، وَصَلَّيْتُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسَ ، وَأَدَّيْتُ الزَّكَاةَ ، وَصُمْتُ رَمَضَانَ ، وَقُمْتُهُ ، فَمِمَّنْ أَنَا ؟ قَالَ : مِنَ الصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ . صحیح ابن حبان بَابُ فَضْلِ رَمَضَانَ ذِكْرُ كِتْبَةِ اللهِ جَلَّ وَعَلَا صَائِمَ رَمَضَانَ وَقَائِمَهُ مَعَ إِقَامَتِهِ الصَّلَاةَ ... رقم الحدیث ۳۴۳۸ ، و رواه البزار وابن خزیمة ، وابن عساکر في تهذیب تاریخ دمشق ۴/۲۴۷ ، والهندی فی الکنز ۱۴۲۵ ، المتجر الرابح ص ۴۹ رقم الحدیث ۱۵۳ .

(۲) صحیح مسلم كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ فَضْلِ صَلَاتَيِ الصُّبْحِ وَالْعَصْرِ ، وَالْمُحَافَظَةِ عَلَيْهِمَا رقم الحدیث ۲۱۳ - (۶۳۴) ، مشکاة المصابیح باب فضائل الصلاة الفصل الاول رقم الحدیث ۶۲۴ ( ۱ ) ، کنز العمال رقم ۱۸۹۲۵ ، صحیح ابن حبان رقم ۱۷۴۰ ذکرُ وصف البردین اللذین یُرجی دخول الجنة بالصلاة عندهما .

(۳) سورة العنکبوت آیة ۴۵ .

ترجمه: بیشکه مونځ انسان د بې حیایۍ او ناکاره کارونو (او ناجائزه خبرو) نه منع کوي.

نو چې کله انسان د مونځونو حفاظت کوي او د ګناهونو نه ځان ساتي نو خامخا به دا انسان د جهنم نه محفوظ کولې شي، او جنت ته به داخلولې شي، ځکه خو رسول الله صلی الله علیه وسلم په خاص طور سره ددې دوه مونځونو په کولو سره د جنت تللو وعده کړې (۱)

۲ . رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

مَنْ حَافَظَ عَلَى الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ أَوِ الصَّلَاةِ الْمَكْتُوبَةِ عَلَى وُضُوئِهَا، وَعَلَى مَوَاقِيتِهَا، وَرُكُوعِهَا، وَسُجُودِهَا، يَرَاهُ حَقًّا عَلَيْهِ حُرِّمَ عَلَى النَّارِ. (۲)

څوک چې ددې پنځو مونځونو یا ددې فرضي مونځونو حفاظت کوي، ددې د اُودس، ددې د وختونو، ددې د رکوع او سجدو پوره لحاظ ساتي، او دا مونځونه په ځان باندې د الله ﷻ حق (او لازم) ګڼري نو دا کس به د جهنم په اُور باندې حرام کړې شي.

۳ . نبي اکرم صلی الله علیه وسلم فرمايي:

إِنَّ لِلَّهِ مَلَكًا يُنَادِي عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ: يَا بَنِي آدَمَ! قُومُوا إِلَى نِيرَانِكُمُ الَّتِي أَوْقَدْتُمُوهَا عَلَى أَنْفُسِكُمْ. فَأَطْفِئُوهَا بِالصَّلَاةِ. (۳)

د الله ﷻ د طرفه یوه فرښته مقرر ده هغه د هر مانځه په وخت دا آواز کوي: اې د آدم اُولاده! پاڅئ، کوم اُور چې تاسو (په خپلو ځانونو باندې د ګناهونو په وجه) بَل کړی

---

(۱) قال رسولُ الله صلى الله عليه وسلم: مَنْ صَلَّى الْبَرْدَيْنِ دَخَلَ الْجَنَّةَ. صحيح البخاري كِتَابُ مَوَاقِيتِ الصَّلَاةِ بَابُ فَضْلِ صَلَاةِ الْفَجْرِ رقم الحديث ۵۷۴، صحيح مسلم باب فضل صلاتي الصبح والعصر والمحافظة عليها رقم الحديث ۲۱۵ (۶۳۵)، شعب الايمان رقم ۲۵۸۰، مشكاة المصابيح باب فضائل الصلاة الفصل الاول رقم ۶۲۵ (۲).

(۲) شعب الايمان رقم الحديث ۲۵۶۶، المعجم الكبير للطبراني رقم ۳۴۹۲ حَنْظَلَةُ بْنُ الرَّبِيعِ الْأُسَيْدِيُّ الْكَاتِبُ، مختصر الاحكام مستخرج الطوسي على جامع الترمذي رقم ۱۹۷/۶۵.

(۳) رواه الطبراني في المعجم الاوسط رقم الحديث ۹۴۵۲، وفي المعجم الصغير، والمنذري في الترغيب والترهيب ۱۳۴/۱ رقم الحديث ۵۲۸ كتاب الصلاة، والزبيدي في الاتحاف ۱۱/۳، والسيوطي في الدر ۳۵۵/۳، والهندي في الكنز رقم الحديث ۱۸۸۸۱.

هغه (د مونځ په کولو سره) مړ کړئ. (۱)

## د سهَر او مازيګر په وختونو کې د فرښتو ډيوټې بدليږي

پنځه واړه مونځونه په خپل خپل ځای باندې ډير اَهم دي، او ډير فضائل يې بيان شوي ليکن بيا خاصکر د سهَر او مازيګر د مانځه ډير تاکيد او فضائل بيان شوی ځکه په دې دوه وختونو کې د فرښتو ډيوټي بدليږي، د ورځې او شپې فرښتې دواړه دا عمل ليکي.

الله تعالی د سهَر مانځه په باره کې فرمايي:

﴿ إِنَّ قُرْاٰنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُوْدًا ﴾. (۲)، (۳)

ترجمه: بيشکه قرآن لوستل د صبا په وخت (يعنی د سهَر مونځ کول) دا د فرښتو د

---

(۱) وفي روايةٍ: عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: " يُبْعَثُ مُنَادٍ عِنْدَ حَضْرَةِ كُلِّ صَلَاةٍ فَيَقُوْلُ: يَا بَنِيْ آدَمَ! قُوْمُوْا فَأَطْفِئُوْا عَنْكُمْ مَا أَوْقَدْتُمْ عَلٰى أَنْفُسِكُمْ، فَيَقُوْمُوْنَ فَيَتَطَهَّرُوْنَ وَتَسْقُطُ خَطَايَاهُمْ مِنْ أَعْيُنِهِمْ، وَيُصَلُّوْنَ فَيُغْفَرُ لَهُمْ مَا بَيْنَهُمَا، ثُمَّ يُوْقِدُوْنَ فِيْمَا بَيْنَ ذٰلِكَ، فَإِذَا كَانَ عِنْدَ صَلَاةِ الْأُوْلٰى نَادٰى: يَا بَنِيْ آدَمَ! قُوْمُوْا فَأَطْفِئُوْا مَا أَوْقَدْتُمْ عَلٰى أَنْفُسِكُمْ، فَيَقُوْمُوْنَ فَيَتَطَهَّرُوْنَ وَيُصَلُّوْنَ فَيُغْفَرُ لَهُمْ مَا بَيْنَهُمَا، فَإِذَا حَضَرَتِ الْعَصْرُ فَمِثْلُ ذٰلِكَ، فَإِذَا حَضَرَتِ الْمَغْرِبُ فَمِثْلُ ذٰلِكَ، فَإِذَا حَضَرَتِ الْعَتَمَةُ فَمِثْلُ ذٰلِكَ، فَيَنَامُوْنَ وَقَدْ غُفِرَ لَهُمْ". ثُمَّ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « فَمُدْلِجٌ فِيْ خَيْرٍ، وَمُدْلِجٌ فِيْ شَرٍّ. المعجم الكبير للطبراني ۱۰/۱۴۱ رقم الحديث ۱۰۲۵۲ طبع مكتبة ابن تيمية – القاهرة، و رواه المنذري في الترغيب ۱/۲۳۵، والهندي في الكنز رقم ۱۹۰۴۴، والسيوطي في الدر المنثور ۳/۳۵۵.

(۲) سورة الاسراء (بني اسرائيل) آية ۷۸.

(۳) ﴿ وَقُرْاٰنَ الْفَجْرِ ﴾ صلاة الفجر سميت قرآنًا وهو القراءة لكونها ركنًا...

﴿ إِنَّ قُرْاٰنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُوْدًا ﴾ يشهده ملائكة الليل والنهار ينزل هؤلاء ويصعد هؤلاء فهو في آخر ديوان الليل وأول ديوان النهار أو يشهده الكثير من المصلين في العادة. تفسير النسفي (مدارك التنزيل وحقائق التاويل) ۲/۲۷۲ سورة الإسْرَاءِ آية ۷۸.

﴿ إِنَّ قُرْاٰنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُوْدًا ﴾ تشهده ملائكة الليل وملائكة النهار. تفسير الجلالين سورة الإسْرَاءِ آية ۷۸.

قَوْلُهُ تَعَالٰى: ﴿ إِنَّ قُرْآنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُوداً ﴾ وَقَدْ ثَبَتَ بِالتَّوَاتُرِ أَنَّ الْمُرَادَ مِنْهُ صَلَاةُ الْفَجْرِ، وَإِنَّمَا جَعَلَهَا مَشْهُوْدًا لِأَنَّهَا تُؤَدّٰى بِحَضْرَةِ مَلَائِكَةِ اللَّيْلِ وَمَلَائِكَةِ النَّهَارِ. تفسير الرازي ۶/۲۸۴ سورة البقرة آية ۲۳۸ الْحُكْمُ السَّادِسَ عَشَرَ حُكْمُ الْمُحَافَظَةِ عَلَى الصَّلَوَاتِ والصلاة الوسطى.

حاضريدو وخت دی.

مفسرينو ليکلي چې د " قرآن الفجر " نه د سهَر مونځ مراد دی. د انسان د اَعمالو ليکونکي او دده حفاظت کوونکي فرښتې د ورځې ځانله دي او د شپې ځانله دي، دا دواړه ډلې فرښتې د سهَر او مازيګر په مانځه کې سره جَمع کيږي، او دواړه ډلې فرښتې دا عمل ليکي، لکه ددې تفصيل په احاديثو کې ذکر دی.

د بخاري او مسلم شريف حديث دی، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

يَتَعَاقَبُوْنَ فِيْكُمْ مَلاَئِكَةٌ بِاللَّيْلِ وَمَلاَئِكَةٌ بِالنَّهَارِ ، وَيَجْتَمِعُوْنَ فِيْ صَلاَةِ الْفَجْرِ وَصَلاَةِ الْعَصْرِ. ثُمَّ يَعْرُجُ الَّذِيْنَ بَاتُوْا فِيْكُمْ. فَيَسْأَلُهُمْ وَهُوَ أَعْلَمُ بِهِمْ : كَيْفَ تَرَكْتُمْ عِبَادِيْ ؟ فَيَقُوْلُوْنَ : تَرَكْنَاهُمْ وَهُمْ يُصَلُّوْنَ. وَأَتَيْنَاهُمْ وَهُمْ يُصَلُّوْنَ . (۱)

تاسو ته نَمبر په نَمبر د شپې او ورځې فرښتې د آسمان نه راځي (ددې د پاره چې ستاسو اَعمال اوليکي، او بيا دا د الله ﷻ په دَربار کې پيش کړي)، دا فرښتې د سهَر او مازيګر په مونځ کې سره يو ځای کيږي، کومې فرښتې چې د تاسو سره (ستاسو د اَعمالو ليکلو او ستاسو د حفاظت د پاره) د شپې پاتې شي کله چې هغوی سهَر آسمان ته خيجي نو الله ﷻ سره د علمه د هغوی نه پوښتنه کوي:

كَيْفَ تَرَكْتُمْ عِبَادِيْ؟ تاسو زما بندګان په کوم حالت کې پريخودل؟

فرښتې ورته اووايي:

تَرَكْنَاهُمْ وَهُمْ يُصَلُّوْنَ. وَأَتَيْنَاهُمْ وَهُمْ يُصَلُّوْنَ .

مونږ دوی په داسې حالت کې پريخودل چې هغوی (د سهَر) مونځ کولو، او چې (کله د مازيګر) ورغلي وو نو هم هغوی (د مازيګر) مونځ کولو.

(۱) صحيح البخاري بَابُ فَضْلِ صَلاَةِ الْعَصْرِ رقم الحديث ۵۵۵ ، و رقم ۷۷۴۲۹ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: { تَعْرُجُ الْمَلاَئِكَةُ وَالرُّوحُ إِلَيْهِ } ، و رقم ۷۴۸۶ بَابُ كَلاَمِ الرَّبِّ مَعَ جِبْرِيلَ. وَنِدَاءِ اللهِ الْمَلاَئِكَةَ . صحيح مسلم بَابُ فَضْلِ صَلاَتَيِ الصُّبْحِ وَالْعَصْرِ. وَالْمُحَافَظَةِ عَلَيْهِمَا رقم الحديث ۲۱۰ (۶۳۲)، سنن النسائي رقم الحديث ۴۸۵ ، موطا امام مالک رقم ۸۲ ، مشكاة المصابيح باب فضائل الصلاة رقم ۶۲۶ (۳).

**د حديث تشريح** : د حديث مطلب دادی چې الله ﷻ د بندګانو اعمالو ليکلو او بيا د الله ﷻ دَربار ته د رسولو د پاره د فرښتو دوه ډَلې مقرر کړي ، يوه ډَله د سهَر مانځه په وخت راشي او دوی د ورځې اَعمال ليکي ، بيا د مازيګر په وخت دوی واپس آسمان ته خيجي او د الله ﷻ په دَربار کې د اَعمالو فهرست ( رَپوټ ) پيش کوي .

د فرښتو دويمه ډَله د مازيګر مانځه په وخت راشي ، او د شپې اَعمال ليکي ، دوی بيا د سهَر مانځه په وخت واپس خيجي ، او د الله ﷻ په دَربار کې د بندګانو اَعمال پيش کوي .

نو د سهَر او مازيګر په وخت د فرښتو دواړه ډَلې سره يو ځای کيږي ، او دا دوه مونځونه دا دواړه قِسمه فرښتې ليکي .

کله چې الله ﷻ د فرښتو نه سره د عِلمه پوښتنه اوکړي چې کله تاسو راتلئ نو زما بندګانو څه کار کول ؟ نو د شپې ډِيوټۍ واله فرښتې ورته اُووايي چې : اې الله ! کله چې د سهَر په وخت مونږ راتلو نو هم هغوی د سهَر مونځ کولو ، او کله چې مونږ مازيګر ډِيوټۍ له ورتلو نو هم هغوی د مازيګر مونځ کولو .

دغه شان د ورځې ډِيوټۍ واله فرښتې چې سهَر راځي نو هم مسلمانان د سهَر مونځ کوي ، او چې مازيګر واپس ځي نو هم دوی د مازيګر مونځ کوي .

**تنبيه** : په دې ځای کې په دې خبره باندې ځان پوهه کړئ چې د الله ﷻ پوښتنه د فرښتو نه د ځان پوهه کولو د پاره نده ځکه الله ﷻ خو په هر څيز باندې پوهه دی ، بلکه د الله رب العزت پوښتنه د فرښتو نه ددې د پاره ده چې د فرښتو د وړاندې د خپلو بندګانو فضيلت ښکاره کړي ، ځکه کله چې الله ﷻ په دې دُنيا کې د انسانانو آبادلو اِراده اوکړه او د حضرت آدم عليه السلام د پيدا کولو په وخت يې فرښتو ته وفرمايل :

﴿ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً ﴾ . (۱)

---

(۱) سورة البقرة آية ۳۰ . ۶۰ .

ترجمه : بیشکه زه په زمکه کې يو خليفه (جانشين او نائب ) جوړوونکې يم .
نو فرښتو ورته وويل :

﴿ أَتَجْعَلُ فِيهَا مَنْ يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاءَ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ ﴾. (۱)

ترجمه : آيا ته په زمکه کې داسې مخلوق جوړوى (او آبادوى ) چې هغه به په دې زمکه کې فساد کوي ، او (د يو بل ) وينې به تويَوي ، حالانکه مونږ پاکي بيانوو ستا د حمد سره ، او ستا بزرګي بيانوو (يعنى مونږ خو هر وخت ستا په حَمد او پاکي بيانولو کې مشغوله يو ) .

الله تعالى ورته وفرمايل :

﴿ إِنِّي أَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴾. (۲)

ترجمه : بیشکه زه په هغه څه ښه پوهيږم چې تاسو پرې نه پوهيږى .
اوس چې الله رب العزت د ورځې او شپې اَعمالو ليکونکو فرښتو نه پوښتنه کوي چې :

كَيْفَ تَرَكْتُمْ عِبَادِيْ؟ تاسو زما بندګان په کوم حالت کې پريخودل ؟

دا صرف په فرښتو باندې دا ظاهروي چې د کومو انسانانو په باره کې ستاسو خيال وُ چې هغوى به په زمکه کې صرف فتنه او فساد خورَوي او د يو بل وينې به تويَوي اوس تاسو اُوليدل چې هغوى څومره په شَوق او پابَندۍ سره زما عبادت کوي چې ستاسو د تللو په وخت هم هغوى په عبادت کې مصروف وو ، او ستاسو د راتلو په وخت هم هغوى په عبادت کې مصروف وو .

بهر حال ، نبي کريم صلى الله عليه وسلم خپل اُمت ته ترغيب ورکوي چې په دې دوه وختونو کې د مانځه خاص اِهتمام کوئ ، ځکه الله ﷻ د فرښتو د وړاندې ستاسو فضيلت ښکاره کوي .(۳)

(۱) سورة البقرة آية ۳۰.
(۲) سورة البقرة آية ۳۰.
(۳) مظاهر حق شرح مشكوة ج۲ .

## ۱۰ . مونځ د الله ﷻ د قرب او نزديکت ذريعه ده

۱ . د مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

أَقْرَبُ مَا يَكُونُ الْعَبْدُ مِنْ رَبِّهِ وَهُوَ سَاجِدٌ ، فَأَكْثِرُوا الدُّعَاءَ . (۱)

بنده الله ﷻ ته ډير نژدې په هغه وخت کې وي کله چې دې د سجدې په حالت کې وي ، پس تاسو په سجده کې دُعا ډيره کوئ .

۲ . رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

اَلصَّلَاةُ قُرْبَانُ كُلِّ تَقِيٍّ . (۲)

مونځ د هر مُتّقي د پاره الله ﷻ ته د نزديکت ذريعه ده .

## ۱۱ . په مونځ کولو سره د الله ﷻ دِيدار نصيبه کيدل

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی ، حضرت جرير بن عبد الله ﷺ فرمايي چې (يوه شپه) مونږ د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره ناست وو ، دوی د څوارلسمې شپې سپوږمۍ اُوليده نو وې فرمايل :

أَمَا إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ رَبَّكُمْ كَمَا تَرَوْنَ هٰذَا ، لَا تُضَامُّونَ أَوْ لَا تُضَاهُونَ فِي رُؤْيَتِهِ فَإِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَنْ لَا تُغْلَبُوا عَلَى صَلَاةٍ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا ، فَافْعَلُوا .

---

(۱) صحيح مسلم كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ مَا يُقَالُ فِي الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ رقم الحديث ۲۱۵ ( ۴۸۲ ) ، سنن ابي داؤد باب في الدعاء في الركوع والسجود ، مشكاة المصابيح باب السجود وفضله الفصل الاول رقم الحديث ۸۹۴ ( ۸ ) .

(۲) كنز العمال كتاب الصلاة الفصل الثاني " في فضائل الصلاة " رقم الحديث ۱۸۹۱۷ ، التفسير المظهري ج۴ ص ۳۰۵ ، حلية الاولياء وطبقات الاصفياء ۱۹۴/۳ .

وفي رواية : اَلصَّلَاةُ قُرْبَانٌ . صحيح ابن حبان ذِكْرُ الْبَيَانِ بِأَنَّ الصَّلَاةَ قُرْبَانٌ لِلْعَبِيدِ يَتَقَرَّبُونَ بِهَا إِلَى بَارِئِهِمْ جَلَّ وَعَلَا رقم الحديث ۱۷۲۳ ، مسند احمد رقم الحديث ۱۵۲۸۴ ، مسند ابي يعلى الموصلي رقم الحديث ۱۹۹۹ ، شرح السنة للبغوي رقم الحديث ۲۰۲۹ .

وفي رواية : إِنَّ الصَّلَاةَ قُرْبَانُ الْمُؤْمِنِ . كنز العمال كتاب الصلاة الفصل الثاني " في فضائل الصلاة " رقم الحديث ۱۸۹۰۷ .

يقينًا تاسو به ( د قيامت په ورځ ) خپل رَب اووينئ لکه ځرنګې چې دا سپوږمۍ ګورئ، چې د دې په ليدلو کې څه تنګي نه ګورئ ( يعنې هر کس به بغير د تکليف او مشقت نه الله جَلَّجَلَالُهُ اوګوري ) ، لهذا تاسو د سهَر د نمر راختلو نه د مخکې مونځ يعنې د سهَر په مونځ کې ، او د نمَر ډوبيدلو نه د مخکې مونځ يعنې د مازيګر په مونځ کې هرګز کوتاهي مه کوئ ( يعنې دا دواړه مونځونه په خپل وخت کې ضرور اداء کوئ ) .

بيا نبي عليه السلام دا آيتِ مبارکه تلاوت کړو :

﴿ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوْبِهَا ﴾

ترجمه : او د خپل رب پاکي د هغه د تعريف سره بيانوه د نمَر د راختلو نه مخکې ، او د نمَر د پريوتلو نه مخکې ( يعنې د سهَر او مازيګر مونځ کوه ) . (۱)

## ۱۲ . مونځ د مؤمن د پاره نُور دې

1 . د مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

... وَالصَّلَاةُ نُوْرٌ ... (۲)

مونځ نُور دی .

---

(۱) عَنْ جَرِيْرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ نَظَرَ إِلَى الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ ، فَقَالَ : « أَمَا إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ رَبَّكُمْ كَمَا تَرَوْنَ هٰذَا ، لَا تُضَامُّوْنَ أَوْ لَا تُضَاهُوْنَ فِيْ رُؤْيَتِهِ فَإِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَنْ لَا تُغْلَبُوْا عَلٰى صَلَاةٍ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوْبِهَا ، فَافْعَلُوْا » . ثُمَّ قَالَ : « وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوْبِهَا . سورة طه : ۱۳۰ » . صحيح البخاري بَابُ فَضْلِ صَلَاةِ الْفَجْرِ رقم الحديث ۵۷۳ . صحيح مسلم كِتَابُ الْمَسَاجِدِ وَمَوَاضِعِ الصَّلَاةِ بَابُ فَضْلِ صَلَاتَيِ الصُّبْحِ وَالْعَصْرِ ، وَالْمُحَافَظَةِ عَلَيْهِمَا رقم الحديث ۲۱۱ ( ۶۳۳ ) . السنن الكبرى للنسائي رقم ۴۶۰ فضل صلاة الفجر . صحيح ابن حبان رقم ۷۴۴۳ .

(۲) صحيح مسلم كِتَابُ الطَّهَارَةِ بَابُ فَضْلِ الْوُضُوْءِ رقم الحديث ۱ ( ۲۲۳ ) .

( اَلصَّلَاةُ نُوْرٌ ) : فمعناه أنها تمنع من المعاصي ، وتنهى عن الفحشاء والمنكر ، وتهدي إلى الصواب ، كما أن النور يستضاء به . شرح محمد فؤاد عبد الباقي على صحيح مسلم في تشريح الحديث المذكور .

۲ . په يو بل رِوايت کې ورسره څه نوره اِضافه هم شوې، رسول الله ﷺ فرمايي:
اَلصَّلَاةُ نُوْرُ الْمُؤْمِنِ. (۱) مونځ د مؤمن د پاره نُور دی.

۳ . يوه ورځ رسول الله صلی الله عليه وسلم د مانځه تذکره اوکړه نو وې فرمايل:
مَنْ حَافَظَ عَلَيْهَا كَانَتْ لَهُ نُوْرًا، وَبُرْهَانًا، وَنَجَاةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ .... (۲)
څوک چې د مونځ حفاظت کوي (يعنی هميشه يې په پابندۍ سره کوي) نو دا مونځ به ده د پاره د قيامت په ورځ نُور وي، ده د اِيمان کامِل کيدو واضحه دليل به وي، او ده د نِجات ذريعه به وي.

## ۱۳ . د مونځ کولو په وجه د انسان نه غفلت او شيطاني اَثر ختميږي

د انسان نه چې عام طور څه گناه کيږي نو ددې په اَسبابو کې يو سبب دا هم دی چې انسان د الله ﷻ نه غافِله شي، او شيطان ده په عقل او بصيرت باندې د غفلت پَرده خوره کړي نو بيا ورنه مختلف قِسمه گناهونه کيږي.

خو چې د چا په زړه کې د الله ﷻ نه يَره وي او دې ځان ته د الله ﷻ عَظمت او لويي رايادہ کړي نو فورًا ده د بصِيرت سترگې کلاؤ شي، او د گناهونو نه منع شي.

الله ﷻ دا مضمون په قرآن کريم کې داسې بيان کړی:

﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا اِذَا مَسَّهُمْ طٰٓئِفٌ مِّنَ الشَّيْطٰنِ تَذَكَّرُوْا فَاِذَا هُمْ مُّبْصِرُوْنَ ﴾. (۳)

---

(۱) رواه القضاعي وابن عساکر عن انس کنزالعمال رقم الحديث ۱۸۹۱۵، التفسير المظهري ج۱ ص ۱۵۲.

(۲) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رضي الله عنهما عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ : ذَكَرَ الصَّلَاةَ يَوْمًا. فَقَالَ : مَنْ حَافَظَ عَلَيْهَا كَانَتْ لَهُ نُوْرًا، وَبُرْهَانًا، وَنَجَاةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ .... إسناده صحيح مسند احمد رقم الحديث ۶۵۷۶ مُسْنَدُ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا. سنن الدارمي بَابٌ: فِي الْمُحَافَظَةِ عَلَى الصَّلَاةِ رقم الحديث ۲۷۶۳، شعب الايمان للبيهقي رقم ۲۵۶۵، المعجم الاوسط للطبراني رقم الحديث ۱۷۶۷، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ۸۳۲ كتاب الصَّلَاة التَّرْغِيب في الأَذَان، الترغيب والترهيب لقوام السنة رقم الحديث ۱۹۳۳ فصل في عقوبة تارك الصلاة.

(۳) سورة الاعراف آية ۲۰۱.

ترجمه : بيشكه كوم خلق چې د الله ﷻ نه ويريږي كله چې دوی ته د شيطان د طرفه څه وَسوسه وَر اُورسي نو دوی (زر) الله ﷻ ياد كړي ، پس فورًا (د دوی د بَصيرت ستركې كلاؤ شي او بيا) دوی هر څه ګوري (او د ګناهونو نه ځان ساتي).

بهر حال ، كله چې دا خبره ثابته شوه چې د ګناهونو كولو سبب غفلت دی ، او د غفلت ختمولو علاج د الله ﷻ ذِكر او يَاد دی نو مونځ هم د غفلت ختمولو د پاره مؤثره ذريعه ده ، ځكه مونځ د اول نه تر آخِره پورې د الله ﷻ ياد او ذِكر دی ، الله تعالى فرمايي :

﴿وَأَقِمِ الصَّلٰوةَ لِذِكْرِيْ﴾. (۱) ترجمه : او ته قائم كړه مونځ زما د يَاد د پاره .

نو د مونځ په ذريعه د انسان نه غفلت ختم شي ، د الله ﷻ عَظمت او لويي يې په زړه كې راشي نو بيا په خپله د ګناهونو نه منع كيږي .

ځكه خو الله ﷻ د مانځه تاثير هم دا ذكر كړی: ﴿إِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ﴾. (۲)
ترجمه : بيشكه مونځ انسان د بې حيايۍ او ناكاره كارونو (او ناجائزه خبرو) نه منع كوي

په حديث كې راځي : اَلصَّلَاةُ تُسَوِّدُ وَجْهَ الشَّيْطَانِ ... (۳) مونځ د شيطان مخ تورَوي .

## ۱٤ . مونځ د هر مصيبت او هرې پريشانۍ علاج دی

نبي كريم صلى الله عليه وسلم به د هر مصيبت او پريشانۍ په وخت مانځه ته رُجوع كوله،

۱ . د ابوداؤد شريف حديث دی ، حضرت حُذيفه رضي الله عنه فرمايي :

كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا حَزَبَهُ أَمْرٌ صَلَّى . (۴)

---

(۱) سورة طه آية ۱۴ .

(۲) سورة العنكبوت آية ۴۵ .

(۳) اخرجه الديلمي . كنزالعمال رقم الحديث ۱۸۸۹۳ كتاب الصلاة الباب الأول : في فضل الصلاة ووجوبها الفصل الثاني " في فضائل الصلاة " ، الزواجر لابن حجر ص ۲۵ اَلْكَبِيْرَةُ السَّابِعَةُ وَالسَّبْعُونَ تَعَمُّدُ تَأْخِيرِ الصَّلَاةِ .... الفتح الكبير في ضم الزيادة إلى الجامع الصغير حرف الصّاد فصل في المحلى بأل من هذا الحرف رقم ۷۴۰۳.

(۴) سنن ابي داؤد أَبْوَابُ قِيَامِ اللَّيْلِ بَابُ وَقْتِ قِيَامِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ اللَّيْلِ رقم الحديث ۱۳۱۹ ، مسند احمد ۳۳۰/۳۸ رقم الحديث ۲۳۲۹۹ ، شعب الايمان رقم الحديث ۲۹۱۲ ، وحسنه الالباني في صحيح سنن ابي داؤد ۳۱۶/۱ .

نبي كريم صلى الله عليه وسلم به چې كله څه كار غمجَن كړو ( او څه مصيبت به ورته رامخې ته شو ) نو مونځ به یې كولو .

۲ . همدارنګې رسول الله ﷺ د مخكيني پيغمبرانو عادت هم دا بيان كړی چې كله به هغوی ته څه مصيبت او تكليف اُورسيد نو مانځه طرف ته به متوجّه شو . (۱)

۳ . په يوه موقع باندې رسول اكرم صلى الله عليه وسلم ته د كافرانو د طرفه څه تكليف رسيدلې وُ نو الله ﷻ نبي عليه السلام ته د مانځه كولو حكم اوكړو ، او ورسره یې دده د دُشمن هلاكولو زيرې هم وركړو :

﴿ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ . إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ ﴾ . (۲)

ترجمه : پس ته مونځ كوه د خپل رَب د پاره ، او قرباني كوه ، بيشكه ستا دُښمن به بې نَامې او بې نَخې وي ( يعنى هغه به الله ﷻ نيست او نابُود كړي ) .

كه چيرته نن هم په مسلمانانو باندې څه مصيبت يا تكليف راشي او دا نبوي نُسخه استعمال كړي يعنى مانځه طرف ته متوجِه شي نو الله رب العزت به دوی ددې مصيبت نه اُوباسي .

## ۱۵ . د مونځ په وجه انسان ته د الله ﷻ مدد او مَعِيَت حاصليږي

۱ . مونځ داسې بهترين عبادت دی چې ددې په وجه انسان ته د مُشكلاتو په وخت د الله ﷻ مدد نصيبه كيږي ، ځكه خو الله ﷻ مسلمانانو ته دا حكم كړی :

---

(۱) نبي عليه السلام د مخكيني پيغمبرانو په باره كې فرمايي : « وَكَانُوا يَفْزَعُونَ إِذَا فَزِعُوا إِلَى الصَّلَاةِ » .
إسناده صحيح على شرط مسلم ، مسند احمد رقم الحديث ۱۸۹۳۷ حَدِيثُ صُهَيْبِ بْنِ سِنَانٍ مِنَ النَّمِرِ بْنِ قَاسِطٍ ، واخرجه ابن أبي شيبة ۱۰/۳۱۹-۳۲۰، والبزار في "مسنده" (۲۰۸۹) ، والنسائي في "الكبرى" (۱۰۳۷۵) - وهو في "عمل اليوم والليلة" (۶۱۴) - والبيهقي في "السنن" ۹/۵۳ .

« وَكَانُوا يَفْزَعُونَ إِذَا فَزِعُوا إِلَى الصَّلَاةِ » أي : وكانوا إذا فزعوا يفزعون إلى الصلاة، أي عادتهم الاشتغال بالصلاة في الشدائد. انظر : حاشية محققي مسند الامام احمد ۳۱/۲۶۸ في تشريح حديث رقم ۱۸۹۳۷ ، و ۳۸/۳۲۱

(۲) سورة الكوثر آية ۲ ، ۳ .

﴿ وَاسۡتَعِیۡنُوۡا بِالصَّبۡرِ وَالصَّلٰوةِ ﴾.(۱)

ترجمه: او تاسو (د الله ﷻ نه) مدد غواړئ په صبر او مانځه سره.

۲ بني اسرائيلو ته الله ﷻ دا حکم کړی و: ﴿ اِنِّیۡ مَعَکُمۡ ؕ لَئِنۡ اَقَمۡتُمُ الصَّلٰوةَ ﴾.(۲)

ترجمه: بیشکه زه ستاسو ملګری یم که چیرته تاسو مونځ قائم کړو.

**فائده**: معلومه شوه چې د مونځ په وجه د انسان سره د الله ﷻ مَعِیَت او امداد نصیبه کیږي، او د هر قِسمه پریشانیو نه ورته نِجات نصیبه کیږي.

## ۱٦. د مونځ او دُعا په وجه د غل نه حفاظت

علامه ابن جوزي رحمه الله په خپل کتاب " عُیُوۡنُ الۡحِکَایَات " کې دا واقعه رانقل کړی: حضرت انس رضي الله عنه فرمایي چې د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم په صحابه کرامو کې یو اَنصاري صحابي ؤ، کُنیه یې ابومعلق وه، دې تاجِر ؤ، خپل او دنورو خلقو مال ورسره ؤ، په اطرافو کې به یې پرې تجارت کولو، ډیر عبادت ګزار او پرهیزګار صحابي ؤ.

یوه ورځ د تجارت د پاره اُووت، په لاره کې ورته یو غل رامخې ته شو، مَخ یې پَټ کړی ؤ، اَسلحه ورسره وه، ده ته یې وویل:

ضَعۡ مَا مَعَكَ فَاِنِّیۡ قَاتِلُكَ. څه چې درسره وي هغه ټول کیږده، ځکه زه تا وَژنم.

ده ورته وویل: فَمَا تُرِیۡدُهٗ مِنۡ دَمِیۡ؟ شَأۡنُكَ بِالۡمَالِ.

ستا زما د وینې (یعنی قتلولو) سره څه کار دی؟ ستا مقصد خو مال دی (او دا دَرواخله).

غل ورته وویل: اَمَّا الۡمَالُ فَلِیۡ. وَلَسۡتُ اُرِیۡدُ اِلَّا دَمَكَ.

مال خو هسې هم زما دی خو زه ستا وِینه تویُول غواړم.

ده ورته وویل: چې ته کله زما خبره نه منی او خامخا زما قتلول غواړی،

---

(۱) سورة البقرة آية ۴۵.

(۲) سورة المائدة آية ۱۲.

فَذَرْنِيْ أُصَلِّيْ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ . ما پريږده چې زه څلور رکعته مونځ اوکړم .

غل ورته وويل :

صَلِّ مَا بَدَا لَكَ . چې ستا څومره مونځ خوښ وي وې کړه ( خو زه دې خامخا وژنم ) .

ده اَودس اوکړو : ثُمَّ صَلَّى أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ . بيا يې څلور رکعته مونځ اوکړو .

په آخري سجده کې يې دا دُعا اوکړه :

يَا وَدُوْدُ يَا وَدُوْدُ ، يَا ذَا الْعَرْشِ الْمَجِيْدِ، يَا فَعَّالًا لِمَا تُرِيْدُ، أَسْأَلُكَ بِعِزِّكَ الَّذِيْ لَا يُرَامُ ، وَبِمُلْكِكَ الَّذِيْ لَا يُضَامُ، وَبِنُوْرِكَ الَّذِيْ مَلَأَ أَرْكَانَ عَرْشِكَ أَنْ تَكْفِيَنِيْ شَرَّ هٰذَا اللِّصِّ . يَا مُغِيْثُ أَغِثْنِيْ .

اې محبت کوونکيه ذاته ! اې محبت کوونکيه ذاته ! اې د لوي عَرش مالِکه ! اې د خپلو اِرادو پوره کوونکيه ! زه د تا نه ستا په هغه عزت سره سوال کوم چې د هغې تصوّر هم نشي کيدی ، او د تا نه ستا د هغه مُلک په واسطه سوال کوم چې هغه بل څوک نشي اخيستی ، او د تانه ستا د هغه نُور په واسطه سوال کوم چې هغې ستا د عرش اَطراف مُنوّر کړي دي ( هغه سوال دا کوم چې ) ته ما ددې غل د شَر نه اُوساته . اې مدد کولو واله ذاته ! زما مدد اوکړه .

درې پېرې يې دا دُعا اوکړه ، ناګهانه په آس باندې يو سور کس راغی ، په لاس کې ورسره نيزه وه ، دې غل طرف ته راغی ، دا غل يې په نېزه باندې اُووهل ، او ځای په ځای يې قتل کړو . بيا دې کس ته راغی ، او ورته وې ويل : قُمْ . راپاڅه .

هغه چې دا اُوليد نو پوښتنه يې ورنه اُوکړه :

مَنْ أَنْتَ بِأَبِيْ أَنْتَ وَأُمِّيْ ؟ فَقَدْ أَغَاثَنِيَ اللهُ بِكَ الْيَوْمَ .

زما مور او پلار دې له تا قُربان وي ، ته څوک يې چې ستا په وجه الله جَلَّ جَلَالُهُ نن زما مدد اوکړو ؟

هغه ورته وويل : أَنَا مَلَكٌ مِنْ أَهْلِ السَّمَاءِ الرَّابِعَةِ .

زه د څلورم آسمان فرښته يم .

کله چې تا اوله دُعا اوکړه نو ما د آسمان د دَروازو کړنګار واوريد ، بيا چې کله تا دويمه دُعا اوکړه نو ما د آسمان والهؤ شور واوريد ، بيا چې کله تا دريمه دُعا اوکړه نو ما د الله ﷻ نه سوال اوکړو چې ددې غَل قتلول ماته اُوسپاري ( ماته اجازت اوشو نو ځکه زه ستا مدد د پاره راغلم ، او غَل مې قتل کړو ) . حضرت انس رضي الله عنه فرمايي :

فَمَنْ تَوَضَّأَ وَصَلَّى أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ، وَدَعَا بِهٰذَا الدُّعَاءِ، أُسْتُجِيبَ لَهُ، مَكْرُوْبًا كَانَ أَوْ غَيْرَ مَكْرُوْبٍ

پس چې څوک اَودس اوکړي او څلور رکعته مونځ اوکړي ، بيا دا مذکوره دُعا اوغواړي نو دده دُعا به قبلولې شي ، برابره خبره ده چې دا په يو مصيبت کې ګرفتار وي يا نه . (١)

(١) عيون الحكايات لابن جوزي رحمه الله ص ٨٩ الحكاية الخامسة والستون .

ابن ابي الدنيا په خپل کتاب کې دا واقعه داسې رانقل کړې : ذَكَرَ ابْنُ أَبِي الدُّنْيَا فِي كِتَابِ الْمُجَابِيْنَ، وَفِي الدُّعَاءِ عَنِ الْحَسَنِ . قَالَ : كَانَ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْأَنْصَارِ يُكَنَّى '' أَبَا مُعَلَّقٍ '' وَكَانَ تَاجِرًا يَتَّجِرُ بِمَالٍ لَهُ وَلِغَيْرِهِ . يَضْرِبُ بِهِ فِي الْآفَاقِ . وَكَانَ نَاسِكًا وَرِعًا . فَخَرَجَ مَرَّةً . فَلَقِيَهُ لِصٌّ مُقَنَّعٌ فِي السِّلَاحِ . فَقَالَ لَهُ : ضَعْ مَا مَعَكَ فَإِنِّي قَاتِلُكَ . قَالَ : فَمَا تُرِيْدُهُ مِنْ دَمِي ؟ شَأْنُكَ بِالْمَالِ . قَالَ : أَمَّا الْمَالُ فَلِيْ . وَلَسْتُ أُرِيْدُ إِلَّا دَمَكَ . قَالَ : أَمَّا إِذَا أَبَيْتَ فَذَرْنِيْ أُصَلِّيْ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ . قَالَ : صَلِّ مَا بَدَا لَكَ . فَتَوَضَّأَ ثُمَّ صَلَّى أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ . فَكَانَ مِنْ دُعَائِهِ فِي آخِرِ سُجُوْدِهِ أَنْ قَالَ : يَا وَدُوْدُ يَا وَدُوْدُ . يَا ذَا الْعَرْشِ الْمَجِيْدِ، يَا فَعَّالًا لِمَا تُرِيْدُ، أَسْأَلُكَ بِعِزِّكَ الَّذِيْ لَا يُرَامُ . وَبِمُلْكِكَ الَّذِيْ لَا يُضَامُ، وَبِنُوْرِكَ الَّذِيْ مَلَأَ أَرْكَانَ عَرْشِكَ أَنْ تَكْفِيَنِيْ شَرَّ هٰذَا اللِّصِّ، يَا مُغِيْثُ أَغِثْنِيْ . ثَلَاثَ مَرَّاتٍ . فَإِذَا هُوَ بِفَارِسٍ قَدْ أَقْبَلَ بِيَدِهِ حَرْبَةٌ قَدْ وَضَعَهَا بَيْنَ أُذُنَيْ فَرَسِهِ . فَلَمَّا بَصُرَ بِهِ اللِّصُّ أَقْبَلَ نَحْوَهُ . فَطَعَنَهُ فَقَتَلَهُ . ثُمَّ أَقْبَلَ إِلَيْهِ . فَقَالَ : قُمْ . فَقَالَ : مَنْ أَنْتَ بِأَبِيْ أَنْتَ وَأُمِّيْ ؟ فَقَدْ أَغَاثَنِيَ اللهُ بِكَ الْيَوْمَ . فَقَالَ : أَنَا مَلَكٌ مِنْ أَهْلِ السَّمَاءِ الرَّابِعَةِ . دَعَوْتَ بِدُعَائِكَ الْأَوَّلِ فَسَمِعْتُ لِأَبْوَابِ السَّمَاءِ قَعْقَعَةً . ثُمَّ دَعَوْتَ بِدُعَائِكَ الثَّانِيْ . فَسَمِعْتُ لِأَهْلِ السَّمَاءِ ضَجَّةً . ثُمَّ دَعَوْتَ بِدُعَائِكَ الثَّالِثِ . فَقِيْلَ لِيْ : دُعَاءُ مَكْرُوْبٍ فَسَأَلْتُ اللهَ أَنْ يُوَلِّيَنِيْ قَتْلَهُ . قَالَ الْحَسَنُ : فَمَنْ تَوَضَّأَ وَصَلَّى أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ، وَدَعَا بِهٰذَا الدُّعَاءِ، أُسْتُجِيبَ لَهُ، مَكْرُوْبًا كَانَ أَوْ غَيْرَ مَكْرُوْبٍ . ذكره الحافظ ابن القيم رحمه الله في الجواب الكافي لمن سال عن الدواء الشافي ١ /١٣ فَصْلُ أَوْقَاتُ الْإِجَابَةِ . و اخرجه الحافظ ابن حجر في الاصابة ج٤ ص ١٨٢ في ترجمة ابومعلق مع ذكر الاسناد له ، قال ابوموسى: اوردته بتمامه في كتاب الوظائف .

## ۱۷ . په مونځ سره د حضرت آدم عليه السلام د ځټ دانه ختمه شوه

په "حياة الصحابه" کې دا واقعه ذکر ده : حضرت عبدالله بن عُمر رضي الله عنهما فرمايي چې د حضرت آدم عليه السلام په ځټ دانه راختلې وه ، دوی مونځ اوکړو نو هغه دانه لاندې سينې ته راغله ، بيا يې مونځ اوکړو نو هغه دانه خېټې ته راغله ، چې بيا يې مونځ اوکړو نو ګيټې ته راغله ، چې بيا يې مونځ اوکړو نو د خپې غټې ګټې ته راغله ، او چې بيا يې مونځ اوکړو نو هغه دانه مکمل ختمه شوه . (۱)

## ۱۸ . د مونځ ګزارو مخونه به د قيامت په ورځ د نمر په شان پړقيږي او جنت ته به داخليږي

د قيامت په ورځ به د مونځ ګزارو د درې قِسمه ډَلو په باره کې جنت ته د داخليدو حکم اوشي : اوله ډَله به داسې خلق وي چې د هغوی مخونه به د نمَر په شان پړقيږي ، فرښتې به د دوی نه پوښتنه اوکړي :

مَنْ أَنْتُمْ ؟ تاسو څوک يئ ؟ ( او څه عمَل کوئ چې په دومره اِعزاز سره جنت ته داخلولې شئ ؟ )

دوی به ورته ووايي : نَحْنُ الْمُحَافِظُوْنَ عَلَى الصَّلَاةِ . مونږ به د مونځ حفاظت کولو .

فرښتې په ورنه پوښتنه اوکړه :

---

(۱) وعند عبد الرزاق عنه قال : خرجت في عنق آدم عليه السلام شأفة يعني _ بَثرة _ فصلّى صلاة فانحدرت إلى صدره ، ثم صلّى صلاة فانحدرت إلى الحقو، ثم صلّى صلاة فانحدرت إلى الكعب، ثم صلّى صلاة فانحدرت إلى الإبهام، ثم صلّى صلاة فذهبت . كذا في الكنز . حياة الصحابه ۱۰۹/۴ .

وعند ابن عساكر عنه قال: الصلوات كفارات لما بعدهنّ ، إنّ آدم خرجت به شأفة في إبهام رجله، ثم ارتفعت إلى أصل قدميه، ثم ارتفعت إلى ركبتيه ، ثم ارتفعت إلى أصل حَقويه ، ثم ارتفعت إلى أصل عنقه، فقام فصلّى فنزلت عن منكبيه ، ثم صلّى فنزلت إلى حَقويه، ثم صلّى فنزلت إلى ركبتيه، ثم صلّى فنزلت إلى قدميه ، ثم صلّى ذهبت . كذا في الكنز. حياة الصحابه ۱۱۰/۴ اقوال ابن مسعود وسلمان وابي موسى في الصلاة .

كَيْفَ كَانَتْ مُحَافَظَتُكُمْ عَلَى الصَّلَاةِ ؟ تاسو به د مانځه څنګه حفاظت کولو ؟

دوی به ورته ووايي :

كُنَّا نَسْمَعُ الْأَذَانَ وَنَحْنُ فِي الْمَسْجِدِ.

مونږ به آذان په داسې حالت کې اوریدلو چې مونږ به د مخکې نه په جُمات کې (د مانځه په انتظار) ناست وو .

بیا به دویمه ډله راشي ، د هغوی مخونه به د څوارلسمې شپې د سپوږمۍ په شان وي ، فرښتې به د دوی نه هم پوښتنه اوکړي چې تاسو څوک یئ ؟ دوی به ورته ووايي چې مونږ د مونځ حفاظت کوونکي وو . فرښتې به ورته اووايي چې تاسو به څنګه د مانځه حفاظت کولو ؟ دوی به ورته ووايي چې :

كُنَّا نَتَوَضَّأُ قَبْلَ الْوَقْتِ ثُمَّ نَحْضُرُ مَعَ سَمَاعِ الْأَذَانِ .

مونږ به د وخت نه مخکې اودس کولو ، بیا به د آذان اوریدلو سره جُمات ته تللو ، او مونځ به مو کولو .

بیا به دریمه ډله راشي ، د هغوی مخونه به د ستورو په شان ځلیږي ، فرښتې به د دوی نه هم پوښتنه اوکړي : تاسو څوک یئ ؟ دوی به ورته ووايي چې مونږ د مونځ حفاظت کوونکي وو . فرښتې به ورته پوښتنه اوکړي : تاسو به څنګه د مانځه حفاظت کولو ؟ دوی به ورته اووايي : كُنَّا نَتَوَضَّأُ بَعْدَ الْأَذَانِ . (۱)

مونږ به د آذان نه پس اودس کولو (بیا به فورًا جُمات ته تللو ، او مونځ به مو کولو ) .

---

(۱) إذا كان يوم القيامة أمر بطبقات المصلين إلى الجنة . فيأتي أول زمرة كالشمس . فتقول الملائكة : مَنْ أَنْتُمْ ؟ قالوا : نَحْنُ الْمُحَافِظُونَ عَلَى الصَّلَاةِ . قالوا : كَيْفَ كَانَتْ مُحَافَظَتُكُمْ عَلَى الصَّلَاةِ ؟ قالوا : كُنَّا نَسْمَعُ الْأَذَانَ وَنَحْنُ فِي الْمَسْجِدِ . ثم تأتي زمرة أخرى كالقمر ليلة البدر فتقول الملائكة : مَنْ أَنْتُمْ ؟ قالوا : نَحْنُ الْمُحَافِظُونَ عَلَى الصَّلَاةِ . قالوا : كَيْفَ كَانَتْ مُحَافَظَتُكُمْ عَلَى الصَّلَاةِ ؟ قالوا : كُنَّا نَتَوَضَّأُ قَبْلَ الْوَقْتِ ثُمَّ نَحْضُرُ مَعَ سَمَاعِ الْأَذَانِ . ثم تأتي زمرة أخرى كالكواكب . فتقول الملائكة : مَنْ أَنْتُمْ ؟ قالوا : نَحْنُ الْمُحَافِظُونَ عَلَى الصَّلَاةِ . قالوا : كَيْفَ كَانَتْ مُحَافَظَتُكُمْ عَلَى الصَّلَاةِ ؟ قالوا : كُنَّا نَتَوَضَّأُ بَعْدَ الْأَذَانِ . نزهة المجالس و منتخب النفائس ۱ / ۱۱۲ باب فضل الصلوات ليلا ونهارا ومتعلقاتها . طبع المطبعة الكاستلية مصر .

**نوټ** : همدغه شان خبره امام غزالي رحمه الله په إحياء العلوم کې هم رانقل کړی. (۱)

## ۱۹ . په پابندۍ سره مونځ کول د مُتّقيانو صفت دی

**۱**. الله تعالی د مُتّقيانو څه خاص صِفات ذکر کړي، په هغې کې يو صِفت مونځ قائمول هم دی، الله تعالی فرمايي:

﴿الٓمٓ . ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ فِيْهِ هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ . الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ﴾. (۲)

ترجمه: الٓمٓ دا (قرآن کريم) هغه کتاب دی چې په دې کې هيڅ شک نشته، دا هدايت دی د مُتّقيانو (پرهيزګارانو) د پاره، مُتّقيان هغه خلق دي چې دوی په غيبو باندې اِيمان راوړي، مونځ قائموي، او مونږ چې ورته کوم مال (وغيره) ورکړی د هغې نه (د الله ﷻ د رَضا د پاره) خرچ کوي.

په وروسته آيتونو کې الله تعالی د مُتّقيانو نور صفات هم ذکر کړه چې په قرآن کريم او مخکيني کتابونو باندې اِيمان راوړي، او په آخرت يقين لري. (۳)

وروسته الله ﷻ د مُتّقيانو په باره کې وفرمايل:

﴿أُولٰٓئِكَ عَلٰى هُدًى مِّنْ رَّبِّهِمْ وَأُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴾. (۴)

---

(۱) ويقال إنه إذا كان يوم القيامة يحشر قوم وجوههم كالكوكب الدري. فتقول لهم الملائكة: ما كانت أعمالكم؟ فيقولون: كنا إذا سمعنا الأذان قمنا إلى الطهارة لا يشغلنا غيرها. ثم تحشر طائفة وجوههم كالأقمار. فيقولون بعد السؤال: كنا نتوضأ قبل الوقت. ثم تحشر طائفة وجوههم كالشمس. فيقولون: كنا نسمع الأذان في المسجد. احياء علوم الدين ۱ / ۱۴۹ كتاب أسرار الصلاة ومهماتها فَضِيلَةُ الجَمَاعَةِ. طبع: دار المعرفة بيروت.

(۲) سورة البقرة آية ۱ – ۳.

(۳) ﴿ وَالَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِمَآ أُنْزِلَ إِلَيْكَ وَمَآ أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ وَبِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ﴾. سورة البقرة آية ۴

(۴) سورة البقرة آية ۵.

ترجمه : همدا خلق د خپل رَب د طرفه په هدايت باندې دي ، او همدا خلق کامياب دي .

۲ . همدارنګې مونځ د کامِل مُومنانو صِفت خودل شوی ، الله تعالی فرمايي :

﴿ هُدًى وَّبُشْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ ۔ الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ﴾.(۱)

ترجمه : دا قرآن کريم هدايت او زيرې دی د مومنانو د پاره ، مومنان هغه خلق دي چې دوی مونځ قائموي ، زکوة ورکوي ، او دوی په آخِرت پوخ يقين لري .

۳ . په سورة لقمان کې مونځ کول او زکوة ورکول د مُحسِنِينو ( نيکانو خلقو ) صِفت خودل شوی ، الله تعالی فرمايي :

﴿ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْحَكِيْمِ ۔ هُدًى وَّرَحْمَةً لِّلْمُحْسِنِيْنَ ۔ الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ۔ اُولٰٓئِكَ عَلٰى هُدًى مِّنْ رَّبِّهِمْ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴾(۲)

ترجمه : دا آيتونه دي د داسې کتاب چې د حِکمت واله دی ، ( دا ) هدايت او رَحمت دی د مُحسِنينو ( نيکانو ) د پاره ، ( مُحسِنين هغه خلق دي : ) کوم چې مونځ قائموي ، زکوة ورکوي ، او دوی په آخِرت يقين کوي ، همدا خلق د خپل رَب د طرفه په هدايت دي ، او همدا خلق کاميابي ( نِجات ) موندونکي دي .

## ۲۰ . د مونځ کوونکو د پاره بشارت

په سورة الانفال کې الله تعالی اول د مومنانو څه صفات ذکر کړي ، بيا يې د دوی د پاره د اُوچتو درجو ، مغفرت او رِزق وعده کړی ، الله ربّ العزت فرمايي :

﴿ اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ وَاِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ اٰيٰتُهٗ زَادَتْهُمْ اِيْمَانًا وَّعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ۔ الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ۔ اُولٰٓئِكَ هُمُ

(۱) سورة النمل آية ۲ ، ۳ .

(۲) سورة لقمان آية ۲ _ ۵ .

الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا ۚ لَهُمْ دَرَجٰتٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَمَغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ﴾ (۱)

ترجمه : بيشکه (کامل) مومنان هغه خلق دي چې کله د (هغوی د وړاندې د) الله ذکر اوکړې شي (يعنی د هغه نوم واخيستلې شي يا د هغه وعيدونه ذکر کړې شي) نو د دوی زړونه اُويرېږي ، اوچې کله په دوی باندې د الله آيتونه اُولوستلې شي نو دا د دوی ايمان نور هم زيات (او مضبوط) کړي ، او دوی په خپل رب باندې توکّل کوي . دا هغه خلق دي چې مونځ قائموي او مونږ چې ورته څه ورکړي دي د هغې نه (د الله په لاره کې) خرچ کوي ، همدا خلق رښتيني مومنان دي ، د دوی د پاره د خپل رب سره اُوچتې درجې دي ، او (د دوی د پاره) بخنه او د عزت روزي ده .

## ۲۱ . د مانځه فوائد :

### ۱ . د مانځه لس فوائد :

حافظ ابن حجر رحمه الله په " مُنبّهات " کې دا حديث رانقل کړی ، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

اَلصَّلٰوةُ عِمَادُ الدِّيْنِ ، وَفِيْهَا عَشْرُ خِصَالٍ : زَيْنُ الْوَجْهِ ، وَنُوْرُ الْقَلْبِ ، وَرَاحَةُ الْبَدَنِ ، وَأُنْسٌ فِي الْقَبْرِ ، وَمَنْزِلُ الرَّحْمَةِ ، وَمِفْتَاحُ السَّمَآءِ ، وَثِقْلُ الْمِيْزَانِ ، وَمَرْضَاةُ الرَّبِّ ، وَثَمَنُ الْجَنَّةِ ، وَحِجَابٌ مِّنَ النَّارِ . وَمَنْ أَقَامَهَا فَقَدْ أَقَامَ الدِّيْنَ ، وَمَنْ تَرَكَهَا فَقَدْ هَدَمَ الدِّيْنَ . (۲)

مونځ د دِين ستَن ده ، او په دې کې لس (۱۰) صفتونه (او فائدې) دي :

۱ . مونځ د مَخ ښائست دی ، ۲ . د زړه رَڼا ده ، ۳ . د بدن راحت دی ، ۴ . په قبر کې ملګرې دی ، ۵ . وخت د نازليدو د رَحمت دی ، ٦ . د آسمان ګُنجي ده ، ۷ . سبب د دَروند والي د تلې د ميزان دی ، ۸ . سبب د رَضامندۍ د الله تعالی دی ، ۹ . د جنت قيمت

(۱) سُورة النمل آية ۲ ، ۳ .

(۲) منبّهات ابن حجر عسقلاني باب العشاري .

دی، ۱۰. او د جهنم د اور نه پَرده ده . پس چا چې دا مونځ اوکړو نو ده دِين قائم کړو ، او چا چې مونځ پريخود نو ده دِين پريخود .

## ۲ . د مانځه نهه فوائد :

علامه ابن حجر رحمه الله په " مُلبِّهات "کې دا هم نقل کړي :

وَقَالَ عُثْمَانُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : مَنْ حَفِظَ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسَ لِوَقْتِهَا وَ دَاوَمَ عَلَيْهَا أَكْرَمَهُ اللهُ بِتِسْعِ كَرَامَاتٍ : اَوَّلُهَا أَنْ يُّحِبَّهُ اللهُ ، وَيَكُوْنُ بَدَنُهُ صَحِيْحًا ، وَيَحْرِسُهُ الْمَلَائِكَةُ ، وَ تَنْزِلُ الْبَرَكَةُ فِيْ دَارِهِ ، وَ يَظْهَرُ عَلَى وَجْهِهِ سِيْمَاءُ الصَّالِحِيْنَ ، وَيُلَيِّنُ اللهُ قَلْبَهُ ، وَ يَمُرُّ عَلَى الصِّرَاطِ كَالْبَرْقِ اللَّامِعِ ، وَ يُنْجِيْهِ اللهُ مِنَ النَّارِ ، وَ يُنْزِلُهُ اللهُ فِيْ جَوَارِ الَّذِيْنَ لَاخَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَاهُمْ يَحْزَنُوْنَ .(۱)

. حضرت عثمان رضي الله عنه فرمايي : څوک چې د پنځو مونځونو په خپل وخت کې حفاظت کوي او هميشه يې کوي نو الله ﷻ به د داسې کس اِکرام په نهه (۹) عزتونو سره اوکړي : اول دا چې الله تعالی به د ده سره محبت اوکړي ، (دويم دا چې) د ده بدن به صحيح وي ، ( دريم دا چې) فرښتې به د ده حفاظت کوي ، ( څلورم دا چې) د ده په کور کې به برکت نازليږي ( پنځم دا چې) د ده په مخ باندې به د نيکانو خلقو علامې ظاهرې شي ، (شپږم دا چې) الله ﷻ به د ده زړه نرم کړي ، ( اووم دا چې) په پُل صراط باندې به د بجلۍ د پړَق په شان تيريږي (اَتم دا چې) الله ﷻ به ده ته د اور نه نجات ورکړي ( نهم دا چې) الله ﷻ به دې د داسې خلقو په ګاونډ کې نازل کړي چې په هغوی باندې به نه څه ويره وي ، او نه به دوی غَمجَن وي .

۳ . فقيه ابو الليث ثمرقندي رحمه الله په " تَنبِيه الغافلين " کې د مانځه د فضائلو متعلق دا حديث ذکر کړې دی ، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

---

(۱) منهاب ابن حجر عسقلاني باب السـاعي .

مونځ د الله تعالی د رَضا د ټولو نه غټه ذريعه ده ، د فرښتو د محبت ذريعه ده ، د اَنبياء کرامو طريقه ده ، د الله ﷻ د مَعرفت رڼا ده ، د اِيمان جَرړه او بُنياد دی ، د دُعا او اَعمالو قبليدو ذريعه ده ، په مونځ سره په رِزق کې برکت راځي ، مونځ د دُشمنانو خِلاف اَسلحه ده ، شيطان ته ناخوښه عمل دی ، مونځ به مَلکُ الموت ته د مونځ گُزار سفارس کوي ( چې د ده رُوح په آسانه واخله ) ، مونځ د مسلمان په زړه کې يو نُور پيدا کوي ، په قبر کې د فرش غوړيدو ذريعه ده ، مونځ د مُنکر او نکير د پاره جواب ورکوونکې دی ، مونځ په قبر کې د انسان د پاره د قيامته پورې غَم خوار ملگرې دی ، کله چې د قيامت ورځ شي نو مونځ به د ده د سَر د پاسه وريځ وي ، د ده د سَر تاج به وي ، او د ده د بدن لباس به وي ، مونځ به د ده د پاره د قيامت په ورځ نُور وي چې د ده مخکې به روان وي ، د ده او د جهنم په مينځ کې به حِجاب وي ، مونځ به د مؤمنانو د پاره د الله ﷻ د وړاندې حُجت وي ، د ده د نيکو اَعمالو تلې لره به درنَوونکې وي ، مونځ به په پُلِ صراط باندې د تيريدلو د پاره اِجازت نامه وي او د جنت کُنجي به وي ، ځکه مونځ مُشتمل دی د الله ﷻ په تحميد ، تسبيح ، تقديس او تعظيم باندې ، همدارنگې مونځ مشتمل دی په قِراءة ، دُعا او تَمجِيد باندې :

وَ إِنَّ أَفْضَلَ الْأَعْمَالِ كُلِّهَا الصَّلَاةُ لِوَقْتِهَا . (۱)

او ځکه چې په ټولو اعمالو کې بهترين عمل په خپل وخت کې مونځ کول دي .

---

(۱) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « اَلصَّلَاةُ مَرْضَاةٌ لِلرَّبِّ تَبَارَكَ وَتَعَالَى، وَحُبُّ الْمَلَائِكَةِ ، وَسُنَّةُ الْأَنْبِيَاءِ، وَنُوْرُ الْمَعْرِفَةِ ، وَأَصْلُ الْإِيْمَانِ ، وَ إِجَابَةُ الدُّعَاءِ ، وَقَبُوْلُ الْأَعْمَالِ ، وَبَرَكَةٌ فِي الرِّزْقِ ، وَرَاحَةٌ لِلْأَبْدَانِ. وَسِلَاحٌ عَلَى الْأَعْدَاءِ ، وَكَرَاهِيَةٌ لِلشَّيْطَانِ ، وَشَفِيْعٌ بَيْنَ صَاحِبِهَا وَبَيْنَ مَلَكِ الْمَوْتِ ، وَسِرَاجٌ فِي قَبْرِهِ ، وَفِرَاشٌ تَحْتَ جَنْبِهِ . وَجَوَابٌ مَعَ مُنْكَرٍ وَنَكِيْرٍ ، وَمُؤْنِسٌ فِي قَبْرِهِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ . فَإِذَا كَانَتِ الْقِيَامَةُ صَارَتِ الصَّلَاةُ ظِلًّا فَوْقَهُ وَتَاجًا عَلَى رَأْسِهِ . وَلِبَاسًا عَلَى بَدَنِهِ ، وَنُوْرًا يَسْعَى بَيْنَ يَدَيْهِ ، وَسِتْرًا بَيْنَهُ وَبَيْنَ النَّارِ ، وَحُجَّةً لِلْمُؤْمِنِيْنَ بَيْنَ يَدَيِ الرَّبِّ تَبَارَكَ وَتَعَالَى ، وَثِقْلًا فِي الْمَوَازِيْنِ ، وَجَوَازًا عَلَى الصِّرَاطِ ، وَمِفْتَاحًا لِلْجَنَّةِ ، لِأَنَّ الصَّلَاةَ تَسْبِيْحٌ وَتَحْمِيْدٌ ، وَتَقْدِيْسٌ وَتَعْظِيْمٌ وَقِرَاءَةٌ ، وَدُعَاءٌ ، وَ إِنَّ أَفْضَلَ الْأَعْمَالِ كُلِّهَا الصَّلَاةُ لِوَقْتِهَا »

تنبيه الغافلين باحاديث سيد الأنبياء والمرسلين للسمرقندي ۱ /۲۷۵ بَابُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ طبع دار ابن كثير، دمشق بيروت ، نزهة المجالس و منتخب النفائس باب فضل الصلوات ليلا و نهار و متعلقاتها .

۴ . **د مونځ گزار د پاره درې عزتونه** : رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :

لِلْمُصَلِّيْ ثَلَاثُ كَرَامَاتٍ : يَتَنَاثَرُ الْبِرُّ عَلَى رَأْسِهِ مِنْ عَنَانِ السَّمَاءِ إِلَى مَفْرَقِ رَأْسِهِ ، وَالْمَلَائِكَةُ مَحْفُوْفَةٌ مِنْ قَدَمَيْهِ إِلَى عَنَانِ السَّمَاءِ ، وَمَلَكٌ يُنَادِيْ : « لَوْ يَعْلَمُ الْعَبْدُ مَنْ يُنَاجِيْ مَا انْتَقَلَ مِنْ صَلَاتِهِ » . (۱)

مونځ گزار ( چې تر څو پورې په مونځ کې وي نو دده ) د پاره درې خصوصي عزتونه دي : ۱ . د آسمان نه تر دده د سَر پورې په ده باندې د الله ﷻ د طرفه رحمتونه راوريږي (او د څلورو واړو طرفونو نه د الله ﷻ په رحمت کې راگېر وي) . ۲ . دده د قدمونو نه تر د آسمان پورې فرښتو دې په خپل حفاظت کې اخيستې وي ، ۳ . يوه فرښته دا آواز کوي که چيرته دې بنده ته دا معلومه شي چې دې د چا سره مُناجات او خبرې کوي نو بيا به هيڅ کله د مانځه نه بل طرف ته مُنتقِل نشي ( يعنی هميشه به په مانځه ولاړ وي ، او هيڅ کله به سلام او نه گرځي ) .

## ۳۲ . پنځه وخته د مونځ فرض کيدو حِکمتونه

په مسلمانانو باندې په شواروز کې پنځه وخته مونځ فرض دی . اوس سوال دادی په دې کې څه حِکمت دی چې دا مونځونه په پنځو وختونو کې فرض دي ، په کم يا زيات کې ندي فرض؟

نو ددې يو جواب دادی چې دا آمرِ توقِيفي دی ، يعنی دا په شريعت باندې موقوف دی ، انسان که ددې په حِکمتونو باندې پوهه شي او که پوهه نشي خو دې به بَغير د چُون و چرا نه په دې باندې عمل کوي ، ځکه دا د شريعت حُکم دی .

دويم جواب دادی چې الله ﷻ حکيم ذات دی ، او دا قاعده ده چې : فِعْلُ الْحَكِيْمِ لَايَخْلُوْا عَنِ الْحِكْمَةِ . د حکيم فِعل د حِکمت نه خالي نه وي .

نو لازمي به په دې کې د مسلمانانو د پاره ډير حِکمتونه او مصلحتونه وي ، علماؤ ددې ډير حِکمتونه ذکر کړي ، خو زه به درته يو څو حِکمتونه ذکر کړم :

(۱) تنبيه الغافلين بأحاديث سيد الأنبياء والمرسلين للسمرقندي ۱ /۲۷۴ بَابُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ ط . دار ابن كثير دمشق بيروت

**اول حکمت** : کله چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم د معراج په شپه باندې د الله ﷻ دَربار ته تشريف وړې ورو ، نو الله رب العزت نبي ﷺ ته پنځوس مونځونه په تحفه کې ورکړل، بيا دنبي عليه السلام په بار بار سفارش سره پنځه څلويښت معاف کړې شو ، او صرف پنځه پاتې شو ، خو اصول دا جوړ کړې شو چې :

﴿مَن جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا ﴾. (۱)

ترجمه : څوک چې ( د الله ﷻ دربار ته ) نيکي راوړي نو ده ته به ددې نيکۍ يو په لس چنده بدله ملاويږي .

اوس چې څوک دا پنځه مونځونه کوي نو الله ﷻ به ده ته ثواب د پنځوسو مونځونو ورکوي .

که دا پنځوس مونځونه فرض وی نو بيا به ډيرو خلقو نه شو کولی ، نو ځکه الله ﷻ په دې اُمت مهرباني اوکړه ، او صرف پنځه مونځونه يې وربانديې فرض کړل .

**دويم حکمت** : بعضې علماء وايي چې دا پنځه مونځونه د حواسِ خَمسه وُ د شُکريې په طور مقرر شوي ، او بيا دوی د رکعتونو د تعداد حِکمت هم داسې بيان کړی چې : الله تعالی انسان ته پنځه قوتونه ( يعنی حواسِ خَمسه ) ورکړي :

۱ . قُوَّةِ لَامِسَه ( يعنی د مَسَه کولو قوت ) : ددې په ذريعه انسان د يَخو او ګرمو شيانو عِلم حاصلوي ، نو ددې د شُکريې د پاره په ده باندې دوه رکعته د سهَر مونځ فرض کړې شو .

۲ . قُوَّةِ شَامَّه ( يعنی د بُويَولو قوت ) : ددې په ذريعه انسان د څلورو طرفونو نه بُوی محسوسولې شي ، نو ددې د شُکريې د پاره په ده باندې د ماسپخين څلور رکعته مونځ فرض کړې شو .

۳ . قُوَّةِ ذَائِقه ( يعنی د څکلو قوت ) : ددې په ذريعه انسان د څلور قِسمه شيانو خوَند معلومولې شي : خوږ ، تريخ ، ترُش ، ترِيو . نو ددې د شُکريې د پاره په ده باندې د مازيګر څلور رکعته مونځ فرض کړې شو .

---

(۱) الانعام آيت ۱٦٠ .

۴ . قُوَّةِ بَاصِرَه ( يعنی د ليدلو قوت ) : ددې سترګو په ذريعه انسان درې طرفونو ته کتل کولې شي : خې طرف ته ، ګس ( چَپ ) طرف ته ، او مخې طرف ته . نو ددې په شکريه کې په انسان باندې د ماښام درې رکعته مونځ فرض کړې شو .

۵ . قُوَّةِ سَامِعه (يعنی د آوريدو قوت ) : د غوږونو په ذريعه انسان د څلورو طرفونو نه آواز آوريدې شي . نو ددې په شکريه کې په ده باندې د ماسخوتن څلور رکعته مونځ فرض کړې شو .

لهٰذا انسان چې کله دا پنځه مونځونه کوي نو ګويا دا ددې پنځو نِعمتونو شکريه اداء کوي .

**دريم حکمت** : د انسان د ژوند ښکاره نِعمتونه پنځه دي : ۱ . خوراک څکاک ۲ . جامې ۳ . کور ۴ . بي بي ۵ . بچي .

د ځان شکريه په ايمان راوړلو او د لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِقرار کولو سره اَداء شوه ، او ددې باقي پنځو ښکاره نِعمتونو شکريه په پنځو مونځونو کولو سره اداء کيږي . نو څوک چې د اِيمان نه روستو دا پنځه مونځونه په پابندۍ سره اداء کوي نو دا د الله ﷻ د نِعمتونو شکرګزار بنده جوړيږي .

**څلورم حکمت** : حضرت علي رضي الله عنه به فرمايل : چې چاته پنځه نِعمتونه ملاؤ شو نو دادې پوهه شي چې ده ته د الله ﷻ ټول نِعمتونه ملاؤ شو :

۱ . د شکر اداء کولو والا ژبه ۲ . د ذِکر کولو والا زړه ۳ . مِحنت برداشت کوونکې بَدن ۴ . نېکه بي بي ۵ . په آسانه طريقې سره رِزق ملاويدل .

دا پنځه مونځونه ددې پنځو نِعمتونو د شکريې اداء کولو د پاره کافي دي .

**پنځم حکمت** : د انسان ژوند په پنځو اَحوالو مشتمل دی :

۱ . آوديدل ۲ . کيناستل ۳ . څملاستل ۴ . وِيښيدل ۵ . اُوده کيدل .

په دې ټولو حالاتو کې په انسان باندې د الله ﷻ د طرفه بې شماره نِعمتونه او رَحمتونه راوريږي ، لکه الله تعالی فرمايي :

﴿وَإِن تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا﴾. (۱)

ترجمه: او كه چيرته تاسو د الله ﷻ نعمتونه شمارل اوغواړئ نو دا نه شئ شمارلی.

اوس كه يو انسان ددې نعمتونو شكريه اداء كول غواړي نو په ظاهره دا ناممكنه معلوميږي، خو الله ﷻ دا احسان اوكړو چې په ده باندې يې دا پنځه مونځونه فرض كړل، اوس چې يو انسان دا پنځه مونځونه په پابندۍ سره كوي نو دا د الله تعالی د نعمتونو شكريه اَداء كوونكې جوړيږي.

**شپږم حكمت:** په شريعتِ مُحمّدي كې د نجاست نه د پاكۍ حاصلولو د پاره پنځه قِسمه غُسلونه مقرر شوي:

۱. د جُنابَت غُسل ۲. د حيض غُسل ۳. د نِفاس غُسل ۴. د اِسلام راوړلو غُسل ۵. د مړي غُسل. دا پنځه غُسلونه د هر قِسمه حقيقي او حُكمي پَليتو لرې كولو د پاره كافي دي.

الله تعالی په هر مسلمان باندې د ورځې پنځه مونځونه فرض كړل، ددې د پاره چې څوك دا پنځه مونځونه په پابندۍ سره كوي هغه به د هر قِسمه باطني پليتو نه پاكيږي.

په پنځو مونځونو سره د گناهونو نه د پاكيدو خبره په احاديثو كې هم ذكر ده. (۲)

**اووم حكمت:** قِبلې پنځه دي: ۱. بيتُ الله (د اُمتِ مُحمّديه قِبله)

۲. بَيتُ المقدس (د يهوديانو قِبله) ۳. مَكَانًا شَرْقِيًّا (يعنی مشرقي طرف، د عيسايانو قِبله) ۴. بيتُ المَعمُور (د فرښتو قِبله) ۵. وَجهُ الله (د هغه چا قِبله چې

---

(۱) سورة النحل آية ۱۸.

(۲) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «أَرَأَيْتُمْ لَوْ أَنَّ نَهْرًا بِبَابِ أَحَدِكُمْ يَغْتَسِلُ مِنْهُ كُلَّ يَوْمٍ خَمْسَ مَرَّاتٍ، هَلْ يَبْقَى مِنْ دَرَنِهِ شَيْءٌ؟» قَالُوْا: لَا يَبْقَى مِنْ دَرَنِهِ شَيْءٌ، قَالَ: «فَذٰلِكَ مَثَلُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ يَمْحُو اللهُ بِهِنَّ الْخَطَايَا». صحيح مسلم بَابُ الْمَشْيِ إِلَى الصَّلَاةِ تُمْحَى بِهِ الْخَطَايَا، وَتُرْفَعُ بِهِ الدَّرَجَاتُ رقم الحديث ۲۸۳ (۶۶۸) باب فضل الصلوات الخمس، صحيح البخاري باب: الصلوة الخمس كفارة رقم الحديث ۵۲۸، مشكاة المصابيح كتاب الصلوة الفصل الاول رقم الحديث ۵۶۵ (۲)، سنن الترمذي باب مثل الصلوات الخمس رقم ۲۸۶۸.

لار ورنه ورکه شوې وي او د قِبلې پته ورته نه لږي ، اوس چې دې د تَحَرِّي نه پس کوم طرف ته مونځ کوي دا صحيح دی . (۱)

پس کله چې ثابته شوه چې قِبلې پنځه دي نو عبادت کوونکي خلق هم پنځه قِسمه شو . الله تعالى په دې اُمت باندې پنځه مونځونه فرض کړل ، ددې د پاره چې د دوی ددې ټولو عبادت ګزارو سره مناسبت پيدا شي ، او د هغوی د ټولو عباداتو په اَندازه دوی ته هم اَجرو ثواب حاصل شي .

**اَتم حِکمت** : د دُنياوي ژوند په ختميدو سره انسان د پنځو قِسمه مصيبتونو او سختيو سره مخامخ کيږي : ۱ . د مرګ سختي ۲ . د قبر عذاب ۳ . د قيامت په ورځ عمَلنامه ملاويدل ۴ . په پُلِ صراط باندې تېريدل ۵ . د جنت په دَروازه تيريدل .

اوس کوم انسان چې د ورځې دا پنځه مونځونه په پابندۍ سره کوي نو الله تعالى به په ده باندې دا پنځه واړه مصيبتونه آسان کړي . (۲)

حافظ ابن حجر رحمه الله په " زواجِر " کې دا حديث رانقل کړی ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ حَافَظَ عَلَى الصَّلَاةِ أَكْرَمَهُ اللهُ بِخَمْسِ خِصَالٍ : يَرْفَعُ عَنْهُ ضِيْقَ الْعَيْشِ ، وَعَذَابَ الْقَبْرِ ، وَيُعْطِيْهِ اللهُ كِتَابَهُ بِيَمِيْنِهِ ، وَيَمُرُّ عَلَى الصِّرَاطِ كَالْبَرْقِ ، وَيَدْخُلُ الْجَنَّةَ بِغَيْرِ حِسَابٍ . (۳)

څوک چې د مونځونو حفاظت کوي نو الله تعالى به په پنځو خصلتونو سره دده اِعزاز او اِکرام اوکړي : ۱ . دده نه به د رِزق تَنګي لرې کړي ۲ . د عذابِ قبر نه به يې محفوظ اوساتي ۳ . الله تعالى به ورته د قيامت په ورځ عمَل نامه په خي لاس کې ورکړي ۴ . په پُلِ صراط باندې به د بجلۍ د پړَق په شان تېر شي ۵ . جنت ته به بې حِسابه داخل شي .

---

(۱) الله تعالى فرمايي : وَلِلّٰهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ فَأَيْنَمَا تُوَلُّوا فَثَمَّ وَجْهُ اللّٰهِ ۚ إِنَّ اللّٰهَ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ البقرة آيت ۱۱۵ .

(۲) نماز کے اَسرار و رُموز ص ۸۴ ، خوَرې ملغلرې شپږمه حصه نمبر ۳۸ .

(۳) الزواجر عن اقتراف الكبائر لابن حجر الهيتمي ۱ /۲۲۶ الْكَبِيْرَةُ السَّابِعَةُ وَالسَّبْعُوْنَ تَعَمُّدُ تَأْخِيْرِ الصَّلَاةِ عَنْ وَقْتِهَا أَوْ تَقْدِيْمِهَا عَلَيْهِ . طبع دار الفكر . ، و تنبيه الغافلين .

## ۲۳ . الله تعالى د مونځ قائموونکو او خپل کور واله ته د مونځ حکم کوونکو مدحه کړی

حضرت اسماعيل عليه السلام به خپل کور واله ؤ ته د مانځه او زکوة حکم کولو نو الله تعالى دده مَدحه بيان کړی:

﴿ وَكَانَ يَأْمُرُ أَهْلَهُ بِالصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ ۖ وَكَانَ عِنْدَ رَبِّهِ مَرْضِيًّا ﴾. (۱)

حضرت اسماعيل عليه السلام به خپل کور واله ؤ ته د مانځه او زکوة حکم کولو ، او دی د خپل رَب په نزد ډيره غوره ؤ .

ددې په مقابل کې الله تعالى د مونځ ضائع کوونکو يا په مانځه کې د سستي کوونکو خلقو مذمت بيان کړی . (۲)

## ۲٤ . مونځ د رُوح غذا ده

لکه څرنګې چې د جِسم د تَقويَت دپاره د غِذا ضرورت وي نو همدغه شان د رُوح د تَقويَت د پاره هم د رُوحاني غِذا ضرورت وي ، بيا لکه څرنګې چې د ورځې څو پېرې غِذا ته ضرورت وي نو رُوح خو ډير لطِيف او باريکه شی دی ددې د پاره خو په طريقِ اولی د ورځې څو پېرې د غِذا ضرورت وي .

د همدې رُوحاني غِذا د پاره د ورځې پنځه وخته مونځونه فرض شوي ، چې په دې سره د رُوح تَقوِيت او صفائي راځي .

---

(۱) سورة مريم آية ٥٥ .

(۲) الله تعالى فرمايي : ﴿ فَخَلَفَ مِنْ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ أَضَاعُوا الصَّلٰوةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوٰتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا ﴾ . سورة مريم آية ٥٩ .

﴿ إِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ يُخٰدِعُوْنَ اللهَ وَهُوَ خَادِعُهُمْ ۚ وَإِذَا قَامُوْا إِلَى الصَّلٰوةِ قَامُوْا كُسَالٰى ۙ يُرَآءُوْنَ النَّاسَ وَلَا يَذْكُرُوْنَ اللهَ إِلَّا قَلِيْلًا ﴾ . سورة النساء آية ١٤٢ .

# ۲۵ . د مونځ کولو سائنسي او طبّي فوائد

مونځ لکه څرنګې چې د اَجرونو او ثوابونو ندړک بهترین عبادت او اَهمه فريضه ده نو همدغه شان په مانځه کولو کې د انسان د پاره ډير سائنسي او طِبّي فوائِد هم شته : ځکه که چيرته مونځ په صحيح طريقې سره اَداء کړې شي نو دا ( د فرضي عبادت سره سره ) د بدن د ظاهري او باطني اَندامونو د پاره يو بهترين وَرزِش اود ډيرو خطرناکو مرضونو عِلاج هم دى .

په دې نورو وَرزشونو کې قانون دادى چې دا د هر عُمر واله کس د پاره ځانله ځانله وَرزِش وي : د سړو د پاره ځانله وي او د ښځو د پاره ځانله ، د وړو د پاره ځانله وي او د غټو د پاره ځانله وي ، خو مونځ د فرضي عبادت سره سره د بدن د پاره داسې بهترين وَرزِش هم دى چې دا د هر عُمر ، او هر جِنس واله کس د پاره يو شان فائده مَند دى . (۱)

## د مونځ په کتلو سره د يو غير مُسلمه ډاکټر حيرانتيا

يو مُعتمد کس خپله واقعه بيان کړې چې يو ځل زه يُورَپ ته لاړم ، هلته د مانځه وخت راغى ، زه په مانځه باندې اُودريدم ، يو اَنګريز ماته د ډير وخت نه ولاړ وُ او په ډيرې حيرانيتا سره يې ماته کتل ، کله چې زه د مانځه نه فارِغ شوم نو هغه ماته وويل :

دا تا چې کوم وَرزِش اوکړو آيا دا طريقه تا زما د کتاب نه زده کړې ده ؟ ځکه زه د وَرزِش ماهِر ډاکټر يم ، او ما په خپل کتاب کې د وَرزش همدا طريقه خودلې ده په کومه طريقه چې اوس تا اوکړو ، او په دې طريقه وَرزش کولو سره انسان د سختو او پيچيده مرضونو نه محفوظه کيږي .

بيا دې ماهِر ډاکټر د دې وضاحت داسې اوکړو چې : که چيرته يو کس د ولاړې د وَرزش نه نيغ د سجدې ورزش ته لاړ شي نو په دې سره په زړه او دِماغو باندې غلط اَثر غورځيږي .

نو ځکه ما په خپل کتاب کې د وَرزش دا طريقه ليکلې ده چې : اول به انسان د ولاړې وَرزش اوکړي لاسونه به يې د نامه نه لاندې تړلي وي ، بيا به لږ راښکته شي د لاسونو او

---

(۱) سُنت نبوي اور جديد سائنس ج۱ ص۴۰ .

ملا ورزش به اوکړي ، بیا به سَر د ځمکې سره اُولږوي او وَرزش به اوکړي .

بیا دې انګریز ډاکټر دې مسلمان ته وویل : او دا تا چې اوس کوم وَرزش اوکړو نو دا خو داسې معلومېږي چې تا زما کتاب کتلې وُ ، ځکه داسې وَرزش خو صرف ماهرین کولې شي

دا کس وایي چې ما دې انګریز ډاکټر ته وویل : ما ستا کتاب نه لیدلې دی ، او نه مې د هغې نه دا طریقه زده کړې ده ، بلکه زه مسلمان یم ، اِسلام مونږ ته د مانځه حکم کړې دی ، دا خو ما خپل فرضي عبادت " مونځ " اوکړو ، او دا عبادت خو مونږ د ورځې پنځه پېرې کوو.

دې انګریز ډاکټر چې دا خبره واوریده نو ډېر حیران شو ، بیا یې د مانه د اِسلام او مونځ متعلق نور ډېر معلومات حاصل کړل .

# د مانځه په باره کې د یو اَمریکائي ډاکټر تجربه

د امریکې مشهور ډاکټر پروفیسر برتهم جوزف ( Prof. Dr Burthom jazif ) د مانځه متعلق لیکلي دي چې :

مونځ داسې یو کامِل او مُعتدِل وَرزِش دی چې په دې کې د کمي او زیاتي هیڅ سوال نشي پیدا کیدی ، داسې معلومېږي چې دیته چا ترتیب ورکړی هغه ددې موجوده مَشینِي او نفسیاتي دَور پوره جائزه اخیستې وه ، او بیا یې دیته ترتیب ورکړی .

ځکه په دې کې د لاسونو پورته کول ، بیا د نامه نه لاندې اِیخودل ، بیا نظر د سجدې په ځای اچول ، څه وخت پس لاسونه پرېخودل ، او رکوع ته ښکته کیدل ، بیا رااُوچتیدل ، بیا د سجدې په حالت کې دِماغو ته په صحیح طریقې سره د وِینې رسولو موقع برابرول ، او وَقفه په وَقفه د اَلتَّحِیَّات په شکل کیناستل ، دا ټول کارونه ( د عبادت سره سره ) یو جامِع او بهترین ورزش دی . (۱)

# د یُورَپ واله وُ بهترین وَرزش مکمل د مانځه د اَفعالو په شان دی

یو مسلمان ډاکټر " ماجد زمان عثماني " لیکلي دي چې :

زه په فِزیُوتَهراپي یعنی ورزش کې د اَعلی ډِګرۍ حاصلولو د پاره یُورَپ ته لاړم ، د هغه ځای د وَرزش ماهِره ډاکټرانو چې مونږ ته د اَعلیٰ قِسمه وَرزش کومه طریقه اُوخوده ،

(۱) سُنتِ نبوي اور جدید سائنس ج۱ ص ۴۱ ، و ص ۴۵ .

ما چې هغې ته سوچ اوکړو نو زه ډير حيران پاتې شوم ، ځکه دغه وَرزش بِعَينه ( هُو بَهُو مُکمّل ) د مانځه د اَفعالو په شان وُ ، ما د ځان سره وويل :

مونږ خو مونځ يوه ديني فريضه او اَهم عبادت ګڼرو ، حالانکه دلته خو د دغه اَفعالو عجيب و غريب انکشافات او فوائد بيانيږي ، چې په دې سره مختلف قِسمه بيمارياني ختميږي ، بيا دې مسلمان ډاکټر د هغه بيماريانو تذکره اوکړه کومې چې په صحيح طريقې مونځ کولو سره ختميږي ، لکه :

۱. د دماغو بيمارۍ ( *Mental Diseases* )

۲. د اعصابو بيمارۍ (*Nerve Diseases* )

۳. نفسياتي مرضونه (*Psychies Diseases* )

۴. د بې اِطميناني او ډپريشن مرضونه

(*Restlessness Depression and Anxiety Diseases* )

۵. د زړه بيمارۍ ( *Heart Diseases* )

۶. د جُوړونو بيمارۍ ( *Arthritis* )

۷. د يُورِک ايسډ نه پيدا شوي بيمارۍ (*Diseases due to Uric Acid* )

۸. د معدې او السر بيمارۍ (*Stomach Ulcer* )

۹. شوګر او د دې سره تړلې مرضونه ( *Suger and its after Effects* )

۱۰. د سترګو او مرۍ بيمارۍ ( *Eye and E.N.T Diseases* ) .(۱)

## ۳۶ . په مونځ کولو سره د زړه د مرضونو نه حفاظت

د زړه ماهِره ډاکټرانو د ډيرو کلونو د مِحنت او تجربو نه پس يو وَرزِش معلوم کړی چې د هغې په کولو سره انسان د ډيرو بيماريو نه محفوظ کيږي ، او هغه وَرزش بِعَينه د مانځه په شان دی .

وجه داده چې په مونځ کې د وجود هرې حصې ته وِینه په پوره مِقدار سره رَسي : ځکه په مانځه کې د قِیام ( ولاړې ) په حالت کې د وجود لاندې حِصې ته وِینه په پوره مِقدار لاړه شي ، بیا چې کله انسان رکوع اوکړي نو د رکوع په حالت کې د وجود دَرمیاني حصې ته وِینه په پوره طریقې سره اُورسي ، بیا چې کله انسان سجده اوکړي نو د سجدې په حالت کې د وجود بره حصې یعنی سَر وغیره ته وِینه په پوره طریقې سره په آسانه اُورسي ، چې په دې سره دِماغو ته غذا او قوت هم حاصلیږي ، او ورسره ورسره انسان د زړه د ډیرو بیماریانو نه محفوظه کیږي .

دغه وجه ده چې کوم سړې ډیر مونځونه او نوافل کوي نو دده وجود اگر چې په ظاهره کمزورې معلومیږي خو لیکن زړه یې قوي وي ، او د زړه د بیماریو نه اکثره محفوظ وي(١)

## په مونځ سره د زړه د مرض عِلاج کول

یو کس د زړه په مرض کې مُبتلاء ؤ ، د علاج د پاره آسټریلیا ته لاړ ، هلته د زړه یو ماهره ډاکټر ته ورغی ، هغه چې دده پوره معائنه اوکړه نو ده ته یې څه دوایانې او یو وَرزش اُوخود ، او ورته وې ویل چې ته به اَته ( ٨ ) ورځې دا ورزش زما د فزیو ( ورزش ) په وارډ کې زما د نگرانۍ لاندې کوی .

کله یې چې ده ته دا ورزش اُوخود ، ده چې ورته سوچ اوکړو نو دا بِعَینِه ( مکمل ) د مسلمانانو مونځ ؤ ( یعنی دا دې ورزش ټول اَفعال د مانځه د اَفعالو په شان وو ) .

بهر حال ، ده اَته ورځې دا ورزش په صحیح طریقې سره اوکړو ، دې ډاکټر ورته وویل : ته به دې ټولو مریضانو کې اَوّلني داسې مریض یې چې تا زما د ورزش دا طریقه ډیره زر زده کړه ، او بیا دې په صحیح طریقې سره دا ورزِش اوکړو .

حالانکه دلته دا نور مریضان په اَتو ورځو کې خو صرف د ورزش دا طریقه هم نشي یادولی .

ده ورته وویل : زه م مسلمان یم ، او ستا د ورزش دا طریقه مکمل زمونږ د مونځ په شان ده ، نو ځکه ماته ددې په زده کولو کې هیڅ مشکل نه ؤ .

---

(١) سُنت نبوی اور جدید سائنس ج١ ص ٧١ .

بيا دې ډاکټر دې کس ته څه دوايانې ورکړي ، او ددې ورزش متعلق يې ورته څه هدايات اوکړل ، او را رُخصت يې کړو .

فائده : معلومه شوه چې په مانځه سره انسان ته د زړه د بيماريانو نه کامِل صِحت نصيبه کيږي . (۱)

## ۲۷. د مونځ په وجه د مَغ نورانيت زياتيږي

سائنسي او طِبّي لحاظ سره هم دا خبره ثابته ده : چې کوم کس مونځ کوي نو دده په مخ کې به نُورانيت ، تازګي ، او ښائست موجود وي ، ځکه په عامو حالاتو ( يعنى ولاړه ، ناسته وغيره) کې وِينه د دِماغو رګونو (Artries) طرف ته زياته نه ځي ، خو چې کله انسان د سجدې په حالت کې وي نو بيا وِينه دِماغو ( Brain ) ، اَعصابو( Brain Nerves ) ، سترګو ، او د مَخ باريک رګونو ته پوره په آسانۍ باندې ورځي ، نو په دې سره دده دِماغ او نظر هم تېز وي ، او ورسره ورسره د مونځ ګزار په مَخ کې نُورانيت او ښائست هم وي .

او څوک چې مونځ نه کوي نو د هغه په مَخ کې هر وخت د بَدرَنګۍ او خفګان آثرات ښکاره معلوميږي .

## د يو اَمريکائي ډاکټر اِقرار

• يو اَمريکائي ډاکټر ليکلي چې : که چيرته ښځو ته دا پته اُولږي چې په مونځ او اُوږدو اُوږدو سجدو کولو سره د انسان په مَخ کې ښائست او نُورانيت پيدا کيږي نو بيا به هيڅ کله دوی د سجدې نه سَر راپورته نه کړي ( ځکه ښځې د مَخ ښائسته کولو ډير کوشش کوي ) .

## ۲۸. په مانځه کې د اِمام نه د تلاوت اَوريدو سائنسي او طِبّي فوائد

په مانځه د تلاوت اَوريدو ډير اَجرونه او ثوابونه دي ، اوس سائنسدانانو او ډاکټرانو هم دا خبره منلې ده چې په مانځه کې د اِمام تلاوت آوريدو کې ډيرې طِبّي فائدې دي :

ځکه چې کله مُقتدي په توَجّو سره د اِمام قرا‌ءت آوري نو ددې تلاوت کولو او آوريدو نه يو خاص قِسم لِهرونه ( Rays ) پيداکيږي ، دا لِهرونه د اِمام او مُقتدي په مينځ کې اَنوارات مُنتقِل کوي .

---

(۱) سُنت نبوي اور جديد سائنس ج ۱ ص ۴۳ .

که چیرته په دې کې د اِمام بَرقي قوت ( Potential power ) تېز او زیات وي نو دا مُقتدیانو ته مُنتقِل کیږي ، او که چیرته دا برقي قوت په مُقتدیانو کې قوي وي نو دا اِمام ته مُنتقِل کیږي .

یو ماهِر ډاکټر لیکلي چې د انسان د خُلې نه هر لفظ راأوځي نو دا یو یُونَټ وي ، ددې نه یوه تېزه (غیر مَرئي) رَڼا راأوځي ،چې دا مُثبته ( Positive ) هم وي او مَنفي ( Nagative ) هم وي ، لیکن د قرآن کریم په تلاوت کولو سره د هر لفظ واله رَڼا مُثبَته وي .

اوس چې کله په مُقتدیانو باندې دا مُثبت آثرات (او لِهرونه) غورځیږي نو په دې سره د دوی په وجود کې بې شماره مرضونه ختمیږي . (١)

بل دا چې د انسان نفسیاتي مرضونو ( Pcshylogical Diseases ) ختمولو د پاره واحده علاج همدا لِهرونه دي ، او دا لِهرونه د تلاوت په کولو او آوریدلو سره پیدا کیږي.

تر دې پورې چې د ډِپریشَن ( Depression ) ، او بې اِطمینانۍ ( Anxiety ) مرض هم په خُشوع او عاجزۍ باندې مونځ کولو سره ختمیږي .

## ۲۹. د رکوع کولو سائنسي او طِبّي فواید

سائنس دانانو او ډاکټرانو اوس دا خبره ثابته کړې چې کله یو کس په مانځه کې رکوع کوي ، او د رکوع په حالت کې دواړه لاسونه په زَنګونانو باندې کیږدي ، سَر او ملا برابر کړي نو په دې سره انسان ته د اُخروي فوائدو سره سره ډیرې طِبّي فائدې هم حاصلیږي :

یو څو دادي : په دې سره مِعده قوي کیږي ، هاضمه صحیح کیږي ، قبض ختمیږي ، د ځِګر او ګردو نظام صحیح کیږي ، د مَلا او خېټې واز ګه ورسره کمیږي ، د جسم پورته حصې ته د وِینې دَورانیه تیزیږي ، ځکه زړه سَر طرف ته وِینه په آسانه پَمپ ( Pump ) کوي چې په دې سره دِماغو ته هم قوت حاصلیږي .

د رکوع په حالت کې لاسونه لاندې په زنګونانو باندې اِیخودل شوي وي نو په دې سره د لاس د ګوتو او اُوګو ورزش هم کیږي ، د لاس پټې مضبوطیږي ، او د بوداوالي په وجه چې په جوړونو کې کومه فاسِده ماده جَمع کیږي هغه د رِکوع کولو په وجه ختمیږي . (٢)

---

(١) من کي دُنیا ډاکټر غلام جیلاني برق ، سُنتِ نبوي اور جدید سائنس ج١ ص ٨٢ .

(٢) سُنتِ نبوي اور جدید سائنس ج١ ص ٧٣ .

همدارنګې په رکوع کولو سره د حرام مغز ( Spinal cord ) پړسوب او نور تکليفونه هم ښه کيږي او ددې په کارکردګۍ کې ښه اضافه کيږي .

کوم کس چې په صحيح طريقې سره رکوع کوي نو دداسې کس په ګردو کې خو اول کانړې نه پيدا کيږي ، او که پيدا شوې وي نو د رکوع په کولو سره هغه زر غورځيږي .

همدارنګې په صحيح طريقې سره رکوع کوونکې د ځپو د فالج نه هم محفوظه کيږي . (۱)

## ۳۰ . د سجدې کولو سائنسي او طبي فوائد

په مانځه کې سجده کولو سره انسان ته د اُخروي ثوابونو سره سره سائنسي او طبي فائدې هم شته ، هغه دا چې د سجدې په کولو سره د انسان د ورګونو زياتې غوټې ختميږي ، د جوړونو بيماري پرې ختميږي ، د خېټې غټوالې پرې ختميږي .

**واقعه** : د يو مسلمان ښځه او وجود ډير غټ شوې ؤ ، دا ددې علاج د پاره آمريکې ته لاړ ، هلته د آمريکې يو ماهر ډاکټر ده ته ووئيل :

ته خو مسلمان يې ، ستا علاج خو په مانځه کې موجود دی ، ته پنځه وخته په پابندۍ سره مونځ کوه ، په دې سره به په خپله ستا ښځه او وجود کم شي ، او که بيا هم څه کمې پاتې شو نو بيا ورسره د تهجدو مونځ هم کوه نو په دې سره به يقيناً ستا وجود مُعتدل شي .

همدارنګې په صحيح طريقه سجده کولو سره د معدې سوزيدل او زخم هم ختميږي .

## ۳۱ . د سجدې کولو په وجه دماغي بيمارياني ختميدل

په اطمينان سره سجدې کولو کې د ټولو دماغي بيماريانو ( Brain Deseases ) علاج هم شته ، ځکه د سجدې په حالت کې سَر ښکته وي ، او زړه پورته وي ، نو وينه په آسانه باندې دماغو طرف ته ځي ، دماغ د خپل ضرورت موافق ضروري اَجزاء د وينې نه حاصل کړي ، او فاسده ماده د وينې په ذريعه باندې واپس ګردو ته اُوليږي ددې د پاره چې ګردې دا د تشو متيازو په شکل باندې بهر اُوباسي . (۲)

---

(۱) سُنت نبوي اور جديد سائنس ج۱ ص ۶۷ .

(۲) سُنت نبوي اور جديد سائنس ج۱ ص ۷۳ .

# د واشنګټن د يو ډاکټر اقرار

يو مُعتمد عالِم ليکلي دي چې په واشنګټن کې مې د يو ډاکټر سره ملاقات اوشو ، هغه راته وويل چې زما زړه غواړي چې په دې ټول مُلک کې قانوني طريقې سره په خلقو باندې مونځ لازم کړم ، ما ورته وويل چې ولې ؟ هغه راته وويل چې په مانځه کې دومره ډير حکمتونه دي چې ددې هيڅ حَد نشته ، او بيا يې د مثال په طور وويل چې :

د انسان زړه ټول وجود ته تازه وينه پمپ کوي ځکه وجود ته ددې ضرورت وي ، عام طور انسان يا ولاړ وي ، يا ناست وي ، او يا ملاست وي ، خو په دې درې واړو حالاتو کې د انسان زړه ښکته وي ، البته صرف د سجدې په حالت کې د انسان زړه پورته وي ، سَر او ټول آندامونه يې ښکته وي ، چې ددې په وجه وينه دِماغو او د مخ هر هر رګ ته په پوره مِقدار سره رسيږي ، نو په دې سره دده دِماغ هم قوي کيږي ، او ورسره ورسره د مخ رونق هم زياتيږي .

## ۳۲ . په سجدې کولو سره د معدې د مرضونو علاج

د کومو خلقو چې معده سوَزي ، او يا يې د معدې زَخم ( Ulcer ) وي نو که دوی په صحيح طريقې سره د مانځه سجده اداء کړي نو په دې سره به د دوی دا تکليف ختم شي ، ځکه چې کله انسان په سجده کې خپل تَندې په زمکه باندې کيږدي نو دده د دِماغو لِهرونه د زمکې د بَرقي لِهرونو سره ملاوُ شي چې ددې په وجه دِماغ قوي او مُطمئِن کيږي ، او کله چې دِماغ مطمئِن وي نو د معدې تيزابي ګلينډر زيات تيزاب نه پيدا کوي چې په دې سره د انسان معده د تيزابو او زخم نه محفوظه وي . (۱)

## ۳۳ . د دوه سجدو په مينځ کې د ناستې سائنسي او طِبي فوائد

د دواړو سجدو په مينځ کې کيناستلو ( جَلسې ) سره زنګونان او پُنډَۍ مضبوطيږي ، همدارنګې په دې سره د ورنُون پَټې ( Muscles ) مضبوطيږي ، او ورسره ورسره مردانه او زَنانه کمزوري هم ددې سره ختميږي .

---

(۱) سُنت نبوي اور جديد سائنس ج ۱ ص ۷۴ .

## ۲٤ . په سلام ګرځولو سره د سينې بيمارۍ ښه کېدل

کله چې د مانځه په آخِر کې انسان خپې طرف او چپ طرف سلام ګرځوي نو په دې سره د څټ عضلات مضبوطيږي ، همدارنګې په دې سره د سينې بيمارۍ (*Chest Diseases*) هم ختميږي ، د انسان سينه پلنيږي ، او مضبوطيږي .

**نوټ** : دا خو مې درته د مانځه يو څو غټ سائنسي او طِبّي فوائد رانقل کړل ، که چيرته د مانځه د فرائضو ، واجباتو ، او سُنتو د هر يو ځانله ځانله سائنسي او ډاکټري فوائد بيانول شروع کړم نو بيا به دا بحث ډير اُوږد شي ، او نور آهم بحثونه به پاتې شي ، نو ځکه صرف په همدې باندې اِکتفاء کوم. ( ابوالشمس عفي عنه )

## خلاصه

خلاصه دا چې مونځ د اِسلام آهم رُکن او بُنيادي ستَن ده ، مونځ د اِسلام شِعار او د مسلمانۍ نخَه ده ، مونځ د الله ﷻ په نزد محبوب ترين عمَل دی ، مونځ کول د الله ﷻ سره خبرې کول دي ، مونځ د الله رب العوت د قُرب او نزديکت ذريعه ده ، د مونځ په وجه انسان ته د الله ربّ العزت دِيدار نصيبه کيږي ، د مونځ په وجه انسان د الله ﷻ د رَحمت مُستحِق ګرځي ، مونځ د جنت ګنجي ده ، مونځ د نبي عليه الصلاة والسلام د سترګو يَخوالې دی ، د مونځ په وجه مسلمان ته د نبي کريم صلی الله عليه وسلم شفاعت نصيبه کيږي ، د مونځ په وجه مسلمان ته په جنت کې د پيغمبر عليه السلام ملګرتيا نصيبه کيږي ، د مونځ په وجه انسان د جهنم نه محفوظه کيږي ، د مونځ په وجه انسان د بې حيايۍ او ناجائزو کارونو نه منع کيږي ، د مونځ په وجه د انسان ګناهونه معاف کيږي ، د مونځ په وجه د انسان نه غفلت او شيطاني آثر ختميږي ، مونځ د هر مصيبت او پريشانۍ عِلاج دی ، مونځ کوونکې به د خَوف او حُزن نه په آمن وي ، مونځ کوونکې به د صِدّيقينو او شهداؤ سره ملګرې وي .

د مونځ په وجه په انسان کې د طهارت او پاکيزګۍ عادت پيدا کيږي ، د وخت پابند جوړيږي ، زړه ته يې اِطمينان او سُکون حاصليږي ، مونځ د اِيمان حفاظت کوونکې او د

نجات ذريعه ده ، مونځ د زړه او رُوح د پاکوالي د پاره بُنيادي شرط دی ، مونځ د فِطرتِ بَشري تَسکين او اِطمينان دی .

مونځ د جِسم ، کېړو ، دِماغو ، رُوح ، او د زړه د صفا والي ذريعه ده ، د مونځ په وجه مصيبتونه او تکليفونه ختميږي ، رِزق زياتيږي .

د مونځ په وجه د انسان په مخ باندې تازګي او رونق راځي ، دده په مخ کې يو نُورانيت پيدا کيږي .

## دُعا

الله تعالى دې زمونږ د ټولو په زړونو کې د مانځه اَهميت او عَظمت پيدا کړي ، ربِّ کريم دې مونږ ټولو ته په صحيح طريقې سره د مونځ کولو توفيق راکړي ، په قرآن کريم او احاديثو کې چې د مانځه څومره اَجرونه او ثوابونه ذِکر شوي الله تعالى دې مونږ ټولو ته دا رانصيبه کړي .

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

**نوټ** : د مانځه د مختلفو موضوعاتو متعلق ضروري فِقهي مسائِل او نور اَهم بَحثونه په اَتم (۸) جِلد کې ذِکر دي .

**ابوالشمس عفي عنه**

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

﴿ وَاَقِیۡمُوا الصَّلٰوةَ وَلَا تَكُوۡنُوۡا مِنَ الۡمُشۡرِكِیۡنَ ﴾ العنكبوت آية ۳۵.

# بَغیر عُذره د مُونځ پریخودلو سزاګانې او نقصانات

تالِیف

اَبُو الشَّمۡس مولانا نُوۡرُالۡهُدٰی عُفِيَ عَنۡهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی، مردان

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# بغير عُذره د مونځ پريخودلو سزاګاني او نقصانات

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ الْأَنْبِيَآءِ وَأَشْرَفِ الْمُرْسَلِيْنَ ، وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَمَنْ تَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ .

اَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ. قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ وَأَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَلَا تَكُوْنُوْا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴾. (۱)

وَقَالَ تَعَالٰى : ﴿ فَخَلَفَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ أَضَاعُوا الصَّلٰوةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوٰتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا ﴾ . (۲)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : بَيْنَ الْعَبْدِ وَبَيْنَ الْكُفْرِ تَرْكُ الصَّلَاةِ . (۳)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم

---

(۱) سورة الروم آية ۳۱ .

(۲) سورة مريم آية ۵۹ .

(۳) سنن ابي داؤد كِتَابُ السُّنَّةِ بَابٌ فِيْ رَدِّ الْإِرْجَاءِ رقم الحديث ۴۶۷۸ ، سنن الترمذي رقم الحديث ۲۶۲۰ باب ماجاء في ترک الصلاة ، سنن ابن ماجة رقم الحديث ۱۰۷۸ ، سنن النسائي رقم الحديث ۴۶۴ باب الحكم في تارک الصلاة .

وفي رواية : عَنْ أَبِيْ سُفْيَانَ، قَالَ: سَمِعْتُ جَابِرًا ﷺ يَقُوْلُ : سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ : إِنَّ بَيْنَ الرَّجُلِ وَبَيْنَ الشِّرْكِ وَالْكُفْرِ تَرْكَ الصَّلَاةِ . صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيْمَانِ بَابُ بَيَانِ إِطْلَاقِ اسْمِ الْكُفْرِ عَلٰى مَنْ تَرَكَ الصَّلَاةَ رقم الحديث ۱۳۴ (۸۲) ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۶۴۹۵ باب ماجاء في تكفير من ترک الصلاة عمداً من غير عُذر .

## تمهيدي خبره

محترمو مسلمانانو ورونو ! لکه څرنګې په قرآن کريم او احاديثو مبارکهٔ کې د مانځه دير اَهميت او فوائد بيان شوي نوهمدغه شان بَغير عُذره د مونځ پريخودلو سختې سزاګانې او وَعيدونه هم بيان شوي.

په نن موضوع کې به انْ شَاءَ الله درته بِلاعُذره د مانځه پرېخودلو سزاګانې او نُقصانات بيانوم :

## مونځ پريخودل ګناه کبيره ده

بَغير عُذره قصدًا مونځ پريخودل ګناه کبيره ده ، دغه وجه ده چې امامِ ذهبي رحمه الله په '' الکبائر '' کې مونځ پريخودل په ګناهِ کبيره کې شامِل کړی :

اَلْكَبِيْرَةُ الرَّابِعَةُ فِيْ تَرْكِ الصَّلَاةِ . څلورمه کبيره ګناه د مونځ پريخودل دي.

همدارنګې علامه ابن حجر الهيثمي رحمه الله هم په '' اَلزَّوَاجِر عن اقتراف الکبائر '' کې قصدًا مونځ پريخودل په ګناهِ کبيره کې شمار کړی :

اَلْكَبِيْرَةُ السَّادِسَةُ وَالسَّبْعُوْنَ تَعَمُّدُ تَرْكِ الصَّلَاةِ .

شپږاَويايمه ( ۷٦ ) کبيره ګناه قصدًا مونځ پريخودل دي.

## قصدًا مونځ پريخودل کفر ته نزدې کوونکې عمَل دی

۱ . الله رب العزت فرمايي : ﴿ وَأَقِيمُوا الصَّلٰوةَ وَلَا تَكُونُوا مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴾. (۱)

ترجمه : او تاسو قائِم کړئ مونځ ، او مه کيږئ د مشرکانو نه.

**فائده** : ددې آيت نه دا معلوميږي چې بَغير عُذره مونځ پريخودلو کې دا خطره شته چې انسان په کفر او شِرک کې مبتلاء شي .

(۱) سورة الروم آية ۳۱ .

۲ . په بل آيت کې مونځ نه کوونکې د مُنکرينو او مُکذِّبينو په ډله کې شمار کړې شوی ، الله تعالى فرمايي :

﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ارْكَعُوا لَا يَرْكَعُونَ . وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِلْمُكَذِّبِينَ ﴾ .(۱)

ترجمه : او هر کله چې دوی ته وويل شي چې تاسو ( د الله ﷻ د وړاندې ) سَر ټيټ کړئ ( يعنې مونځ او کړئ ) نو دوی سَر نه ټيټوي ( يعنې مونځ نه کوي (۲) ) ، هلاکت دې په دغه ورځ باندې د دروغ ګڼرونکو د پاره .

۳ . په ډيرو اَحاديثو مبارکه وُ کې هم قصدًا مونځ پريخودلو ته د اِيمان مُنافي عمَل ويل شوی ، د ابوداؤد شريف حديث دی ، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

بَيْنَ الْعَبْدِ وَبَيْنَ الْكُفْرِ تَرْكُ الصَّلَاةِ .(۳)

د بنده او کفر په مينځ کې فاصله همدا مونځ پريخودل دي .

يعنې د مونځ د اِيمان سره داسې قوي تعلق دی چې کوم بنده بَغير عُذره مونځ پريږدي نو په دې سره ( اګر چې دا کافر کيږي نه ، خو ) دا د کُفر سَرحد ته وَر رَسي .

---

(۱) سورة المرسلات آية ۴۸ ، ۴۹ .

(۲) { وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ارْكَعُوا } صَلُّوا { لَا يَرْكَعُونَ } لَا يُصَلُّونَ . تفسير الجلالين المرسلات آية ۴۸ .

﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ارْكَعُوا ﴾ فيه قولان : أحدهما : أنه حين يُدْعَوْنَ إلى السجود يوم القيامة . رواه العوفي عن ابن عباس. والثاني : أنه في الدنيا كانوا إذا قيل لهم : اركعوا ، أي صلوا لا يَرْكَعُونَ أي : لا يصلّون . وإلى نحو هذا ذهب مجاهد في آخرين ، وهو الأصح . زاد المسير في علم التفسير المرسلات آيت ۴۸ .

(۳) سنن ابي داؤد كِتَابُ السُّنَّةِ بَابٌ فِي رَدِّ الْإِرْجَاءِ رقم الحديث ۴۶۷۸ ، سنن الترمذي رقم الحديث ۲۶۲۰ باب ماجاء في ترک الصلاة ، سنن ابن ماجة رقم الحديث ۱۰۷۸ ، سنن النسائي رقم الحديث ۴۶۴ باب الحكم في تارک الصلاة .

وفي رواية : عَنْ أَبِي سُفْيَانَ ، قَالَ : سَمِعْتُ جَابِرًا ﷺ يَقُولُ : سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ : إِنَّ بَيْنَ الرَّجُلِ وَبَيْنَ الشِّرْكِ وَالْكُفْرِ تَرْكَ الصَّلَاةِ . صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيمَانِ بَابُ بَيَانِ إِطْلَاقِ اسْمِ الْكُفْرِ عَلَى مَنْ تَرَكَ الصَّلَاةَ رقم الحديث ۱۳۴ ( ۸۲ ) ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۶۴۹۵ باب ماجاء في تكفير من ترک الصلاة عمداً من غير عُذر .

همدا مضمون په نورو احاديثو کښې هم ذکر دی . (۱)

٤ . د ترمذي شريف او مشکوة شريف حديث دی ، نبي کريم ﷺ فرمايي :

اَلْعَهْدُ الَّذِيْ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمُ الصَّلَاةُ ، فَمَنْ تَرَكَهَا فَقَدْ كَفَرَ . (۲)

زمونږ او کافرانو په مينځ کښې چې کوم عَهد دی هغه مونځ دی ، پس چا چې دا مونځ (بَغير عُذره) پريښود نو ده کُفري طريقه غوره کړه (يا : ده کُفر ظاهر کړو) .

**فائده** : د نبي عليه السلام مقصد دادی چې زمونږ او د منافقينو په مينځ کښې چې کومه د اَمن مُعَاهَده شوې وه چې مونږ به هغوی نه قتلوو نو د هغې وجه دا وه چې هغوی

---

(۱) يو څو احاديث درته رانقل کوم :

أَخْرَجَ أَحْمَدُ: « بَيْنَ الرَّجُلِ وَبَيْنَ الشِّرْكِ ـ أَوِ الْكُفْرِ ـ تَرْكُ الصَّلَاةِ » . مسند احمد رقم الحديث ۱۵۱۸۳

وَأَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيُّ: « لَيْسَ بَيْنَ الْعَبْدِ وَبَيْنَ الْكُفْرِ إِلَّا تَرْكُ الصَّلَاةِ » . صحيح . سنن النسائي رقم ۴۶۴ .

وَالتِّرمِذِيُّ: « بَيْنَ الْعَبْدِ وَبَيْنَ الْكُفْرِ تَرْكُ الصَّلَاةِ » . سنن الترمذي رقم ۲۶۲۰ ، سنن ابن ماجه رقم ۱۰۷۸

وَفِي أُخْرٰى: «لَيْسَ بَيْنَ الْعَبْدِ وَالشِّرْكِ إِلَّا تَرْكُ الصَّلَاةِ، فَإِذَا تَرَكَهَا فَقَدْ أَشْرَكَ» . سنن ابن ماجه رقم ۱۰۸۰

وَصَحَّ خَبَرُ: « بَيْنَ الْعَبْدِ وَبَيْنَ الْكُفْرِ وَالْإِيْمَانِ الصَّلَاةُ، فَإِذَا تَرَكَهَا فَقَدْ أَشْرَكَ » . الزواجر عن اقتراف الكبائر لابن حجر الهيتمي كِتَابُ الصَّلَاةِ اَلْكَبِيْرَةُ السَّادِسَةُ وَالسَّبْعُوْنَ تَعَمُّدُ تَرْكِ الصَّلَاةِ ۱/۲۱۷ .

عَنْ مَعْقِلٍ الْخَثْعَمِيِّ قَالَ : أَتَى عَلِيًّا رَجُلٌ وَهُوَ فِي الرَّحْبَةِ ، فَقَالَ : يَا أَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ ! مَا تَرٰى فِي امْرَأَةٍ لَا تُصَلِّيْ ؟ قَالَ : « مَنْ لَمْ يُصَلِّ فَهُوَ كَافِرٌ » . مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۳۰۴۳۶ ، و اخرجه الترمذي والحاکم ، کتاب الکبائر للذهبي ص ۲۲ الکبيرة الرابعة في ترک الصلاة .

وَأَخْرَجَ أَحْمَدُ مُرْسَلًا : « أَرْبَعٌ فَرَضَهُنَّ اللّٰهُ فِي الْإِسْلَامِ فَمَنْ أَتٰى بِثَلَاثٍ لَمْ يُغْنِيْنَ عَنْهُ شَيْئًا حَتّٰى يَأْتِيَ بِهِنَّ جَمِيْعًا: اَلصَّلَاةُ ، وَالزَّكَاةُ ، وَصِيَامُ رَمَضَانَ ، وَحَجُّ الْبَيْتِ » . مسند احمد رقم الحديث ۱۷۷۸۹ . الزواجر ۱/۲۱۹ .

(۲) سنن الترمذي أَبْوَابُ الْإِيمَانِ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي تَرْكِ الصَّلَاةِ رقم الحديث ۲۶۲۱ وَقَالَ الترمذي : هذا حديث حسن صحيح ، سنن ابن ماجة باب ما جاء فيمن ترک الصلاة رقم الحديث ۱۰۷۹ ، السنن الکبری للنسائي الحکم في تارک الصلاة و ذکر الاختلاف في ذلک رقم الحديث ۳۲۶ ، المستدرک علی الصحيح للحاکم کتاب الايمان رقم ۱۱ وَقَالَ الْحَاكِمُ صَحِيحٌ وَلَا نَعْرِفُ لَهُ عِلَّةً ، مشکوة المصابيح کتاب الصلاة الفصل الثاني رقم ۱۰ . وَرَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُد وَابْنُ حِبَّانَ فِي صَحِيحِهِ ، الترغيب و الترهيب للمنذري ۱/۲۱۳ رقم الحديث ۸۰۸ .

مونځ کولو ، پس چا چې مونځ پرېښودو نو هغه خپل کُفر ظاهر کړو ، او کُفري عمَل يې غوره کړو . (۱)

## د بېلمازه کس ايمان همېشه په خطره کې وي

مونځ کول د انسان د پاره حفاظتي مضبوطه قلعه ده ، چې د دې په وجه انسان د کُفر او شِرک نه بَچ کېږي ، او کوم کس چې مونځ نه کوي نو د داسې کس ايمان همېشه په خطره کې وي ، دا يَره شته چې شيطان دا اِنسان د کُفر په کنده کې وراوغورځوي ، ځکه خو رسولُ الله صلى الله عليه وسلم د مونځ پرېښودونکي د پاره د کُفر او شِرک يَره ښکاره کړې ، مشهور حديث دی ، نبي عليه السلام فرمايي :

مَنْ تَرَكَ الصَّلَاةَ مُتَعَمِّدًا فَقَدْ كَفَرَ جِهَارًا. (۲)

( د دې حديث ظاهري ترجمه داده : ) څوک چې قصدًا مونځ پرېږدي نو دې ښکاره کافر شو .

اګر چې امام احمد بن حنبل رحمه الله او څه نور علماء د دې حديث همدا ظاهري مطلب اخلي ليکن زمونږ اَحناف علماء د دې حديث مطلب دا بيانوي : چې څوک قصدًا مونځ پرېږدي نو دا په قلاره قلاره کُفر ته وَر روان وي .

## د قصدًا مونځ پرېښودونکي کس دِين او اِيمان کامِل نه وي

۱ . رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

لَا سَهْمَ فِي الْإِسْلَامِ لِمَنْ لَا صَلَاةَ لَهُ. (۳)

په اِسلام کې د هغه چا حصه نشته چې هغه مونځ نه کوي .

---

(۱) مظاهر حق شرح مشكوة ج۱ في تشريح الحديث المذكور

(۲) المعجم الاوسط للطبراني رقم الحديث ۳۳۴۸ بَابُ الْجِيمِ مَنِ اسْمُهُ جَعْفَرٌ . الزواجر عن اقتراف الكبائر لابن حجر الهيثمي كِتَابُ الصَّلَاةِ اَلْكَبِيْرَةُ السَّادِسَةُ وَالسَّبْعُوْنَ تَعَمُّدُ تَرْكِ الصَّلَاةِ ۲۱۹/۱ ، كنز العمال رقم الحديث ۱۸۸۷۶ .

(۳) مسند البزار رقم الحديث ۵۸۳۹ ، الزواجر عن اقتراف الكبائر لابن حجر الهيثمي كِتَابُ الصَّلَاةِ اَلْكَبِيْرَةُ السَّادِسَةُ وَالسَّبْعُوْنَ تَعَمُّدُ تَرْكِ الصَّلَاةِ ۲۱۸/۱ ، الدر المنثور في التفسير بالمأثور ۷۰۶/۱ في تشريح آيت " حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَى وَقُومُوا لِلّٰهِ قَانِتِينَ " البقرة آية ۲۳۸ .

د دې خبرې نور وضاحت په دې راتلونکي حديث کې ذکر دی، پيغمبر ﷺ فرمايي:

۲. لَا دِيْنَ لِمَنْ لَا صَلَاةَ لَهُ، إِنَّمَا مَوْضِعُ الصَّلَاةِ مِنَ الدِّيْنِ كَمَوْضِعِ الرَّأْسِ مِنَ الْجَسَدِ. (۱)

چې څوک مونځ نه کوي د هغه دِين نشته (يا دا مطلب چې: دِين بَغير د مانځه نه نوي) بيشکه په دِين کې د مانځه مقام داسې دی لکه د انسان په جِسم کې چې د سَر کوم مقام دي.

**تشريح**: يعنې لکه څرنګې چې د انسان په بدن کې د ټولو طاقتونو او صلاحيتونو مرکز او سَرچشمه سَر دی، که چيرته سَر د تَنې نه جدا کړې شي نو بيا باقي جِسم بې رُوحه لاش پاتې کيږي، چې ديته انسان نشي ويلی، همدغه شان مثال په دِين کې د مانځه هم دی، چې دا مونځ هم د ټولې اسلامي زندګۍ سَرچشمه ده، پس که يو انسان مونځ نه کوي نو دده دا ژوند به هم دِيني ژوند نه وي.

۳. نبي عليه السلام فرمايي:

... وَلَا تَتْرُكُوا الصَّلَاةَ مُتَعَمِّدِيْنَ. فَمَنْ تَرَكَهَا مُتَعَمِّدًا فَقَدْ خَرَجَ مِنَ الْمِلَّةِ ... (۲)

تاسو قصدًا مونځ مه پرېږدئ. پس څوک چې قصدا مونځ پرېږدي نو دې د مِلت نه خارجيږي.

---

(۱) المعجم الاوسط للطبراني رقم الحديث ۲۲۹۲، المعجم الصغير للطبراني رقم الحديث ۱۶۲، الزواجر عن اقتراف الكبائر لابن حجر الهيثمي كِتَابُ الصَّلَاةِ اَلْكَبِيْرَةُ السَّادِسَةُ وَالسَّبْعُوْنَ تَعَمُّدُ تَرْكِ الصَّلَاةِ ۲۱۸/۱، الدر المنثور في التفسير بالمأثور ۷۰۶/۱، كنز العمال رقم الحديث ۱۸۹۷۲ كتاب الصلاة الفصل الثاني في فضائل الصلاة.

حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي: «مَنْ تَرَكَ الصَّلَاةَ فَلَا دِيْنَ لَهُ». رَوَاهُ مُحَمَّدُ بْنُ نَصْرٍ مَوْقُوْفًا عَلَى ابْنِ مَسْعُوْدٍ، الزواجر لابن حجر الهيثمي ۲۲۰/۱، الترغيب والترهيب، الكبائر للذهبي الكبيرة الرابعة في ترك الصلاة ص ۲۲

وفي رواية: «لَا إِيْمَانَ لِمَنْ لَا صَلَاةَ لَهُ وَلَا صَلَاةَ لِمَنْ لَا وُضُوْءَ لَهُ». أَخْرَجَهُ ابْنُ عَبْدِ الْبَرِّ وَغَيْرُهُ مَوْقُوْفًا عَلَى أَبِي الدَّرْدَاءِ رضي الله عنه. الزواجر عن اقتراف الكبائر لابن حجر الهيثمي كِتَابُ الصَّلَاةِ اَلْكَبِيْرَةُ السَّادِسَةُ وَالسَّبْعُوْنَ تَعَمُّدُ تَرْكِ الصَّلَاةِ ۲۲۰/۱.

(۲) رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ وَمُحَمَّدُ بن نصر في كتاب الصَّلَاةِ بِإِسْنَادَيْنِ لَا بَأْسَ بهما، الترهيب والترهيب للمنذري ۲۱۲/۱ رقم الحديث ۸۰۹، معارف الحديث حصه سوم ص ۷۸، الزواجر لابن حجر الهيثمي رحمه الله ۲۱۸/۱.

# مونځ پريخودونکي د الله ﷻ د ذمې نه بَرِي دی

۱. د ابن ماجه حديث دی، حضرت ابوالدرداء رضي الله عنه فرمايي چې ماته خپل خليل او مَحبوب " مُحمّدٌ رّسولُ الله صلى الله عليه وسلم " وصيت او کړو :

... وَلَا تَتْرُكْ صَلَاةً مَكْتُوبَةً مُتَعَمِّدًا، فَمَنْ تَرَكَهَا مُتَعَمِّدًا فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُ الذِّمَّةُ. (۱)

ته فرض مونځ قصدا مه پريږده ، ځکه څوک چې قصدًا فرض مونځ پريږدي نو دده نه ذِمه بَرِي شوه.

۲. د مشکوة شريف حديث دی ، نبي کريم صلى الله عليه وسلم حضرت معاذ رضي الله عنه ته څه وصيتونه کړي دي ، په هغې کې دا وصيت هم دی :

... وَلَا تَتْرُكَنَّ صَلَاةً مَكْتُوبَةً مُتَعَمِّدًا ، فَإِنَّ مَنْ تَرَكَ صَلَاةً مَكْتُوبَةً مُتَعَمِّدًا فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُ ذِمَّةُ اللهِ ... (۲)

ته هيڅ کله فرض مونځ قصدًا مه پريږده ، ځکه څوک چې قصدًا فرض مونځ پريږدي نو دده نه د الله ﷻ ذِمه بَري شي.

---

(۱) پوره حديث داسې دی : عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ ﷺ قَالَ : أَوْصَانِي خَلِيلِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ: « لَا تُشْرِكْ بِاللهِ شَيْئًا وَإِنْ قُطِعْتَ وَحُرِقْتَ ، وَلَا تَتْرُكْ صَلَاةً مَكْتُوبَةً مُتَعَمِّدًا ، فَمَنْ تَرَكَهَا مُتَعَمِّدًا فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُ الذِّمَّةُ ، وَلَاتَشْرَبِ الْخَمْرَ ، فَإِنَّهَا مِفْتَاحُ كُلِّ شَرٍّ » . سنن ابن ماجه رقم الحديث ۴۰۳۴ باب الصبر على البلاء ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم ۶۸۳۰ ، مشكاة المصابيح كتاب الصلاة الفصل الثالث حديث ۱۶ .

(۲) مشكاة المصابيح بَاب الْكَبَائِرِ وعلامات النِّفَاقِ الفصل الثالث رقم الحديث ۶۱ (۱۳) ، مسند احمد رقم الحديث ۲۲۰۷۵ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۵۷۱ (۹) الترهيب من ترک الصلاة تعمدا ... كنزالعمال رقم ۱۹۰۹۶ .

وفي رواية :عَنْ أُمِّ أَيْمَنَ رضي الله عنها أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ أَوْصَى بَعْضَ أَهْلِ بَيْتِهِ،فَقَالَ ... وَلَا تَتْرُكِ الصَّلَاةَ مُتَعَمِّدًا، فَإِنَّ مَنْ تَرَكَ الصَّلَاةَ مُتَعَمِّدًا فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُ ذِمَّةُ اللهِ... شعب الايمان رقم الحديث ۷۴۸۱ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۱۴۷۷۷ ، مسند احمد رقم الحديث ۲۷۳۶۴ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم ۵۶۹ (۷) المعجم الكبير للطبراني رقم ۱۳۰۲۳ ، كتاب الكبائر للذهبي الكبيرة الرابعة ترک الصلاة ص ۲۱ . الزواجر لابن حجر ۲۲۰/۱ .

**د حديث تشريح** : علماؤ ددې حديث يو څو مطلبونه بيان کړي :

۱. چې کوم کس بِلاعُذره قصدًا مونځ پريږدي نو دده نه هغه ذِمه داري ختمه شوه کومه چې د الله ﷻ د طرفه د مؤمنانو بندګانو د پاره وه. يعنى لکه څرنګې چې د حکومت په ذِمه باندې د رَعيت څه حقوق وي، نو تر څو پورې چې رَعيت د حکومت نه بَغاوت اونکړي نوحکومت د دوی دحقوقو لحاظ ساتي، او چې بغاوت اوکړي نو بيا حکومت د دوی د حقوقو نه بَري شي، او هيڅ لحاظ يې نه ساتي.

همدغه شان الله ﷻ هم په خپل لُطف و کَرَم سره د مؤمنانو بندګانو د پاره د اِنعاماتو او اِحساناتو ذِمه داري اخيستې ده، اوس چې څوک بَغير عُذره مونځ پريږدي نو دده نه د الله ﷻ خاص رحمتونه، مهرباني او ذِمه داري ختمه شي. (۱)

۲. يا د حديث مطلب دادی چې: چا قصدًا فرض مونځ پريخود نو ده د اسلام د يو بُنيادي حُکم نه بغاوت اوکړو چې ددې په وجه د اِسلام عَهد دده نه ختم شو. د نبي عليه السلام دا حکم د مونځ پريخودونکو د پاره تَغليظًا او زُورَنې د پاره دی.

۳. يا د حديث مطلب دادی چې: د اِيمان راوړو په وجه دې کس ته چې په اِسلامي حکومت کې د جان و مال کوم حفاظت حاصل وُ نو د مونځ پريخودو په وجه اوس دا کس د اِسلام د اَمان او ضمانت نه اُووتو. (۲)

---

(۱) معارف الحديث حصه سوم ص ۷۸.

(۲) مظاهر حق شرح مشکوة ج۲ ص ۴۳.

ملا علي قاري رحمه الله د " فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُ ذِمَّةُ اللهِ " تشريح داسې کړی:

أَيْ: لَا يَبْقَى فِي أَمْنٍ مِنَ اللهِ فِي الدُّنْيَا بِاسْتِحْقَاقِ التَّعْزِيرِ وَالْمَلَامَةِ ، وَفِي الْعُقْبَى بِاسْتِحْقَاقِ الْعُقُوبَةِ. قَالَ ابْنُ حَجَرٍ : كِنَايَةٌ عَنْ سُقُوطِ اِحْتِرَامِهِ ، لِأَنَّهُ بِذٰلِكَ التَّرْكِ عَرَّضَ نَفْسَهُ لِلْعُقُوبَةِ بِالْحَبْسِ عِنْدَ جَمَاعَةٍ مِنَ الْعُلَمَاءِ ، وَلِقَتْلِهِ حَدًّا لَا كُفْرًا بِشَرْطِ إِخْرَاجِهَا عَنْ وَقْتِهَا الضَّرُورِيِّ ، وَأَمْرِهِ بِهَا فِي الْوَقْتِ عِنْدَ أَئِمَّتِنَا ، وَلِقَتْلِهِ كُفْرًا فَلَا يُصَلَّى عَلَيْهِ ، وَلَا يُدْفَنُ بِمَقَابِرِ الْمُسْلِمِينَ عِنْدَ أَحْمَدَ وَآخَرِينَ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱ /۱۳۳ كِتَابُ الْإِيمَانِ بَابُ الْكَبَائِرِ وَعَلَامَاتِ النِّفَاقِ.

# صحابه کرامو به د مونځ پرېښودل خطرناک عمَل ګڼړل

۱ . په ترمذي شريف او مشکوة شريف کې د جليل القدر تابعي " عبدالله بن شقيق رحمه الله " دا قول نقل دی ، دې فرمايي :

كَانَ أَصْحَابُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَرَوْنَ شَيْئًا مِنَ الْأَعْمَالِ تَرْكُهُ كُفْرٌ غَيْرَ الصَّلَاةِ. (۱)

د نبي عليه السلام صحابه کرامو به بل هيڅ عمَل پرېښودل کُفر نه ګڼړل بَغير د مونځ پرېښودلو نه.

يعنی دا مونځ پرېښودل به يې د اِسلاَم نه د وَتلو علامه ګڼړله. ددې وجه داده چې مونځ د اِيمان نخَه او عمَلي ثبوت دی ، دا د اِسلام خاصُ الخاص شِعار دی ، اوس چې څوک بَغير عُذره مونځ پرېږدي نو دا ظاهِرًا ددې خبرې علامه ده چې ددې کس د الله او د رسول سره تعلق نشته ، نو ځکه په احاديثو کې دداسې کس د پاره سخت وعيدونه ذکر شوي . (۲)

۲ . په دې کې هيڅ شک نشته چې کوم کس د مانځه د فرضيت نه اِنکار کوي هغه کس کافر دی . او که بِلا عُذره مونځ پرېږدي نو زمونږ د اَحنافو په نزد باندې داسې کس د ګناهِ کبيره مُرتکب ، او فاسِق و فاجِر دی .

بعضې جليلُ القدر صحابه کرام لکه حضرت عُمر رضي الله عنه او څه نور صحابه کرام بَغيرعُذره مونځ پرېښودونکي ته کافر وايي ، او دا د امام احمد بن حنبل رحمه الله مسلک دی . (۳)

---

(۱) سنن الترمذي أَبْوَابُ الْإِيمَانِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي تَرْكِ الصَّلَاةِ رقم الحديث ۲۶۲۲ ، مشکوة المصابيح کتاب الصلاة الفصل الثالث رقم الحديث ۱۵ ، المستدرک على الصحيحين للحاکم رقم ۱۲ ، شرح السنّة للبغوي باب وعيد تارک الصلوة ج۲ ص ۱۸۰ ، الزواجر لابن حجر ۱/۲۱۸ ، کتاب الکبائر الکبيرة الرابعة في ترک الصلاة ص ۲۲ .

(۲) معارف الحديث حصه سوم ص ۷۹ ، مظاهر حق شرح مشکوة ج۲ .

(۳) مظاهر حق شرح مشکوة ج۲ .

# د بېلمازه په باره کې د امام احمد بن حنبل رحمه الله قول

امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمايي چې بَغير عُذره مونځ پريښودلو سره انسان قطعًا کافر او مُرتد کيږي ، او د داسې کس د اِسلام سره هيڅ تعلق نشته ، په ده باندې به هغه اَحکامات جاري کولې شي کوم چې په مُرتد باندې جاري کولې شي ، دې به د اِرتداد په وجه تتلولې شي ، که دا بې نمازه په دې حالت کې مړ شي نو په ده باندې به د جنازې مونځ نشي کولی ،دې به د مسلمانانو په مَقبره کې نشي ښَښولی . (۱)

---

(۱) معارف الحديث ج۲ ص ۷۹ کتاب الصلاة .

علامه مُنذري رحمه الله په الترغيب والترهيب کې ليکلي : قَالَ أَبُو مُحَمَّد بن حزم : وَقد جَاءَ عَن عُمر وَعبد الرَّحْمَن بن عَوْف ومعاذ بن جبل وَأبي هُرَيْرَة وَغَيرهم من الصَّحَابَة رَضِي الله عَنْهُم أَنَّ مَنْ تَرَكَ صَلَاة فرض وَاحِدَة مُتَعَمدا حَتَّى يخرج وَقتهَا فَهُوَ كَافِرٌ مُرْتَدٌّ ، وَلَا نعلم لهَؤُلَاء من الصَّحَابَة مُخَالفا .

قَالَ الْحَافِظ عبد الْعَظِيم : قد ذهب جمَاعَة من الصَّحَابَة وَمن بعدهمْ إِلَى تَكْفِير مَنْ تَرَكَ الصَّلَاة مُتَعَمِّدًا لتركها حَتَّى يخرج جَمِيع وَقتهَا ، مِنْهُم عُمر بن الْخطاب وَعبد الله بن مَسْعُود وَعبد الله بن عَبَّاس ومعاذ بن جبل وَجَابِر بن عبد الله وَأَبُو الدَّرْدَاء رَضِي الله عَنْهُم ، وَمن غير الصَّحَابَة أَحْمد بن حَنْبَل ، وَإِسْحَاق بن رَاهَوَيْه ، وَعبد الله بن الْمُبَارك ، وَالنَّخَعِيّ ، وَالحكم بن عتيبة ، وَأَيوب السّخْتِيَانِيّ ، وَأَبُو دَاوُد الطَّيَالِسِيّ ، وَأَبُو بكر بن أبي شيبَة ، وَزُهَيْر بن حَرْب وَغَيرهم رَحِمهم الله تَعَالَى. الترغيب والترهيب للمنذري ۱ /۲۲۱ طبع دار الكتب العلمية بيروت .

علامه ابن حجر رحمه الله په الزواجر کې ليکلي دي : اِخْتَلَفَ الْعُلَمَاءُ مِنَ الصَّحَابَةِ وَمَنْ بَعْدَهُمْ فِي كُفْرِ تَارِكِ الصَّلَاةِ ، وَقَدْ مَرَّ فِي الْأَحَادِيثِ الْكَثِيرَةِ السَّابِقَةِ التَّصْرِيحُ بِكُفْرِهِ وَشِرْكِهِ وَخُرُوجِهِ مِنْ الْمِلَّةِ . وَبِأَنَّهُ تَبْرَأُ مِنْهُ ذِمَّةُ اللهِ وَذِمَّةُ رَسُولِهِ ، وَبِأَنَّهُ يَحْبَطُ عَمَلُهُ ، وَبِأَنَّهُ لَا دِينَ لَهُ ، وَبِأَنَّهُ لَا إيمَانَ لَهُ ، وَبِنَحْوِ ذَلِكَ مِنَ التَّغْلِيظَاتِ ، وَأَخَذَ بِظَاهِرِهَا جَمَاعَةٌ كَثِيرَةٌ مِنَ الصَّحَابَةِ وَالتَّابِعِينَ وَمَنْ بَعْدَهُمْ ، فَقَالُوا : مَنْ تَرَكَ الصَّلَاةَ مُتَعَمِّدًا حَتَّى خَرَجَ جَمِيعُ وَقْتِهَا كَانَ كَافِرًا مُرَاقَ الدَّمِ . مِنْهُمْ عُمَرُ وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ وَمُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ وَأَبُو هُرَيْرَةَ وَابْنُ مَسْعُودٍ وَابْنُ عَبَّاسٍ وَجَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللهِ وَأَبُو الدَّرْدَاءِ رضي الله عنهم . وَمِنْ غَيْرِ الصَّحَابَةِ أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ وَإِسْحَاقُ بْنُ رَاهْوَيْهِ وَعَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ وَالنَّخَعِيُّ وَالْحَكَمُ بْنُ عُيَيْنَةَ وَأَيُّوبُ السِّخْتِيَانِيُّ وَأَبُو دَاوُد الطَّيَالِسِيُّ وَأَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ وَزُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ وَغَيْرُهُمْ ..... ( باقي پاتې په آئنده صفحه اوګوره )

# د بېلمازه په باره کې د نورو أئمهؤ اَقوال

د امام احمد بن حنبل رحمه الله نه علاوه د نورو اَئمهؤ ( امام ابوحنيفه، امام شافعي او امام مالک رحمهم الله ) راي داده چې بِلا عُذره مونځ پرېښودل اګرچې کافرانه عمَل دی خو چې ترڅو پورې انسان د مانځه نه اِنکار نه وي کړی بلکه د سستۍ په وجه مونځ پرېږدي نو اګرچې داسې کس د سختې سزا مُستحق دی خو د مونځ پرېښودلو په وجه دا انسان نه کافر کيږي او نه مُرتد کيږي، بلکه فاسق و فاجِر او ګناهګار ګرځي.

او په کومو احاديثو کې چې مونځ پرېښودونکې ته کافِر ويلې شوی نو ددې مطلب دادی چې بَغير عُذره مونځ پرېښودل کافرانه عمَل دی، او نبي عليه السلام د مونځ پرېښودو خَباثت ظاهرولو د پاره دا سخت اَنداز غوره کړې دی.

ددې مثال داسې دی لکه يو انسان د ضرَري دَوايانو په باره کې اُووايي چې دا خو بالکل زَهر دي. (۱)

د امامِ احمد بن حنبل رحمه الله نه علاوه نور اَئمه اګرچې بَغير عُذره مونځ پرېښودونکي ته کافر نه وايي خو بيا يې هم ورله سخته سزا مقرر کړې:

---

(د تېرې صفحې باقي مانده حصه) فَهٰؤُلَاءِ الْأَئِمَّةُ كُلُّهُمْ قَائِلُوْنَ بِكُفْرِ تَارِكِ الصَّلَاةِ وَإِبَاحَةِ دَمِهِ.

قَالَ ابْنُ حَزْمٍ: قَدْ جَاءَ عَنْ عُمَرَ رضي الله عنه .... (وَذَكَرَ بَعْضَ مَا ذَكَرْنَا) : أَنَّ مَنْ تَرَكَ صَلَاةَ فَرْضٍ وَاحِدَةً مُتَعَمِّدًا حَتّٰى يَخْرُجَ وَقْتُهَا فَهُوَ كَافِرٌ مُرْتَدٌّ، وَلَا نَعْلَمُ لِهٰؤُلَاءِ الصَّحَابَةِ مُخَالِفًا. إِنْتَهٰى.

وَقَالَ مُحَمَّدُ بْنُ نَصْرٍ الْمَرْوَزِيُّ: قَالَ إِسْحَاقُ صَحَّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَنَّ تَارِكَ الصَّلَاةِ كَافِرٌ» وَكَانَ رَأْيُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ لَدُنْهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنَّ تَارِكَهَا عَمْدًا مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ حَتّٰى يَذْهَبَ وَقْتُهَا كَافِرٌ. إِنْتَهٰى.

وَفِي هٰذِهِ الدَّعْوَى نَظَرٌ، بَلْ هِيَ مَمْنُوعَةٌ كَمَا عُلِمَ مِمَّا تَقَرَّرَ مِنْ حِكَايَةِ الْخِلَافِ عَنِ الصَّحَابَةِ وَمَنْ بَعْدَهُمْ. وَأَمَّا الشَّافِعِيُّ وَآخَرُوْنَ: فَإِنَّهُمْ وَإِنْ قَالُوا بِعَدَمِ كُفْرِهِ إِذَا لَمْ يَسْتَحِلَّ التَّرْكَ، لٰكِنَّهُمْ قَائِلُوْنَ بِأَنَّهُ يُقْتَلُ بِتَرْكِ صَلَاةٍ وَاحِدَةٍ، فَإِذَا أُمِرَ بِهَا فِي وَقْتِهَا حَتّٰى خَرَجَ وَلَمْ يُصَلِّهَا ثُمَّ قِيْلَ لَهُ: صَلِّهَا فَأَبٰى ضُرِبَ عُنُقُهُ بِالسَّيْفِ. الزواجر عن اقتراف الكبائر لابن حجر الهيتمي كِتَابُ الصَّلَاةِ اَلْكَبِيْرَةُ السَّابِعَةُ وَالسَّبْعُوْنَ تَعَمُّدُ تَأْخِيْرِ الصَّلَاةِ عَنْ وَقْتِهَا أَوْ تَقْدِيْمِهَا عَلَيْهِ ۲۲۹/۱.

(۱) معارف الحديث كتاب الصلاة حصه سوم ص ۷۹.

امامِ شافعي او امام مالک رحمهما الله وايي چې د قصدًا مونځ پريښودونکي سزا داده چې دده څټ به په توره وَهلې شي (او وژلې به شي).
امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله وايي چې په جېل (مَحبَس) کې به اَچولې شي، او سخته سزا به ورکولې شي، تردې پورې چې يا خو توبه اُوباسي، او يا په همدې جېل کې مَړ شي. (۱)

(**نوټ**: ددې مسئلې څه تحقيق او دلائل ددې موضوع په آخر کې ذکر دی. ابوالشمس عفي عنه)

# په مونځ کې سستي کول د مُنافقانو علامه ده

۱. په سورة النساء کې الله تعالی د منافقانو يوه علامه دا خودلې ده چې دوی په مانځه کې سستي کوي، ربِّ کريم فرمايي:

﴿ وَإِذَا قَامُوٓا إِلَى الصَّلٰوةِ قَامُوا كُسَالٰى يُرَآءُونَ النَّاسَ وَلَا يَذْكُرُونَ اللهَ إِلَّا قَلِيلًا ﴾.(۲)

ترجمه: او کله چې دا منافقان مانځه ته اُودرېږي نو په سستۍ (او زړه ماتي) سره اُودرېږي، خلقو ته ځانونه ښائي (يعنی ريا کوي)، او الله تعالی ډېر کم يادوي.

**نوټ**: مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله په بيان القرآن کې ليکلي چې په دې آيت کې د مُنافقانو د اِعتقادي سستۍ بيان دی، يعنی دا خلق مونځ فرض نه ګڼي، او نه په دې کې د ثواب عقيده لري، نوځکه مانځه ته په سستۍ سره پاځي.
البته صحيح اِعتقاد سره بدني سستۍ واله کس ددې نه مستثنٰی دی، لهذا که يو کس د بيمارۍ يا عُذر په وجه سستي کوي نو په ده څه ملامتيا نشته، او که بغير عُذره په مانځه کې سستي کوي نو بيا داسې کس د ملامتيا او سزا مستحق دی. (۳)

---

(۱) مظاهر حق شرح مشکوة کتاب الصلاة ج۲. / (وَتَارِكُهَا عَمْدًا مَجَانَةً) أَيْ تَكَاسُلًا فَاسِقٌ (يُحْبَسُ حَتَّى يُصَلِّيَ) لِأَنَّهُ يُحْبَسُ لِحَقِّ الْعَبْدِ فَحَقُّ الْحَقِّ أَحَقُّ. وَقِيلَ يُضْرَبُ حَتَّى يَسِيلَ مِنْهُ الدَّمُ. درمختار. وَقَالَ أَصْحَابُنَا فِي جَمَاعَةٍ مِنْهُمْ الزُّهْرِيُّ لَا يُقْتَلُ بَلْ يُعَزَّرُ وَيُحْبَسُ حَتَّى يَمُوتَ أَوْ يَتُوبَ. رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۳۵۲ کتاب الصلاة ط دارالفکر. اَلصَّلَاةُ فَرِيضَةٌ مُحْكَمَةٌ لَا يَسَعُ تَرْكُهَا وَيَكْفُرُ جَاحِدُهَا. كَذَا فِي الْخُلَاصَةِ. وَلَا يُقْتَلُ تَارِكُ الصَّلَاةِ عَامِدًا غَيْرَ مُنْكِرٍ وُجُوبَهَا بَلْ يُحْبَسُ حَتَّى يُحْدِثَ تَوْبَةً. الفتاوى الهندية كِتَابُ الصَّلَاةِ ۱ / ۵۰ ط دار الفكر

(۲) سورة النساء آية ۱۴۲.

(۳) بيان القرآن، معارف القرآن سورة النساء آية ۱۴۲.

۲ . په سورة التوبة کې الله تعالى فرمايي : ﴿ وَلَا يَأْتُونَ الصَّلٰوةَ اِلَّا وَهُمْ كُسَالٰى ﴾ .(۱)
ترجمه : او دوی مانځه ته نه راځي مګر دوی سستي کوونکي وي ( يعنې په مات زړه مانځه ته راځي ) .

۳ . بيا خاصکر د سهَر او ماسخوتن مونځ خو په منافقانو باندې ډير درُوند وي ، د بخاري شريف حديث دی ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :
لَيْسَ صَلَاةٌ أَثْقَلَ عَلَى الْمُنَافِقِيْنَ مِنَ الْفَجْرِ وَالْعِشَاءِ، وَلَوْ يَعْلَمُوْنَ مَا فِيْهِمَا لَأَتَوْهُمَا وَلَوْ حَبْوًا (۲)
په منافقانو باندې د سهَر او ماسخوتن د مونځ نه بل درُوند مونځ نشته ( يعنې منافقانو ته په ټولو مونځونو کې د سهَر او ماسخوتن مونځ ته راتلل ډير مشکل دي ) ، که چيرته دوی ته دا معلومه وی چې په دې دوه مونځونو کې څومره ډير ثوابونه او برکتونه دي نو دوی به دې دوه مونځونو ته د ګناټو په سرونو راکښيدلو سره راتلی .
يعنې بِالفَرض که د بيمارۍ په وجه په خپو نشو راتلی نو په زَنګونانو باندې به په کښيدو کښيدو ، يا د ګناټو په سرونو باندې به خوئيدلو سره راتلی .

## د مونځ نه غافله خلقو د پاره هلاکت

الله تعالى فرمايي : ﴿ فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّيْنَ . الَّذِيْنَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ ﴾ . (۳)
ترجمه : پس هلاکت دی د هغه مونځ ګزارو د پاره کوم چې د خپلو مونځونو نه غافله (بې خبره ) دي .

په تفسير جلالين کې د '' سَاهُوْنَ '' معنی دا بيان شوی : غَافِلُوْنَ يُؤَخِّرُوْنَهَا عَنْ وَقْتِهَا . (۴)

---

(۱) سورة التوبة آية ۵۴ .

(۲) صحيح البخاري بَابُ فَضْلِ الْعِشَاءِ فِي الْجَمَاعَةِ رقم الحديث ۶۵۷ ، مشكاة المصابيح باب فضائل الصلاة الفصل الاول رقم ۶۲۹ ( ۶ ) ، المعجم الكبير للطبراني رقم ۱۰۰۸۲ ، كنز العمال رقم الحديث ۲۲۸۱۱ ./ (حَبْوًا) : حابين من حبا الصبي إذا مشي على يديه و رجليه أو مقعدته . تعليق مصطفى البغا على البخاري في تشريح حديث ۶۱۵ .

(۳) سورة الماعون آية ۴ ، ۵ .

(۴) تفسير الجلالين سورة الماعون آية ۵ .

دوی د خپلو مونځونو نه غافله دي، او د خپل وخت نه يې روستو اداء کوي.

## د مونځ ضائع کوونکو د پاره د جهنم سزا

۱. کوم کس چې مونځ ضائِع کوي يعنی د خپل وخت نه يې روستو اداء کوي، يا ددې د شرائطو او آدابو لحاظ نه ساتي، يا يې بَغير عُذره په کور کې کوي او جَمعې ته نه حاضرېږي، او دې په دې حالت کې مَړ شي، توبه او نه باسي نو ددې کس د پاره په قرآن کريم کې سخته سزا ذکر شوی، الله تعالی فرمايي:

﴿ فَخَلَفَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ خَلۡفٌ أَضَاعُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَٱتَّبَعُواْ ٱلشَّهَوَٰتِۖ فَسَوۡفَ يَلۡقَوۡنَ غَيًّا ﴾. (۱)

ترجمه: بيا ددې نېکانو خلقو نه پس داسې نا اَهله خلق جانشين شول (او راغلل) چې دوی مونځ ضائع کړو، او د خواهِشاتو پيروي يې اوکړه، پس ډير زَر به دا خلق ددې ګمراهۍ سزا اُومومي. (۲)

(يا دا مطلب چې: ډير زر به دوی د جهنم د غيّ کندې سره مخامخ شي. (۳)).

---

(۱) سورة مريم آية ۵۹.

(۲) ﴿ أَضَاعُواْ ٱلصَّلَوٰةَ ﴾ وفي المراد باضاعتهم إياها قولان. أحدهما: أنهم أخّروها عن وقتها. قاله ابن مسعود، والنّخعيّ، وعمرو بن عبد العزيز. والثاني: تركوها، قاله القرظي، واختاره الزجاج. زاد المسير في علم التفسير ۳/۱۳۸ سورة مريم آية ۵۹.

قال الطبري رحمه الله: وأولى التأولين في ذلك عندي بالصواب بتأويل الآية، قول من قال: إضاعتها تركهم إياها. لدلالة قوله تعالى ذكره بعده على ذلك، وذلك قوله: إِلَّا مَن تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ صالِحاً فلو كان الذين وصفهم بأنهم ضيعوها مؤمنين لم يستثن منهم من آمن وهم مؤمنون، ولكنهم كانوا كفارا لا يصلون لله ولايؤدون له فريضة. تفسير الطبري ۸/ ۳۵۵.

(۳) وفي المراد بهذا الغيّ ستة أقوال: أحدها: أنه وادٍ في جهنم. رواه ابن عباس عن رسول الله صلى الله عليه وسلّم، وبه قال كعب. والثاني: أنه نهر في جهنم. قاله ابن مسعود. والثالث: أنه الخسران. رواه ابن ابي طلحة عن ابن عباس. والرابع: أنه العذاب. قاله مجاهد. والخامس: أنه الشرُّ. قاله ابن زيد، وابن السائب. والسادس: أنّ المعنى: فسوف يلقون مجازاة الغي، كقوله: يَلْقَ أَثَامًا (سورة الفرقان: ۶۸) أي: مجازاة الآثام. قاله الزجاج. زاد المسير في علم التفسير ۳/۱۳۸ سورة مريم آية ۵۹. قال الطبري رحمه الله في «تفسيره» ۸/ ۳۵۷: وكل هذه الأقوال متقاربات المعاني.

۲ . حافظ ابونعيم رحمه الله په حلية الاولياء کې دا حديث رانقل کړی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ تَرَكَ الصَّلَاةَ مُتَعَمِّدًا كَتَبَ اللهُ اِسْمَهُ عَلٰى بَابِ النَّارِ مِمَّنْ يَدْخُلُهَا . (۱)

څوک چې قصدًا مونځ پرېږدي نو الله تعالی دده نوم د جهنم په هغه دَروازه اُوليکي چې په کومه به دې جهنم ته داخلېږي .

## جهنميان به جهنم ته د تللو يوه وجه " مونځ نه کول " بيان کړي

په قيامت کې جَهنميان چې جهنم ته د تللو کوم وجوهات بيانوي په هغې کې به يوه وجه دا هم بيان کړي :

﴿ لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّيْنَ ﴾ . (۲)

ترجمه : مونږ نه وو د مونځ ګزارو نه . (يعنی مونږ به مونځ نه کولو ) .

ددې آيت نه څلور آيتونه روستو الله تعالی ددې بيلمازه او د قيامت تَکذيب کوونکو په باره کې فرمايي :

﴿ فَمَا تَنْفَعُهُمْ شَفَاعَةُ الشّٰفِعِيْنَ ﴾ . (۳)

ترجمه : داسې خلقو ته به د سفارش کوونکو سفارش هيڅ نَفع ورنکړي .

## د بېلمازه حشر به په قيامت کې د فِرعون، هامان او نورو کافرانو سره وي

که يو طرف ته د مونځ کوونکي د پاره دېر اِنعامات ذِکر شوي نو بل طرف ته د بيلمازه د پاره سختې سزاګانې هم ذِکر شوي ، د مشکوة شريف دی ، حضرت عبدالله بن عَمرو بن العاص رضي الله عنهما فرمايي :

(۱) حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ۷/ ۲۵۴ ، الزواجر عن اقتراف الكبائر لابن حجر الهيتمي كِتَابُ الصَّلَاةِ اَلْكَبِيْرَةُ السَّادِسَةُ وَالسَّبْعُوْنَ تَعَمُّدُ تَرْكِ الصَّلَاةِ ۱/ ۲۱۹ ، مكاشفة القلوب باب ۴۹ .

(۲) سورة المدثر آية ۴۳ .

(۳) سورة المدثر آية ۴۸ .

چې يوه ورځ نبي کريم صلی الله عليه وسلم د مونځ ذِکر اوکړو ( يعنی د مانځه فضيلت او اَهميت بيانولو اِراده يې اوکړه ) نو وې فرمايل :

مَنْ حَافَظَ عَلَيْهَا كَانَتْ لَهُ نُوْرًا ، وَبُرْهَانًا ، وَنَجَاةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ ، وَمَنْ لَمْ يُحَافِظْ عَلَيْهَا لَمْ يَكُنْ لَهُ نُورٌ ، وَلَا بُرْهَانٌ ، وَلَا نَجَاةٌ ، وَكَانَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَعَ قَارُوْنَ ، وَفِرْعَوْنَ ، وَهَامَانَ ، وَأُبَيِّ بْنِ خَلَفٍ . (۱)

څوک چې د مونځ حفاظت کوي ( يعنی هميشه يې په پابندۍ سره کوي ) نو دا مونځ به دده د پاره د قيامت په ورځ نُور وي ، دده د اِيمان کامِل کيدو واضحه دليل به وي ، او دده د نِجات ذريعه به وي .

او څوک چې د مونځ حِفاظت نه کوي نو دا مونځ به نه دده د پاره نُور وي ، نه به دده د اِيمان کامِل کيدو دليل وي ، او نه به دده د پاره د نِجات ذريعه وي ، بلکه د داسې بيلمازه حشر به د قيامت په ورځ قارون ، فِرعون ، هامان ، او اُبَيّ ابن خَلَف سره وي ( او د دوی سره به په عذاب کې مبتلاء وي ) .

**د حديث تشريح** : د مونځ د حفاظت مطلب دادی چې انسان په پابندۍ سره مونځ کوي ، او ورسره د مانځه د فرائضو ، واجباتو ، سُنتو او آدابو لحاظ ساتي نو بيا داسې کس د مذکوره ثواب مستحق دی .

او چې څوک د مونځ حفاظت نه کوي يعنی په پابندۍ سره يې نه کوي ، يا ددې د فرائضو ، واجباتو وغيره لحاظ نه ساتي نو بيا دداسې کس د پاره په مذکوره حديث کې

(۱) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رضي الله عنهما عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ : ذَكَرَ الصَّلَاةَ يَوْمًا ، فَقَالَ : مَنْ حَافَظَ عَلَيْهَا كَانَتْ لَهُ نُوْرًا ، وَبُرْهَانًا ، وَنَجَاةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ ، وَمَنْ لَمْ يُحَافِظْ عَلَيْهَا لَمْ يَكُنْ لَهُ نُورٌ ، وَلَا بُرْهَانٌ ، وَلَا نَجَاةٌ ، وَكَانَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَعَ قَارُوْنَ ، وَفِرْعَوْنَ ، وَهَامَانَ ، وَأُبَيِّ بْنِ خَلَفٍ . إسناده صحيح ، مسند احمد رقم الحديث ۶۵۷۶ مُسْنَدُ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا . سنن الدارمي بَابٌ: فِي الْمُحَافَظَةِ عَلَى الصَّلَاةِ رقم الحديث ۲۷۶۳ . شعب الايمان للبيهقي رقم ۲۵۶۵ ، المعجم الاوسط للطبراني رقم الحديث ۱۷۶۷ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ۸۳۲ كتاب الصَّلَاةِ التَّرْغِيب فِي الْأَذَانِ ، الترغيب والترهيب لقوام السنة رقم الحديث ۱۹۳۳ فصل في عقوبة تارك الصلاة .

سخته سزا ذکر شوې چې د داسې کس حشر به د قيامت په ورځ د قارون، فرعون، هامان او اُبَيّ بن خَلَف غوندې لعنتي کافرانو سره وي .

قارون او فِرعون خو هر کس پېژني ، هامان د فِرعون وزير ؤ ، او اُبيّ بن خَلَف خو مشهور مشرِک دی چې د نبي عليه السلام سخت ترين دُشمن ؤ .

په دې اُمت کې د ټولو نه بَدبخته او لعنتي مُشرک ابي بن خلف دی ، ځکه په غزوهٔ اُحد کې نبي کريم ﷺ دا په خپل لاس مبارک باندې قتل کړی او جهنم ته يې رسولی .

پس څوک چې د مونځ حفاظت نه کوي نو دده حشر به د قيامت په ورځ د دغه بَدبخته لعينو کافرانو سره وي .

په دې خبره ځان پوهه کړه چې دا سزا د هغه چا د پاره ده څوک چې د مونځ حفاظت نه کوي (يعنی پوره په پابندۍ سره يې نه کوي ، يا د مانځه د فرائضو ، او واجباتو لحاظ نه ساتي ) ، اوس تاسو په خپله سوچ اوکړئ چې کوم کس د سره مونځ نه کوي نو د هغه د پاره به په قيامت کې څومره سخته سزا وي ؟ (۱)

**د کافرانو سره د يلمازه د حشر وجه** : علامه ذهبي رحمه الله په " الکبائر " کې ددې څلورو کافرانو سره د حشَر وجه دا ليکلې :

د انسان نه چې مونځ پاتې کيږي نو يا به د مال په وجه وي ، يا د حکومت په وجه ، يا د وزارت په وجه ، او يا د تجارت په وجه .

پس که دده نه د مال په وجه مونځ پاتې شي نو دده حشَر به د قارون سره وي ، او که د مُلک او حکومت په وجه ورنه مونځ پاتې شي نو دده حشَر به د فرعون سره وي ، او که د وزارت په وجه ورنه مونځ پاتې شي نو دده حشَر به د هامان سره وي ، او که د تجارت په وجه ورنه مونځ پاتې شي نو دده حشر به د اُبيّ بن خلف سره وي . (۲)

---

(۱) مظاهر حق شرح مشكوة ج۱ الفصل الثالث في تشريح الحديث المذكور .

(۲) قَالَ بعضُ العلماء رَحِمهم الله : وَإِنَّمَا يحشر تَارِك الصَّلَاة مَعَ هَؤُلَاءِ الأَرْبَعَة لِأَنَّهُ إِنَّمَا يشتغل عَن الصَّلَاة بِمَالِه أَو بملكه أَو بوزارته أَو بتجارته . فَإِن اشتغل بِمَالِه حشر مَعَ قَارون . وَإِن اشتغل بملكه حشر مَعَ فِرْعَوْن . وَإِن اشتغل بوزارته حشر مَعَ هامان . وَإِن اشتغل بتجارته حشر مَعَ أُبي بن خلف تَاجر الكفَّار بِمَكَّة . كتاب الكبائر للذهبي الكبيرة الرَّابِعَة فِي ترك الصَّلَاة ۱ /۱۹ طبع : دار الندوة الجديدة بيروت .

همدا خبره علامه ابن حجر رحمه الله په " الزواجر " کې هم ليکلی . (۱)

## په مونځ پريخودونکي باندې د الله ﷻ غضب نازليږي

۱ . رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ تَرَكَ الصَّلَاةَ لَقِيَ اللهَ وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ . (۲)

څوک چې ( بغير عُذره قصدًا ) مونځ پريږدي نو دې به د الله تعالی سره په داسې حالت کې ملاؤ شي چې الله ﷻ به په ده باندې غُصه وي . ( يعنی سخت به ورنه ناراضه وي ) .

۲ . کله چې د حضرت عبد الله بن عباس ﷺ د سترګو نظر کمزورې شو ، او نابينا شو نو خلقو ورته وويل :

چې ستا د سترګو علاج کيدې شي خو يو څو ورځې به د پرهيز په خاطر مونځ پريږدی ، ځکه د دې علاج په دَوران کې حرکت نقصاني دی ، ده ورته وويل :

زه هيڅ کله مونځ نه پريږدم ، ځکه رسول الله ﷺ فرمايي :

مَنْ تَرَكَ صَلَاةً لَقِيَ اللهَ وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ .

څوک چې ( بغير عُذره ) مونځ پريږدي نو دې به د قيامت په ورځ د الله ﷻ سره په داسې حالت کې مخامخ کيږي چې الله ﷻ به ورباندې غصه وي .

---

(۱) قَالَ بَعْضُ الْعُلَمَاءِ : وَإِنَّمَا حُشِرَ مَعَ هٰؤُلَاءِ لِأَنَّهُ إِنْ اشْتَغَلَ عَنِ الصَّلَاةِ بِمَالِهِ أَشْبَهَ قَارُوْنَ فَيُحْشَرُ مَعَهُ . أَوْ بِمُلْكِهِ أَشْبَهَ فِرْعَوْنَ فَيُحْشَرُ مَعَهُ . أَوْ بِوَزَارَتِهِ أَشْبَهَ هَامَانَ فَيُحْشَرُ مَعَهُ . أَوْ بِتِجَارَتِهِ أَشْبَهَ أُبَيَّ بْنِ خَلَفٍ تَاجِرَ كُفَّارِ مَكَّةَ فَيُحْشَرُ مَعَهُ . الزواجر عن اقتراف الكبائر لابن حجر الهيثمي كِتَابُ الصَّلَاةِ اَلْكَبِيْرَةُ السَّادِسَةُ وَالسَّبْعُوْنَ تَعَمُّدُ تَرْكِ الصَّلَاةِ ۱/ ۲۲۱ طبع دار الفكر .

(۲) معجم الزوائد و منبع الفوائد رقم الحديث ۱۶۳۲ بَابٌ فِي تَارِكِ الصَّلَاةِ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۱۱۷۸۲ ، و رواه البزّار ، كنز العمال رقم الحديث ۱۸۸۷۵ . المستخرج من الاحاديث المختارة مما لم يخرجه البخاري و مسلم ۱۲ /۸۷ رقم الحديث ۱۰۰ .

نو اې خلقو! ماته رَنديدل خوَښ دي ليکن د الله ﷻ غضَب او غصه څنګه برداشت کړم ؟ ۰ (۱)

## مونځ پريخودونکې بَدبخته او محرومه دی

**۱** . حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما د نبي کريم صلی الله عليه وسلم دا ارشاد نقل کوي چې يو ځل رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته وفرمايل : دُعا اوکړئ چې

اَللّٰهُمَّ لَا تَدَعْ فِيْنَا شَقِيًّا وَلَا مَحْرُوْمًا .

اې الله ! په مونږ کې څوک شقي ( بَدبَخته ) او محرومه مه کړې .

بيا نبي عليه السلام صحابه کرامو ته وفرمايل :

اَتَدْرُوْنَ مَنِ الشَّقِيُّ الْمَحْرُوْمُ؟

آيا تاسو پوهيږئ چې شقي محروم څوک دی ؟

صحابه کرامو ورته وفرمايل : اې د الله رسوله ! دا څوک دی ؟

رسولُ الله صلیٰ الله عليه وسلم اوفرمايل :

تَارِكُ الصَّلَاةِ . (بغير عُذره ) د مونځ پريخودونکې. (۲)

---

(۱) مکاشفة القلوب باب ۴۹ .

دا واقعه علامه ابن حجر په " الزواجر " کې داسې رانقل کړې : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ، قَالَ: لَمَّا قَامَ بَصَرِيْ أَيْ ذَهَبَ مَعَ بَقَاءِ صِحَّةِ الْحَدَقَةِ . قِيْلَ نُدَاوِيْكَ وَتَدَعُ الصَّلَاةَ أَيَّامًا ؟ قَالَ : لَا ، إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : مَنْ تَرَكَ الصَّلَاةَ لَقِيَ اللهَ وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ . الزواجر عن اقتراف الكبائر لابن حجر الهيتمي كِتَابُ الصَّلَاةِ اَلْكَبِيْرَةُ السَّادِسَةُ وَالسَّبْعُوْنَ تَعَمُّدُ تَرْكِ الصَّلَاةِ ۱ /۲۱۸ .

(۲) وَعَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ يَوْمًا لِأَصْحَابِهِ ، قُوْلُوْا اَللّٰهُمَّ لَا تَدَعْ فِيْنَا شَقِيًّا وَلَامَحْرُوْمًا . ثُمَّ قَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَدْرُوْنَ مَنِ الشَّقِيُّ الْمَحْرُوْمُ؟ قَالُوْا : وَمَنْ هُوَ يَارَسُوْلَ اللهِ ؟ قَالَ : تَارِكُ الصَّلَاةِ . الزواجر لابن حجر الهيتمي كِتَابُ الصَّلَاةِ اَلْكَبِيْرَةُ السَّابِعَةُ وَالسَّبْعُوْنَ تَعَمُّدُ تَأْخِيْرِ الصَّلَاةِ عَنْ وَقْتِهَا أَوْ تَقْدِيْمِهَا عَلَيْهِ ص ۲۲۷

۲ . حضرت سعدي رحمه الله فرمايي چې بيلمازه ته قرض مه ورکوه ، ځکه چې يو کس د الله ﷻ قرض (يعنې فرض مونځ) نه اداء کوي نو هغه به بيا ستا قرض څه اداء کړي ؟

۳ . بعضو علماؤ ويلي چې د بيلمازه نه خنزير هم پناه غواړي ، او شيطان هم د هغه سره سفر نه کوي ، ځکه شيطان وايي چې زه د يوې سجدې په نه کولو سره تر قيامته پورې لعني شوم او دا بيلمازه خو مسلسل د الله ﷻ حکمونه ماتوي او سجدې نه کوي . (۱)

## واقعه : بغير عُذره د مونځ پريخودو ګناه ډيره سخته ده

۱. امام ذهبي رحمه الله په " الکبائر " کې ، علامه ابن حجر رحمه الله په " الزواجر " کې . او امام غزالي رحمه الله په " مکاشفة القلوب " کې يوه واقعه رانقل کړې :

چې د بني اسرائيلو يوه ښځه حضرت موسیٰ عليه السلام ته راغله ، او ورته وې ويل :

يَا رَسُوْلَ اللهِ ! إِنِّيْ أَذْنَبْتُ ذَنْبًا عَظِيْمًا وَ قَدْ تُبْتُ إِلَى اللهِ تَعَالٰى فَادْعُ اللهَ لِيْ أَنْ يَغْفِرَ ذَنْبِيْ وَيَتُوْبَ عَلَيَّ .

اې د الله رسوله ! ما ډيره غټه ګناه کړې ، ما د هغې نه توبه هم ويستلې ده ، خو بيا هم ته زما د پاره د الله ﷻ نه دُعا اوغواړه چې زما ګناه معاف کړي ، او زما توبه قبوله کړي .

حضرت موسیٰ عليه السلام ورته وفرمايل :

وَمَا ذَنْبُكِ ؟ تا څه ګناه کړې ؟

هغې وويل :

يَا نَبِيَّ اللهِ ! زَنَيْتُ وَوَلَدْتُ وَلَدًا فَقَتَلْتُهُ .

اې د الله پيغمبره ! ما زِنا کړې وه ، بيا مې بچې اوشو هغه مې هم قتل کړو .

---

(۱) علمي تقريرونه حصه دوم

موسى عليه السلام ورته وويل :

أُخْرُجِيْ يَا فَاجِرَةُ . لَا تَنْزِلُ نَارٌ مِنَ السَّمَآءِ فَتُحْرِقُنَا بِشُؤْمِكَ .

اې بَدکارې اُووځه ، هسې نه چې د آسمان نه اُور رانازل شي او ستا د بَدبختۍ په وجه مونږ او نه سوزوي .

دا ښځه د حضرت موسى عليه السلام نه راروانه شوه ، په زړه کې ډيره خفه وه ، په دې وخت کې حضرت جبريل عليه السلام راغی ، او وې فرمايل :

يَا مُوْسٰى ! اَلرَّبُّ تَعَالٰى يَقُوْلُ لَكَ : لِمَ رَدَدْتَ التَّائِبَةَ ؟ يَا مُوْسٰى ! أَمَا وَجَدْتَ شَرًّا مِنْهَا ؟

اې موسى ! الله رب العزت تاسو ته فرمايي چې تا دا توبه ويستونکې ښځه ولې واپس کړه ؟ اې موسى ! تا ددې ښځې نه ډير بَدبخته ( او بَدعمَله ) ندې موندلی ؟

موسى عليه السلام ورته وفرمايل : وَمَنْ شَرٌّ مِنْهَا ؟

اې جبريل ! ددې ښځې نه ډير بَدبخته ( او بدعمَله ) بل څوک دی ؟

هغه ورته وويل :

تَارِكُ الصَّلَاةِ عَامِدًا مُتَعَمِّدًا . (١)

( بغير عُذره ) قصدًا مونځ پريخودونکی .

---

(١) وَرُوِيَ أَنَّ امْرَأَةً مِنْ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ جَاءَتْ إِلٰى مُوْسٰى - صَلَّى اللهُ عَلٰى نَبِيِّنَا وَعَلَيْهِ وَعَلٰى سَائِرِ النَّبِيِّيْنَ - فَقَالَتْ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! إِنِّيْ أَذْنَبْتُ ذَنْبًا عَظِيْمًا وَقَدْ تُبْتُ إِلَى اللهِ تَعَالٰى فَادْعُ اللهَ لِيْ أَنْ يَغْفِرَ ذَنْبِيْ وَيَتُوْبَ عَلَيَّ . فَقَالَ لَهَا مُوْسٰى : وَمَا ذَنْبُكِ ؟ قَالَتْ : يَا نَبِيَّ اللهِ ! زَنَيْتُ وَوَلَدْتُ وَلَدًا فَقَتَلْتُهُ . فَقَالَ لَهَا مُوْسٰى عَلٰى نَبِيِّنَا وَعَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ : أُخْرُجِيْ يَا فَاجِرَةُ . لَا تَنْزِلُ نَارٌ مِنَ السَّمَآءِ فَتُحْرِقُنَا بِشُؤْمِكِ . فَخَرَجَتْ مِنْ عِنْدِهِ مُنْكَسِرَةَ الْقَلْبِ . فَنَزَلَ جِبْرِيْلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَقَالَ : يَا مُوْسٰى ! اَلرَّبُّ تَعَالٰى يَقُوْلُ لَكَ : لِمَ رَدَدْتَ التَّائِبَةَ ؟ يَا مُوْسٰى ! أَمَا وَجَدْتَ شَرًّا مِنْهَا ؟ قَالَ مُوْسٰى : يَا جِبْرِيْلُ ! وَمَنْ شَرٌّ مِنْهَا ؟ قَالَ : مَنْ تَرَكَ الصَّلَاةَ عَامِدًا مُتَعَمِّدًا . الكبائر للذهبي ١ /٢٥ اَلْكَبِيْرَةُ الرَّابِعَةُ فِيْ تَرْكِ الصَّلَاةِ ، مكاشفة القلوب باب ٤٩ ، الزواجر عن اقتراف الكبائر لابن حجر الهيثمي كِتَابُ الصَّلَاةِ اَلْكَبِيْرَةُ السَّابِعَةُ وَالسَّبْعُوْنَ تَعَمُّدُ تَأْخِيْرِ الصَّلَاةِ عَنْ وَقْتِهَا أَوْ تَقْدِيْمِهَا عَلَيْهِ ١ ٢٢٧ ط دار الفكر

## اِبليس د يوې سجدې نه کولو په وجه تر قيامته پورې لعنتي شو

محترمو مسلمانانو ! تاسو ديته سوچ اوکړئ چې کله الله جل جلاله فرښتو او اِبليس ته حکم اوکړو :

﴿ اُسْجُدُوْا لِاٰدَمَ ﴾. (۱) ترجمه : تاسو حضرت آدم عليه السلام ته سجده اوکړئ.

نو ټولو فرښتو سجده اوکړه ليکن اِبليس اونکړه . نو ددې يو حُکم نه منلو په وجه دې تر قيامته پورې د الله ﷻ د لعنت او غضب مُستحق شو .

نو اوس چې کوم کس ته په هره ورځ پنځه پېرې د الله ﷻ دا حکم متوجه وي چې ﴿ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَارْكَعُوْا مَعَ الرّٰكِعِيْنَ ﴾ او په قرآن کريم کې اُووه سوه (۷۰۰) ځايه صراحةً او اِشارةً ده ته د مانځه تذکره شوی ليکن دې بيا هم د الله ﷻ دا حکم نه مني ، نو دده به څه حال وي ؟

## مونځ پرېښودل ډېر نقصاني دي

**۱ . بغير عُذره قصداً مونځ پرېښودل ډېر نقصاني دي ، بيا خاصکر د بعضې مونځونو پرېښودو نقصان خو ډېر زيات دی ، د بخاري شريف حديث دی ، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :**

**اَلَّذِيْ تَفُوْتُهُ صَلَاةُ الْعَصْرِ كَاَنَّمَا وُتِرَ اَهْلَهُ وَمَالَهُ . (۲)**

---

(۱) الله تعالى ددې بيان داسې کړی : ﴿ وَاِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِيْسَ اَبٰى وَاسْتَكْبَرَ . وَكَانَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ﴾ سورة البقرة آية ۳۴ .

(۲) صحيح البخاري كِتَابُ مَوَاقِيْتِ الصَّلَاةِ بَابُ إِثْمِ مَنْ فَاتَتْهُ الْعَصْرُ رقم الحديث ۵۵۲ ، صحيح مسلم بَابُ التَّغْلِيْظِ فِي تَفْوِيْتِ صَلَاةِ الْعَصْرِ رقم الحديث ۲۰۱ ( ٦۲٦ ) سنن ابي داؤد رقم الحديث ۴۱۴ ، سنن ابن ماجه رقم الحديث ٦۸۵ ، سنن الترمذي رقم ۱۷۵ .

وفي رواية : قال عليه السلام : مَنْ تَرَكَ الصَّلَاةَ فَكَاَنَّمَا وُتِرَ اَهْلَهُ وَمَالَهُ . مسند ابي داؤد الطيالسي رقم الحديث ۱۳۳۳ ، و رقم ۱۹۱۲ ، و رواه ابن حبان ، قال المحقق اسناده صحيح ۴ / ۳۳۰ .

د کوم کس نه چې د مازيګر مونځ فوتيږي دا داسې دی ګويا چې دده د کور ټول خلق او ټول مال دده نه واخيستې شو .

(يعنی ګويا دده د کور ټول خلق قتل کړې شو ، او دده ټول مال دده نه واخيستې شو ).(١)

٢ . نبي عليه السلام فرمايي :

مَنْ تَرَكَ الصَّلَاةَ فَكَأَنَّمَا وُتِرَ أَهْلَهُ وَمَالَهُ . (٢)

د چا نه چې مونځ فوت شو دا داسې دی ګويا چې دده د کور ټول خلق او ټول مال دده نه واخيستې شو .

**فائده** : لکه څرنګې چې يو کس د خپل اهل و عيال د بربادۍ او د مال د نقصان نه ويريږي نو همدغه شان دې د مانځه د قضاء کيدو نه اوويريږي .

## د مونځ پريخودو سزا

په بخاري شريف او نورو د احاديثو په کتابونو کې يو اوږد حديث ذکر دی ( خو زه به يې درته څه لږه مخصوصه حِصه رانقل کړم ) :

---

(١) (تَفُوْتُهُ) لا يؤديها في وقتها . (وُتِرَ) سلب وترك بلا أهل ولا مال . وفي بعض النسخ بعد الحديث كلام وهو " قال أبو عبد الله يتركم وترت الرجل إذا قتلت له قتيلا أو أخذت له مالا " . تعليق مصطفى البغا على البخاري في تشريح حديث رقم ٥٥٢ .

( وُتِرَ أَهْلَهُ وَمَالَهُ ) روی بنصب اللامين و رفعهما والنصب هو الصحيح المشهور الذي عليه الجمهور على أنه مفعول ثان . ومن رفع فعلى ما لم يسم فاعله . ومعناه : انتزع منه أهله وماله . وهذا تفسير مالك بن أنس . وأما على رواية النصب فقال الخطابي وغيره معناه : نقص هو أهله وماله وسلبه فبقي بلا أهل ولا مال فليحذر من تفويتها كما يحذر من ذهاب أهله وماله . وقال أبو عمر بن عبد البر معناه عند أهل اللغة والفقه أنه كالذي يصاب بأهله وماله إصابة يطلب بها وترا . والوتر الجناية التي يطلب ثأرها فيجتمع عليه غمان غم المصيبة وغم مقاساة طلب الثأر . شرح محمد فؤاد عبد الباقي على صحيح مسلم في تشريح حديث ٦٢٦ .

(٢) مسند ابي داؤد الطيالسي رقم الحديث ١٣٣٣ ، ورقم ١٩١٢ ، و رواه ابن حبان ، قال المحقق اسناده صحيح ٤ / ٣٣٠ .

حضرت سَمُرة بن جُندُب رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به ( د سهر مونځ اوکړو نو مونږ ته به يې مَخ راواړول ، او دوی به ) اکثره د صحابه کرامو نه داپوښتنه کوله :

هَلْ رَأَى أَحَدٌ مِنكُمْ مِنْ رُؤْيَا ؟

آيا په تاسو کې چا ( بيګاه شپه ) خوب ليدلی ؟

که چا به ليدلې وُ نو نبي عليه السلام ته به يې بيان کړو ، دوی به ورته جواب ورکړو . يوه ورځ يې د سهَر مانځه نه پس اوفرمايل : بيګاه شپه ماته په خوب کې دوه کسان ( حضرت جبريل عليه السلام او حضرت ميکائيل عليه السلام ) راغلل ، دوی زه راپاڅولم ، او ماته يې وويل : د مونږ سره راځه .

زه د دوی سره روان شوم ، مونږ داسې يو کس ته راغلو چې هغه پروت وُ ، او بل کس د ده سره ولاړ وُ ، ددې ولاړ کس سره کاڼړې وُ ، ده به په دې کاڼړي باندې ددې پروت کس سَر اُوويشت ، چې په دې سره به دده سَر مات ( چَخنړي ) شو ، او دا کاڼړې به لرې اُولغړيد ، دا کس به ددې کاڼړي راوړو پسې ورغی ، چې واپس به راغی نو ددې پروت کس سَر به د مخکې په شان مکمل روغ شوې وُ ، دې ولاړ کس به دوباره دده سَر په کاڼړي اُوويشت ، دوباره به هسا غه کار اوشو څنګه به چې اول شوې وُ ( يعنی په دې کاڼړي به دده سَر مات شو ، او کاڼړې به لرې لاړ ، کله به چې ده واپس کاڼړې راوړو نو دده سَر به روغ شوې وُ ، او دا سلسله هسې داسې جاري وه ) نبي عليه السلام فرمايي چې ما دې دواړو ( خپلو ملګرو ) ته وويل : سُبْحَانَ اللهِ مَا هٰذَانِ ؟

سبحان الله ، دا دواړه څوک دي ؟

دوی راته وويل : مخکې لاړ شه ، مخکې لاړ شه .....

..........( بيا نبي عليه السلام مخکې لاړ او نور ډير قِسمه خلق يې اوليدل ) ....

..... نبي عليه السلام فرمايي ( چې زه د چا سره په خوب کې روان ووم ) ما دوی ته وويل : ما نن شپه ډير عجيبه شيان اُوليدل ، دا څه شيان وو چې ما اُوليدل ؟ دوی راته وويل :

أَمَا إِنَّا سَنُخْبِرُكَ . اوس به مونږ تاته د دوی په باره کې خبر درکړو :

أَمَّا الرَّجُلُ الْأَوَّلُ الَّذِيْ أَتَيْتَ عَلَيْهِ يُثْلَغُ رَأْسُهُ بِالْحَجَرِ ، فَإِنَّهُ الرَّجُلُ يَأْخُذُ الْقُرآنَ فَيَرْفُضُهُ وَيَنَامُ عَنِ الصَّلاَةِ الْمَكْتُوبَةِ ....... (۱)

په هغه اول کس باندې چې ته راغلی چې د هغه سَر په کاڼړي سره ماتولې ( چخنړي ) کولې شو دا هغه کس دی چې قرآن کريم زده کړي بيا يې پريږدي ، او فرض مونځ پريږدي اوده شي .....

## مونځ په خپل وخت کې کول فرض دي

۱ . مونځ په خپل وخت باندې کول فرض دي ، الله رب العزت فرمايي :

﴿ إِنَّ الصَّلٰوةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ كِتٰبًا مَّوْقُوْتًا ﴾ . (۲)

---

(۱) دا حديث په بخاري شريف کې مکمل په تفصيل سره ذکر دی ، خو ډير اوږد دی ، زه به ورنه صرف لږ ځای رانقل کړم :

عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِمَّا يُكْثِرُ أَنْ يَقُوْلَ لِأَصْحَابِهِ : هَلْ رَأَى أَحَدٌ مِنكُمْ مِنْ رُؤْيَا ؟ قَالَ : فَيَقُصُّ عَلَيْهِ مَنْ شَاءَ اللهُ أَنْ يَقُصَّ . وَإِنَّهُ قَالَ ذَاتَ غَدَاةٍ : إِنَّهُ أَتَانِي اللَّيْلَةَ آتِيَانِ . وَإِنَّهُمَا ابْتَعَثَانِي . وَإِنَّهُمَا قَالَا لِي اِنْطَلِقْ . وَإِنِّي اِنْطَلَقْتُ مَعَهُمَا . وَإِنَّا أَتَيْنَا عَلَى رَجُلٍ مُضْطَجِعٍ. وَإِذَا آخَرُ قَائِمٌ عَلَيْهِ بِصَخْرَةٍ . وَإِذَا هُوَ يَهْوِيْ بِالصَّخْرَةِ لِرَأْسِهِ فَيَثْلَغُ رَأْسَهُ . فَيَتَدَهْدَهُ الْحَجَرُ هَا هُنَا. فَيَتْبَعُ الْحَجَرَ فَيَأْخُذُهُ . فَلَا يَرْجِعُ إِلَيْهِ حَتّٰى يَصِحَّ رَأْسُهُ كَمَا كَانَ . ثُمَّ يَعُوْدُ عَلَيْهِ فَيَفْعَلُ بِهِ مِثْلَ مَا فَعَلَ الْمَرَّةَ الْأُوْلَى » قَالَ : قُلْتُ لَهُمَا : سُبْحَانَ اللهِ مَا هٰذَانِ ؟ " قَالَ : " قَالَا لِيْ : اِنْطَلِقْ اِنْطَلِقْ " ........ قَالَا لِيْ : أَمَا إِنَّا سَنُخْبِرُكَ . أَمَّا الرَّجُلُ الْأَوَّلُ الَّذِيْ أَتَيْتَ عَلَيْهِ يُثْلَغُ رَأْسُهُ بِالْحَجَرِ . فَإِنَّهُ الرَّجُلُ يَأْخُذُ الْقُرآنَ فَيَرْفُضُهُ . وَيَنَامُ عَنِ الصَّلاَةِ الْمَكْتُوبَةِ ....... صحيح البخاري ۹ /۴۴ رقم الحديث ۷۰۴۷ كِتَابُ التَّعْبِيرِ بَابُ تَعْبِيرِ الرُّؤْيَا بَعْدَ صَلاَةِ الصُّبْحِ . و اخرجه مسلم في الرؤيا باب رؤيا النبي صلى الله عليه وسلم رقم ۲۲۷۵ ، مشكاة المصابيح رقم الحديث ۴۶۲۱ (۱۶) كتاب الرؤيا الفصل الاول ، شرح السنة للبغوي رقم الحديث ۲۰۵۳ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۶۹۸۶ . صحيح ابن حبان رقم الحديث ۶۵۵ .

(۲) سورة النساء آية ۱۰۳ .

ترجمه : بيشکه مونځ په مومنانو باندې په خپلو مقررو وختونو کې فرض کړې شوې دی.

۲ . الله رب العزت د مانځه د حفاظت حکم کړی :

﴿ حَٰفِظُوا۟ عَلَى ٱلصَّلَوَٰتِ ..... ﴾ . (۱) ترجمه : تاسو د مونځونو حفاظت کوئ .

۳ . د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ نه د دې آيت ﴿ ٱلَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ دَآئِمُونَ ﴾ په معنی کې نقل شوي :

يُحَافِظُوْنَ عَلَىٰ أَوْقَاتِهِمْ وَ وَاجِبَاتِهِمْ . (۲)

د دَآئِمُونَ معنی داده چې دوی د مانځه د وختونو او واجباتو حفاظت کوي .

٤ . همدارنګې حافظ ابن کثير رحمه الله د دې آيت ﴿ وَٱلَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ ﴾ په تفسير کې ليکلي : أَيْ : عَلَىٰ مَوَاقِيْتِهَا وَأَرْكَانِهَا وَوَاجِبَاتِهَا وَمُسْتَحَبَّاتِهَا . (۳)

دا خلق د مانځه د وختونو ، آرکانو ، واجباتو او مُستحباتو حفاظت کوي .

---

(۱) سورة البقرة آية ۲۳۸ .

(۲) ﴿ اَلَّذِيْنَ هُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ دَائِمُوْنَ ﴾ قِيْلَ : مَعْنَاهُ يُحَافِظُوْنَ عَلَىٰ أَوْقَاتِهِمْ وَ وَاجِبَاتِهِمْ . قَالَهُ ابْنُ مَسْعُوْدٍ . وَمَسْرُوْقٌ . وَإِبْرَاهِيْمُ النَّخَعِيُّ .
وَقِيْلَ : اَلْمُرَادُ بِالدَّوَامِ هَاهُنَا السُّكُوْنُ وَالْخُشُوْعُ . كَقَوْلِهِ : ﴿ قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ خَاشِعُوْنَ . المؤمنون ۱ . ۲ ﴾ قَالَهُ عُقْبَةُ بْنُ عَامِرٍ . وَمِنْهُ الْمَاءُ الدَّائِمُ . أَيِ : السَّاكِنُ الرَّاكِدُ .
وَقِيْلَ اَلْمُرَادُ بِذٰلِكَ الَّذِيْنَ إِذَا عَمِلُوْا عَمَلًا دَاوَمُوْا عَلَيْهِ وَأَثْبَتُوْهُ .. تفسير ابن كثير ۸ / ۲۲٦ . ط . دار طيبة للنشر والتوزيع

(۳) تفسير ابن كثير المعارج آية ۲۳ وَقَالَ ابْنُ مَسْعُوْدٍ . وَمَسْرُوْقٌ فِيْ قَوْلِهِ : ﴿ وَالَّذِيْنَ هُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ﴾ يَعْنِيْ : مَوَاقِيْتَ الصَّلَاةِ وَكَذَا قَالَ أَبُو الضُّحَىٰ . وَعَلْقَمَةُ بْنُ قَيْسٍ . وَسَعِيْدُ بْنُ جُبَيْرٍ . وَعِكْرِمَةُ .
وَقَالَ قَتَادَةُ : عَلَىٰ مَوَاقِيْتِهَا وَرُكُوْعِهَا وَسُجُوْدِهَا . تفسير ابن كثير ۵/۴٦۳ المؤمنون آية ۹ .

۵ . همدارنګې په احاديثومباركه ؤ کې په خپل وخت مونځ کولو ته بهترين عمَل ويل شوى . (۱)

## د حضرت جبريل عليه السلام امامت

دا خبره په صحيح احاديثو کې ذکر ده چې ددې پنځو مونځونو حکم نبي عليه السلام ته د معراج په شپه شوې ؤ ، خو ددې د وختونو د تَعليم د پاره صرف په قولي تَعليم باندې اکتفاء اونشوه بلکه د عمَلي تعليم د پاره حضرت جبريل عليه السلام په خپله مکې معظمې ته راغى او دوه ورځې يې نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته اِمامت اوکړو .

په اوله ورځ يې هر مونځ په اول وخت کې اداء کړو ، او په دويمه ورځ يې هر مونځ په آخِر وخت کې اداء کړو ، بيا يې نبي عليه السلام ته وفرمايل : چې د مانځه وخت ددې دواړو وختونو په مينځ کې دى . (۲)

ددې نه هم په خپل وخت باندې د مانځه کولو اَهميت معلوم شو .

## بغير عُذره مونځ د خپل وخت نه روستو کول ګناه ده

بغير د څه شرعي عُذر نه مونځ د خپل وخت نه روستو کول ګناهِ کبيره ده ، دغه وجه ده چې علامه ابن حجر رحمه الله په " الزواجر " کې مونځ د خپل وخت نه روستو کول يا رامخکې کول په ګناهِ کبيره کې شمار کړى ، دې وايي :

---

(۱) حضرت عبدالله بن مسعود ﷛ فرمايي : قَالَ : سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَيُّ الْعَمَلِ أَحَبُّ إِلَى اللهِ ؟ قَالَ : " اَلصَّلاَةُ عَلَى وَقْتِهَا » قَالَ : ثُمَّ أَيٌّ ؟ قَالَ : « ثُمَّ بِرُّ الْوَالِدَيْنِ » قَالَ : ثُمَّ أَيٌّ ؟ قَالَ : « اَلْجِهَادُ فِي سَبِيْلِ اللهِ » . صحيح البخاري بَابُ فَضْلِ الصَّلاَةِ لِوَقْتِهَا رقم الحديث ۵۲۷ ، و رقم ۷۵۳۴ بَابُ وَسَمَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّلاَةَ عَمَلاً ، صحيح مسلم بَابُ بَيَانِ كَوْنِ الإِيمَانِ بِاللهِ تَعَالَى أَفْضَلَ الأَعْمَالِ رقم الحديث ۱۳۹ ( ۸۵ ) ، مسند ابي داؤد الطيالسي رقم الحديث ۳۷۰ ، مشكاة المصابيح كتاب الصلوة الفصل الاول حديث ۵ ، و رواه النسائي فى المواقيت رقم ۴۹ . و احمد في مسنده ۱ / ۴۱۰ ، ۴۳۹ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۵۱ .

(۲) **نوټ** : د وختونو د عمَلي تعليم د پاره نبي ﷺ ته د حضرت جبريل ﷣ د امامت حديث په اکثره کتابونو کې ذکر دى لکه په : صحيح البخاري رقم الحديث ۳۲۲۱ باب ذكر الملائكة ، صحيح مسلم رقم ۱۶۶ ، سنن الترمذي رقم ۱۴۹ باب ما جاء في مواقيت الصلاة عن النبي صلى الله عليه وسلم ، صحيح ابن خزيمة رقم ۳۲۵ ، المعجم الكبير للطبراني رقم ۵۴۴۳ ، و رقم ۱۰۷۵۲ :

" اَلْكَبِيْرَةُ السَّابِعَةُ وَالسَّبْعُوْنَ تَعَمُّدُ تَأْخِيْرِ الصَّلَاةِ عَنْ وَقْتِهَا أَوْ تَقْدِيْمِهَا عَلَيْهِ "

اووه اويايمه ( ۷۷ ) ګناهِ کبیره " مونځ د خپل وخت نه روستو کول یا د وخت نه مخکې اداء کول دي .

۱ . علامه ذهبي رحمه الله په " الکبائر " کې د ابن حزم په حواله لیکلي :

لَا ذَنْبَ بَعْدَ الشِّرْكِ أَعْظَمُ مِنْ تَأْخِيْرِ الصَّلَاةِ عَنْ وَقتِهَا . وَقَتْلِ مُؤْمِنٍ بِغَيْرِ حَقٍ . (۱)

د شِرک نه پس بله غټه ګناه " مونځ د خپل وخت نه روستو کول ، او په ناحقه مومن قتل کول " دي .

۲ . په تفسیر جلالین کې په دې آیت : ﴿ فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّيْنَ ، الَّذِيْنَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ ﴾ کې د " سَاهُوْنَ " معنی دا بیان شوی : غَافِلُوْنَ يُؤَخِّرُوْنَهَا عَنْ وَقْتِهَا . (۲)

ترجمه : پس هلاکت دی د هغه مونځ ګزارو د پاره کوم چې د خپلو مونځونو نه غافله دي . د " سَاهُوْنَ " معنی داده چې دوی د خپلو مونځونو نه غافله دي ، او د خپل وخت نه یې روستو کوي .

۳ . په قرآن کریم کې چې د مانځه ضائع کوونکو د پاره کومه سزا په دې آیت کې ذکر شوی ﴿ فَخَلَفَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ ... ﴾ نو بعضې اسلافو ددې په تفسیر کې دا هم لیکلي چې بې وخته مونځ کول هم د مونځ ضائع کولو یو قِسم دی . (۳)

---

(۱) کتاب الکبائر للذهبي اَلْكَبِيْرَةُ الرَّابِعَةُ فِي تركِ الصَّلَاة ۱ / ۲۰ .

مَسْأَلَةٌ : قَالَ أَبُوْ مُحَمَّدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : لَا ذَنْبَ عِنْدَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ بَعْدَ الشِّرْكِ أَعْظَمُ مِنْ شَيْئَيْنِ : أَحَدُهُمَا تَعَمُّدُ تَرْكِ صَلَاةِ فَرْضٍ حَتَّى يَخْرُجَ وَقْتُهَا . اَلثَّانِيْ : قَتْلُ مُؤْمِنٍ أَوْ مُؤْمِنَةٍ عَمَدًا بِغَيْرِ حَقٍ . المحلی بالآثار ابو محمد علي بن احمد بن سعيد بن حزم الاندلسي القرطبي كِتَابُ الدِّمَاءِ وَالْقِصَاصِ وَالدِّيَاتِ مَسْأَلَةٌ قَتْلُ مُؤْمِنٍ أَوْ مُؤْمِنَةٍ عَمَدًا بِغَيْرِ حَقٍ ۱۰ / ۲۱۳ . ط. دار الفكر بيروت.

(۲) تفسیر الجلالین سورة الماعون آية ۵ ./ په تفسیر ابن کثیر کې ذکر دي : بعضې اسلافو ویلي چې بې وخته مونځ کول د مانځه نه د غفلت یو فرد دی . تفسیر ابن کثیر ج۴ ص ۵۵۴ .

(۳) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص ۱۲۷ .

همدا مطلب نورو مفسرينو هم اخيستې دی. (۱)

په احاديثو کې قصدا مونځ روستو کوونکي د پاره سختې سزاګانې ذکر شوي. (۲)

## په مونځ کې سستي کولو سره په عذابِ قبر کې مبتلاء کيدل

حافظ ذهبي رحمه الله په " الکبائر " کې، علامه ابن حجر رحمه الله په " الزواجر " کې، او امام غزالي رحمه الله په " مکاشفة القلوب " کې يوه واقعه رانقل کړې:

چې د يو کس خور وفات شوه، قبر ته د ښکته کولو په وخت ددې کس (د جيب) نه بټوه (تهلۍ) اوغورځيده، په دې کې ډيرې روپۍ وې، خو دې په دې لويدلو باندې هيڅ پوهه نه شو، کله چې دې د قبر نه راواپس شو نو ورته رایاده شوه (چې د مانه خو هغه بټوه په قبر کې غورځيدلې ده) نو دې قبر ته واپس راغی، ټول خلق تللي وو، ده دا قبر رااوسپړل، نو وې کتل چې غونډ قبر د اور د لمبو نه ډک دی، ده ورباندې خاورې واپس ورواړولې، خپلې مور ته په ژړا او خفګان باندې راغی، ورته وې ويل:

---

(۱) په تفسير زاد المسير کې ذکر دي: ﴿أَضَاعُوا الصَّلٰوةَ﴾ وفي المراد باضاعتهم إياها قولان. أحدهما: أنهم أخروها عن وقتها. قاله ابن مسعود، والنخعي، وعمرو بن عبد العزيز. والثاني: تركوها. قاله القرظي، واختاره الزجاج. زاد المسير في علم التفسير ۳/ ۱۳۸ سورة مريم آية ۵۹.

علامه ابن حجر رحمه الله په الزواجر کې ليکلي: قَالَ تَعَالَى ﴿فَخَلَفَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ أَضَاعُوا الصَّلٰوةَ﴾ قَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ رضي الله عنه: لَيْسَ مَعْنَى أَضَاعُوهَا: تَرَكُوهَا بِالْكُلِّيَّةِ وَلٰكِنْ أَخَّرُوهَا عَنْ أَوْقَاتِهَا. وَقَالَ سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيِّبِ إِمَامُ التَّابِعِينَ: هُوَ أَنْ لَا يُصَلِّيَ الظُّهْرَ حَتَّى تَأْتِيَ الْعَصْرُ، وَلَا يُصَلِّيَ الْعَصْرَ إِلَى الْمَغْرِبِ، وَلَا يُصَلِّيَ الْمَغْرِبَ إِلَى الْعِشَاءِ، وَلَا يُصَلِّيَ الْعِشَاءَ إِلَى الْفَجْرِ، وَلَا يُصَلِّيَ الْفَجْرَ إِلَى طُلُوعِ الشَّمْسِ. فَمَنْ مَاتَ وَهُوَ مُصِرٌّ عَلَى هٰذِهِ الْحَالَةِ وَلَمْ يَتُبْ أَوْعَدَهُ اللهُ بِغَيٍّ وَهُوَ وَادٍ فِي جَهَنَّمَ، بَعِيدٌ قَعْرُهُ شَدِيدٌ عِقَابُهُ. الزواجر عن اقتراف الكبائر لابن حجر الهيتمي كِتَابُ الصَّلَاةِ اَلْكَبِيرَةُ السَّابِعَةُ وَالسَّبْعُونَ تَعَمُّدُ تَأْخِيرِ الصَّلَاةِ عَنْ وَقْتِهَا أَوْ تَقْدِيمِهَا عَلَيْهِ ۱/ ۲۲۰ ط دار الفكر

(۲) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما قَالَ: "إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ يُؤْتَى بِرَجُلٍ، فَيُوقَفُ بَيْنَ يَدَيِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ فَيَأْمُرُ اللهُ بِهِ إِلَى النَّارِ، فَيَقُولُ يَا رَبِّ بِمَاذَا؟ فَيَقُولُ اللهُ تَعَالَى: بِتَأْخِيرِ الصَّلَاةِ عَنْ أَوْقَاتِهَا، وَحَلِفِكَ بِي كَاذِبًا". الزواجر لابن حجر ۱/ ۲۲۷ اَلْكَبِيرَةُ السَّابِعَةُ وَالسَّبْعُونَ تَعَمُّدُ تَأْخِيرِ الصَّلَاةِ عَنْ وَقْتِهَا أَوْ تَقْدِيمِهَا عَلَيْهِ.

يَا أُمَّاهُ ! أَخْبِرِيْنِيْ عَنْ أُخْتِيْ وَمَا كَانَتْ تَعْمَلُ ؟

اې مورې ! ماته د خپلې خور په باره کې خبر راکړه چې دې به څه کار کولو ؟

مور ورته وویل : ته د هغې متعلق ولې پوښتنه کوې ؟ ده ورته وویل :

يَا أُمَّاهُ ! رَأَيْتُ قَبْرَهَا يَشْتَعِلُ عَلَيْهَا نَارًا .

اې مورې ! ما د هغې قبر اُولید چې د اُور د لمبو نه ډک ؤ .

مور یې په ژړا شوه ، او ورته وې ویل :

يَا وَلَدِيْ ! كَانَتْ أُخْتُكَ تَتَهَاوَنُ بِالصَّلَاةِ وَتُؤَخِّرُهَا عَنْ وَقْتِهَا . فَهٰذَا حَالُ مَنْ يُؤَخِّرُ الصَّلَاةَ عَنْ وَقْتِهَا فَكَيْفَ حَالُ مَنْ لَا يُصَلِّيْ ؟

اې بچيه ! ستا خور به په مانځه کې ډېره سستي کوله . او دا به يې د خپل وخت نه روستو (قضائي) کولو ، دا د هغه چا حال دی چې هغه مونځ د خپل وخت نه روستو اداء کوي . اوس د هغه کس به څه حال وي چې هغه بالکل مونځ نه کوي ؟ (۱)

## په مونځ کې سستي کول د ابليس خوښ عمل دی

۱ . فقيه ابو الليث ثمرقندي رحمه الله په "تنبيه الغافلين" کې دا واقعه رانقل کړې چې په پخوا زمانه کې به ابليس ليدې شو ، يو سړي ورنه پوښتنه اوکړه :

(۱) عَنْ بَعْضِ السَّلَفِ أَنَّهُ دَفَنَ أُخْتًا لَهُ مَاتَتْ فَسَقَطَ مِنْهُ كِيْسٌ فِيْهِ مَالٌ فِيْ قَبْرِهَا وَلَمْ يَشْعُرْ بِهِ حَتَّى انْصَرَفَ عَنْ قَبْرِهَا . ثُمَّ تَذَكَّرَهُ . فَرَجَعَ إِلَى قَبْرِهَا فَنَبَشَهُ بَعْدَ مَا انْصَرَفَ النَّاسُ . فَوَجَدَ الْقَبْرَ يَشْتَعِلُ عَلَيْهَا نَارًا . فَرَدَّ التُّرَابَ عَلَيْهَا وَرَجَعَ إِلَى أُمِّهِ بَاكِيًا حَزِيْنًا . فَقَالَ : يَا أُمَّاهُ ! أَخْبِرِيْنِيْ عَنْ أُخْتِيْ وَمَا كَانَتْ تَعْمَلُ ؟ قَالَتْ : وَمَا سُؤَالُكَ عَنْهَا ؟ قَالَ : يَا أُمَّاهُ ! رَأَيْتُ قَبْرَهَا يَشْتَعِلُ عَلَيْهَا نَارًا . قَالَ : فَبَكَتْ وَقَالَتْ : يَا وَلَدِيْ ! كَانَتْ أُخْتُكَ تَتَهَاوَنُ بِالصَّلَاةِ وَتُؤَخِّرُهَا عَنْ وَقْتِهَا . فَهٰذَا حَالُ مَنْ يُؤَخِّرُ الصَّلَاةَ عَنْ وَقْتِهَا . فَكَيْفَ حَالُ مَنْ لَا يُصَلِّيْ ؟ فَنَسْأَلُ اللهَ تَعَالَى أَنْ يُعِيْنَنَا عَلَى الْمُحَافَظَةِ عَلَيْهَا بِكَمَالَاتِهَا فِيْ أَوْقَاتِهَا إِنَّهُ جَوَادٌ كَرِيْمٌ رَءُوْفٌ رَحِيْمٌ . الزواجر لابن حجر ۱ ۲۲۷ اَلْكَبِيْرَةُ السَّابِعَةُ وَالسَّبْعُوْنَ تَعَمُّدُ تَأْخِيْرِ الصَّلَاةِ عَنْ وَقْتِهَا أَوْ تَقْدِيْمِهَا عَلَيْهِ ط دار الندوة الجديدة بيروت . الكبائر للذهبي اَلْكَبِيْرَةُ الرَّابِعَةُ فِيْ تَرْكِ الصَّلَاةِ ۱ /۲۵ ط دار الندوة الجديدة بيروت ، مكاشفة القلوب باب ۳۹ .

يَا أَبَا مُرَّةَ ! كَيْفَ أَصْنَعُ حَتّٰى أَكُوْنَ مِثْلَكَ ؟

اي ابو مُرّه ! زه داسې څه عمَل او کړم چې ستا په شان شم ؟

ابليس ورته وويل : وَيْحَكَ لَمْ يَطْلُبْ مِنِّيْ أَحَدٌ مِثْلَ هٰذَا فَكَيْفَ تَطْلُبُ أَنْتَ ؟

هلاک شې ، د مانه خو تر اوسه پورې چا داسې پوښتنه او د داسې کار مطالبه نده کړې نو ته څنګه دا غواړې ؟

دې سړي ورته وويل : زما دا خوښه ده چې زه ستا په شان شم ، اِبليس عَلَيْهِ اللَّعْنَة ورته وويل

أَمَّا إِنْ أَرَدْتَ أَنْ تَكُوْنَ مِثْلِيْ فَتَهَاوَنْ بِالصَّلَاةِ وَلَا تُبَالِ مِنَ الْحَلِفِ صَادِقًا أَوْ كَاذِبًا .

كله چې ستا يقيني دا اِراده ده چې ته زما په شان شې نو بيا په مانځه کې سستي کوه ، او د قسَم هيڅ پَرواه مه کوه ، په رِيښتيني او دروغه دواړو باندې قسَم کوه .

دې سړي ورته وويل :

لَقَدْ عَاهَدْتُ اللهَ أَنْ لَا أَدَعَ الصَّلَاةَ وَلَا أَحْلِفَ يَمِيْنًا أَبَدًا .

زه د الله جَلَّ جَلَالُهُ سره دا وعده کوم چې مونځ به نه پرېږدم ، او هيڅ کله به قسَم او نکړم .

ابليس ورته وويل :

مَا تَعَلَّمَ أَحَدٌ مِنِّيْ بِالْإِحْتِيَالِ غَيْرُكَ . وَأَنَا عَهِدْتُ أَنْ لَا أَنْصَحَ آدَمِيًّا قَطُّ . (۱)

د مانه تر اوسه پورې د تا نه علاوه بل هيچا دومره په چَل کې دا خبره نه وه معلومه کړې ( کومه چې تا معلومه کړه ) ، خو زه دا کلکه وَعده کوم چې زه به هيچرې يو انسان ته هم نصيحت نه کوم .

(۱) وَذُكِرَ أَنَّ إِبْلِيْسَ لَعَنَهُ اللهُ كَانَ يُرٰى فِي الزَّمَنِ الْأَوَّلِ . فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ : يَا أَبَا مُرَّةَ ! كَيْفَ أَصْنَعُ حَتّٰى أَكُوْنَ مِثْلَكَ ؟ قَالَ وَيْحَكَ لَمْ يَطْلُبْ مِنِّيْ أَحَدٌ مِثْلَ هٰذَا فَكَيْفَ تَطْلُبُ أَنْتَ ؟ فَقَالَ الرَّجُلُ : إِنِّيْ أُحِبُّ ذٰلِكَ . فَقَالَ لَهُ إِبْلِيْسُ . أَمَا إِنْ أَرَدْتَ أَنْ تَكُوْنَ مِثْلِيْ فَتَهَاوَنْ بِالصَّلَاةِ وَلَا تُبَالِ مِنَ الْحَلِفِ صَادِقًا أَوْ كَاذِبًا . فَقَالَ لَهُ الرَّجُلُ : لَقَدْ عَاهَدْتُ اللهَ أَنْ لَا أَدَعَ الصَّلَاةَ وَلَا أَحْلِفَ يَمِيْنًا أَبَدًا . فَقَالَ لَهُ إِبْلِيْسُ : مَا تَعَلَّمَ أَحَدٌ مِنِّيْ بِالْإِحْتِيَالِ غَيْرُكَ . وَأَنَا عَهِدْتُ أَنْ لَا أَنْصَحَ آدَمِيًّا قَطُّ . تنبيه الغافلين بأحاديث سيد الأنبياء والمرسلين للسمرقندي بَابُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ ۱/۲۷۵ ط دار ابن كثير ، دمشق بيروت .

۲ . همدارنګې شيطان دا کوشش کوي چې انسان هيڅ کله عبادت اونکړي ، د بخاري شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي : چې د انسان د اُوده کيدو په وخت شيطان دده د سَر شاته درې غوټې ( ګنډې ) اُولګوي ، په هره غوټه باندې په خپل ذِهن کې دا خيال اچوي : عَلَيْكَ لَيْلٌ طَوِيْلٌ فَارْقُدْ. شپه ډيره اُوږده ده ، اُوده شه .

اوس که دا سړې راپاځي ، د الله ﷻ ذِکر اوکړي :

اِنْحَلَّتْ عُقْدَةٌ . نو يوه غوټه کلاؤ شي .

بيا چې کله اَودس اوکړي ، اِنْحَلَّتْ عُقْدَةٌ . نو دويمه غوټه هم کلاؤ شي .

او چې دې مونځ اوکړي اِنْحَلَّتْ عُقْدَةٌ نو دريمه غوټه هم کلاؤ شي .

فَأَصْبَحَ نَشِيْطًا طَيِّبَ النَّفْسِ ، وَإِلَّا أَصْبَحَ خَبِيْثَ النَّفْسِ كَسْلَانَ .

نو دا کس سهر په داسې حالت کې راپاځي چې چُست ( تَکړه ) او پاکيزه نفس واله وي ، او که دا ( د الله ﷻ ذِکر ، اَودس او مونځ ) اونکړي نو سهَر په داسې حالت کې راپاځي چې خَبيث نفس واله او سست وي . (۱)

## بغير عُذره مونځ نه کوونکې پير او عاشقِ رسُول نشي جوړيدی

بعضې داسې بَدبخته او جاهِله خلق هم شته چې هغوی وايي : " زمونږ مانځه ته هيڅ ضرورت نشته ، بَس مونږ رسيدلي يو "

---

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : « يَعْقِدُ الشَّيْطَانُ عَلَى قَافِيَةِ رَأْسِ أَحَدِكُمْ إِذَا هُوَ نَامَ ثَلَاثَ عُقَدٍ يَضْرِبُ كُلَّ عُقْدَةٍ عَلَيْكَ لَيْلٌ طَوِيْلٌ فَارْقُدْ . فَإِنِ اسْتَيْقَظَ فَذَكَرَ اللهَ اِنْحَلَّتْ عُقْدَةٌ . فَإِنْ تَوَضَّأَ اِنْحَلَّتْ عُقْدَةٌ . فَإِنْ صَلَّى اِنْحَلَّتْ عُقْدَةٌ . فَأَصْبَحَ نَشِيْطًا طَيِّبَ النَّفْسِ . وَإِلَّا أَصْبَحَ خَبِيْثَ النَّفْسِ كَسْلَانَ » . صحيح البخاري رقم الحديث ۱۱۴۲ ، صحيح مسلم كتاب صلاة المسافرين وقصرها باب ما روي فيمن نام الليل اجمع حتى اصبح رقم الحديث ۷۷۶ .

( يَعْقِدُ ) : يربط فيثقل عليه النومه . ( قَافِيَةِ ) : مؤخرة العنق أو القفا . ( يَضْرِبُ كُلَّ عُقْدَةٍ ) : يحكم عقدة و يؤكده . تعليق مصطفى البغا على صحيح البخاري في تشريح الحديث المذكور .

يا دا وايي چې : '' مونږ دلته مونځ نه کوو ، بلکه هر مانځه ته په کرامت سره مدينې مُنوَرې ته ځو '' . يا دا وايي چې '' مونږ مونځ په زړه کې کوو '' .

يا ډېره عجيبه داده چې داسې خلق د بزرګۍ او عاشقۍ دعوې هم کوي .

محترمو ! په دې خبره ځان پوهه کړئ چې که يو کس د شريعت خلاف کارونه کوي ، يا بغير عُذره عبادات ( مونځ ، روژه ، زکوة ، حج وغيره ) نه اداء کوي نو داسې کس ګمراه دی ، دا هيڅ کله بزرګ او عاشقِ رسول نشي کيدی ، اګر چې دده نه خلافِ عادت څه کارونه هم ظاهر شي .

ځکه دبزرګۍ مِعيار دادی چې انسان په شريعت باندې مکمل برابر وي ، ټول عبادات په صحيح طريقې سره اداء کوي ، د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د سُنتو پوره پابَند وي ، د حرامو او مُشتبِه شيانو نه ځان ساتي نو بيا داسې کس بزرګ کيدې شي ، اګر چې په ظاهره دده نه څه کرامت نه وي ظاهر شوی ، ځکه کرامت ظاهريدل د بزرګۍ مِعيار ندی ، بلکه د بزرګۍ مِعيار د شريعت پوره پابَند کيدل دي .

لهذا چې څوک بَغير عُذره فرضي مونځونه نه کوي ، يا د جَمعې مانځه ته نه حاضريږي نو داسې کس هيڅ کله بزرګ يا عاشقِ رسول نشي کيدی .

دوی چې وايي چې '' مونږ رسيدلي يو '' نو پته نه لږي چې کوم ځای ته رسيدلي دي ؟

او دا کوم خلق چې وايي '' مونږ دلته مونځ نه کوو ، بلکه هر مانځه ته په کرامت سره مدينې مُنوَرې ته ځو '' نو دا هسې دروغ وايي ، دې خلقو ته دا ويل په کار دي :

'' چې کله تاسو مونځ هلته کوئ نو بيا خوراک او څکاک هم هلته کوئ ، ځکه دهغه ځای خوراک او څکاک خو ددې ځای په نسبت بهتر دی '' دا خو عجيبه خبره ده چې خېټه دلته ډکوی ، او صرف مونځ هلته کوی؟

همدارنګې چې څوک دا وايي چې '' مونږ ته ددې ظاهري مونځ او اَودس ضرورت نشته بلکه مونږ په زړه کې مونځ کوو '' نو داهم د ګمراهۍ خبره ده ، ځکه د زړه دا مونځ خو عجيبه مونځ دی چې نبي عليه السلام ، صحابه کرامو ، تابعينو او تبع تابعينو ته نه ؤ

معلوم ، بَس صرف دې جاهِله او بې دِينه ګمراهانو ته معلوم شو ، چې دوی د زړه مونځ کوي ؟

نبي کريم صلی الله عليه وسلم خو د مونځ او جَمعې دومره پابندي کوله چې په مرضُ الموت کې به وربانديې بار بار بې هوشي راتله ، خو چې کله به يې وجود معمولي لږ ښه شو نو اګر چې په خپله به يې جُمات ته د تللو طاقت نه لرلو خو بيا به يې هم د حضرت عباس ﷺ او حضرت علي ﷺ په اُوګو باندې خپل لاس مُبارک کيښود ، د کمزورتيا په وجه به يې قدم مبارک په زمکه نه شو لږولی ، خپې به يې په زمکه راښکودی او په دې حالت کې به هم جُمات ته د مانځه د پاره لاړ ، د وفات کيدو په آخِري وخت کې يې هم د مانځه متعلق وصيّت کړې وُ ، حضرت علي ﷺ فرمايي :

كَانَ آخِرُ كَلَامِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : اَلصَّلَاةَ اَلصَّلَاةَ ، اِتَّقُوا اللهَ فِيْمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ . (۱)

د رسول الله صلی الله عليه وسلم آخِري وصيت ( د شرعي اَحکامو په باره کې (۲) ) دا وُ : مونځ ، مونځ ( يعنی د مانځه حفاظت کوئ ) او د خپلو غلامانو په باره کې د الله ﷻ نه اُويرېږئ ( يعنی د دوی حقوق اداء کوئ ) .

نو چې کله پيغمبر عليه السلام د مانځه دومره تاکيد کړی ، او په خپله يې دومره پابندي کړې نو بيا داسې بل څوک دی چې هغه اووايي چې ماته د مانځه ضرورت نشته ؟

او چې څوک دا وايي نو داسې کس ګمراه او بې دِينه دی .

---

(۱) سنن ابي داؤد بَابٌ فِي حَقِّ الْمَمْلُوكِ رقم الحديث ۵۱۵۶ ، سنن ابن ماجه بَابُ هَلْ أَوْصَى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحديث ۲۶۹۸ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۱۵۸۰۰ .

وفي رواية : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﷺ قَالَ : كَانَتْ عَامَّةُ وَصِيَّةِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ حَضَرَتْهُ الْوَفَاةُ وَهُوَ يُغَرْغِرُ بِنَفْسِهِ : اَلصَّلَاةَ ، وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ . سنن ابن ماجه بَابُ هَلْ أَوْصَى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم ۲۶۹۷ .

(۲) ( آخِرُ كَلَامِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ) أي في الأحكام . وإلّا فقد جاء أن آخر كلامه على الإطلاق " الرفيق الأعلى " . شرح محمد فؤاد عبد الباقي على سنن ابن ماجه في تشريح حديث رقم ۲۶۹۸

# د مونځ نه کولو د پاره د سړو عجیبه بَهانه

بعضې داسې بَدبخته خلق هم شته چې هغوی ته څوک د مانځه وینا اوکړي نو هغوی دا بَهانه جوړوي چې : '' مونږ مصروف یو ، د مونږ سره د مونځ کولو وخت نشته ''

اَسْتَغْفِرُاللّٰه . دا خو غټه نَمَک حرَامي او اِحسان فرامُوشي ده چې کوم رَب انسان پیدا کړی ، ده ته یې ښائسته شکل و صورت ورکړی ، په ده باندې یې بې شماره نِعمتونه کړي، لیکن بیا هم دې انسان سره ددې مالکِ حقیقي د وړاندې د سجدې کولو او د هغه د عبادت کولو وخت نشته :

**نبي ﷺ به د ټولو کارونو کولو باوجود بیا هم عبادات اداء کول** : که دا خلق دا بهَانه جوړوي چې '' مونږ د دُنیاوي کارونو کولو په وجه مصروفه یو '' نو دوی ته سوچ په کار دی چې : آیا دوی د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم نه ډیر مصروفه دي ، پیغمبر علیه السلام به د ټولو مصروفیاتو باوجود بیا هم مونځ کولو .

نبي علیه السلام د لکونو مربع مِیل حُکمران وُ ، د دوی ملاقات له به بې شماره وَفدونه راتلل ، د قرآن کریم او احادیثو د زده کړې د پاره به د صحابه کرامو یو لوي تعداد د دوی سره موجود وُ هغوی ته به یې خُودَنه کوله ، جهاد ته د تلونکي لښکر ټول نَظم به هم د دوی په لاس کې وُ ، د حُکمرانانو او رئِیسانو سره به یې د خطونو سلسله هم جاري ساتله ، د یتیمانانو او ګنډو خبَرګیري به یې هم کوله ، د یولسو (۱۱) بِیبیانو حقوق به یې هم اداء کول لیکن ددې ټولو خبرو باوجود به یې بیا هم فرضي اونفلي مونځونه هم کول.

د تهجدو مونځ خو یې همیشه کولو ، په نوافلو کې به دومره اُوږد ولاړ وُ چې قدمونه مبارک به یې اُوپړسیدل، تلاوت به یې داسې کولو چې کله به د خَوف او یَرې آیت راغی نو د الله ﷻ د عذاب نه به یې پناه غوښته ، او چې کله به د بشارت آیت راغی نو ددې د حاصلولو دُعا به یې کوله ، چې کله به سجدې ته لاړ نو دومره به یې اُوږدل چې ساه به یې بَنده شوه .

**صحابه کرام** : بیا که مونږ د صحابه کرامو حالات اوګورو نو هغوی هم د ډیرو مصروفیاتو او ذِمه داریو باوجود بیا هم د مانځه کلکه پابندي کوله . تر دې پورې چې حضرت حُسین

رضي الله عنه په ميدانِ جنګ کې د تورو د ګوزارونو او د غشو د باران په مېنځ کې مونځ ندي پرېښی ، حالانکه دده د وراندې به دده ملګري شهيدان کيدل ، او دده د خاندان ماشومان به د سختې تَندې د لاسه بې قراره وو ليکن ده بيا هم مونځ ندې پرېښی .

همدارنګې که مونږ د نورو بزرګانو احوال اوګورو نو هغوی هم د دُنياوي کارونو سره سره د مانځه پوره اِهتمام کولو .

**امام ابوحنيفه رحمه الله** : امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله به ټوله ورځ دَرس و تدريس کولو ، دکپړو تِجارت يې هم ښه وسيع وُ ، خو ددې سره سره يې د مانځه کلکه پابندي کوله ، د فرضي مونځونو کولو باوجود به اکثر ټوله شپه په نفلي عبادت کې مشغوله وُ .

**امام ابويوسف رحمه الله** : امام ابويوسف رحمه الله باوجود ددينه چې قَاضِيُ القُضَاةِ وُ خو ددې سره سره به يې فرضي مونځونه هم اداء کول ، او ورسره به يې هره ورځ دوه سوه رکعته نوافل هم اداء کول .

**امام محمد رحمه الله** : امام محمد رحمه الله به ټوله ورځ په دَرس و تدريس او د کتابونو په ليکلو کې مصروفه وُ خو ددې باوجود به يې فرضي عبادات هم اداء کول ، او ورسره ورسره به يې د شپې د قرآن کريم دريمه حصه ( يعنى لس سيپارې ) تلاوت هم کولو .

علماؤ د امام محمد رحمه الله په اَحوالو کې ليکلي دي چې ده به شپه درې حصې کړه : په يوه حصه کې به يې خوب کولو ، په دويمه حصه کې به يې مونځ او عبادت کولو ، او په دريمه حصه کې به يې مطالعه او څودَنه کوله . (۱)

## مولانا ګنګوهي رحمه الله د ضرورت باوجود بيا هم مونځ پرې نه خود

حکيم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله ليکلي چې : د مولانا ګنګوهي رحمه الله نظر په آخِري عُمر کې ختم شوي وُ ، خلقو ورته وويل چې ته د سترګو علاج اوکړه ، ده ورته وويل : چې د سترګو علاج څکه نه کوم چې بيا به راته ډاکټر وايي چې : " ته څه وخت آرام اوکړه ، ګرځه مه ، او مونځ مه کوه " او دا خبره زه نه خوښوم .

---

(۱) نداى ممبر و محراب ج۴ ص ۱۷۸ .

خلقو ورته وويل : حضرت ! تاسو خو معذوره يې ( نو که چيرته يو څو ورځې مونځ يا جَمعه پاتې شي نو خير دی ) ، ده ورته وويل : ( اګر چې زما نظر نه لږي خو ) زما کوم کار بَند دی ؟ زه ګرځيدې هم شم ، کيناستې او پاڅيدې هم شم. نو بيا زه څنګه معذوره يم ؟ (۱)

## د مونځ نه کولو د پاره د ښځو عجيبه بَهانې

بعضې ښځې د مونځ نه کولو د پاره دا بَهانه جوړوي چې کور ته ډير ميلمانه راغلي وو د هغوی د پاره مې خوراک او چای تيارولو نو ځکه رانه مونځ قضاء شو . کله دا بَهانه جوړوي چې ماشوم راباندې متيازې کړي نو ځکه مونځ نه کوم . کله دا بهانه جوړوي چې طبعيت مې صحيح نه دی او په سَر مې دَرد دی نو ځکه مونځ نه کوم .

ليکن د کومې زَنانه په زړه کې چې د مانځه اَهميت وي ، او دا اَهمه فريضه ګڼړي نو هغه هيڅ کله مونځ نه قضاء کوي ، هغه ميلمنو ته د خوراک څکاک تيارولو باوجود هم مونځ کوي ، هغه د خپلو بچو د تربيت باوجود هم مونځ کوي ، هغه د معمولي تکليف باوجود هم مونځ کوي . ځکه دا په ځان باندې د الله ﷻ حُکم ګڼي .

## د جهاد . سياست او نورو دِيني کارونو په وجه مونځ پريخودل جائز ندي

بعضې خلق دا ګمان کوي چې مونږ چونکه په ډيرو اَهمو دِيني کارونو کې مصروفه يو نو که د مونږ نه فرضي مونځ پاتې شي نو دا خير دی . بيا خاصکر چې کوم خلق په سياسي کارونو کې مشغول وي ، يا جهاد کې مشغول وي ، يا په دعوت و تبليغ کې مشغول وي ، نو په دوی کې بعضې دا ګمان کوي چې مونږ په ډيرو اَهمو کارونو کې مشغول يو ، زمونږ مصروفيات زيات دي نو که د مونږ نه مونځ پاتې شي دا به څه پَرواه نه کوي .

حالانکه دا د ګمراهۍ او بې دِينۍ خيال دی ، ځکه د مونځ نه ډير اَهم کار او اَهم عبادت بل نشته ، چې يو کس د مانځه لحاظ نه ساتي نو دا به د نورو عباداتو او حقوقو څه لحاظ اوساتي ؟

حضرت عُمر رضي الله عنه باوجود ددينه چې په خپل دَورِ خلافت کې يې دومره لوي حکومت ؤ چې د هغې نه نن صبا پنځلس مُلکونه جوړ شوي ، هغه د ټولو نه لوي سياست دان ؤ ، د ټولو

---

(۱) روح الانظار ... ص ۱۸۱ .

نه لوي مجاهد ؤ ، د ټولو نه لوي داعِي او مُبلِّغ ؤ ليکن هغه بيا هم په خپله هم د مانځه کلکه پابندي کوله ، او د ټولو صوبو ګورنرانو ته يې دا سَرکاري پيغام ليږلی ؤ چې :

إِنَّ أَهَمَّ أَمْرِكُمْ عِنْدِيْ الصَّلَاةُ . فَمَنْ حَفِظَهَا وَحَافَظَ عَلَيْهَا حَفِظَ دِيْنَهُ . وَمَنْ ضَيَّعَهَا فَهُوَ لِمَاسِوَاهَا أَضْيَعُ . (۱)

بيشکه ستاسو په ټولو کارونو کې زما په نزد ډير اَهم ( او مُهتَم بِالشّان ) کار مونځ دی ، پس چا چې ددې حفاظت اوکړو ( يعنی د اَرکانو او شرائطو سره يې اَداء کړو ) او ددې نګهباني يې اوکړه ( يعنی هميشه يې اَداء کولو ، په رِيا او نمائِش سره يې باطل نه کړو ) نو ده د خپل دِين ( د نورو اُمورو هم ) حفاظت اوکړو ، او چا چې مونځ ضائع کړو نو دې د دِين د نورو اُمورو هم زيات ضائع کوونکې ( او بَربادوونکې ) دی .

**فائده** : حضرت عُمر ﷛ دا فرمان د ټولو صوبو حاکمانو او ګوَرنرانو ته څکه ليږلی ؤ چې عام طور حاکمان دا ګمان کوي چې زما په سَر د قوم ډيرې ذِمه دارياني دي نو که مونځ رانه پاتې شي دا خبر دی ، حضرت عُمر ﷛ دوی ته دا واضحه کړه چې زما په نزد د ټولو نه اَهم کار مونځ کول دي ، ددې نه بله داسې غټه ذِمه داري نشته چې د هغې په وجه انسان مونځ قضاء کړي .

معلومه شوه چې د سياست يا نورو دِيني کارونو په وجه به فرضي مونځ نشي پريخودلی .

## بيلمازه کس د ورځې پنځه پيرې د الله ﷻ نافرماني کوي

بيلمازه کس د مونځ په نه کولو سره د ورځې پنځه پيرې د الله رب العزت نافرمايي کوي ، علماؤ يوه واقعه رانقل کړی چې يو کس په لاره روان ؤ ، شيطان هم ورسره ملګرې شو ، دې کس د سهَر ، ماسپخين ، مازيګر ، مابنام او ماسخوتن يو مونځ هم اونکړو ، کله چې ماسخوتن د اُوده کيدو وخت راغی نو دې کس د اُوده کيدو اِراده اوکړه ، شيطان ورنه اُوتختيد ، دې سړي ورته وويل : لِمَ تهرب مِنّي؟ ته د ما نه ولې تختی ؟

(۱) موطا امام مالک باب وقوت الصلاة رقم الحديث ۶ . مشکاة المصابيح کتاب الصلوة باب مواقيت الصلوة الفصل الثالث رقم الحديث ۵۸۵ (۵) .

شيطان ورته وويل :

إِنِّيْ عَصَيْتُ اللهَ تَعَالٰى فِيْ مُدَّةِ عُمْرِيْ مَرَّةً وَاحِدَةً فَكُنْتُ مَلْعُوْنًا وَأَنْتَ عَصَيْتَ فِي الْيَوْمِ خَمْسَ مَرَّاتٍ فَأَخَافُ مِنَ اللهِ اَنْ يَغْضِبَ عَلَيْكَ وَيقهرَكَ وَيقهرنِيْ مَعَكَ بِسَبَبِ عِصْيَانِكَ.

ما په ټول عُمر کې صرف يو ځل د الله ﷻ نافرماني کړې نو د هغې په وجه زه تر قيامته پورې لعنتي شوم (او الله ﷻ د خپل دَر نه را اُوشړلم) ، او ته خو ( د مونځ په نه کولو سره ) د ورځې پنځه پېرې د الله ﷻ نافرماني کوې ، ( اګر چې ماته د قيامته پورې مُهلت راکړې شوی خو ) زه د الله ﷻ نه وېرېږم چې هسې نه په تا باندې غضب او قهر رانازل کړي ، او ستا د ګناه په وجه په ما هم قهر نازل کړي (يعنی زما هغه مهلت به ختم کړي) .(۱)

## د بېلمازه د سپيره توب په وجه باغونه او فصلونه اُوچيدل

علماؤ يوه واقعه رانقل کړې چې حضرت عيسی عليه السلام يوه ورځ سفر کولو نو داسې يو قوم يې اُوليد چې ډير په اِهتمام سره يې د الله ﷻ عبادت کولو ، دوی په ډير بهترين ځای کې راجمع وو ، حضرت عيسی عليه السلام په دوی سلام واچول ، او د دوی سره کيناست ، نو وې ليدل چې د دوی سره بهترين خوراک څکاک او مختلف قِسمه ميوې وې ، اَولاد بيبيانې يې وې ، ښائسته کورونه باغونه او فصلونه يې وو .

بيا حضرت عيسی عليه السلام د دوی نه روان شو ( مخکې سفر يې شروع کړو) څه وخت پس حضرت عيسی عليه السلام واپس په دې لاره راتلو ، نو وې کتل چې دا هر څه هلاک

---

(۱) حكي ان رجلا كانَ يمشي في البادية . فرَافَقَهُ الشيطانُ يومًا . و لم يصلِّ الرجلُ الفجرَ والظهرَ والعصرَ والمغربَ والعشاءَ . فلمّا صار وقت المنام أراد الرجلُ ان ينامَ فهربَ الشيطانُ منه . فقال الرجلُ : لِمَ تهرب مِني ؟ فقال الشيطانُ : إِنِّيْ عَصَيْتُ اللهَ تَعَالٰى فِيْ مُدَّةِ عُمْرِيْ مَرَّةً وَاحِدَةً فَكُنْتُ مَلْعُوْنًا وَأَنْتَ عَصَيْتَ فِي الْيَوْمِ خَمْسَ مَرَّاتٍ فَأَخَافُ مِنَ اللهِ اَنْ يَغْضِبَ عَلَيْكَ وَيقهرَكَ وَيقهرنِيْ مَعَكَ بِسَبَبِ عِصْيَانِكَ . درة الناصحين ص ۱۷۹ مجلس في بيان تارك الصلاة .

شوي وو (باغونه او فصلونه يې اوچ شوي وو)، حضرت عيسى عليه السلام د دوی په دې حالت باندې ډير تعجب اوکړو، الله جل جلاله ته يې عرض اوکړو؛

يَارَبِّ ! بِأَيِّ شَيْءٍ هَلَكُوا ؟ أَتَرَكُوا الصَّلَاةَ وَالطَّاعَةَ ؟

اې الله! دوی په څه وجه هلاک شوي دي؟ آيا دوی مونځ او عبادت پريخې وُ ؟

الله تعالى ورته د (وَحي په ذريعه) اوفرمايل:

لَا وَلٰكِنْ قَدْ مَرَّ عَلَيْهِمْ تَارِكُ الصَّلَاةِ وَغَسَلَ بِمَائِهِمْ وَجْهَهُ فَوَقَعَتْ غُسَالَتُهُ عَلٰى أَرَاضِيْهِمْ وَدِيَارِهِمْ . فَلِذٰلِكَ هَلَكُوا .

دوی په خپله مونځ او عبادت نهٔ وُ پريخى، ليکن په دوی باندې يو بيلمازه کس تيريدو، د دوی (د چينې) په اوبو باندې يې خپل مخ اووينځل، دا اوبه ددې خلقو زمکو او کورونو ته اورسيدى نو ددې (د سپيره والي) په وجه دا هر څه هلاک شوي.(۱)

شيخ عبدالقادر جيلاني رحمه الله په خپل کتاب کې ليکلي دي چې د يو بيلمازه سپيره توب څلويښتو کورونو ته رَسي، اوس تاسو په خپله سوچ اوکړئ چې په کوم کور کې يو يا دوه بيلمازه وي نو د هغې د سپيره توب به څه حالت وي؟

## مومن قصدًا د مونځ پريخودلو جُرأت نشي کولی

چې کله د يو چا په زړه کې اِيمان وي او دې ددې مانځه پريخودو متعلق دا دومره سخت سخت وعيدونه واوري نو آيا دا به د مانځه پريخودلو جُرأت اوکړي؟ هرګز نه.

(۱) حكي أنّ عيسى عليه السلام سافرَ يومًا، فرأى قومًا يَعبدونَ اللهَ تعالى بالجدّ والسّعي، وهم مجتمعون في مكانٍ عالٍ. فَسَلَّمَ عليهم، وجلس فيما بينهم، فرأى عندهم كثيرا مِّنَ الطعام والشراب الخالص والفواكه المتنوعة والاولاد والزوجات الحسان. فنظر عيسى عليه السلام فرأى قريتهم مزينةً بتمامِ الزينةِ التي لاتقبل الوصف. ثم ذهب عيسى عليه السلام عنهم، ثم رجع بعد زمان الى ذلك المكان فرآهم كلهم قد هلكوا مع اولادهم وزوجاتهم، وقريتهم قد انهدمت. فتعجب عيسى عليه السلام من حالهم، فنادى وقال: يَارَبِّ ! بِأَيِّ شَيْءٍ هَلَكُوا ؟ أَتَرَكُوا الصَّلَاةَ وَالطَّاعَةَ ؟ فقال الله تعالى: لَا وَلٰكِنْ قَدْ مَرَّ عَلَيْهِمْ تَارِكُ الصَّلَاةِ وَغَسَلَ بِمَائِهِمْ وَجْهَهُ فَوَقَعَتْ غُسَالَتُهُ عَلٰى أَرَاضِيْهِمْ وَ دِيَارِهِمْ . فَلِذٰلِكَ هلكوا. انيس المجالس، درة الناصحين ص ۱۸۲ مجلس في بيان تارک الصلاة، مشعال الواعظين.

ليکن افسوس چې نن صبا د مسلمانانو ايمانونه دومره کمزوري شوي چې ددې دومره سختو وعيدونو اوريدو باوجود بيا هم د مانځه هيڅ پرواه نه ساتي، بلکه په معمولي معمولي کارونو باندې مونځ پرېږدي، حالانکه د مؤمن شان دا په کار دی چې بغير د مونځ نه به د ه له ژوند مزه نه ورکوي.

## خلاصه

خلاصه دا چې په اسلام کې د مانځه ډير اهميت، فضائل او فوائد بيان شوي، او بغير عذره د مونځ پريخودونکي د پاره سختې سزاګانې ذکر شوي:

ځکه قصدا مونځ پريخودل ګناه کبيره ده، ګفر ته نزدې کوونکې عمل دی، د بيلمازه کس ايمان هميشه په خطر کې وي، ايمان يې کامل نه وي، د الله ﷻ د ذمې نه بري وي، د الله ﷻ غضب پرې نازليږي، د عذاب قبر او جهنم مستحق ګرځي.

الله تعالى دې مونږ ټولو ته په صحيح طريقې سره د مونځ کولو توفيق راکړي، او رب کريم دې مونږ ټول د بيلمازۍ نه اوساتي.

آمين يَارَبَّ الْعَالَمِيْن.

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

**نوټ**: د مانځه د مختلفو موضوعاتو متعلق ضروري فقهي مسائل او نور اهم بحثونه په اتم (۸) جلد کې ذکر دي.

ابوالشمس عفي عنه

# بغير عُذره د مونځ پريخودونكي كس متعلق د نورو علماؤ اَقوال

په دې كې هيڅ شک نشته چې كه يو كس د مونځ نه اِنكار كوي نوهغه بالاتفاق كافر دى ، خو ليكن كه اِنكار نه كوي او بغير د عُذره مونځ پريږدي نو زمونږ د اَحنافو په نزد دا سړې اګر چې كافر ندى خو فاسق و فاجِر او سخت ګناهګار دى ، دده سزا داده چې د وخت بادشاه به دې په جېل (مَحبَس) كې واچوي او سخته سزا به وركړي ترد ې پورې چې دې مونځ شروع كړي او يا په همدې جېل كې مړ شي .

بهر حال زمونږ د اَحنافو په نزد باندې په مونځ پريخودو سره انسان نه كافر كيږي او نه دده سزا قتل ده ، بلكه انسان فاسِق وفاجِر ګرځي ، او په جېل كې به اچولې شي ، په دې خبره باندې مونږ احنافو سره بې شماره دلائل دي كوم چې مشهور او معروف دي .

د اَحنافو نه علاوه د نورو اَئمهؤ په نزد باندې د بغيرعُذره مونځ پريخودونكي سزا قتل ده ، يعنى دده نه به سَر په توره وهلې شي .

بلكه د امامِ احمد بن حنبل رحمه الله په نزد خو بغير عُذره مونځ پريخودلو سره انسان كافر او مُرتد كيږي ، د اِرتداد په وجه به دې وژلې شي ، بيا به د مسلمانانو په مقبره كې هم نشي ښخولى .

د امام مالک او امام شافعي رحمهما الله په نزد باندې اګر چې په مونځ پريخودلو سره انسان كافر كيږي نه خو بيا هم د بيلمازه سزا د دوى په نزد باندې هم قتل كول دي .

( ددې مسئلې څه بيان په همدې موضوع كې مخكې تېر شو هلته يې اوګوره . ابوالشمس عفي عنه )

**نوټ** : د علماؤ د فائدې په خاطر درته د احنافو نه علاوه د يو څو نورو علماؤ اقوال د بيلمازه متعلق رانقل كوم ، چې كم از كم تاسو ته دومره معلومه شي چې بغيرِ عذره مونځ پريخودل څومره لوبه ګناه ده ، او د احنافو نه علاوه نور ائمه ؤ د بيلمازه د پاره څومره سخته سزا ذكر كړې په آخِر كې به د اَحنافو څه اَقوال رانقل كړم

۱ . د حنابله ؤ مشهور عالم علامه ابن قيم جوزي رحمه الله په دې موضوع باندې مستقل کتاب ليکلى "الصلاة واحكام تاركها" ، په دې کتاب کې ده د بيلمازه کس د پاره سخته سزا ذکر کړې ، او د قرآن کريم او احاديثو نه يې ثابته کړې ده چې بغير عُذره د مونځ نه کوونکي کس څټ به په توره وهلې شي .

د يو سوال په جواب کې علامه ابن قيم رحمه الله ليکلي :

لا يختلف المسلمون أن ترك الصلاة المفروضة عمدا من اعظم الذنوب وأكبر الكبائر وأن اثمه ثم الله أعظم من إثم قتل النفس وأخذ الأموال ومن إثم الزنا والسرقة وشرب الخمر وأنه متعرض لعقوبة الله وسخطه وخزيه في الدنيا والآخرة . (۱)

په دې کې د مسلمانانو څه اختلاف نشته چې بغير عُذره فرضي مونځ پريخودل په کبيره ګناهونو کې غټه کبيره ګناه ده ، د مونځ پريخودو ګناه د الله ﷻ په نزد باندې د قتل ، د چا مال په ناحقه اخيستو ، د زِنا ، غلا او شرابو د ګناه نه لويه ده ، او بيلمازه په دُنيا او آخرت دواړو کې د الله ﷻ د عذاب او رَسوائى مستحق دى .

بيا علامه ابن قيم رحمه الله د بيلمازه د قتل په باره کې د علماؤ مختلف اقوال او دلائل ذکر کړي :

ثم اختلفوا في قتله وفي كيفية قتله وفي كفره . فأفتى سفيان بن سعيد الثوري وأبو عمرو الأوزاعي وعبد الله بن المبارك وحماد بن زيد و وكيع بن الجراح ومالك بن أنس ومحمد بن إدريس الشافعي وأحمد بن حنبل وإسحاق بن راهويه واصحابهم بأنه يقتل .

ثم اختلفوا في كيفية قتله فقال جمهورهم يقتل بالسيف ضربا في عنقه ، وقال بعض الشافعية يضرب بالخشب إلى ان يصلي أو يموت ، وقال ابن سريج ينخس بالسيف حتى يموت لأنه ابلغ في زجره وأرجى لرجوعه........

(۱) الصلاة و احكام تاركها لا بن قيم الجوزية ۱ / ۳۱ عشرة مسائل تتعلق بالصلاة الأولى ذنب ترک الصلاة اعظم من القتل والزنا .

وقال ابن شهاب الزهري وسعيد بن المسيب وعمر بن عبد العزيز وابو حنيفة وداود بن علي والمزاني رحمهم الله يحبس حتى يموت أو يتوب ولا يقتل . واحتج لهذا المذهب بما رواه أبو هريرة عن النبي صلى الله عليه وسلم قال : " امرت أن اقاتل الناس حتى يقولوا لا إله إلا الله فإذا قالوها عصموا مني دماءهم وأموالهم إلا بحقها " . (١)

وعن ابن مسعود ﷺ قال: قال النبي صلى الله عليه وسلم: " لا يحل دم امرىء مسلم يشهد أن لا إله الله وأني رسول الله إلا بإحدى ثلاث : الثيب الزاني، والنفس بالنفس . والتارك لدينه المفارق للجماعة " (٢) . قالوا ولأنها من الشرائع العملية فلا يقتل بتركها كالصيام والزكاة والحج .

قال الموجبون لقتله قال الله تعالى : ﴿ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ وَخُذُوهُمْ وَاحْصُرُوهُمْ وَاقْعُدُوا لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ فَإِنْ تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَوٰةَ وَآتَوُا الزَّكَوٰةَ فَخَلُّوا سَبِيلَهُمْ ﴾ فأمر بقتلهم حتى يتوبوا من شركهم ويقيموا الصلاة ويؤتوا الزكاة .

ومن قال لا يقتل تارك الصلاة يقول متى تاب من شركه سقط عنه القتل وإن لم يقم الصلاة ولاآتى الزكاة . وهذا خلاف ظاهر القرآن .

وفي الصحيحين من حديث أبي سعيد الخدري قال بعث علي ابن أبي طالب رضي الله عنه وهو ظاهر إلى النبي صلى الله عليه وسلم بذهيبة فقسمها بين أربعة فقال رجل يا رسول الله اتق الله فقال: "ويلك ألست أحق أهل الأرض أن يتقي الله" ثم ولى الرجل. فقال خالد ابن الوليد يا رسول الله ! ألا أضرب عنقه ؟ فقال : "لا . لعله أن يكون يصلي" فقال خالد : فكم من مصل يقول بلسانه ما ليس في قلبه . فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم : " إني لم أومر ان أنقب عن قلوب الناس ولا أشق بطونهم" .

---

(١) رواه البخاري .

(٢) اخرجاه في الصحيحين.

فجعل النبي صلى الله عليه وسلم المانع من قتله كونه يصلي فدل على أنّ من لم يصل يقتل، ولهذا قال في الحديث الآخر نهيت عن قتل المصلين . أبو داود رقم والطبراني في الكبير مجمع الزوائد، وهو يدل على المصلين لم ينهه الله عن قتلهم.

وروى الإمام أحمد والشافعي في مسنديهما مسند الإمام أحمد ومسند الإمام الشافعي رقم من حديث عبيد الله بن عدي بن الخيار أن رجلا من الأنصار حدثه أنه اتى النبي صلى الله عليه وسلم وهو في مجلس فساره يستأذنه في قتل رجل من المنافقين فجهر رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال : " أليس يشهد أن لا إله إلا الله" فقال الأنصاري: بلى يا رسول الله ولا شهادة له ،قال : " أليس يشهد أن محمدا رسول الله" قال : بلى ولا شهادة له ، قال : " أليس يصلي الصلاة " قال : بلى ولا صلاة له . قال : " أولئك الذين نهاني الله عن قتلهم" . فدل على أنه لم ينهه عن قتل من لم يصل.

وفي صحيح مسلم رقم عن ام سلمة رضي الله عنها عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: "إنه يستعمل عليكم أمراء فتعرفون وتنكرون فمن انكر فقد بريء ومن كره فقد سلم ولكن من رضي وتابع " فقالوا يا رسول الله ألا نقاتلهم فقال : " لا ما صلوا ".

وفي الصحيحين من حديث عبد الله بن عمر رضي الله عنهما أنّ النبي صلى الله عليه وسلم قال : " أمرت أن أقاتل الناس حتى يشهدوا أن لا إله إلا الله وأن محمدا رسول الله ويقيموا الصلاة ويؤتوا الزكاة فإذا فعلوا ذلك عصموا مني دماءهم وأموالهم إلا بحق الإسلام وحسابهم على الله".

فوجه الاستدلال به من وجهين أحدهما أنه أمر بقتالهم إلى أن يقيموا الصلاة ،الثاني قوله : "إلا بحقها " والصلاة من أعظم حقها .

وعن أبي هريرة ﷺ قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " أمرت أن أقاتل الناس حتى يشهدوا أن لا إله إلا الله وأن محمدا رسول الله ويقيموا الصلاة ويؤتوا الزكاة ثم قد حرمت علي دماؤهم وأموالهم وحسابهم على الله " . رواه الإمام أحمد المسند وابن خزيمة في صحيحه رقم فأخبر صلى الله عليه وسلم أنه امر بقتالهم إلى أن يقيموا الصلاة وأن دماءهم وأموالهم إنما تحرم بعد الشهادتين وإقام الصلاة وإيتاء الزكاة فدماؤهم وأموالهم قبل بل هي مباحة.

وعن أنس بن مالك ﷺ قال لما توفي رسول الله ارتد العرب فقال عمر : يا أبا بكر كيف تقاتل العرب؟ فقال أبو بكر إنما قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " أمرت أن أقاتل الناس حتى يشهدوا أن لا إله إلا الله وأني رسول الله ويقيموا الصلاة ويؤتوا الزكاة ".(١)

وتقييد هذه الأحاديث يبين مقتضى الحديث المطلق الذي احتجوا به على ترك القتل مع أنه حجة عليهم فإنه لم يثبت العصمة للدم والمال إلا بحق الإسلام والصلاة آكد حقوقه على الاطلاق.

وأما حديث ابن مسعود ﷺ وهو لا يحل دم امرىء مسلم إلا بإحدى ثلاث البخاري رقم مسلم رقم فهو حجة لنا في المسألة فإنه جعل منهم "التارك لدينه" والصلاة ركن الدين الأعظم ولا سيما إن قلنا بأنه كافر فقد ترك الدين بالكلية وإن لم يكفر فقد ترك عمود الدين.

قال الإمام أحمد وقد جاء في الحديث لا حظ في الإسلام لمن ترك الصلاة .(٢)

٣ . همدارنګې يو بل عالم " علامه ابن عثيمين رحمه الله " هم په دې موضوع باندې يو کتاب ليکلي دی ، نوم يې دی " حکم تارک الصلاة " په دې کې هم ده ديلمازه متعلق ډير سخت احکامات ذکر کړي ، دې فرمايي :

الفصل الأول : حكم تارك الصلاة : إن هذه المسألة من مسائل العلم الكبرى، وقد تنازع فيها أهل العلم سلفاً وخلفاً. فقال الإمام أحمد بن حنبل : " تارك الصلاة كافر كفراً مخرجاً من الملة، يقتل إذا لم يتب ويصل". وقال أبو حنيفة ومالك والشافعي: " فاسق ولا يكفر".

ثم اختلفوا فقال مالك والشافعي : "يقتل حداً " وقال أبو حنيفة : "يعزر ولا يقتل ".

وإذا كانت هذه المسألة من مسائل النزاع، فالواجب ردها إلى كتاب الله تعالى وسنة رسوله صلى الله عليه وسلم، لقوله تعالى: ﴿ وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ مِن شَيْءٍ فَحُكْمُهُ إِلَى اللَّهِ ﴾ . (٣)

---

(١) رواه النسائي وهو حديث صحيح.

(٢) الصلاة واحكام تاركها لابن قيم الجوزية ٣٢ تا ٣٣ عشرة مسائل تتعلق بالصلاة الأولى ذنب ترك الصلاة أعظم من القتل والزنا .

(٣) الشورى آية ١٠ .

وقوله : ﴿ فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا ﴾ .(١)

ولأن كل واحد من المختلفين لا يكون قوله حجة على الآخر، لأن كل واحد يرى أن الصواب معه، وليس أحدهما أولى بالقبول من الآخر، فوجب الرجوع في ذلك إلى حكم بينهما وهو كتاب الله تعالى وسنة رسوله صلى الله عليه وسلم.

وإذا رددنا هذا النزاع إلى الكتاب والسنة، وجدنا أن الكتاب والسنة كلاهما يدل على كفر تارك الصلاة، الكفر الأكبر المخرج عن الملة.

أولاً: من الكتاب: قال تعالى في سورة التوبة: ﴿ فَإِن تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَوٰةَ وَآتَوُا الزَّكَوٰةَ فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ ﴾ .(٢)

وقال في سورة مريم: ﴿ فَخَلَفَ مِن بَعْدِهِمْ خَلْفٌ أَضَاعُوا الصَّلَوٰةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوَاتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا ، إِلَّا مَن تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَأُولَٰئِكَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُونَ شَيْئًا .. ﴾ .(٣)

فوجه الدلالة من الآية الثانية - آية سورة مريم - أن الله قال في المضيعين للصلاة، المتبعين للشهوات : ﴿إِلَّا مَن تَابَ وَآمَنَ﴾ فدل على أنهم حين إضاعتهم للصلاة واتباع الشهوات غير مؤمنين. ووجه الدلالة من الآية الأولى - آية سورة التوبة - أن الله تعالى اشترط لثبوت الأخوة بيننا وبين المشركين ثلاثة شروط: * أن يتوبوا من الشرك. * أن يقيموا الصلاة. * أن يؤتوا الزكاة.

فإن تابوا من الشرك، ولم يقيموا الصلاة، ولم يؤتوا الزكاة، فليسوا بإخوة لنا. وإن أقاموا الصلاة، ولم يؤتوا الزكاة . فليسوا بإخوة لنا. والأخوة في الدين لا تنتفي إلا حيث يخرج المرء من الدين بالكلية. فلا تنتفي بالفسوق والكفر دون الكفر.

---

(١) النساء آية ٥٩ .

(٢) التوبة آية ١١

(٣) مريم آية ٥٩-٦٠ .

ألا ترى إلى قوله تعالى في آية القتل: ﴿ فَمَنْ عُفِيَ لَهُۥ مِنْ أَخِيهِ شَيْءٌ فَٱتِّبَاعٌۢ بِٱلْمَعْرُوفِ وَأَدَآءٌ إِلَيْهِ بِإِحْسَٰنٍ ﴾. (١)

فجعل الله القاتل عمداً أخاً للمقتول، مع أن القتل عمداً من أكبر الكبائر، لقول الله تعالى: ﴿ وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهُۥ جَهَنَّمُ خَٰلِدًا فِيهَا وَغَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُۥ وَأَعَدَّ لَهُۥ عَذَابًا عَظِيمًا ﴾. (٢)

ثم ألا تنظر إلى قوله تعالى في الطائفتين من المؤمنين إذا اقتتلوا: ﴿ وَإِن طَآئِفَتَانِ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ٱقْتَتَلُوا۟ فَأَصْلِحُوا۟ بَيْنَهُمَا ﴾ إلى قوله تعالى: ﴿ إِنَّمَا ٱلْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا۟ بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ (٣) ﴾ فأثبت الله تعالى الأخوة بين الطائفة المصلحة والطائفتين المقتتلتين، مع أن قتال المؤمن من الكفر، كما ثبت في الحديث الصحيح الذي رواه البخاري وغيره عن ابن مسعود رضي الله عنه، أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: "سباب المسلم فسوق، وقتاله كفر". لكنه كفر لا يخرج من الملة، إذ لو كان مخرجاً من الملة ما بقيت الأخوة الإيمانية معه. والآية الكريمة قد دلت على بقاء الأخوة الإيمانية مع الاقتتال.

وبهذا علم أن ترك الصلاة كفر مخرج عن الملة، إذ لو كان فسقاً أو كفراً دون كفر، ما انتفت الأخوة الدينية به، كما لم تنتف بقتل المؤمن وقتاله.

فإن قال قائل: هل ترون كفر تارك إيتاء الزكاة كما دل عليه مفهوم آية التوبة؟

قلنا: كفر تارك إيتاء الزكاة قال به بعض أهل العلم، وهو إحدى الروايتين عن الإمام أحمد رحمه الله تعالى. ولكن الراجح عندنا أنه لا يكفر، لكنه يعاقب بعقوبة عظيمة، ذكرها الله تعالى في كتابه، وذكرها النبي صلى الله عليه وسلم في سنته، ومنها ما في حديث أبي هريرة رضي الله عنه، أن النبي صلى الله عليه وسلم ذكر عقوبة مانع الزكاة، وفي آخره: "ثم يرى سبيله، إما إلى الجنة وإما إلى النار"

---

(١) سورة البقرة آية ١٧٨

(٢) سورة النساء آية ٩٣

(٣) سورة الحجرات آية ٩-١٠

وقد رواه مسلم بطوله في: باب " إثم مانع الزكاة ". وهو دليل على أنه لا يكفر، إذ لو كان كافراً ما كان له سبيل إلى الجنة. فيكون منطوق هذا الحديث مقدماً على مفهوم آية التوبة ؛ لأن المنطوق مقدم على المفهوم كما هو معلوم في أصول الفقه.

ثانياً: من السنة:

- قال صلى الله عليه وسلم: " إن بين الرجل وبين الشرك والكفر ترك الصلاة ". (١)
- وعن بريده بن الحصيب رضي الله عنه. قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم، يقول: "العهد الذي بيننا وبينهم الصلاة، فمن تركها فقد كفر". (٢)

والمراد بالكفر هنا: الكفر المخرج عن الملة ؛ لأن النبي صلى الله عليه وسلم جعل الصلاة فصلاً بين المؤمنين والكافرين، ومن المعلوم أن ملة الكفر غير ملة الإسلام، فمن لم يأت بهذا العهد فهو من الكافرين.

- وفي صحيح مسلم عن أم سلمة رضي الله عنها، أن النبي صلى الله عليه وسلم، قال: "ستكون أمراء، فتعرفون وتنكرون، فمن عرف برئ، ومن أنكر سلم، ولكن من رضي وتابع ." قالوا: أفلا نقاتلهم؟ قال: " لا ما صلوا " ........ (٣) ( بيا ده نور دير تفصيل هم ذكر كړى )

٣ . همدارنګې يو بل عالم سعيد بن وهف القحطاني رحمه الله په دي موضوع يو كتاب ليكلى ، نوم يې دى منزلة الصلاة فى الاسلام ، ده هم په دي كتاب كې بغير عذره مونځ پريخودونكي د پاره سخت احكام ذكر كړي :

المبحث الخامس حكم تارك الصلاة : ترك الصلاة المفروضة كفر، فمن تركها جاحدا لوجوبها كفر كفرا أكبر بإجماع أهل العلم، ولو صلى ، أما من ترك الصلاة بالكلية وهو يعتقد وجوبها ولا يجحدها فإنه يكفر. والصحيح من أقوال أهل العلم أن كفره أكبر يخرج من الإسلام؛ لأدلة

(١) رواه مسلم في كتاب الإيمان عن جابر بن عبد الله، عن النبي صلى الله عليه وسلم ٢.

(٢) رواه احمد وابو داود والترمذي والنسائي وابن ماجه٣.

(٣) حكم تارك الصلاة محمد بن صالح بن محمد العثيمين ص ٤ -٩ .

كثيرة منها على سبيل الاختصار ما يأتي :

١ - قال الله تعالى: ﴿ يَوْمَ يُكْشَفُ عَن سَاقٍ وَيُدْعَوْنَ إِلَى السُّجُودِ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ خَاشِعَةً أَبْصَارُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ وَقَدْ كَانُوا يُدْعَوْنَ إِلَى السُّجُودِ وَهُمْ سَالِمُونَ. (١) ﴾ وهذا يدل على أن تارك الصلاة مع الكفار والمنافقين الذين تبقى ظهورهم إذا سجد المسلمون قائمة ولو كانوا من المسلمين لأذن لهم بالسجود كما أذن للمسلمين.

٢- وقال سبحانه وتعالى: ﴿ كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ رَهِينَةٌ . إِلَّا أَصْحَابَ الْيَمِينِ . فِي جَنَّاتٍ يَتَسَاءَلُونَ . عَنِ الْمُجْرِمِينَ . مَا سَلَكَكُمْ فِي سَقَرَ . قَالُوا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّينَ . وَلَمْ نَكُ نُطْعِمُ الْمِسْكِينَ . وَكُنَّا نَخُوضُ مَعَ الْخَائِضِينَ . وَكُنَّا نُكَذِّبُ بِيَوْمِ الدِّينِ (٢) ﴾ . فتارك الصلاة من المجرمين السالكين في سقر. وقد قال الله تعالى: ﴿ إِنَّ الْمُجْرِمِينَ فِي ضَلَالٍ وَسُعُرٍ . يَوْمَ يُسْحَبُونَ فِي النَّارِ عَلَى وُجُوهِهِمْ ذُوقُوا مَسَّ سَقَرَ ﴾ . (٣)

٣ - وقال الله عز وجل : ﴿ فَإِن تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ وَنُفَصِّلُ الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ . (٤) ﴾ فعلق أخوتهم للمؤمنين بفعل الصلاة.

٤ - عن جابر رضي الله عنه قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: « بين الرجل وبين الشرك والكفر ترك الصلاة » . (٥)

٥ - وعن عبد الله بن بريدة، عن أبيه، قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: « العهد الذي بيننا وبينهم ترك الصلاة، فمن تركها فقد كفر» . (٦)

---

(١) سورة القلم آية ٤٢-٤٣ .

(٢) سورة المدثر آية ٣٨-٤٦ .

(٣) سورة القمر آية ٤٧-٤٨ .

(٤) سورة التوبة آية ١١ .

(٥) مسلم كتاب الإيمان باب بيان إطلاق اسم الكفر على من ترك الصلاة ١/ ٨٦ برقم ٧٦..

(٦) أخرجه الترمذي كتاب الإيمان باب ما جاء في ترك الصلاة ١/ ١٤ برقم ٢٦٢١، والنسائي كتاب الصلاة، باب الحكم في تارك الصلاة، ١١، وابن ماجه كتاب الإقامة باب ما جاء فيمن ترك الصلاة، برقم ١٠٧٩، والحاكم وصححه ووافقه الذهبي ١/ ٦، ٧.

٦ – وعن عبد الله بن شقيق رضي الله عنه قال: « كان أصحاب محمد صلى الله عليه وسلم لا يرون شيئا من الأعمال تركه كفر غير الصلاة » . (١)

٧ – وقد حكى إجماع الصحابة على كفر تارك الصلاة غير واحد من أهل العلم . (٢)

٨– وذكر الإمام ابن تيمية أن تارك الصلاة يكفر الكفر الأكبر لعشرة وجوه.... (٣)

٩ – وأورد الإمام ابن القيم رحمه الله أكثر من اثنين وعشرين دليلا على كفر تارك الصلاة الكفر الأكبر . (٤)

والصواب الذي لا شك فيه أن تارك الصلاة مطلقا كافر لهذه الأدلة الصريحة . سمعت شيخنا الإمام عبد العزيز بن عبد الله بن باز قدس الله روحه وغفر له يكفر تارك الصلاة ولو تركها في بعض الأوقات ولو لم يجحد وجوبها. (٥)

١٠ – قال الإمام ابن القيم رحمه الله: " وقد دل على كفر تارك الصلاة : الكتاب والسنة، وإجماع الصحابة". (٦)

٤ . همدارنګې علامه الباني رحمه الله هم په دې موضوع باندې مستقله رساله ليکلې نوم يې دی " حکم تارک الصلاة " ده هم په دې کې د بيلمازه د پاره سخت احکامات ذکر کړي .

٥ . علامه ابن حجر الهيثمي رحمه الله په الزواجر کې ليکلي :

---

(١) الترمذي كتاب الإيمان باب ما جاء في ترك الصلاة ١/ ١٤ برقم ٢٦٢٢.

(٢) انظر: المحلى لابن حزم ٢/ ٢٤٢، ٢٤٣، وكتاب الصلاة لابن القيم ص ٢٦ ، والشرح الممتع على زاد المستقنع لابن عثيمين ٢/ ٢٨ .

(٣) انظر: شرح العمدة لابن تيمية ٢/ ٨١ - ٩٤.

(٤) انظر: كتاب الصلاة لابن القيم ص ١٧ - ٢٦. فقد ذكر عشرة أدلة من القرآن واثني عشر دليلا من السنة وإجماع الصحابة.

(٥) وانظر: تحفة الأخوان بأجوبة مهمة تتعلق بأركان الإسلام، له رحمه الله ص ٧٢.

(٦) كتاب الصلاة ص ١٧. منزلة الصلاة فى الاسلام د. سعيد بن على بن وهف القحطاني ص ٢٣ تا ٢٦ .

وَالْأَوْلَى أَنْ يُسْتَدَلَّ لِقَتْلِهِ بِالْأَحَادِيثِ الصَّحِيحَةِ السَّابِقَةِ : أَنَّ تَارِكَهَا تَبْرَأُ مِنْهُ ذِمَّةُ اللهِ وَذِمَّةُ رَسُولِهِ ، وَأَنَّهُ لَا عَهْدَ لَهُ ، لِأَنَّ ذٰلِكَ ظَاهِرٌ أَوْ صَرِيحٌ فِي إِهْدَارِ دَمِهِ ، وَمِنْ لَازِمِ إِهْدَارِهِ وُجُوبُ قَتْلِهِ ، وَإِنَّمَا لَمْ يُقْتَلْ بِتَرْكِ الزَّكَاةِ لِأَنَّهُ يُمْكِنُ أَخْذُهَا مِنْهُ بِالْمُقَاتَلَةِ وَلَا بِتَرْكِ الصَّوْمِ لِأَنَّهُ يُمْكِنُ إِلْجَاؤُهُ إِلَيْهِ بِالْحَبْسِ وَمَنْعِ الْمُفْطِرِ كَالطَّعَامِ وَالشَّرَابِ ، فَإِنَّهُ إِذَا عَلِمَ أَنَّهُ لَا مُخَلِّصَ لَهُ إِلَى تَنَاوُلِ مُفْطِرٍ نَهَارًا، نَوَى لَيْلًا، وَصَامَ. وَلَا بِتَرْكِ الْحَجِّ لِأَنَّهُ عَلَى التَّرَاخِي ، وَيُمْكِنُ قَضَاؤُهُ مِنْ تَرِكَتِهِ ، وَالصَّلَاةُ لَيْسَتْ كَذٰلِكَ فِي الْكُلِّ فَلَمْ يُنَاسِبْ عُقُوبَةَ تَرْكِهَا إِلَّا الْقَتْلُ ، وَإِذَا جَازَتِ الْمُقَاتَلَةُ لِتَخْلِيصِ الزَّكَاةِ فَلِأَنْ يَجُوزَ الْقَتْلُ بِحَمْلِ النَّاسِ بِالْخَوْفِ مِنْهُ عَلَى فِعْلِ الصَّلَاةِ مِنْ بَابٍ أَوْلَى. (۱)

٦ . وأنشد بعضهم :

خسر الذي ترك الصلاة وخابا ... وأبى معادا صالحا ومآبا

إن كان يجحدها فحسبك أنه ..... أضحى بربك كافرا مرتابا

أو كان يتركها لنوع تكاسل .... غطى على وجه الصواب حجابا

فالشافعي ومالك رأيا له ..... إن لم يتب حد الحسام عقابا

والرأي عندي للإمام عذابه ... بجميع تأديب يراه صوابا . (۲)

# بغير عُذره د مونځ پريښودونکي کس متعلق د احنافو قول

**نوټ** : ما مخکې په سَر کې دا خبره ذکر کړه چې زمونږ د احنافو په نزد باندې بغير عُذره مونځ پريښودونکې نه کافر دی ، او نه دده سزا قتل ده ، بلکه زمونږ په نزد دا فاسق و فاجر دی ، او دده سزا په جېل کې اچول دي ، په دې باندې د مونږ سره دومره ډير دلائل دي چې که هغه راجَمع کړم نو د هغې نه مستقله رساله جوړيږي .

د دې نورو علماؤ اقوال مې صرف د دې د پاره ذکر کړل چې اَهلِ عِلمو ته دا معلومه شي چې بغير عذره مونځ پريښودل دومره سخته ګناه ده چې د احنافو علاوه په نورو مذاهبو کې د ډيلمازه د پاره څومره سخته سزا ذکر ده .

(۱) الزواجر لابن حجر ۱ /۲۲۹ اَلْكَبِيرَةُ السَّابِعَةُ وَالسَّبْعُونَ تَعَمُّدُ تَأْخِيرِ الصَّلَاةِ عَنْ وَقْتِهَا أَوْ تَقْدِيمِهَا عَلَيْهِ .

(۲) المستطرف في كل فن مستطرف ۱ /۱۲ الفصل الثاني في الصلاة وفضلها .

اوس درته د اَحنافو يو څو اَقوال او دلائل رانقل كوم :

روى عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: " خَمْسُ صَلَوَاتٍ كَتَبَهُنَّ اللهُ عَلَى العِبَادِ . فَمَنْ جَاءَ بِهِنَّ لَمْ يُضَيِّعْ مِنْهُنَّ شَيْئًا اِسْتِخْفَافًا بِحَقِّهِنَّ ، كَانَ لَهُ عِنْدَ اللهِ عَهْدٌ أَنْ يُدْخِلَهُ الجَنَّةَ. وَمَنْ لَمْ يَأْتِ بِهِنَّ فَلَيْسَ لَهُ عِنْدَ اللهِ عَهْدٌ . إِنْ شَاءَ عَذَّبَهُ ، وَإِنْ شَاءَ أَدْخَلَهُ الجَنَّةَ " (١)

فيه أنّ تارك الصلاة غير مرتد ولا مشرك . لأنّ الله تعالى لا يغفر لمشرك ولا يدخله الجنة ﴿ إِنَّهُ مَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ ﴾ . (٢)

وما روى: "بين العبد وبين الكفر أو قال الشرك ترك الصلاة " وأكثر الرواة "بين الكفر" ليس المراد الكفر بالله . بل تغطية إيمان تارك الصلاة وستره .

قال لبيد: في ليلة كفر النجوم غمامها . يعني غطى غمامها النجوم .

ومنه ﴿أَعْجَبَ الْكُفَّارَ نَبَاتُهُ ﴾ يعني الزراع المغيبون بذرهم في الأرض .

ومنه " و رأيت أكثر أهلها النساء" قالوا : لم يا رسول الله ؟ قال :"بكفرهن" . قالوا: أيكفرن بالله ؟ قال : " يكفرن العشير ويكفرن الإحسان" .

ومنه "سباب المسلم فسوق وقتاله كفر" . لم يكن ذلك على الكفر بالله ولكنه على ما غطى إيمانه بقبيح فعله .

وقد اختلف أهل العلم في تارك الصلاة ، فجعله بعضهم مرتد أو يستتاب فإن تاب وإلا قتل ، منهم الشافعي . وبعضهم جعله من فاسقي المسلمين أهل الكبائر . منهم أبو حنيفة وأصحابه .

والنظر الصحيح يؤيده لأنّ الصلاة فرض موقت كالصيام مفروض في وقت بعينه . ثم تارك الصوم الفرض غير جاحد لفرضه عليه ليس بكافر ولا مرتد كان مثله مثل ترك الصلاة حتى يخرج وقتها لا يخرج عن الإسلام . ولهذا نأمره أن يصلي . ولو كان كافرا لأمرناه بالإسلام إذ لا يؤمر كافر

---

(١) رواه ابوداؤد بَابٌ لِمَنْ لَمْ يُوتِرْ رقم الحديث ١٤٢٠ ، و رواه النسائي وابن حبان ، و مالک في الموطا ١٣٢ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ٤٦ رقم الحديث ١٣٩ .

(٢) سورة المائدة آية ٧٢ .

بالصلاة حتى يسلم ، كيف وقد أمر النبي صلى الله عليه وسلم المفطر عمدا في نهار رمضان بالكفارة وفيها الصيام والصوم لا يصح إلا من المسلم .

وأيضا لما كان الرجل بالإقرار مسلما قبل أن يأتي الصلاة والصيام كذلك يكون كافر بجحوده ذلك لا بتركه إياه بغير جحود منه له ، ولا يكون كافرا إلا بترك ما كان به مسلما .

لا يقال قوله عليه الصلاة والسلام: " من لم يحافظ على الصلوات الخمس كان يوم القيامة مع قارون وفرعون وهامان وأبي صاحب العظام" يدل على كفر تاركه كفر القوم الذين ذكره معهم ، لأن جهنم دار العذاب يجمع الكافرين والمنافقين والعاصين من المسلمين ، قال تعالى: ﴿إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَىٰ ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا ۖ وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا﴾ .(١)، (٢)

## بَاب مَن ترك الصَّلَاة من غير عذر جاحدا لوُجُوبهَا كفر ، وَإِن لم يكن جاحدا عصى

لِأَن الصَّلَاة أحد الْأَركان الَّتِي بني عَلَيْهَا الْإِسْلَام وَالزَّكَاة كَذَلِك ، وَقد أجمعنا أَن تَارِك الزَّكَاة غير جَاحد لوُجُوبهَا لم يكفر ، فَكَذَا تَارِك الصَّلَاة ، لم يكفر مَا لم يَتْرُكهَا جاحدا لوُجُوبهَا .

فَإِن قيل: قَالَ عبد الله بن شَقِيق : " كَانَ أَصْحَاب رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم لَا يرَوْنَ شَيْئا من الْأَعْمَال تَركه كفر إِلَّا الصَّلَاة ".

قيل لَهُ: هَذَا يحْتَمل وَجْهَيْن: أَحدهمَا : أَن يكون أَرَادَ بعض أَصْحَاب رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم لكنه حذف الْمُضَاف وَأقَام الْمُضَاف إِلَيْهِ مقَامه وأعربه بإعرابه.

وَيحْتَمل أَنه أَرَادَ جَمِيع أَصْحَاب رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم ، لَكِن الْجَواب عَنهُ من وَجْهَيْن:

أَحدهمَا: أَن هَذَا مَرْوِيّ بطرِيق الْآحَاد. وَالْإِجْمَاع الْمَرْوِيّ بطرِيق الْآحَاد لَيْسَ بِحجَّة عِنْد أَكثر النَّاس.

---

(١) سورة النساء آية ١٠ .

(٢) المعتصر من المختصر من مشكل الآثار كتاب الصلاة في ترك الصلوات يوسف بن موسى بن محمد أبو المحاسن جمال الدين الملطي الحنفي ( المتوفى: ٨٠٣هـ) طبع عالم الكتب بيروت

سلمنا أنه حجّة . لَكِن الظَّاهِر أَنَّهم لم يحكموا بذلك إِلَّا اتبَاعا لقَوْله عَلَيْهِ السَّلَام: " من ترك الصَّلَاة فقد كفر ". وَقَوله عَلَيْهِ السَّلَام : " بَين العَبْد وَبَين الْكفْر ترك الصَّلَاة ". فَلهَذَا كَانُوا لَا يطلقون على ترك شَيْء من الْأَفْعَال أَنه كفر إِلَّا ترك الصَّلَاة. وَالنَّبِيّ صلى الله عَلَيْهِ وَسلم لم يقل ذَلِك إِلَّا على سَبِيل التَّغْلِيظ.

بِدَلِيل مَا روى التِّرْمِذِيّ : عَن أبي هُرَيْرَة رَضِي الله عَنهُ أَن النَّبِي صلى الله عَلَيْهِ وَسلم قَالَ : " من أَتَى حَائِضًا, أَو امْرَأَة فِي دبرهَا, أَو كَاهِنًا, فقد كفر بِمَا أنزل على مُحَمَّد صلى الله عَلَيْهِ وَسلم ".

قَالَ التِّرْمِذِيّ: " مَعْنَاهُ التَّغْلِيظ ". فَإِذا حمل قَوْله عَلَيْهِ السَّلَام على التَّغْلِيظ فَكَذَلِك قَول أَصْحَابه رَضِي الله عَنْهُم أَجْمَعِينَ. (١)

## بَاب تَارِك الصَّلَاة تهاونا بهَا يحبس وَيضْرب حَتَّى يُصَلِّي وَلَا يقتل

وَالدَّلِيل على ذَلِك أَن الصَّلَاة وَالزَّكَاة وَالصِّيَام وَالْحج أَرْكَان الْإِسْلَام. فَكَمَا لَا يقتل بترك مَا سوى الصَّلَاة. فَكَذَلِك لَا يقتل بترك الصَّلَاة.

فَأَما قَوْله تَعَالَى: ﴿ فَإِن تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاة وَآتوا الزَّكَاة فَخلوا سبيلهم ﴾ . فَلَا يَخْلُو من أَن يكون وجود هَذِه الْأَفْعَال مِنْهُم شرطا فِي زَوَال الْقَتْل عَنْهُم ؟ أَو يكون قبُول ذَلِك والانقياد لأمر الله تَعَالَى فِيهِ هُوَ الشَّرْط دون وجود الْفِعْل ؟

وَمَعْلُوم أَن وجود التَّوْبَة من الشّرك شَرط لَا محَالة فِي زَوَال الْقَتْل عَنْهُم وَلَا خلاف أَنهم لَو قبلوا أَمر الله تَعَالَى فِي فعل الزَّكَاة وَالصَّلَاة وَلم يكن الْوَقْت وَقت صَلَاة، وَلَا وَقت زَكَاة . أَنهم مُسلمُونَ، و أَن دِمَاءَهُمْ محظورة .

فَعلمنَا أَن شَرط زَوَال الْقَتْل عَنْهُم. قبولهم أوَامِر الله تَعَالَى وَالِاعْتِرَاف بلزومها دون فعل الصَّلَاة وَالزَّكَاة . وَلِأَن إِخْرَاج الزَّكَاة لَا يلْزم بِنَفس الْإِسْلَام إِلَّا بعد حول. فَغير جَائِز أَن تكون الزَّكَاة شرطا فِي

(١) اللباب في الجمع بين السنة والكتاب كتاب الصَّلَاة بَاب من ترك الصَّلَاة من غير عذر جاحدا لوُجُوبهَا كفر. وَإِن لم يكن جاحدا عصى جمال الدين أبو محمد علي بن أبي يحيى زكريا بن مسعود الأنصاري الخزرجي المنبجي ( المتوفى: ٦٨٦هـ ) ١/ ١٥٥ طبع ار القلم الدار الشامية سوريا .

زَوال الْقَتْل ، وَكَذٰلِكَ فعل الصَّلَاة لَيْسَ بِشَرْط فِيهِ، وَإِنَّمَا شَرطه قبُول هٰذِهِ الفَرَائِض والتزامها وَالِاعْتِرَاف بِوُجُوبِهَا، وَلِأَنَّهُ لَو كَانَ فعل الصَّلَاة وَالزَّكَاة من شَرط زَوَال الْقَتْل لما زَالَ عَمَّن أسلم فِي غير وَقت الصَّلَاة، وَعَمن لم يؤد زَكَاته مَعَ إِسْلَامه.

فَلَمَّا اتّفقُوا على زَوَال الْقَتْل عَمَّن وصفنَا بعد اعْتِقَاده الْإِيمَان وَلُزُوم شرائعه، ثَبت بذلك أَن فعل الصَّلَاة وَالزَّكَاة لَيْسَ من شَرَائِط زَوَال الْقَتْل، وَأَن شَرط زَوَاله إِظْهَار الْإِيمَان وَقبُول شرائعه.

أَلا ترى أَن قبُول الْإِيمَان والتزام شرائعه، لما كَانَ شرطا فِي ذٰلِك لم يزل عَنهُ الْقَتْل عِنْد الْإِخْلَال بِبَعْض ذٰلِك، وَقد كَانَت الصَّحَابَة رَضِي الله عَنْهُم سبت ذَرَارِي مانعي الزَّكَاة، وَقتلت مُقَاتلتهمْ . وسموهم أهل الرِّدَّة، لأَنهم امْتَنعُوا من الْتِزَام الزَّكَاة وَقبُول وُجُوبهَا فَكَانُوا مرتدين، لِأَن من كفر بِآيَة من الْقُرْآن كفر بِهِ كُله، وَعلى ذٰلِك أجرى حكمهم أَبُو بكر الصّديق مَعَ سَائِر الصَّحَابَة رَضِي الله عَنْهُم حِين قَاتلُوا. يدل على ذٰلِك مَا روى معمر عَن أنس رَضِي الله عَنهُ قَالَ : "لما توفّي رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم ارْتَدَّت الْعَرَب كَافَّة".

وروى ابْن الْمُبَارك عَن فضَالة، عَن الْحسن قَالَ : " لما قبض رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم ارْتَدَّت الْعَرَب عَن الْإِسْلَام إِلَّا أهل الْمَدِينَة". وأخبروا أَن ردتهم من جِهَة امتناعهم من أَدَاء الزَّكَاة، وَذٰلِكَ عندنَا على أَنهم امْتَنعُوا من أَدَاء الزَّكَاة على جِهَة الرَّد لَهَا وَترك قبُولهَا، فسموا مرتدين من أجل ذٰلِك. فَالْآيَة أوجبت قتل الْمُشْركين، وَمن دخل فِي الْإِسْلَام وَأقر بفروضه والتزمها فَهُوَ غير مُشْرك بالِاتِّفَاقِ .

فَإِن قيل: إِنَّمَا زَالَ عَنْهُم الْقَتْل بِشَرْطَيْنِ : أَحدهمَا: التَّوْبَة وَهِي الْإِيمَان وَقبُول شرائعه . وَالثَّانِي: فعل الصَّلَاة وَأَدَاء الزَّكَاة .

قيل لَهُ: إِنَّمَا وَجب بَدْءا قتل الْمُشرك بقوله تَعَالَى: ﴿ اقْتُلُوا الْمُشْركين﴾ ، فَمن زَالَت عَنهُ سمة الشّرك فقد وَجب زَوَال الْقَتْل عَنهُ وَيحْتَاج فِي إِيجَابه.

فَإِن قيل: هٰذَا يُؤَدِّي إِلَى إبِطَال فَائِدَة ذكر الشَّرْطَيْنِ فِي الْآيَة.

قيل لَهُ : لَيْسَ الأَمر على مَا ظَنَنْت، وَذٰلِكَ لِأَنّ الله تَعَالَى إِنَّمَا جعل هَاتين القربتين من فعل الصَّلَاة وَأَدَاء الزَّكَاة شرطا فِي وجوب تخلية سبيلهم، وَذٰلِكَ بعد ذكره الْقَتْل للْمُشْرِكين والحصر. فَإِذا زَالَ الْقَتْل بِزَوَال اسْم الشّرك فالحصر وَالْحَبْس بَاقٍ لترك الصَّلَاة وَمنع الزَّكَاة. لِأَن من منع الزَّكَاة وَترك الصَّلَاة عمدا وأصر عَلَيْهَا جَازَ للْإِمَام حَبسه. فَحِينَئِذٍ لَا يجب تخليته إِلَّا بعد فعل الصَّلَاة وَأَدَاء الزَّكَاة فانتظمت الْآيَة إِيجَاب قتل الْمُشرك وَحبس تَارِك الصَّلَاة ومانع الزَّكَاة.

وَيُؤَيّد هٰذَا الحَدِيث الصَّحِيح وَهُوَ قَوْله عَلَيْهِ السَّلَام: "لَا يحل دم امْرِئ مُسلم إِلَّا بِإِحْدَى ثَلَاث: كفر بعد إِيمَان، وزنا بعد إِحْصَان، وَقتل نفس بِغَيْر حق" فَمَا لم يقم دَلِيل من كتاب الله تَعَالَى أَو سنة رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم على وجوب الْقَتْل، وَإِلَّا لم يجز لأحد فعله. وَإِلَى هٰذَا ذهب الزُّهْرِيّ رَحمَه الله .(۱)

( وَلَا يُقْتَلُ تَارِكُ الصَّلَاةِ عَمْدًا مَا لَمْ يَجْحَدْ ) لَكِنَّ مُنْكِرَهَا كَافِرٌ لِثُبُوتِهَا بِالْأَدِلَّةِ الْقَطْعِيَّةِ الَّتِي لَا احْتِمَالَ فِيهَا لِلرَّيْبِ. فَحُكْمُهُ حُكْمُ الْمُرْتَدِّ، وَتَارِكُهَا عَمْدًا تَكَاسُلًا فَاسِقٌ يُحْبَسُ حَتَّى يُصَلِّيَ، وَقِيلَ: يُضْرَبُ حَتَّى يَسِيلَ مِنْهُ الدَّمُ مُبَالَغَةً فِي الزَّجْرِ.

وَلَوْ كَانَ التَّارِكُ صَبِيًّا وَسِنُّهُ عَشْرُ سِنِينَ لَوَجَبَ الضَّرْبُ عَلَى تَرْكِهَا لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ « مُرُوا أَوْلَادَكُمْ بِالصَّلَاةِ وَهُمْ أَبْنَاءُ سَبْعٍ وَاضْرِبُوهُمْ عَلَيْهَا وَهُمْ أَبْنَاءُ عَشْرِ سِنِينَ » وَيُحْكَمُ بِإِسْلَامِ فَاعِلِهَا بِالْجَمَاعَةِ وَلَا تَجْزِي فِيهَا النِّيَابَةُ أَصْلًا . (۲)

"وتارك الصلاة عمدا كسلا يضرب ضربا شديدا حتى يسيل منه الدم و" بعده "يحبس" ولا يترك هملا بل يتفقد حاله بالوعظ والزجر والضرب أيضا "حتى يصليها" أو يموت بحبسه ، وهذا جزاؤه الدنيوي . وأما في الآخرة إذا مات على الإسلام عاصيا بتركها فله عذاب طويل بواد في جهنم

(۱) اللباب في الجمع بين السنة والكتاب كتاب الصَّلَاة بَاب من ترك الصَّلَاة من غير عذر جاحدا لوُجُوبهَا كفر. وَإِن لم يكن جاحدا عصى جمال الدين ابو محمد علي بن ابي يحيى زكريا بن مسعود الأنصاري الخزرجي المنبجي ( المتوفى: ٦٨٦هـ ) ۱ ۱۵۷ طبع ار القلم الدار الشامية سوريا

(۲) مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر بابُ قَضَاءِ الْفَوَائِتِ ۱/۱۴٦ طبع دار إحياء التراث العربي .

أشدها حرا وأبعدها قعرا فيه بئر يقال له الهبهب وآبار يسيل إليها الصديد والقيح أعدت لتارك الصلاة وحديث جابر فيه صفته بقوله بين الرجل وبين الكفر ترك الصلاة .(١)

"وكذا تارك صوم رمضان" كسلا يضرب كذلك ويحبس حتى يصوم .

"ولا يقتل" بمجرد ترك الصلاة والصوم مع الإقرار بفرضيتهما " إلا إذا جحد" افتراض الصلاة والصوم لإنكاره ماكان معلوما من الدين إجماعا " أو استخف بأحدهما " كما لو أظهر الإفطار في نهار رمضان بلا عذر متهاونا أو نطق بما يدل عليه فيكون حكمه حكم المرتد فتكشف شبهته ويحبس ثم يقتل إن أصر . (٢)

وأما بيان احتياج كافة الناس ، فمن وجوه : الأول: أن تارك صلاة واحدة عندهم يقتل إما حدا وإما كفرا . فيجب حينئذ قتل أكثر العالم . إذ المواظبون على الصلوات أقل من التاركين في كل وقت ، خصوصا النساء فإن أكثرهن لم تصل في العمر إلا نادرا . فسكوت القضاة عن العامة والأزواج عن نسائهم فيه ما فيه . وفي القول الذي يكفر تارك الصلاة يشكل بقاء الأنكحة مع تاركات الصلاة فاقامتهن معهم فيه من العسر ما لا يقاس عليه فيجب عليهم تقليد أبي حنيفة رضي الله عنه . (٣)

---

(١) رواه احمد ومسلم .

(٢) حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح ٣٧٣/١ فصل فيما يوجب قطع الصلاة وما يجيزه وغير ذلك طبع دار الكتب العلمية بيروت لبنان .

(٣) الغرة المنيفة في تحقيق بعض مسائل الإمام ابي حنيفة عمر بن إسحق بن احمد الهندي الغزنوي سراج الدين ، أبو حفص الحنفي (المتوفى: ٧٧٣هـ) ١ / ١٩٢ كتاب الزكاة خاتمة طبع مؤسسة الكتب الثقافية

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

﴿ وَاَقِيۡمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَارۡكَعُوۡا مَعَ الرّٰكِعِيۡنَ ﴾ البقرة آية ۴۳ .

# په جَمعې سره د مونځ کولو اَهمیت او فضائِل

تالِیف


اَبُوالشَّمۡس مولانا نُوۡرُالۡهُدٰی عُفِيَ عَنۡهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی مردان .

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# په جمعې سره د مونځ کولو اهميت او فضائل

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى . وَسَلَامٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى .

اَمَّا بَعْدُ فَقَدْ قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَارْكَعُوْا مَعَ الرّٰكِعِيْنَ ﴾ (۱)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : صَلَاةُ الْجَمَاعَةِ تَفْضُلُ صَلَاةَ الْفَذِّ بِسَبْعٍ وَعِشْرِيْنَ دَرَجَةً (۲) صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْمُ

## په شريعتِ مُحمّدي کې په جَمعې سره د مونځ کولو اهميت

محترمو مسلمانانو ورونو ! په شريعتِ مُحمّدي کې په جَمعې سره د مونځ کولو ډير اَهميت او تاکيد بيان شوی ، او په صحيح احاديثو کې په جَمعې سره د مونځ کولو ډير فضائل او فوائد بيان شوي ، د مانځه تکميل هم په جَمعې مونځ کولو سره کيږي .

## په قرآن کريم کې د جَمعې د مانځه حکم

۱ . الله تعالى فرمايي : ﴿ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَارْكَعُوْا مَعَ الرّٰكِعِيْنَ ﴾.

ترجمه : او تاسو مونځ قائموئ ( يعنی په پابندۍ سره يې کوئ ) ، زکوة ورکوئ ، او رکوع کوئ د رکوع کوونکو سره .

(۱) سورة البقرة آية ۴۳ .

(۲) صحيح البخاري كِتَابُ الْأَذَانِ بَابُ فَضْلِ صَلَاةِ الْجَمَاعَةِ رقم الحديث ۶۴۵ ، صحيح مسلم بَابُ فَضْلِ صَلَاةِ الْجَمَاعَةِ وَبَيَانِ التَّشْدِيْدِ فِي التَّخَلُّفِ عَنْهَا رقم الحديث ۲۴۹ ( ۶۵۰ ) ، سنن الترمذي باب ما جاء في فضل الجماعة رقم الحديث ، مشكاة المصابيح باب الجماعة وفضلها الفصل الاول رقم ۱۰۵۲ ( ۱ ) ، موطاء امام مالک باب فضل صلاة الجماعة على صلاة الفذ رقم ۱ ، شعب الايمان رقم الحديث ۲۵۶۹ .

په دې آيت کې د مونځ د فرض کيدو حکم په اَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ سره ورکړې شوی ، او د جَمعې د مانځه حکم په وَارْكَعُوا مَعَ الرّٰكِعِيْنَ سره ورکړې شوی .

په تفسير جلالين کې د وَارْكَعُوا مَعَ الرّٰكِعِيْنَ مطلب دا بيان شوی : صَلُّوْا مَعَ الْمُصَلِّيْنَ .(۱) مونځ کوئ د مونځ کوونکو خلقو سره (يعنى د جَمعې سره مونځ کوئ) .

په نورو تفاسيرو کې هم همدغه شان مطلب بيان شوی . (۲)

۲ . الله رب العزت فرمايي :

﴿ حٰفِظُوْا عَلَى الصَّلَوٰتِ وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى ۚ وَقُوْمُوْا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ ﴾ . (۳)

---

(۱) تفسير الجلالين سورة البقرة آية ۲۳۸ .

(۲) تفسير زاد المسير ۱/ ۶۱ ، تفسير مظهري ج۳ ص ۳۴۲ ، تفسير الخازن ج۱ ص ۴۱ ، تفسير البغوي ج۱ ص ۱۱۰ . تفسير كبير ۱/ ۴۹۴ . په تفسيرِ کشاف کې ذکر دي : أي صلوها مع المصلين لا منفردين . تفسير كشاف ۱/ ۱۳۳ په تفسيرِ بيضاوي کې ذکر دي : أي في جماعتهم . تفسير البيضاوي انوار التنزيل واسرار التاويل ۱/ ۷۷ ، تفسير ابي السعود ج۱ ص ۹۷ .

په صفوة التفاسير کې ذکر دي : أي أدوا ما وجب عليكم من الصلاة والزكاة، وصلوا مع المصلين بالجماعة، أو مع أصحاب محمد عليه السلام . صفوة التفاسير ۱/ ۴۶ .

په تفسير کبير کې ذکر دي : وَارْكَعُوا مَعَ الرّٰكِعِيْنَ، فِيْهِ وُجُوْهٌ : أَحَدُهَا : أَنَّ الْيَهُوْدَ لَا رُكُوْعَ فِيْ صَلَاتِهِمْ فَخَصَّ اللهُ الرُّكُوْعَ بِالذِّكْرِ تَحْرِيْضًا لَهُمْ عَلَى الْإِتْيَانِ بِصَلَاةِ الْمُسْلِمِيْنَ . وَثَانِيْهَا : أَنَّ الْمُرَادَ صَلُّوْا مَعَ الْمُصَلِّيْنَ. وَعَلٰى هٰذَا يَزُوْلُ التَّكْرَارُ لِأَنَّ فِي الْأَوَّلِ أَمَرَ تَعَالٰى بِإِقَامَتِهَا، وَأَمَرَ فِي الثَّانِيْ بِفِعْلِهَا فِي الْجَمَاعَةِ . وَثَالِثُهَا : أَنْ يَكُوْنَ الْمُرَادُ مِنَ الْأَمْرِ بِالرُّكُوْعِ هُوَ الْأَمْرُ بِالْخُضُوْعِ لِأَنَّ الرُّكُوْعَ وَالْخُضُوْعَ فِي اللُّغَةِ سَوَاءٌ . فَيَكُوْنُ نَهْيًا عَنِ الْإِسْتِكْبَارِ الْمَذْمُوْمِ، وَأَمْرًا بِالتَّذَلُّلِ . تفسير الرازي مفاتيح الغيب (التفسير الكبير) ۳/ ۴۸۷ سورة البقرة آية ۴۳ .

په تفسير مدارک کې ذکر دي : وَارْكَعُوا مَعَ الرّٰكِعِيْنَ ... وجاز أن يراد بالركوع الصلاة كما يعبر عنها بالسجود . وأن يكون أمر بالصلاة مع المصلين يعني في الجماعة . أي صلوها مع المصلين لا منفردين . تفسير النسفي (مدارک التنزيل وحقائق التاويل) ۱/ ۸۵ سورة البقرة آية ۴۳ .

(۳) سورة البقرة آية ۲۳۸

ترجمه : تاسو د ټولو مونځونو حفاظت کوي ، او بيا خاصکر د مينځني مونځ ( يعنى د مازيګر د مانځه خو ډير حفاظت کوئ ) او الله ﷻ ته په عاجزئ ( او أدب ) سره أودريږئ .

فائده : په دې آيت کې هم الله ﷻ د مانځه د حفاظت حکم کړی ، او د مانځه حفاظت بغير د جَمعې اداء کولو نه نشي کيدی .

۳ . په قرآن مجيد کې الله تعالى نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته د صَلاةِ خَوف طريقه خودلې : چې د جنګ په حالت کې دې يوه ډَله د دُشمن مخې ته أودريږي ، او بله دې د تاپسې مونځ اوکړي ، چې کله دوی يو رکعت اوکړي نو دوی دې د دُشمن مخې ته لاړ شي ، او هغه بله ډَله دې راشي او د تا سره دې د جَمعې مونځ اوکړي .

( **نوټ** : د صَلاةِ خَوف پوره طريقه د سورة النساء ددې آيت ﴿ وَ إِذَا كُنتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ الصَّلَوٰةَ ...(۱) ﴾ د لاندې مفسرّينو او فقهاؤ په تفصيل سره ذِکر کړی ) .

بهر حال ، د جَمعې سره مونځ کول دومره اَهم دي چې د جنګ په دَوران کې هم ددې اداء کول ضروري دي . (۲)

## په مرضِ وفات کې د نبي ﷺ جَمعې ته تلل

نبي کريم صلى الله عليه وسلم هيڅ کله بَغير عُذره جَمع نده پريخی ، تر دې پورې چې د سختې بيمارئ يعنى مرضُ الموت کې اګر چې په خپله راتلل ورته ممکن نهٔ خو بيا هم چې

(۱) وَإِذَا كُنتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ الصَّلَوٰةَ فَلْتَقُمْ طَآئِفَةٌ مِّنْهُم مَّعَكَ وَلْيَأْخُذُوٓا۟ أَسْلِحَتَهُمْ فَإِذَا سَجَدُوا۟ فَلْيَكُونُوا۟ مِن وَرَآئِكُمْ وَلْتَأْتِ طَآئِفَةٌ أُخْرَىٰ لَمْ يُصَلُّوا۟ فَلْيُصَلُّوا۟ مَعَكَ وَلْيَأْخُذُوا۟ حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْ ... سورة النساء آية ۱۰۲ .

(۲) وقال تعالى: { وَ إِذَا كُنتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ الصَّلَاةَ ... } فأوجب سبحانه أداء الصلاة في الجماعة في حال الحرب. فكيف بحال السلم ؟ ولو كان أحد يسامح في ترك الصلاة في جماعة. لكان المصافون للعدو، المهددون بهجومه عليهم أولى بأن يسمح لهم في ترك الجماعة. فلما لم يقع ذلك. علم أن أداء الصلاة في جماعة من أهم الواجبات. وأنه لا يجوز لأحد التخلف عن ذلك . ثلاث رسائل في الصلاة عبد العزيز بن عبد الله بن باز ۱ / ۱۴ الرسالة الثانية في وجوب أداء الصلاة في الجماعة

کله به يې په بيمارۍ کې څه کمې راغلې نو د دوه کسانو په تکيه به جُمات ته راغی ، او په جَمعې سره به يې مونځ اوکړو .

په بخاري شريف او مسلم شريف کې اورد حديث ذکر دی ، حضرت عائشې رضي الله عنها د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د مرضِ وفات واقعه ذکر کړې ، په دې کې دا هم ذکر دي چې رسول الله ﷺ بيمار وُ ..... حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د نبي عليه السلام په ځای جمع ورکول شروع کړل :

وَجَدَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ نَفْسِهِ خِفَّةً . فَقَامَ يُهَادٰى بَيْنَ رَجُلَيْنِ ، وَرِجْلَاهُ يَخُطَّانِ فِى الْأَرْضِ . حَتّٰى دَخَلَ الْمَسْجِدَ ...(۱)

کله چې رسولُ الله صلی الله عليه وسلم په خپل وجود کې څه سپک والې اُومونده ( يعنی بيماري يې لږه کمه شوه ) نو د دوه کسانو په اوږدو باندې لاس اچولو سره جمات ته روان وُ ، هغوی خپلې خپې مُبارکې په زمکه باندې راښکودی ( او د ډيرې کمزورتيا په وجه يې نه شوې پورته کولی ) تر دې پورې چې جُمات ته داخل شو .

(۱) پوره حديث په بخاري شريف کې داسې ذکر دی : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ، قَالَتْ : لَمَّا ثَقُلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَ بِلَالٌ يُؤْذِنُهُ بِالصَّلَاةِ ، فَقَالَ : « مُرُوْا أَبَا بَكْرٍ أَنْ يُصَلِّيَ بِالنَّاسِ » فَقُلْتُ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! إِنَّ أَبَا بَكْرٍ رَجُلٌ أَسِيْفٌ وَإِنَّهُ مَتٰى مَا يَقُمْ مَقَامَكَ لَا يُسْمِعُ النَّاسَ ، فَلَوْ أَمَرْتَ عُمَرَ ، فَقَالَ : « مُرُوْا أَبَا بَكْرٍ يُصَلِّيْ بِالنَّاسِ » فَقُلْتُ لِحَفْصَةَ : قُوْلِيْ لَهُ : إِنَّ أَبَا بَكْرٍ رَجُلٌ أَسِيْفٌ ، وَإِنَّهُ مَتٰى يَقُمْ مَقَامَكَ لَا يُسْمِعُ النَّاسَ ، فَلَوْ أَمَرْتَ عُمَرَ ، قَالَ : « إِنَّكُنَّ لَأَنْتُنَّ صَوَاحِبُ يُوْسُفَ ، مُرُوْا أَبَا بَكْرٍ أَنْ يُصَلِّيَ بِالنَّاسِ » فَلَمَّا دَخَلَ فِي الصَّلَاةِ وَجَدَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ نَفْسِهِ خِفَّةً ، فَقَامَ يُهَادٰى بَيْنَ رَجُلَيْنِ ، وَرِجْلَاهُ يَخُطَّانِ فِي الْأَرْضِ ، حَتّٰى دَخَلَ الْمَسْجِدَ ، فَلَمَّا سَمِعَ أَبُوْ بَكْرٍ حِسَّهُ ، ذَهَبَ أَبُوْ بَكْرٍ يَتَأَخَّرُ ، فَأَوْمَأَ إِلَيْهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فَجَاءَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى جَلَسَ عَنْ يَسَارِ أَبِيْ بَكْرٍ ، فَكَانَ أَبُوْ بَكْرٍ يُصَلِّيْ قَائِمًا ، وَكَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ قَاعِدًا ، يَقْتَدِيْ أَبُوْ بَكْرٍ بِصَلَاةِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسُ مُقْتَدُوْنَ بِصَلَاةِ أَبِيْ بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ . صحيح البخاري كِتَابُ الأَذَانِ بَابٌ: الرَّجُلُ يَأْتَمُّ بِالإِمَامِ وَيَأْتَمُّ النَّاسُ بِالْمَأْمُومِ رقم الحديث ۷۱۳ و رقم ۶۶۴ ، صحيح مسلم رقم الحديث ۹۵ ( ۴۱۸ ) ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۳۶۵۷ .

# په جَمعې سره د مونځ کولو شرعي حيثيت

د جَمعې د مانځه په باره کې د علماؤ مختلف اقوال دي:

امام احمد بن حنبل، داوُد، عطاء او ابوثور رحمهم الله وايي چې د جَمعې سره مونځ کول فرضِ عين دی، البته که د عُذر په وجه جَمعه پاتې شي نو دا خبر دی.

بعضې علماء وايي چې څوک آذان واوري او جَمعې ته لاړ نشي (ځانله مونځ اوکړي) نو دده مونځ نه کيږي.

امامِ شافعي رحمه الله وايي چې جَمعه فرضِ کفايه ده، په اَحنافو کې د امامِ طحاوي رحمه الله قول هم همدا دی.

د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله او دده د مُتبِعينو په نزد باندې جَمعه سُنّتِ مؤکد ده، واجبو ته نزدې ده. (۱)، (۲).

کوم علماء چې دا فرض گڼي اَحنافو د هغوی د دلائلو نه جوابونه هم کړي. (۳).

---

(۱) مظاهر حق ج۲ باب الجماعة وفضلها.

(۲) ملاعلي قاري رحمه الله د حضرت عبدالله بن مكتوم د حديث په تشريح کې ليکلي.... وَاسْتَدَلَّ بِهِ أَبُو ثَوْرٍ عَلَى وُجُوبِ حُضُورِ الْجَمَاعَةِ. وَقَالَ بَعْضُ الشَّافِعِيَّةِ: هِيَ فَرْضٌ عَلَى الْكِفَايَةِ. وَالْأَصَحُّ أَنَّهُ سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ، وَعَلَيْهِ الْأَكْثَرُونَ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح بَابُ الْجَمَاعَةِ وَفَضْلِهَا ۳ / ۸۳۴ رقم الحديث ۱۰۷۷ ط. دار الفكر، بيروت لبنان.

(۳) (اَلْجَمَاعَةُ سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ) أَيْ قَوِيَّةٌ تُشْبِهُ الْوَاجِبَ فِي الْقُوَّةِ حَتَّى اُسْتُدِلَّ بِمُلَازَمَتِهَا عَلَى وُجُودِ الْإِيمَانِ. وَقَالَ كَثِيرٌ مِنَ الْمَشَايِخِ: إِنَّهَا فَرِيضَةٌ. ثُمَّ مِنْهُمْ مَنْ يَقُولُ: إِنَّهَا فَرْضُ كِفَايَةٍ. وَمِنْهُمْ مَنْ يَقُولُ: إِنَّهَا فَرْضُ عَيْنٍ. لَهُمْ قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ «لَا صَلَاةَ لِجَارِ الْمَسْجِدِ إِلَّا فِي الْمَسْجِدِ». وَقَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ «أَثْقَلُ الصَّلَاةِ عَلَى الْمُنَافِقِينَ صَلَاةُ الْعِشَاءِ وَصَلَاةُ الْفَجْرِ وَلَوْ يَعْلَمُونَ مَا فِيهِمَا لَأَتَوْهُمَا وَلَوْ حَبْوًا وَلَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ آمُرَ بِالصَّلَاةِ فَتُقَامُ. ثُمَّ آمُرَ رَجُلًا فَيُصَلِّيَ بِالنَّاسِ. ثُمَّ أَنْطَلِقَ مَعِيَ بِرِجَالٍ مَعَهُمْ حُزَمٌ مِنْ حَطَبٍ إِلَى قَوْمٍ لَا يَشْهَدُونَ الصَّلَاةَ فَأُحَرِّقَ عَلَيْهِمْ بُيُوتَهُمْ بِالنَّارِ» فَتَارِكُ السُّنَّةِ لَا يُحَرَّقُ عَلَيْهِ بَيْتُهُ فَدَلَّ عَلَى أَنَّهَا فَرْضٌ.
وَلَنَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ «صَلَاةُ الرَّجُلِ فِي جَمَاعَةٍ تَزِيدُ عَلَى صَلَاتِهِ فِي بَيْتِهِ وَصَلَاتِهِ فِي سُوقِهِ بِسَبْعٍ وَعِشْرِينَ دَرَجَةً» وَهَذَا يُفِيدُ الْجَوَازَ. وَلَوْ كَانَتْ فَرْضَ عَيْنٍ لَمَا جَازَتْ صَلَاتُهُ. وَلَوْ كَانَتْ فَرْضَ كِفَايَةٍ لَمَا قَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ أُحَرِّقَ عَلَيْهِمْ بُيُوتَهُمْ ....... (نور د راتلونکې صفحې په لاندې حاشيه کې اوګوره)

# د جمعې په باره کې د وجوب قول . او دلائل

د صحابه کرامو د يو جماعت ، همدارنګې د تابعينو او فقهاؤ د يو جماعت په نزد باندې د جمعې سره مونځ کول واجب دي ، دوی بغير عُذره د جمعې مونځ پرېښودل سخت ګناه ګڼړي ، بلکه ځنې صحابه کرام خو هغه مونځ جائز نه ګڼړي کوم چې بغير عُذره بې جمعې شوې وي .(۱)

---

( د تېرې صفحې ما بقې حصه ) ......... مَعَ الْقِيَامِ بِهَا هُوَ وَأَصْحَابُهُ . بَلْ كَانَتْ تَسْقُطُ عَنْهُمْ بِفِعْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ وَفِعْلِ أَصْحَابِهِ رِضْوَانُ اللهِ عَلَيْهِمْ أَجْمَعِيْنَ . وَلَا حُجَّةَ لَهُمْ فِي الْحَدِيْثِ الْأَوَّلِ ؛ لِأَنَّ الْمُرَادَ بِهِ نَفْيُ الْفَضِيْلَةِ وَالْكَمَالِ لَا نَفْيُ الْجَوَازِ كَقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ « لَا صَلَاةَ لِلْآبِقِ وَالْمَرْأَةِ النَّاشِزَةِ » . وَكَذَا الْحَدِيْثُ الثَّانِي لَا دَلَالَةَ فِيْهِ عَلَى أَنَّهَا فَرِيْضَةٌ ؛ لِأَنَّ الْمُرَادَ بِهِ مَنْ لَا يُصَلِّي . بِدَلِيْلٍ آخَرَ وَهُوَ قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ إِلَى قَوْمٍ لَا يَشْهَدُوْنَ الصَّلَاةَ وَلَمْ يَقُلْ لَا يَشْهَدُوْنَ الْجَمَاعَةَ ؛ وَلِأَنَّ إِطْلَاقَ قَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ { أَقِيْمُوا الصَّلَاةَ } يَقْتَضِي الْجَوَازَ مُطْلَقًا فَلَا تَجُوْزُ الزِّيَادَةُ عَلَيْهِ بِخَبَرِ الْوَاحِدِ ؛ لِأَنَّهُ نَسْخٌ عَلَى مَا عُرِفَ فِي مَوْضِعِهِ . تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق وحاشية الشلبي ۱ /۱۳۲ بَابُ الْإِمَامَةِ وَالْحَدَثِ فِي الصَّلَاةِ .

(۱) معارف القرآن لمولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله في تشريح آية واركعوا مع الراكعين . سورة البقرة آية ۴۳ .

علامه منذري رحمه الله په الترغيب والترهيب کې ليکلي :

قَالَ الْحَافِظُ أَبُو بكر بن الْمُنْذر روينا عَن غير وَاحِد من أَصْحَاب رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم أَنهم قَالُوا : " من سمع النداء ثمَّ لم يجب من غير عذر فَلَا صَلَاة لَهُ " . مِنْهُم ابْن مَسْعُود وَأَبُو مُوسَى الْأَشْعَرِيّ . وَقد رُوِيَ ذَلِك عَن النَّبِي صلى الله عَلَيْهِ وَسلم .

وَمن كَانَ يرى أَن حُضُور الْجَمَاعَات فرض : عَطاء وَأحمد بن حَنْبَل وَأَبُو ثَوْر . وَقَالَ الشَّافِعِي رَضِي الله عَنهُ لَا أرخص لمن قدر على صَلَاة الْجَمَاعَة فِي ترك إتيانها إِلَّا من عذر .

وَقَالَ الْخطابِيّ بعد ذكر حَدِيث ابْن أم مَكْتُوم : وَفِي هَذَا دَلِيل على أَن حُضُور الْجَمَاعَة وَاجِب . وَلَو كَانَ ذَلِك ندبا لَكَانَ أولى من يسعهُ التَّخَلُّف عَنْهَا أهل الضَّرُورَة والضعف وَمن كَانَ فِي مثل حَال ابْن أم مَكْتُوم . وَكَانَ عَطاء بن أبي رَبَاح يَقُول : لَيْسَ لأحد من خلق الله فِي الْحَضَر وبالقرية رخصَة إِذا سمع النداء فِي أَن يدع الصَّلَاة وَقَالَ الْأَوْزَاعِيّ : لَا طَاعَة للوالد فِي ترك الْجُمُعَة وَالْجَمَاعَات .. الترغيب والترهيب للمنذري ۱ / ۱۶۸ التَّرْهِيب من ترك حُضُور الْجَمَاعَة لغير عذر طبع دار الكتب العلمية بيروت

**اولنې دليل** : د دوی اَوّلنې دليل د قرآن کريم دا آيت دی الله تعالى فرمايي ﴿وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ ﴾ (۱) ترجمه : او تاسو رکوع کوئ د رکوع کوونکو سره .

په دې آيت کې صيغه د اَمر راوړل شوی ، او اَمر چې مطلق ذکر شي نو ددې نه وجوب ثابتيږي .

**دويم دليل** : همدارنګې دوی استدلال د هغه احاديثو نه کوي چې د هغې نه د جَمعې واجب کيدل معلوميږي . يعنی په هغې کې د جَمعې په پريخودو باندې سخت وعيدونه ذکر شوي .

**دريم دليل** : همدارنګې په جَمعه باندې د نبي عليه السلام مواظَبَت او د اُمتِ مُسلمه تعامل هم په دې دلالت کوي چې جَمع واجب ده . (۲)

څوک چې د جَمعې د وُجوب قائل دي هغوی د نبي عليه السلام ددې احاديثو نه استدلال کوي

**اولني حديث** : رسول الله ﷺ فرمايي :لَا صَلَاةَ لِجَارِ الْمَسْجِدِ إِلَّا فِي الْمَسْجِدِ . (۳)

د جُمات سره د نزدې اُوسيدونکي (نارينه) ګاونډي مونځ صرف په جُمات کې جائز دی .

او دا ظاهره خبره ده چې د جُمات د مونځ نه د جَمعې مونځ مراد دی ، اوس د حديث مطلب دا شو چې : د جُمات د ګاونډي مونځ بغير د جَمعې نه جائز ندی .

**دويم حديث** : د مسلم شريف حديث دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يو نابِينا صحابي راغی ، او ورته وې فرمايل :

يَارَسُوْلَ اللهِ ! إِنَّهُ لَيْسَ لِي قَائِدٌ يَقُوْدُنِي إِلَى الْمَسْجِدِ .

(۱) سورة البقرة آية ۴۳ .

(۲) معارف القرآن لمولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله في تشريح آية واركعوا مع الراكعين . سورة البقرة آية ۴۳ . فتاوى عثمانيه ج۲ ص۲۲۷ باب الجماعة .

(۳) المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۸۹۸ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۴۹۳۵ ، كنزالعمال رقم ۲۰۷۳۷ ، ورقم ۲۲۸۰۰ .

اې د الله رسوله ! د ماسره داسې څوک رَهبر نشته چې ما جُمات ته راولي .

ده د رسولُ الله ﷺ نه دا تپوس ځکه اوکړو چې ده ته په خپل کور کې د مونځ اِجازت ورکړي ، نبي ﷺ ورته اول اِجازت ورکړو ، کله چې هغه روان شو نو دوباره يې رااوغوښت او ورته وې فرمايل :

هَلْ تَسْمَعُ النِّدَاءَ بِالصَّلَاةِ ؟ آيا ته د مونځ آذان اَورې ؟

هغه ورته وويل : آو ( آذان اَورم ) ، نبي عليه السلام ورته وفرمايل :

فَأَجِبْ . (۱) بيا خو ستا د پاره جُمات ته راتلل ضروري دي .

په مشکوة شريف کې دا حديث په دې الفاظو ذکر دی : حضرت عبدالله بن مکتوم ﷺ فرمايي چې ما رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ته عرض اوکړو :

يَا رَسُوْلَ اللهِ ! إِنَّ الْمَدِيْنَةَ كَثِيْرَةُ الْهَوَامِّ وَالسِّبَاعِ ، وَأَنَا ضَرِيْرُ الْبَصَرِ ، فَهَلْ تَجِدُ لِيْ مِنْ رُخْصَةٍ ؟

اې د الله رسوله ! په مدينه منوّره کې ځناور او دَرِنده ګان زيات دي ، او زه نابينا يم نو ( ددې عُذر په وجه ) آيا تاسو ماته دا اِجازت راکوئ چې زه جَمعې ته نه راځم ؟ ( او په کور کې مونځ اوکړم ؟ ) .

نبي عليه السلام راته وفرمايل : هَلْ تَسْمَعُ حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ ؟

آيا ته حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ اَورې ؟

ما ورته وويل : آو ( اَورم يې ) .

---

(۱) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ أَعْمٰى ، فَقَالَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! إِنَّهُ لَيْسَ لِيْ قَائِدٌ يَقُوْدُنِيْ إِلَى الْمَسْجِدِ ، فَسَأَلَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُرَخِّصَ لَهُ ، فَيُصَلِّيَ فِيْ بَيْتِهِ ، فَرَخَّصَ لَهُ ، فَلَمَّا وَلّٰى ، دَعَاهُ ، فَقَالَ : « هَلْ تَسْمَعُ النِّدَاءَ بِالصَّلَاةِ ؟ » قَالَ : نَعَمْ ، قَالَ : « فَأَجِبْ » .

صحيح مسلم كِتَابُ الْمَسَاجِدِ وَمَوَاضِعِ الصَّلَاةِ بَابُ يَجِبُ إِتْيَانُ الْمَسْجِدِ عَلَى مَنْ سَمِعَ النِّدَاءَ رقم الحديث ۲۵۵ (۶۵۳) ، مشكاة المصابيح باب الجماعة وفضلها الفصل الاول رقم الحديث ۱۰۵۴ (۳) ، سنن النسائي رقم الحديث ۸۵۰ المحافظة على الصلوات حيث يُنادى بهنّ .

نبي عليه السلام وفرمايل : فَحَيَّهَلَا . بيا جَمعې ته راځه .
پيغمبر عليه السلام ده ته د جمعې پريخودو اجازت ورنکړو . (۱)

**دريم حديث** : رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ سَمِعَ النِّدَاءَ فَلَمْ يُجِبْ فَلَا صَلَاةَ لَهُ إِلَّا مِنْ عُذْرٍ . (۲)

څوک چې آذان واوري او بيا جَمعې ته لاړ نشي نو دده مونځ نه کيږي ، البته که دده شرعي عُذر وُ نو بيا جائز دی .

ددې مذکوره احاديثو د وجې حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ ، حضرت ابوموسی اشعري ﷺ او څه نورو صحابه کرامو دا فتوی ورکړې وه : چې څوک جُمات ته دومره نژدې وي چې هغه د اَذان آواز په پخپله اَوري او بيا دې بغير عُذره جَمعې ته لاړ نشي نو دده مونځ نه کيږي . ( خو د آذان اَوريدو نه د دَرميانه سړي آواز مراد دی ، د اُوچت آواز واله سړي يا د لاؤډ سپيکر آواز اَوريدل مراد ندي ) .

---

(۱) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أُمِّ مَكْتُومٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ! إِنَّ الْمَدِينَةَ كَثِيرَةُ الْهَوَامِّ وَالسِّبَاعِ، وَأَنَا ضَرِيرُ الْبَصَرِ. فَهَلْ تَجِدُ لِي مِنْ رُخْصَةٍ؟ قَالَ: " هَلْ تَسْمَعُ حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ. حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ؟ " . قَالَ: نَعَمْ. قَالَ: " فَحَيَّهَلَا " . وَلَمْ يُرَخِّصْ لَهُ . مشكاة المصابيح رقم الحديث ۱۰۷۸ (۲۷) كتاب الجماعة وفضلها الفصل الثالث ، سنن ابي داؤد رقم الحديث ۵۵۳ ، سنن النسائي رقم ۸۵۱ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم ۹۰۱ .

وفي رواية : « هَلْ تَسْمَعُ النِّدَاءَ » . قَالَ: نَعَمْ. قَالَ: « لَا أَجِدُ لَكَ رُخْصَةً » . سنن ابي داؤد رقم الحديث ۵۵۲ بَابٌ فِي التَّشْدِيدِ فِي تَرْكِ الْجَمَاعَةِ .

علامه ذهبي رحمه الله په الكبائر کې ددې حديث نقل کولو نه روستو ليکلي : فَهٰذَا رَجُلٌ ضَرِيرُ الْبَصَرِ شَكَى مَا يَجِدُ مِنَ الْمَشَقَّةِ فِي مَجِيئِهِ إِلَى الْمَسْجِدِ وَلَيْسَ لَهُ قَائِدٌ يَقُودُهُ إِلَى الْمَسْجِدِ . وَمَعَ هٰذَا لَمْ يُرَخِّصْ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الصَّلَاةِ فِي بَيْتِهِ فَكَيْفَ بِمَنْ يَكُونُ صَحِيحَ الْبَصَرِ سَلِيمًا لَا عُذْرَ لَهُ ؟ . الكبائر للذهبي ۱ / ۲۹ اَلْكَبِيرَةُ الرَّابِعَةُ فِي تَرْكِ الصَّلَاةِ .

(۲) صحيح ابن حبان رقم الحديث ۲۰۶۴ ذِكْرُ الْخَبَرِ الدَّالِّ عَلَى أَنَّ هٰذَا الْأَمْرَ حَتْمٌ لَا نَدْبٌ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۱۲۲۶۶ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۸۹۳ ، مشكاة المصابيح رقم ۱۰۷۷ (۲۶) ، رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ .

د حنفي فقهاؤ په کتابونو کې د جمعې په باره کې دوه قولونه نقل دي:

۱. د وُجوب (۱)

---

(۱) اَلْجَمَاعَةُ . وَالْكَلَامُ فِيْهَا فِي مَوَاضِعَ : فِي بَيَانِ وُجُوبِهَا... فَقَدْ قَالَ عَامَّةُ مَشَايِخِنَا : إِنَّهَا وَاجِبَةٌ . وَذَكَرَ الْكَرْخِيُّ أَنَّهَا سُنَّةٌ . ( وَاحْتَجَّ ) بِمَا رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ : « صَلَاةُ الْجَمَاعَةِ تَفْضُلُ عَلَى صَلَاةِ الْفَرْدِ بِسَبْعٍ وَعِشْرِينَ دَرَجَةً . وَفِي رِوَايَةٍ : بِخَمْسٍ وَعِشْرِينَ دَرَجَةً » . جَعَلَ الْجَمَاعَةَ لِإِحْرَازِ الْفَضِيلَةِ وَذَا آيَةُ السُّنَنِ ( وَجْهُ ) قَوْلِ الْعَامَّةِ : اَلْكِتَابُ وَالسُّنَّةُ وَتَوَارُثُ الْأُمَّةِ. أَمَّا الْكِتَابُ : فَقَوْلُهُ تَعَالَى : {وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ} . أَمَرَ اللهُ تَعَالَى بِالرُّكُوعِ مَعَ الرَّاكِعِينَ . وَذَلِكَ يَكُونُ فِي حَالِ الْمُشَارَكَةِ فِي الرُّكُوعِ. فَكَانَ أَمْرًا بِإِقَامَةِ الصَّلَاةِ بِالْجَمَاعَةِ . وَمُطْلَقُ الْأَمْرِ لِوُجُوبِ الْعَمَلِ . (وَأَمَّا) السُّنَّةُ فَمَا رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ : « لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ آمُرَ رَجُلًا ....» . وَمِثْلُ هَذَا الْوَعِيدِ لَا يَلْحَقُ إِلَّا بِتَرْكِ الْوَاجِبِ. ( وَأَمَّا ) تَوَارُثُ الْأُمَّةِ فَلِأَنَّ الْأُمَّةَ مِنْ لَدُنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى يَوْمِنَا هٰذَا وَاظَبَتْ عَلَيْهَا وَعَلَى النَّكِيرِ عَلَى تَارِكِهَا. وَالْمُوَاظَبَةُ عَلَى هٰذَا الْوَجْهِ دَلِيلُ الْوُجُوبِ . وَلَيْسَ هٰذَا اخْتِلَافًا فِي الْحَقِيقَةِ بَلْ مِنْ حَيْثُ الْعِبَارَةُ ؛ لِأَنَّ السُّنَّةَ الْمُؤَكَّدَةَ وَالْوَاجِبَ سَوَاءٌ. خُصُوصًا مَا كَانَ مِنْ شَعَائِرِ الْإِسْلَامِ. أَلَا تَرَى أَنَّ الْكَرْخِيَّ سَمَّاهَا سُنَّةً ثُمَّ فَسَّرَهَا بِالْوَاجِبِ . فَقَالَ : اَلْجَمَاعَةُ سُنَّةٌ لَا يُرَخَّصُ لِأَحَدٍ التَّأَخُّرُ عَنْهَا إِلَّا لِعُذْرٍ . وَهُوَ تَفْسِيرُ الْوَاجِبِ عِنْدَ الْعَامَّةِ .

بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع كِتَابُ الصَّلَاةِ فَصْلٌ بَيَانُ مَنْ تَجِبُ عَلَيْهِ الْجَمَاعَةُ ۱ / ۱۵۵ ط دار الكتب العلمية .

( اَلْجَمَاعَةُ سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ ) أَيْ قَوِيَّةٌ تُشْبِهُ الْوَاجِبَ فِي الْقُوَّةِ وَالرَّاجِحُ عِنْدَ أَهْلِ الْمَذْهَبِ الْوُجُوبُ . وَنَقَلَهُ فِي الْبَدَائِعِ عَنْ عَامَّةِ مَشَايِخِنَا . وَذَكَرَ هُوَ وَغَيْرُهُ أَنَّ الْقَائِلَ مِنْهُمْ أَنَّهَا سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ لَيْسَ مُخَالِفًا فِي الْحَقِيقَةِ بَلْ فِي الْعِبَارَةِ ؛ لِأَنَّ السُّنَّةَ الْمُؤَكَّدَةَ وَالْوَاجِبَ سَوَاءٌ خُصُوصًا مَا كَانَ مِنْ شَعَائِرِ الْإِسْلَامِ . وَدَلِيلُهُ مِنَ السُّنَّةِ الْمُوَاظَبَةُ مِنْ غَيْرِ تَرْكٍ مَعَ النَّكِيرِ عَلَى تَارِكِهَا بِغَيْرِ عُذْرٍ فِي أَحَادِيثَ كَثِيرَةٍ . وَفِي الْمُجْتَبَى وَالظَّاهِرُ أَنَّهُمْ أَرَادُوا بِالتَّأْكِيدِ الْوُجُوبَ لِاسْتِدْلَالِهِمْ بِالْأَخْبَارِ الْوَارِدَةِ بِالْوَعِيدِ الشَّدِيدِ بِتَرْكِ الْجَمَاعَةِ . وَصَرَّحَ فِي الْمُحِيطِ بِأَنَّهُ لَا يُرَخَّصُ لِأَحَدٍ فِي تَرْكِهَا بِغَيْرِ عُذْرٍ حَتَّى لَوْ تَرَكَهَا أَهْلُ مِصْرٍ يُؤْمَرُونَ بِهَا فَإِنِ ائْتَمَرُوا وَإِلَّا يَحِلُّ مُقَاتَلَتُهُمْ . وَفِي الْقُنْيَةِ وَغَيْرِهَا بِأَنَّهُ يَجِبُ التَّعْزِيرُ عَلَى تَارِكِهَا بِغَيْرِ عُذْرٍ وَيَأْثَمُ الْجِيرَانُ بِالسُّكُوتِ . البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۱ /۳٦۵ بَابُ الْإِمَامَةِ شَرَائِطُ صِحَّةِ الْإِمَامَةِ

( وَالْجَمَاعَةُ سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ لِلرِّجَالِ ) قَالَ الزَّاهِدِيُّ : أَرَادُوا بِالتَّأْكِيدِ الْوُجُوبَ إِلَّا فِي جُمُعَةٍ وَعِيدٍ فَشَرْطٌ . وَفِي التَّرَاوِيحِ سُنَّةٌ كِفَايَةٍ . وَفِي وِتْرِ رَمَضَانَ مُسْتَحَبَّةٌ عَلَى قَوْلٍ . وَفِي وِتْرِ غَيْرِهِ وَتَطَوُّعٍ عَلَى سَبِيلِ التَّدَاعِي مَكْرُوهَةٌ . وَسَنُحَقِّقُهُ . ردالمحتار على الدر المختار ۱ / ۵۵۲ كتاب الصلاة باب الامامة .

٢. د سُنتِ مؤکّده کيدو ( خو دا هم په اعتبار د عمَل سره د واجبو په شان دی ) . (١)

مشهور مُحقّق علامه ابن همام رحمه الله ليکلي دي چې زمونږ د اکثره مشائخو مَسلک دادی چې په جَمعې سره مونځ کول واجب دي ، او ديته سُنت ځکه ويل شوي چې ددې ثبوت په سُنت يعنی حديث سره شوی ، دا مطلب ندی چې ګني جَمعه په خپله سُنت ده ، بلکه جَمعه واجب ده . ددې داسې مثال دی لکه : د اختَرونو مونځ واجب دی ، خو سُنت ورته ځکه ويل شوی چې ددې ثبوت په سُنتو سره شوی ، همدغه شان جَمع هم ده چې دا په خپله واجب ده خو چونکه ثبوت يې په سُنتو سره شوی نو ځکه ورته سُنت وايي . (٢)

دا مذکوره ټول رِوايتونه د هغه چا دلائِل دي چې هغوی جَمعه واجب ګڼړي .

---

(١) الجماعة سنة مؤكدة " لقوله عليه الصلاة والسلام " الجماعة سنة من سنن الهدى لا يتخلف عنها إلا منافق " . الهداية في شرح بداية المبتدي كتاب الصلاة باب الإمامة ١ / ٥٦ .

* الجماعة سنة لايجوز لأحد التأخر عنها إلا بعذر، والأصل فيه قوله عليه السلام: « لقد هممت أن آمر رجلاً ... » ومثل هذا الوعيد إنما يلحق تارك الواجب أو تارك السنة المؤكدة، والجماعة ليست بواجبة فعلم أنها سنة مؤكدة ؛ ولأنها من أعلام الدين، فكان إقامتها هدى وتركها ضلالة إلا من عذر . المحيط البرهاني في الفقه النعماني فقه الإمام أبي حنيفة رضي الله عنه فصل في الحث على الجماعة ١ /٤٢٨ .

* ( قَوْلُهُ : اَلْجَمَاعَةُ سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ هُوَ الْأَصَحُّ ) وَفِي شَرْحِ بَكْرٍ خُوَاهَرْ زَادَهْ أَنَّهَا مُؤَكَّدَةٌ غَايَةَ التَّأْكِيدِ . درر الحكام شرح غرر الأحكام ١ / ٨٤ حُكْم صَلَاةِ الْجَمَاعَةِ

* ( اَلْجَمَاعَةُ سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ ) أَيْ قَرِيبَةٌ مِنَ الْوَاجِبِ حَتَّى لَوْ تَرَكَهَا أَهْلُ مِصْرٍ لَقُوتِلُوا ، وَإِذَا تَرَكَ وَاحِدٌ ضُرِبَ وَحُبِسَ وَلَا يُرَخَّصُ لِأَحَدٍ تَرْكُهَا إلَّا لِعُذْرٍ . مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر ١ / ١٠٧ فَصْلٌ الْجَمَاعَةُ سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ .

* ( اَلْجَمَاعَةُ سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ ) أَيْ قَوِيَّةٌ تُشْبِهُ الْوَاجِبَ فِي الْقُوَّةِ حَتَّى اُسْتُدِلَّ بِمُلَازَمَتِهَا عَلَى وُجُودِ الْإِيمَانِ . تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق وحاشية الشلبي ١ /١٣٢ بَابُ الْإِمَامَةِ وَالْحَدَثِ فِي الصَّلَاةِ

* ( فَتُسَنُّ أَوْ تَجِبُ ) ثَمَرَتُهُ تَظْهَرُ فِي الْإِثْمِ بِتَرْكِهَا مَرَّةً ... رد المحتار على الدر المختار ١ /٥٢٥ كتاب الصلاة باب الامامة

(٢) مظاهر حق ج٢ باب الجماعة وفضلها . / وَفِي الْغَايَةِ قَالَ عَامَّةُ مَشَايِخِنَا: إنَّهَا وَاجِبَةٌ وَفِي الْمُفِيدِ اَلْجَمَاعَةُ وَاجِبَةٌ وَتَسْمِيَتُهَا سُنَّةٌ لِوُجُوبِهَا بِالسُّنَّةِ. وَفِي الْبَدَائِعِ تَجِبُ عَلَى الرِّجَالِ الْعُقَلَاءِ الْبَالِغِينَ الْأَحْرَارِ الْقَادِرِينَ عَلَى الصَّلَاةِ بِالْجَمَاعَةِ مِنْ غَيْرِ حَرَجٍ . تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق وحاشية الشلبي ١ /١٣٢ بَابُ الْإِمَامَةِ وَالْحَدَثِ فِي الصَّلَاةِ .

# د جمعې په باره کې د سُنت مؤکده کيدو قول او دلائل

د اُمت د جمهورو علماؤ ، صحابه کرامو ، تابعينو او فقهاؤ په نزد جَمعه سُنتِ مؤکده ده، او دا د سهَر سُنتو په شان مؤکّد ده ، چې دا هم واجبو ته نزدې ده .

دې حضراتو د قرآن کريم دا آيت ﴿ وَارۡكَعُوا مَعَ الرّٰكِعِيۡنَ ﴾ د تاکيد د پاره ګنړلی ، او د کومو اَحاديثو د ظاهر نه چې دا معلوميږي '' چې د جُمات سره د نزدې اُوسيدونکي کس مونځ بغير د جَمعې نه نه صحيح کيږي '' نو جمهور فقهاء ددې مطلب دا بيانوي چې د داسې کس مونځ کامِل نه دی ، يعنی مونځ يې کيږي خو کامِل نه دی . (۱) ، (۲) .

**د جمهورو علماؤ دليل** : د جمهورو علماؤ د پاره د جَمعې په سُنتِ مؤکده کيدو باندې دليل د مسلم شريف حديث دی ، حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمايي :

مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَلْقَى اللهَ غَدًا مُسْلِمًا ، فَلْيُحَافِظْ عَلَى هٰؤُلَاءِ الصَّلَوَاتِ حَيْثُ يُنَادٰى بِهِنَّ ، فَإِنَّ اللهَ شَرَعَ لِنَبِيِّكُمْ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُنَنَ الْهُدٰى ، وَإِنَّهُنَّ مِنْ سُنَنِ الْهُدٰى ، وَلَوْ أَنَّكُمْ صَلَّيْتُمْ فِيْ

---

(۱) ملاعلي قاري رحمه الله په مرقاة شرح مشکوة کې د مذکوره احاديثو همدا مطلب بيان کړی : ( مَنْ سَمِعَ النِّدَاءَ فَلَمْ يُجِبْ فَلَا صَلَاةَ ) كَامِلَةً أَوْ مَقْبُولَةً (لَهُ إِلَّا مِنْ عُذْرٍ ) . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح بَابُ الْجَمَاعَةِ وَفَضْلِهَا ۳ / ۸۴۴ رقم الحديث ۱۰۷۷ ط . دار الفكر، بيروت لبنان .

(۲) قَالَ ابْنُ الْهُمَامِ : وَمَا رُوِيَ « عَنِ ابْنِ أُمِّ مَكْتُوْمٍ ﷺ أَنَّهُ قَالَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! إِنِّيْ ضَرِيْرٌ شَاسِعُ الدَّارِ .... قَالَ : " مَا أَجِدُ لَكَ رُخْصَةً » . وَمَعْنَاهُ : لَا أَجِدُ لَكَ رُخْصَةً تُحَصِّلُ لَكَ فَضِيْلَةَ الْجَمَاعَةِ مِنْ غَيْرِ حُضُوْرِهَا ، لَا الْإِيْجَابُ عَلَى الْأَعْمٰى . فَإِنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ رَخَّصَ لِعِتْبَانَ بْنِ مَالِكٍ فِيْ تَرْكِهَا . وَقَالَ ابْنُ حَجَرٍ : لَيْسَ فِيْهِ دَلَالَةٌ عَلَى فَرْضِيَّةِ الْعَيْنِ لِإِجْمَاعِ الْمُسْلِمِيْنَ عَلَى أَنَّ الْجَمَاعَةَ تَسْقُطُ بِالْعُذْرِ ، وَلِحَدِيْثِ الصَّحِيْحَيْنِ : أَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ رَخَّصَ لِعِتْبَانَ حَيْثُ شَكَا بَصَرَهُ أَنْ يُصَلِّيَ فِيْ بَيْتِهِ ... وَفِيْهِ أَنَّهُ مَا ادَّعَى أَحَدٌ أَنَّهَا فَرْضُ عَيْنٍ مَعَ وُجُوْدِ الْعُذْرِ أَيْضًا فَتَدَبَّرْ . وَيُؤَيِّدُ مَا قُلْنَا " « مَنْ سَمِعَ النِّدَاءَ فَلَمْ يَأْتِهِ فَلَا صَلَاةَ لَهُ إِلَّا مِنْ عُذْرٍ » " . وَيُؤَيِّدُهُ الْحَدِيْثَانِ . وَإِنْ قِيْلَ : إِنَّهُمَا ضَعِيْفَانِ " « لَا صَلَاةَ لِجَارِ الْمَسْجِدِ إِلَّا فِي الْمَسْجِدِ » . " « وَمَنْ تَخَلَّفَ عَنِ الْجَمَاعَةِ لِغَيْرِ عُذْرٍ لَمْ تُقْبَلْ صَلَاتُهُ » " . وَإِنَّمَا لَمْ يَقُلْ أَئِمَّتُنَا بِفَرْضِيَّتِهِ بَلْ بِوُجُوْبِهِ ، لِأَنَّ الدَّلِيْلَ ظَنِّيٌّ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح بَابُ الْجَمَاعَةِ وَفَضْلِهَا ۳ / ۸۳۴ رقم الحديث ۱۰۷۷ ط . دار الفكر، بيروت لبنان .

بُيُوتِكُمْ كَمَا يُصَلِّي هٰذَا الْمُتَخَلِّفُ فِي بَيْتِهِ، لَتَرَكْتُمْ سُنَّةَ نَبِيِّكُمْ، وَلَوْ تَرَكْتُمْ سُنَّةَ نَبِيِّكُمْ لَضَلَلْتُمْ ، وَمَا مِنْ رَجُلٍ يَتَطَهَّرُ فَيُحْسِنُ الطُّهُورَ ، ثُمَّ يَعْمِدُ إِلَى مَسْجِدٍ مِنْ هٰذِهِ الْمَسَاجِدِ ، إِلَّا كَتَبَ اللهُ لَهُ بِكُلِّ خَطْوَةٍ يَخْطُوهَا حَسَنَةً ، وَيَرْفَعُهُ بِهَا دَرَجَةً ، وَيَحُطُّ عَنْهُ بِهَا سَيِّئَةً ، وَلَقَدْ رَأَيْتُنَا وَمَا يَتَخَلَّفُ عَنْهَا إِلَّا مُنَافِقٌ مَعْلُومُ النِّفَاقِ ، وَلَقَدْ كَانَ الرَّجُلُ يُؤْتَى بِهِ يُهَادَى بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ حَتَّى يُقَامَ فِي الصَّفِّ . (۱)

څوک چې دا غواړي چې صبا (د قيامت په ورځ) د الله تعالى سره د مسلمانيدو په حالت کې ملاقات اوکړي نو په کار ده چې دا کس دا پنځه مونځونو په هغه ځاى کې په پابندۍ سره اوکړي چيرته چې دد ې دپاره آذان کولې شي (يعنى په جُمات کې دې په جَمعې سره کوي) ، ځکه الله تعالى ستاسو د پيغمبر د پاره د هدايت يو څو طريقې (سُنَنِ هُدٰى (۲)) خودلې دي ، او دد ې پنځو مونځونو په جَمعې سره اداء کول هم د سُنَنِ هُدٰى ځنې دي .

که چيرته تاسو دا مونځونه په خپلو کورونو کې کوئ لکه څرنګې چې دا فلانې کس په خپل کور کې د نورو نه ځانله مونځ کوي (۳) نو تاسو به د خپل پيغمبر سُنّت پريخودونکي شئ ، او که تاسو د خپل پيغمبر سُنّت پريخودل نو ګمراه به شئ .

او کوم کس چې اَودس اوکړي ، او په ښه طريقې سره پاکي حاصله کړي ، بيا په دې جُماتونو کې يو جُمات ته لاړ شي نو الله تعالى د هر قدم په عِوض کې دده په عمَلنانه کې يوه نيکي ليکي ، يوه درجه يې اُوچتوي ، او يوه ګناه يې ختموي .

او مونږ به په خپله ليدل چې جَمعې ته به صرف هغه مُنافق نه راتلو چې هغه به ښکاره مُنافِق وُ (بلکه هر کس به جَمعې ته راتلو) تر دې پورې چې يو کس به د بيمارۍ او عُذر په

---

(۱) صحيح مسلم بَابُ صَلَاةِ الْجَمَاعَةِ مِنْ سُنَنِ الْهُدٰى رقم الحديث ۲۵۷ (۶۵۴) ، مشكاة المصابيح رقم الحديث ۱۰۷۲ (۲۱) ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۸۶۰۷ . و رواه النسائي ۲/ ۱۰۸ ، والمنذري في الترغيب والترهيب ۱/ ۲۶۰ ، والهيثمي في المجمع ۲/ ۳۹ .

(۲) سُنَنَ الْهُدٰى : يعنى د شريعت داسې خبرې چې د هغې سره د انسان هدايت او سعادت تړلې وي ، او انسان د الله ﷻ مُقرّب جوړيږي . معارف الحديث حصه سوم ص ۱۲۶ .

(۳) ابن مسعود ﷛ يو خاص کس ته اِشاره اوکړه چې هغه به په کور کې ځانله مونځ کول .

حالت کې هم د دوه ؤ کسانو په اوږدو باندې لاس ايخې ؤ جُمات ته به راوستې شو، او په صَف کې به اودرولې شو.

**فائده** : په دې روايت کې په جَمعې سره د مونځ کولو تاکيد او اَهميت بيان شوی، او ورسره ورسره جَمعې ته سُنَنَ الْهُدٰی هم ويل شوي چې ديته فقهاء سُنتِ مؤکده وايي.

ملاعلي قاري رحمه الله په مرقاة شرح مشکوة کې ديته ترجيح ورکړی چې جَمعه ستِ مؤکده ده. (۱)، خو دا سُنت مؤکده هم په اِعتبار د عمَل سره په حکم د واجبو کې دی، گويا دا اختلاف صرف لفظي دی. (۲)

---

(۱) ملاعلي قاري رحمه الله د حضرت عبدالله بن مکتوم د حديث په تشريح کې ليکلي ...« هَلْ تَسْمَعُ النِّدَاءَ بِالصَّلَاةِ ؟» قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: « فَأَجِبْ » أَيْ: فَأْتِ الْجَمَاعَةَ. قَالَ الطِّيبِيُّ: فِيهِ دَلِيلٌ عَلَى وُجُوبِ الْجَمَاعَةِ. وَقِيلَ: حَثٌّ وَمُبَالَغَةٌ فِي الْأَفْضَلِ الْأَلْيَقِ بِحَالِهِ. فَإِنَّهُ مِنْ فُضَلَاءِ الْمُهَاجِرِينَ. رَخَّصَ أَوَّلًا؛ ثُمَّ رَدَّهُ؛ إِمَّا بِوَحْيٍ أَوْ بِتَغْيِيرِ اجْتِهَادٍ. وَالظَّاهِرُ أَنَّهُ أَطْلَقَ لَهُ الْجَوَابَ. ثُمَّ قَيَّدَهُ بِقَيْدِ عَدَمِ السَّمَاعِ.
وَقَالَ ابْنُ الْمَلَكِ: وَ إِنَّمَا لَمْ يُرَخِّصْ لَهُ مَعَ عَدَمِ وُجْدَانِهِ قَائِدًا لِعِلْمِهِ بِقُدْرَتِهِ عَلَى الْحُضُورِ بِلَا قَائِدٍ، أَوْ لِلتَّأْكِيدِ فِي الْجَمَاعَةِ. قَالَ: وَاسْتَدَلَّ بِهِ أَبُو ثَوْرٍ عَلَى وُجُوبِ حُضُورِ الْجَمَاعَةِ. وَقَالَ بَعْضُ الشَّافِعِيَّةِ: هِيَ فَرْضٌ عَلَى الْكِفَايَةِ. وَالْأَصَحُّ أَنَّهُ سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ، وَعَلَيْهِ الْأَكْثَرُونَ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح بَابُ الْجَمَاعَةِ وَفَضْلِهَا ۳ / ۸۳۴ رقم الحديث ۱۰۷۷ ط. دار الفكر، بيروت – لبنان

(۲) (قَوْلُهُ قَالَ عَامَّةُ مَشَايِخِنَا إِنَّهَا وَاجِبَةٌ ...) وَفِي مُخْتَصَرِ الْبَحْرِ الْمُحِيطِ: الْأَكْثَرُ عَلَى أَنَّهَا سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ، وَلَوْ تَرَكَهَا أَهْلُ نَاحِيَةٍ أَثِمُوا وَوَجَبَ قِتَالُهُمْ بِالسِّلَاحِ؛ لِأَنَّهَا مِنْ شَعَائِرِ الْإِسْلَامِ وَفِي شَرْحِ خُوَاهَرْ زَادَهْ سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ غَايَةَ التَّأْكِيدِ. اهـ غَايَةٌ قَالَ الْكَمَالُ وَقِيلَ الْجَمَاعَةُ سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ فِي قُوَّةِ الْوَاجِبِ اهـ وَمِمَّنْ قَالَ بِأَنَّهَا سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ الْكَرْخِيُّ وَالْقُدُورِيُّ. وَيَدُلُّ عَلَى أَنَّ الْمُرَادَ أَنَّهَا فِي قُوَّةِ الْوَاجِبِ قَوْلُ صَاحِبِ التُّحْفَةِ فِيمَا ذَكَرَ مُحَمَّدٌ فِي غَيْرِ رِوَايَةِ الْأُصُولِ أَنَّهَا وَاجِبَةٌ. وَقَدْ سَمَّاهَا بَعْضُ أَصْحَابِنَا سُنَّةً مُؤَكَّدَةً وَهُمَا سَوَاءٌ. وَقَوْلُ صَاحِبِ الْبَدَائِعِ لَا خِلَافَ فِي الْحَقِيقَةِ وَإِنَّمَا الِاخْتِلَافُ فِي الْعِبَارَةِ لَا غَيْرُ؛ لِأَنَّ السُّنَّةَ الْمُؤَكَّدَةَ وَالْوَاجِبَ سَوَاءٌ خُصُوصًا فِيمَا إِذَا كَانَ مِنْ شَعَائِرِ الْإِسْلَامِ. أَلَا تَرَى أَنَّ الْكَرْخِيَّ سَمَّاهَا سُنَّةً. ثُمَّ فَسَّرَهَا بِالْوَاجِبِ فَقَالَ الْجَمَاعَةُ لَا يُرَخَّصُ لِأَحَدٍ التَّأَخُّرُ عَنْهَا إِلَّا بِعُذْرٍ. وَهُوَ تَفْسِيرُ الْوَاجِبِ عِنْدَ الْعُلَمَاءِ. حاشية الشلبي على تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق ۱ / ۱۳۳ بَابُ الْإِمَامَةِ وَالْحَدَثِ فِي الصَّلَاةِ

**ددې مسئلې خلاصه** : ددې مسئلې خلاصه دا اُووته چې د احنافو د اکثره مشائخو قول دادی چې د پنځه وخته فرض مونځونو د پاره جَمع واجب ده .... خو لیکن د صحیح روایاتو او مُتونو نه معلومیږي چې د اَحنافو په نزد جَمعه سُنتِ مؤکده ده ، چې دا هم په اعتبار د عمَل سره واجبو ته نزدې ده .

امام کرخي رحمه الله فرمايي چې جَمعه سُنتِ مؤکده ده خو بغير عُذره هيچا ته ددې پريخودل جائز ندي . (۱)

## جَمعه د اسلام د شعائرو نه ده

که څوک بغير د عُذر نه د جَمعې مونځ پريږدي نو مونځ يې کيږي خو د سُنتِ مؤکده په پريخودو سره د زُورَني حَقدار دی ، او که يو کس جَمعه پريخودل عادت جوړ کړي نو بيا سخت گناهګار دی ، بيا خاصکر که خلق په کورونو کې مونځ کول شروع کړي او جُمات شاړ پاتې شي نو د شريعت له مخې به دا ټول خلق د سزا مُستحق وي .

قاضي عياض رحمه الله ليکلي دي : که داسې خلق په پوهه کولو هم پوهه نشو نو بيا دې ورسره جنګ اوکړې شي . (۲)

علامه شرنبلالي رحمه الله فرمايلي چې که چيرته د يو ښار يا يوې مَحَلې واله خلق بَغير د څه عُذره د جَمعې مونځ پريږديَ نو دوی ته به د جَمعې حکم کولې شي ، که وې مَنَل نو ډيره ښه ده ، او که وې نه مَنَل نو د دوی سره به جهاد کولې شي ، ځکه جَمع د اِسلام د شعائرو او خصائصو د دِين نه ده . (۳)

---

(۱) فتاوی عثمانيه ج۲ ص ۲۴۷ باب الجماعة .

قال الكرخي : اَلجَمَاعَةُ سُنَّةٌ لَا يُرَخَّصُ لِأَحَدٍ التَّأَخُرُ عَنْهَا إِلَّا لِعُذْرٍ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع كِتَابُ الصَّلَاةِ فَصْلٌ بَيَانُ مَنْ تَجِبُ عَلَيْهِ الجَمَاعَةُ ۱ / ۱۵۵ ط دار الكتب العلمية .

(۲) تفسير قرطبي ج۱ ص ۲۹۸ ، تفسير معارف القرآن سورة البقرة في تشريح آيت ۴۳ ، د جنت کالي يولسمه حصه د جَمعې فضيلت او تاکيد .

(۳) مراقي الفلاح على صدر حاشية الطحاوي كتاب الصلاة باب الامامة ص ۲۳۱ ، ۲۳۲ ، بدائع الصنائع كتاب الصلاة فصل في ما يجب على السامعين والثاني الجماعة ۱ / ۶۶۰ ، ۶۶۲ ، الفتاوى الهندية كتاب الصلاة الباب الخامس في الامامة الفصل الاول في الجماعة ۱ / ۸۲ ، فتاوی عثمانيه ج۲ ص ۲۴۷ باب الجماعة .

او د اسلام شعائرو پريخودونکو سره به جهاد کولې شي. (۱)

په قُنْيَه وغيره کې ذکر دي چې د وخت په امام باندې واجب دي چې بغير عذره جمعي پريخودونکي ته سزا ورکړي، او د داسې کس ګاونډيان که ده ته په دې جمع پريخودو باندې څه نه وايي نو دوی پرې ګناهګار دي. (۲)

## په جمعې سره د مونځ کولو فضائل او فوائد

په اسلام کې د جمعې د مانځه ډير فضائل او فوائد بيان شوي، خو زه به درته صرف يو څو مشهور فضائل او فوائد بيان کړم:

### ۱. د جمعې مونځ د ځانله مونځ کولو نه اووه ويشت درجې افضل دی

د بخاري شريف حديث دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

صَلَاةُ الْجَمَاعَةِ تَفْضُلُ صَلَاةَ الْفَذِّ بِسَبْعٍ وَعِشْرِيْنَ دَرَجَةً. (۳)

---

(۱) وَصَرَّحَ فِي الْمُحِيْطِ بِأَنَّهُ لَا يُرَخَّصُ لِأَحَدٍ فِي تَرْكِهَا بِغَيْرِ عُذْرٍ حَتّٰى لَوْ تَرَكَهَا أَهْلُ مِصْرٍ يُؤْمَرُوْنَ بِهَا فَإِنْ ائْتَمَرُوْا وَإِلَّا يَحِلُّ مُقَاتَلَتُهُمْ. البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۱/ ۳۶۵ بَابُ الْإِمَامَةِ شَرَائِطُ صِحَّةِ الْإِمَامَةِ.

* وَفِي الْغَايَةِ لَوْ تَرَكَهَا أَهْلُ نَاحِيَةٍ أَثِمُوْا وَوَجَبَ قِتَالُهُمْ بِالسِّلَاحِ؛ لِأَنَّهَا مِنْ شَعَائِرِ الْإِسْلَامِ إِلَّا أَنْ يَتُوْبُوْا. وَقَالَ مُحَمَّدٌ نَضْرِبُهُمْ وَلَا نُقَاتِلُهُمْ كَمَا فِي شَرْحِ الْمَنْظُوْمَةِ. درر الحكام شرح غرر الأحكام ۶/ ۸۴ حُكْمُ صَلَاةِ الْجَمَاعَةِ

* وَفِي مُخْتَصَرِ الْبَحْرِ الْمُحِيْطِ: الْأَكْثَرُ عَلٰى أَنَّهَا سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ. وَلَوْ تَرَكَهَا أَهْلُ نَاحِيَةٍ أَثِمُوْا وَ وَجَبَ قِتَالُهُمْ بِالسِّلَاحِ؛ لِأَنَّهَا مِنْ شَعَائِرِ الْإِسْلَامِ. حاشية الشِّلْبِيِّ علي تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق ۱/ ۱۳۳ بَابُ الْإِمَامَةِ وَالْحَدَثِ فِي الصَّلَاةِ.

(۲) وَفِي الْقُنْيَةِ وَغَيْرِهَا بِأَنَّهُ يَجِبُ التَّعْزِيْرُ عَلٰى تَارِكِهَا بِغَيْرِ عُذْرٍ وَيَأْثَمُ الْجِيْرَانُ بِالسُّكُوْتِ. البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۱/ ۳۶۵ بَابُ الْإِمَامَةِ شَرَائِطُ صِحَّةِ الْإِمَامَةِ.

(۳) صحيح البخاري كِتَابُ الْأَذَانِ بَابُ فَضْلِ صَلَاةِ الْجَمَاعَةِ رقم الحديث ۶۴۵، صحيح مسلم بَابُ فَضْلِ صَلَاةِ الْجَمَاعَةِ وَبَيَانِ التَّشْدِيْدِ فِي التَّخَلُّفِ عَنْهَا رقم الحديث ۲۴۹ (۶۵۰)، سنن الترمذي باب ما جاء في فضل الجماعة رقم الحديث، مشكاة المصابيح باب الجماعة وفضلها الفصل الاول رقم ۱۰۵۲ (۱)، موطاء امام مالک باب فضل صلاة الجماعة على صلاة الفذ رقم ۱، شعب الايمان رقم الحديث ۲۵۶۹.

د جَمعې سره مونځ د ځانله مونځ کولو نه ( په ثواب کې ) أووه ویشت (٢٧) درجې زيات دی ۰

**تشريح** : په دې حديث کې د جَمعې د مانځه فضيلت أووه ويشت درجې ذکر شوی ، او په نورو احاديثو کې د جَمعې د مانځه فضيلت پنځه ويشت ( ٢٥ ) درجې زيات خودلې شوی ، لکه د بخاري شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :

صَلَاةُ الْجَمَاعَةِ تَفْضُلُ صَلَاةَ الْفَذِّ بِخَمْسٍ وَّعِشْرِيْنَ دَرَجَةً . (١)

د جَمعې مونځ د ځانله مونځ نه پنځه ويشت (٢٥) درجې زيات ثواب لري .

اوس په دې دواړو احاديثو کې تَطْبِيق دادی چې : په اول کې به د الله ﷻ د طرفه نبي عليه السلام ته د جَمعې د مانځه ثواب پنځه ويشت درجې خودلې شوې وُ ، بيا به الله ﷻ په خپل فضل و کرم سره د أووه ويشت درجې ثواب اعلان کړې وي .

يا دا چې دا د دَرجو فرق د مونځ ګزارو د اَحوالو په اِعتبار سره دی ، بعضو مونځ ګزارو ته د جَمعې ثواب پنځه ويشت درجې ورکولې شي ، او بعضو ته د اِخلاص په وجه أووه ويشت درجې ورکولې شي .

بعضو علماؤ تطبيق داسې کړی چې په سِرّي مونځونو ( يعنی د ماسپخين او مازيګر په مانځه ) کې د جَمعې ثواب پنځه ويشت درجې دی ، او جَهري مونځونو ( يعنی د سهَر ، ماښام او ماسخوتن په مانځه ) کې د جَمعې ثواب أووه ويشت درجې دی . (٢)

بعضو علماؤ تطبيق داسې کړی چې د ماسپخين ، مازيګر او ماښام په مونځونو کې د جَمعې ثواب پنځه ويشت درجې دی ، او د سهَر او ماسخوتن په مانځه کې د جَمعې ثواب

---

(١) صحيح البخاري كِتَابُ الْأَذَانِ بَابُ فَضْلِ صَلَاةِ الْجَمَاعَةِ رقم الحديث ٦٤٦ ، كنزالعمال رقم الحديث ٢٠٢١٥ .

وفي رواية : صَلَاةُ الْجَمَاعَةِ تَعْدِلُ خَمْسًا وَّعِشْرِيْنَ مِنْ صَلَاةِ الْفَذِّ. صحيح مسلم بَابُ فَضْلِ صَلَاةِ الْجَمَاعَةِ وَبَيَانِ التَّشْدِيْدِ فِي التَّخَلُّفِ عَنْهَا رقم الحديث ٢٣٧ ( ٦٤٩ ) ، سنن ابي داؤد رقم الحديث ٥٦٠ باب ما جاء في فضل المشي الى الصلاة ، شعب الايمان رقم الحديث ٢٥٧٢ .

(٢) مظاهر حق شرح مشكوة ج٢ .

اُووه ويشت درجې دی ، ځکه په دې دوه وختونو کې جَمعې ته تلل ګران وي نو ځکه ثواب يې زيات دی .

## ځانله مونځ کول د جَمعې ثواب ته هيڅ کله نه رَسي

علامه ذهبي رحمه الله په " الکبائر " کې دا واقعه رانقل کړی : (۱)

عبيدالله بن عمر قواريري رحمه الله ( کوم چې د بخاري ، مسلم او ابوداؤد شيخ دی ) وايي : چې د مانه کله هم د ماسخوتن جَمعه نه وه تللی ( بلکه هميشه به مې د ماسخوتن مونځ د جَمعې سره کول ) ، يوه شپه زما ميلمه راغی ، زه د هغه سره مشغول ووم ، او د مانه د ماسخوتن جَمعه لاړه ، نو زه رااُووتم او د بَصرې په جُماتونو کې مې د جَمعې د مانځه تلاش کولو خو ټولو خلقو مونځونه کړي وو ، او جُماتونه بَند وو ، پس زه کورته واپس راغلم ، د ځان سره مې وويل :

په حديث کې راغلي دي چې " د جَمعې سره مونځ د ځان له مونځ نه اُووه ويشت درجې زيات دی " نو ما د ماسخوتن مونځ اُووه ويشت پيرې اوکړو ، بيا اُوده شوم ، په خوب کې مې اُوليد چې زه د داسې يو قوم سره يم چې هغوی په آسونو باندې سواره دي ، او زه هم په يو آس باندې سور ووم ، مونږ د يو بل سره د مَنډې مقابله کوله ، ما به چې خپل آس هر

---

(۱) عَن عبيد الله بن عمر القواريري رَضِي الله عَنهُ قَالَ لم تكن تفوتني صَلَاة الْعشَاء فِي الْجَمَاعَة قط . فَنزلَ بِي لَيْلَة ضيف . فشغلت بِسَبَبِهِ وفاتتني صَلَاة الْعشَاء فِي الْجَمَاعَة . فَخرجتُ أطلب الصَّلَاة فِي مَسَاجِد الْبَصْرَة فَوجدتُ النَّاس كلهم قد صلوا وغلقت الْمَسَاجِد . فَرَجَعت إِلَى بَيْتِي وَقلتُ قد وَرَدَ فِي الحَدِيث : " إِنَّ صَلَاة الْجَمَاعَة تزِيد على صَلَاة الْفَرد بِسبع وَعشْرين دَرَجَة " فَصَلَّيتُ الْعشَاء سبعًا وَعشْرين مرةً . ثُمَّ نمتُ فَرَأَيْتُ فِي الْمَنَام كَأَنِّي مَعَ قوم على خيل وَأَنا أَيْضا على فرسٍ وَنحن نَسْتَبِق وَأَنا أركض فرسي فَلَا أَلحقهم فَالْتَفت إِلَيّ أحدهم فَقَالَ لي : لَا تتعب فرسك فلست تلحقنا . قلتُ : وَلم ؟ قَالَ : لِأَنَّا صلينَا الْعشَاء فِي جمَاعَة وَأَنت صليت وَحدك . فانتبهتُ وَأَنا مغموم حَزِين لذَلِك . فنسأل الله المعونة والتوفيق إِنَّه جواد كريم . الكبائر للذهبي الْكَبِيرَة الرَّابِعَة فِي ترك الصَّلَاة ص ۱ /۳۲ فصل فِي عُقُوبَة تَارِك الصَّلَاة (فِي جمَاعَة) مَعَ الْقُدْرَة ط . دار الندوة الجديدة بيروت .

څومره تېز زغلول خو زه به دوی ته نه وَر رسیدم ، په دوی کې یو کس ماته مخ راواړول ، او راته وې ویل :

لَا تُتْعِبْ فَرَسَكَ فَلَسْتَ تَلْحَقُنَا .

ته خپل آس هسې مه ستړې کوه ، ته مونږ ته نشې رارسیدی .

ما ورته وویل : زه ولې نه شم در رسیدی ؟ هغه راته وویل :

لِأَنَّا صَلَّيْنَا الْعِشَاءَ فِي جَمَاعَةٍ وَأَنْتَ صَلَّيْتَ وَحْدَكَ .

ځکه مونږ د ماسخوتن مونځ د جمعې سره کړې دی او تا ځانله کړې دی .

عبیدالله بن عمر قواریري رحمه الله وایي چې زه د خوب نه راپاڅیدم ، او د جمعې تللو په وجه سخت خفه ووم .

## ۲ . په جمعې سره مونځ كوونكي ته د حج ثواب ملاويږي

د ابوداوُد شریف حدیث دی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

مَنْ خَرَجَ مِنْ بَيْتِهِ مُتَطَهِّرًا إِلَى صَلَاةٍ مَكْتُوبَةٍ فَأَجْرُهُ كَأَجْرِ الْحَاجِّ الْمُحْرِمِ ، وَمَنْ خَرَجَ إِلَى تَسْبِيحِ الضُّحَى لَا يَنْصِبُهُ إِلَّا إِيَّاهُ فَأَجْرُهُ كَأَجْرِ الْمُعْتَمِرِ ... (۱)

څوک چې د خپل کور نه د فرض مونځ اداء کولو د پاره په اودس کې اووځي ( او جمات ته لاړشي ) نو ده ته به دومره اَجر و ثواب ورکولې شي څومره چې مُحرِم حاجي ته د حَج په کولو

---

(۱) سنن ابي داود كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الْمَشْيِ إِلَى الصَّلَاةِ رقم الحديث ۵۵۸ ، مشكوة المصابيح باب المساجد ومواضع الصلوة الفصل الثاني رقم الحديث ۷۲۸ ( ۴۰ ) ، المعجم الكبير للطبراني رقم ۷۷۵۵ ، كنزالعمال رقم الحديث ۱۸۹۶۱ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم ۳۲۰ (۲۴) ، وحسّنه الالباني : صحيح الجامع رقم ۶۱۰۴ .

وفي روايةٍ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَنْ صَلَّى الْغَدَاةَ فِي جَمَاعَةٍ ثُمَّ قَعَدَ يَذْكُرُ اللهَ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ ، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ كَانَتْ لَهُ كَأَجْرِ حَجَّةٍ وَعُمْرَةٍ ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : تَامَّةٍ تَامَّةٍ تَامَّةٍ . سنن الترمذي بَابُ ذِكْرِ مَا يُسْتَحَبُّ مِنَ الْجُلُوسِ فِي الْمَسْجِدِ بَعْدَ صَلَاةِ الصُّبْحِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ رقم الحديث ۵۸۶ ، الترغيب والترهيب للمنذري كتاب الصَّلَاة اَلتَّرْغِيبُ فِي جُلُوسِ الْمَرْءِ فِي مُصَلَّاهُ بعد صَلَاةِ الصُّبْحِ وَصَلَاةِ الْعَصْرِ رقم الحديث ۶۶۷ ، كنزالعمال رقم الحديث ۲۱۲۰۵ و صححه الالباني .

سره وركولې شي ، او څوک چې د خپل كور نه د تكليف برداشت كولو باوجود د نفلي څاښت مونځ د پاره اُووځي ، او خالصه د الله ﷻ د رَضا د پاره يې اَداء كوي نو د ه ته به د عُمره كوونكي هومره اَجر وثواب وركولې شي .

## ۳ په جَمعې سره د مونځ كولو په عِوض كې په جَنت كې ميلمَستيا

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ غَدَا إِلَى الْمَسْجِدِ وَرَاحَ أَعَدَّ اللهُ لَهُ نُزُلَهُ مِنَ الْجَنَّةِ كُلَّمَا غَدَا أَوْرَاحَ . (١)

څوک چې د سهَر يا ماښام مانځه د پاره جُمات ته لاړ شي نو الله تعالى به د ه ته د دې په عِوض كې په جنت كې كور او ميلمَستيا تياره كړي .

## ٤ . په جَمعې سره د ماسخوتن او سهَر مونځ كوونكي ته د ټولې شپې د عبادت ثواب ملاويږي

د مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ صَلَّى الْعِشَاءَ فِي جَمَاعَةٍ فَكَأَنَّمَا قَامَ نِصْفَ اللَّيْلِ ، وَمَنْ صَلَّى الصُّبْحَ فِي جَمَاعَةٍ فَكَأَنَّمَا صَلَّى اللَّيْلَ كُلَّهُ . (٢)

---

(١) صحيح البخاري بَابُ فَضْلِ مَنْ غَدَا إِلَى الْمَسْجِدِ وَمَنْ رَاحَ رقم الحديث ٦٦٢ ، صحيح مسلم بَابُ الْمَشْيِ إِلَى الصَّلَاةِ تُمْحَى بِهِ الْخَطَايَا وَتُرْفَعُ بِهِ الدَّرَجَاتُ رقم الحديث ٢٥٨ ( ٦٦٩ ) ، شعب الايمان رقم الحديث ٢٦٢١ فضل المشي الى المساجد ، صحيح الترغيب والترهيب رقم ٣١٢ ( ١٨ ) ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ٤٩٧٠ .

(غَدَا) ذهب . (رَاحَ) رجع . (نُزُلَهُ) مكانه وضيافته . تعليق مصطفى البغا علي صحيح البخاري .

(نُزُلًا) النزل ما يهيأ للضيف عند قدومه . شرح محمد فؤاد عبد الباقي علي صحيح مسلم .

(٢) صحيح مسلم بَابُ فَضْلِ صَلَاةِ الْعِشَاءِ وَالصُّبْحِ فِي جَمَاعَةٍ رقم الحديث ٢٦٠ ( ٦٥٦ ) ، سنن ابي داؤد باب فضل صلاة الجماعة رقم الحديث ٥٥٥ ، شعب الايمان رقم ٢٥٨٩ ، مشكاة المصابيح باب فضائل الصلاة الفصل الاول رقم الحديث ٦٣٠ ( ٧ ) ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ٢١٧٨ .

څوک چې د ماسخوتن مونځ د جَمعې سره اوکړي دا داسې دی لکه ده چې د نيمې شپې پورې عبادت اوکړو ، او څوک چې د سهر مونځ د جَمعې سره اوکړي دا داسې دی لکه ده چې ټوله شپه عبادت اوکړو .

**د حديث تشريح** : د حديث د ظاهري الفاظو نه دامعلوميږي چې په جَمعې سره د سهَر د مونځ ثواب د ماسخوتن د مونځ نه زيات دی ، ځکه د ماسخوتن مونځ په جَمعې سره کوونکي ته د نيمې شپې د عبادت ثواب ملاويږي او د سهَر مونځ په جَمعې سره کوونکي ته د ټولې شپې د عبادت ثواب ملاويږي .

يا د حديث مطلب دادی : چې څوک د ماسخوتن مونځ په جَمعې سره اوکړي نو ده د نيمې شپې پورې د عبادت ثواب اُوموند ، او څوک چې ورسره د سهَر مونځ هم په جَمعې سره اوکړي نو ده د باقي نيمې شپې د عبادت ثواب هم اوموند ، لهذا څوک چې د ماسخوتن او سهَر مونځ په جَمعې سره اوکړي گويا ده د ټولې شپې د عبادت ثواب اُوموندو . (۱)

## ۵ . په جَمعې سره د سهَر مونځ کول د ټولې شپې هغه نفلي عبادت نه بهتر دی چې بيا د سهَر جَمعه ورنه پاتې شي

که يو کس ټوله شپه نوافِل کوي خو د سهَر مونځ په جَمعې سره نه کوي نو ددې نه دا بهتره ده چې دې ټوله شپه اُوده شي او د سهَر مونځ په جَمعې سره اوکړي ، په موطاء امام مالک او مشکوة شريف کې يوه واقعه نقل ده :

حضرت ابوبکر بن سُليمان فرمايي چې يوه ورځ حضرت عُمر ﷺ د سهَر په مونځ کې (زما پلار ) سُليمان بن حَثمَه او نه ليد ، کله چې حضرت عُمر ﷺ سهَر ( څه وخت پس ) بازار ته تللو نو چونکه ( زما د پلار يعنی ) د سُليمان بن حَثمَه کور د جُمات او بازار په مينځ

(۱) مظاهر حق شرح مشکوة ج۲ باب فضائل الصلوة الفصل الاول في تشريح الحديث المذکور رقم ۷ .

کې وُ نو د حضرت عُمر ﷺ تيريدل د سُليمان په مور "شفاء" اوشو ، پوښتنه يې ورنه اوکړه :

لَمْ أَرَ سُلَيْمَانَ فِي الصُّبْحِ .

ما سُليمان د سهَر په مانځه کې او نه ليد (څه وجه وه ؟)

هغې ورته وويل :

إِنَّهُ بَاتَ يُصَلِّي ، فَغَلَبَتْهُ عَيْنَاهُ .

هغه ټوله شپه په عبادت کې تېره کړې ده ، د سهَر په وخت يې سترګې پټې شوى (نو ځکه د سهَر جَمعې ته ندې دَرغلى )

حضرت عُمر ﷺ وفرمايل :

لَأَنْ أَشْهَدَ صَلَاةَ الصُّبْحِ فِي الْجَمَاعَةِ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أَقُومَ لَيْلَةً . (۱)

زه چې د سهَر جَمعې ته حاضر شم ( يعنى د سهَر مونځ په جَمعې سره اوکړم ) دا ماته د ټولې شپې د عبادت نه ډير بهتر دى .

**فائده** : سُليمان بن حَثمَه اګر چې ټوله شپه عبادت کړې وُ ليکن د خوب د غلبې په وجه ورنه د سهَر جَمعه پاتې شوې وه . د حضرت عُمر ﷺ د وينا مقصد دا وُ چې که يو کس ټوله

---

(۱) عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ سُلَيْمَانَ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ فَقَدَ سُلَيْمَانَ بْنَ أَبِي حَثْمَةَ فِي صَلَاةِ الصُّبْحِ ، وَأَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ غَدَا إِلَى السُّوقِ ، وَمَسْكَنُ سُلَيْمَانَ بَيْنَ السُّوقِ وَالْمَسْجِدِ النَّبَوِيِّ ، فَمَرَّ عَلَى الشِّفَاءِ أُمِّ سُلَيْمَانَ ، فَقَالَ لَهَا : « لَمْ أَرَ سُلَيْمَانَ فِي الصُّبْحِ » . فَقَالَتْ : إِنَّهُ بَاتَ يُصَلِّي ، فَغَلَبَتْهُ عَيْنَاهُ ، فَقَالَ عُمَرُ : « لَأَنْ أَشْهَدَ صَلَاةَ الصُّبْحِ فِي الْجَمَاعَةِ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أَقُومَ لَيْلَةً » . موطا مالك كِتَابُ صَلَاةِ الْجَمَاعَةِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْعَتَمَةِ وَالصُّبْحِ رقم الحديث ۷ . مشكوة المصابيح باب الجماعة وفضلها الفصل الثالث رقم الحديث ۱۰۸۰ (۲۹) ، صحيح الترغيب والترهيب رقم ۴۲۳ (۹) ، شعب الايمان رقم ۲۶۱۷ .

شپه عبادت اوکړي او بيا ورنه د سهَر مونځ پاتې شي نو ددې نه زما دا خوَښه ده چې زه ټوله شپه اُوده شم او د سهَر مونځ د جَمعې سره اوکړم.

البته که يو سړې د شپې عبادت هم کوي او ورسره د سهَر مونځ هم په جَمعې سره کوي نو دا خو بيا ډيره بهتره ده.

شيخ عبدالحق مُحدِّث دهلوي رحمه الله ليکلي دي چې ددې حديث نه دا خبره واضحه معلوميږي چې د ټولې شپې د تهجدو کولو نه دا ښه ده چې د سهَر مونځ د جَمعې سره اداء کړې شي. علماؤ تر دې پورې ليکلي چې که د شپې د تهجدو او عبادت په وجه د صبا په مانځه کې خَلل راتلو نو بيا د شپې تهجد پريخودل ډير غوره دي. (١)

چونکه د سهر او ماسخوتن مونځ په جَمعې سره کول انسان ته ډير مُشکِل وي نو ځکه په احاديثو کې ددې دوه مونځو ترغيب هم ډير راغلى.

## ٦. جَعې ته د تللو په وجه مخکيني ګناهونه معاف کيدل، او دَرجې اُوچتيدل

**١**. د مسلم شريف حديث دى، نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي:

مَنْ تَطَهَّرَ فِيْ بَيْتِهِ ثُمَّ مَشٰى إِلٰى بَيْتٍ مِنْ بُيُوْتِ اللهِ لِيَقْضِيَ فَرِيْضَةً مِنْ فَرَائِضِ اللهِ كَانَتْ خَطْوَتَاهُ إِحْدَاهُمَا تَحُطُّ خَطِيْئَةً، وَالْأُخْرٰى تَرْفَعُ دَرَجَةً. (٢)

---

(١) اشعة اللمعات، د جنت کالي پولسمه حصه د جَمعې فضيلت او تاکيد.

(٢) صحيح مسلم بَابُ الْمَشْيِ إِلَى الصَّلَاةِ تُمْحَى بِهِ الْخَطَايَا، وَتُرْفَعُ بِهِ الدَّرَجَاتُ رقم الحديث ٢٨٢ (٦٦٦)، صحيح ابن حبان ذِكْرُ الْبَيَانِ بِأَنَّ أَحَدَ خُطْوَتَيِ الْجَائِي إِلَى الْمَسْجِدِ تَحُطُّ خَطِيئَةً وَالْأُخْرٰى تَرْفَعُ دَرَجَةً رقم الحديث ٢٠٤٤، السنن الكبرى للبيهقي رقم ٤٩٦٧، شعب الايمان رقم ٢٦٢٠.

وفي رواية: عَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ، قَالَ: حَضَرَ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ الْمَوْتُ، فَقَالَ: إِنِّيْ مُحَدِّثُكُمْ حَدِيْثًا مَا أُحَدِّثُكُمُوْهُ إِلَّا احْتِسَابًا، سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: «إِذَا تَوَضَّأَ أَحَدُكُمْ فَأَحْسَنَ الْوُضُوْءَ، ثُمَّ خَرَجَ إِلَى الصَّلَاةِ لَمْ يَرْفَعْ قَدَمَهُ الْيُمْنٰى إِلَّا كَتَبَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ لَهُ حَسَنَةً، وَلَمْ يَضَعْ قَدَمَهُ الْيُسْرٰى إِلَّا حَطَّ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ عَنْهُ سَيِّئَةً فَلْيُقَرِّبْ أَحَدُكُمْ أَوْ لِيُبَعِّدْ، فَإِنْ أَتَى الْمَسْجِدَ فَصَلّٰى فِيْ جَمَاعَةٍ غُفِرَ لَهُ، فَإِنْ أَتَى الْمَسْجِدَ وَقَدْ صَلَّوْا بَعْضًا وَبَقِيَ بَعْضٌ صَلّٰى مَا أَدْرَكَ وَأَتَمَّ مَا بَقِيَ كَانَ كَذٰلِكَ، فَإِنْ أَتَى الْمَسْجِدَ وَقَدْ صَلَّوْا فَأَتَمَّ الصَّلَاةَ كَانَ كَذٰلِكَ». سنن ابي داود بَابُ مَا جَاءَ فِي الْهَدْيِ فِي الْمَشْيِ إِلَى الصَّلَاةِ رقم الحديث ٥٦٣.

څوک چې په کور کې اَودس اوکړي بیا د الله ﷻ د کورونو نه یو کور (یعنی جُمات) ته روان شي ددې د پاره چې د الله ﷻ په فرائضو کې یو فرض یعنی مونځ د جَمعې سره اَداء کړي نو دې چې څومره قدمونه اَخلي مسلسل د یو قدم په عِوض کې به دده گناه معاف کیږي ، او په بل قدم سره به دده دَرجه اُوچتیږي (دا سلسله به همداسې روانه وي تر دې پورې چې دا کس جُمات ته اُورسي) . (۱)

۲ . د مسلم شریف حدیث دی ، حضرت عثمان رضي الله عنه فرمايي :

سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ : « مَنْ تَوَضَّأَ لِلصَّلَاةِ فَأَسْبَغَ الْوُضُوْءَ . ثُمَّ مَشٰى إِلَى الصَّلَاةِ الْمَكْتُوْبَةِ . فَصَلَّاهَا مَعَ النَّاسِ أَوْ مَعَ الْجَمَاعَةِ أَوْ فِي الْمَسْجِدِ غَفَرَ اللهُ لَهُ ذُنُوْبَهُ » . (۲)

ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اَوریدلي دي چې دوی فرمایل : څوک چې د مانځه د پاره پوره اَودس اوکړي ، بیا د فرض مانځه اداء کولو د پاره (جُمات ته) لاړ شي ، هلته دا مونځ د خلقو سره ، یا د جَمعې سره ، یاجُمات کې اداء کړي نو الله تعالی به ده ته دده گناهونه معاف کړي .

۳. د بخاري شریف حدیث دی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :

صَلَاةُ الرَّجُلِ فِي الْجَمَاعَةِ تُضَعَّفُ عَلٰى صَلَاتِهِ فِي بَيْتِهِ وَفِي سُوْقِهِ خَمْسًا وَعِشْرِيْنَ ضِعْفًا ، وَذٰلِكَ أَنَّهُ إِذَا تَوَضَّأَ . فَأَحْسَنَ الْوُضُوْءَ . ثُمَّ خَرَجَ إِلَى الْمَسْجِدِ . لَا يُخْرِجُهُ إِلَّا الصَّلَاةُ لَمْ يَخْطُ خَطْوَةً إِلَّا

---

(۱) وفي رواية : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « مَنْ رَاحَ إِلٰى مَسْجِدِ الْجَمَاعَةِ فَخَطْوَةٌ تَمْحُو سَيِّئَةً . وَخَطْوَةٌ تُكْتَبُ لَهُ حَسَنَةٌ . ذَاهِبًا وَرَاجِعًا . مسند احمد رقم الحديث ٦٥٩٩ ، صحيح ابن حبان ذِكْرُ حَطِّ الْخَطَايَا وَرَفْعِ الدَّرَجَاتِ بِالْخُطَى مَنْ أَتَى الصَّلَاةَ حَتّٰى يَرْجِعَ إِلٰى بَيْتِهِ رقم الحديث ٣٩٢٠ .

(۲) صحيح مسلم كِتَابِ الطَّهَارَةِ بَابُ فَضْلِ الْوُضُوءِ وَالصَّلَاةِ عَقِبَهُ رقم الحديث ١٣ (٢٣٢) .

وفي رواية : عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ رضي الله عنه أَنَّهُ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ : مَنْ تَوَضَّأَ فَأَسْبَغَ الْوُضُوْءَ ثُمَّ مَشٰى إِلٰى صَلَاةٍ مَكْتُوْبَةٍ فَصَلَّاهَا مَعَ الْإِمَامِ غُفِرَ لَهُ ذَنْبُهُ . صحيح ابن خزيمة بَابُ فَضْلِ الْمَشْيِ إِلَى الْجَمَاعَةِ مُتَوَضِّيًا وَمَا يُرْجٰى فِيهِ مِنَ الْمَغْفِرَةِ رقم الحديث ١٤٨٩ قال الأعظمي: إسناده صحيح ، و رواه احمد ١ /٦٧ ، والمنذري في الترغيب ١ /٢٠٧ ، المتجرابح ص ٥٤ رقم الحديث ١٨٢ .

رُفِعَتْ لَهُ بِهَا دَرَجَةٌ ، وَحُطَّ عَنْهُ بِهَا خَطِيئَةٌ ، فَإِذَا صَلَّى لَمْ تَزَلِ الْمَلَائِكَةُ تُصَلِّي عَلَيْهِ مَا دَامَ فِي مُصَلَّاهُ : اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَيْهِ ، اَللّٰهُمَّ ارْحَمْهُ ، وَلَا يَزَالُ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاةٍ مَا انْتَظَرَ الصَّلَاةَ . (۱)

د جَمعې سره د سړي مونځ د هغه مونځ نه پنځه ويشت ( ۲۵ ) درجې زيات ثواب لري كوم چې په كور او بازار (يعنى دُكان ) كې اوكړې شي ، او ددې وجه داده چې كله يو كس په صحيح طريقې سره ( د شرائطو او آدابو موافق ) اَودس اوكړي ، بيا جُمات ته روان شي ، او دده د تللو مقصد صرف ( د جَمعې سره ) مونځ اَداء كول وي نو هر قدم چې دې اُوچتوي ددې په عِوض كې به دده يوه دَرجه اُوچتولې شي ، او يوه گناه به يې معاف كولې شي . بيا چې كله دې مونځ اوكړي نو تر څو پورې چې دې په خپله مُصَلّى ( جاى نماز ) باندې ناست وي تر هاغه وخته پورې مسلسل فرښتې دده د پاره دا دُعا كوي :

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَيْهِ ، اَللّٰهُمَّ ارْحَمْهُ .

اې الله ! په ده باندې رَحمت نازل كړه ( دې اُوبخه (۲) ) ، اې الله ! په ده رَحم اوكړه .

(نبي عليه السلام وفرمايل) تر څو پورې چې په تاسو كې يو كس د ( جَمعې د ) مانځه په اِنتظار كې ناست وي نو تر هاغه وخته پورې دې په مانځه كې شامل گڼړلې شي ( يعنى دا اِنتظار د مونځ په حُكم كې دى ، ده ته به د مانځه ثواب وركولې شي ) .

٤. د مسلم شريف حديث دى ، حضرت ابوهريرة ﷺ فرمايي چې رسولُ الله صلى الله عليه وسلم (صحابه كرامو ته ) وفرمايل :

اَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى مَا يَمْحُو اللهُ بِهِ الْخَطَايَا ، وَيَرْفَعُ بِهِ الدَّرَجَاتِ ؟

---

(۱) صحيح البخاري بَابُ فَضْلِ صَلَاةِ الْجَمَاعَةِ رقم الحديث ٦۴۷ ، مشكاة المصابيح باب المساجد و مواضع الصلاة الفصل الاول رقم الحديث ۷۰۲ ( ۱۴ ) ، سنن ابن ماجه باب المشي الى الصلاة رقم الحديث ۷۷۴ ، سنن الترمذي باب ما ذكر في فضل المشي الى المساجد و ما يُكتَبُ له من الاجر في خطاه .

(۲) په يو روايت كې ذكر دي چې تر څو پورې دې كس بل چاته ( په لاس او ژبې سره ) تكليف نه وي رسولى ، او بې اَودسه شوې نه وي نو تر هاغه وخته پورې فرښتې ده ته دا دُعا كوي : اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهُ . اَللّٰهُمَّ تُبْ عَلَيْهِ . اې الله ! دې كس ته بخښنه اوكړه ، اې الله ! دده توبه قبوله كړه . مشكاة المصابيح بَابُ الْمَسَاجِدِ ومواضع الصَّلَاة الفصل الاول رقم الحديث ۷۰۲ ( ۱۴ )

آيا زه تاسو ته داسې کارونه اوښايم چې د هغې په وجه الله تعالى ستاسو ګناهونه معاف کړي او ستاسو دَرجې پرې اوچتې کړي ؟

صحابه کرامو ورته وفرمايل : اې د الله رسوله ! ضرورېې اوښايه .

نبي کريم صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل :

إِسْبَاغُ الْوُضُوْءِ عَلَى الْمَكَارِهِ ، وَكَثْرَةُ الْخُطَا إِلَى الْمَسَاجِدِ، وَانْتِظَارُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الصَّلَاةِ، فَذٰلِكُمُ الرِّبَاطُ . (۱)

( هغه کارونه دادي :) د تکليف په وخت (يعنى مرض يا سختې يخنۍ کې) پوره اودس کول ، جُمات ته ( د لرې نه راتلو په وجه ) ډير قدَمونه اخيستل ، او د يو مونځ نه پس د بل مونځ اِنتظار کول ، او همدا ( د مانځه اِنتظار کول ) رِباط دى .

**فائده** : رِباط ديته وايي چې يو مسلمان د اِسلامي مُلک د حفاظت په خاطر ددې مُلک په سَرحد باندې د دُشمن په مقابله کې ناست وي پهره کوي ، په احاديثو کې ددې ډير فضيلت بيان شوى ، او په قرآن کريم کې هم ددې حُکم شوى . (۲)

اوس د حديث د آخِري جُملې مطلب داشو چې څومره فضيلت او سعادت انسان ته په رِباط کې حاصليږي همدومره فضيلت او سعادت انسان ته د جَمعې په اِنتظار کې په ناسته

---

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: « أَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى مَا يَمْحُو اللهُ بِهِ الْخَطَايَا، وَيَرْفَعُ بِهِ الدَّرَجَاتِ؟ » قَالُوْا: بَلَى يَا رَسُوْلَ اللهِ. قَالَ: « إِسْبَاغُ الْوُضُوْءِ عَلَى الْمَكَارِهِ ، وَكَثْرَةُ الْخُطَا إِلَى الْمَسَاجِدِ، وَانْتِظَارُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الصَّلَاةِ. فَذٰلِكُمُ الرِّبَاطُ » . صحيح مسلم رقم الحديث ۴۱ ( ۲۵۱ ) ، سنن الترمذي باب في اسباغ الوضوء رقم ۵۱ ، سنن النسائي رقم ۱۴۳ ، مشكاة المصابيح كتاب الطهارة الفصل الاول رقم ۲۸۲ ( ۲ ) .

وفي رواية : عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « إِسْبَاغُ الْوُضُوْءِ عَلَى الْمَكَارِهِ ، وَإِعْمَالُ الْأَقْدَامِ إِلَى الْمَسَاجِدِ ، وَانْتِظَارُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الصَّلَاةِ يَغْسِلُ الْخَطَايَا غَسْلًا » . المستدرك على الصحيحين للحاكم ، و قال الحاكم : هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ عَلَى شَرْطِ مُسْلِمٍ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . و رواه ابويعلى والبزّار ايضًا .

(۲) يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اصْبِرُوْا وَصَابِرُوْا وَرَابِطُوْا ۗ وَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ . سورة آل عمران آية ۲۰۰ .

هم حاصليږي . ځکه لکه څرنګې چې په سَرحد کې مُجاهِد د کافر په مقابله کې پهرې ته ناست وي نو همدارنګې دلته مونځ ګزار د مونځ اِنتظار کولو په وجه د شيطان په مقابله کې ناست دی ، او شيطان خو د دِين د تولو نه لوي دُشمن دی . (۱)

## ۷ . جَمعې ته د تللو په وجه په هر قدم نيکۍ ليکلې شي

۱ . د مسلم شريف حديث دی ، حضرت جابر بن عبدالله رضي الله عنه فرمايي چې د مسجدِ نبوي چاپيره زمکه خالي پرَته وه ، نو نبوسَلِمَه دا اِراده اوکړه چې دوی جُمات ته نزدې کورونه رامُنتقِل کړی ، کله چې دا خبره رسولُ الله صلی الله عليه وسلم ته اُورسيده نو دوی ته يې وفرمايل :

إِنَّهُ بَلَغَنِيْ أَنَّكُمْ تُرِيْدُوْنَ أَنْ تَنْتَقِلُوْا قُرْبَ الْمَسْجِدِ ؟

ماته دا خبره رارسيدلې ده چې تاسو دا اِراده لرۍ چې جُمات ته نزدې رامُنتقِل شۍ ؟

دوی ورته وويل :

نَعَمْ . يَارَسُوْلَ اللهِ قَدْ أَرَدْنَا ذٰلِكَ .

آو ، اې د الله رسوله ! مونږ ددې اِراده کړې ده (چې جُمات ته نزدې کورونه راوړو) .

نبي کريم صلی الله عليه وسلم دوی ته وفرمايل :

دِيَارَكُمْ تُكْتَبْ آثَارُكُمْ . دِيَارَكُمْ تُكْتَبْ آثَارُكُمْ .

---

(۱) مظاهر حق شرح مشكوة ج۲ كتاب الطهارة الفصل الاول في تشريح الحديث المذكور رقم ۲ .

ملاعلي قاري رحمه الله ددې حديث د آخِري جملې تشريح داسې کړی : (فَذَلِكُمُ الرِّبَاطُ) بِكَسْرِ الرَّاءِ . يُقَالُ: رَابَطْتُ أَيْ لَازَمْتُ الثَّغْرَ وَهُوَ أَيْضًا اِسْمٌ لِمَا يُرْبَطُ بِهِ وَسُمِّيَ مَكَانُ الْمُرَابَطَةِ رِبَاطًا . قَالَ الْقَاضِي: إِنَّ هٰذِهِ الْأَعْمَالَ هِيَ الْمُرَابَطَةُ الْحَقِيْقِيَّةُ لِأَنَّهَا تَسُدُّ طُرُقَ الشَّيْطَانِ عَلَى النَّفْسِ وَتَقْهَرُ الْهَوَى وَتَمْنَعُهَا مِنْ قَبُوْلِ الْوَسَاوِسِ فَيَغْلِبُ بِهَا حِزْبُ اللهِ جُنُوْدَ الشَّيْطَانِ، وَذٰلِكَ هُوَ الْجِهَادُ الْأَكْبَرُ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح كِتَابُ الطَّهَارَةِ الفَصْلُ الأَوَّلُ ۱ / ۳۴۲ في تشريح الحديث رقم ۲۸۲ ط. دار الفكر بيروت لبنان

( فَذَلِكُمُ الرِّبَاطُ ) أي الرباط المرغب فيه ، وأصل الرباط الحبس على الشيء كأنه حبس نفسه على هذه الطاعة.. شرح محمد فؤاد عبد الباقي على صحيح مسلم .

اې بنو سَلِمَه ! تاسو په هماغه خپلو کورونو کې اُوسئ ، ځکه ( کله چې تاسو د لرې نه جُمات ته راځئ نو ) تاسو ته ددې قدمونو په عِوض کې نيکئ ليکلې کيږي ( دا خبره نبي عليه السلام دوه پېرې اوکړه ) . (۱)

په يو روايت کې ورسره دا الفاظ هم شته : چې کله بنو سَلِمَه د رسول الله ﷺ دا خبره واوريده نو دوی وفرمايل : مَاكَانَ يَسُرُّنَا أَنَّا كُنَّا تَحَوَّلْنَا . (۲)

بيا مونږ دا نه خوښول چې جُمات ته رانزدې شو ( ددې د پاره چې د لرې نه د راتلو په وجه راته د هر قدم په عِوض کې نيکئ اوليکلې شي ) .

۳ . صحابه کرامو ته دا معلومه وه چې څوک د جَمعې مانځه د پاره جُمات ته ځي نو د هر قدم په عِوض کې دده ګناهونه معاف کيږي ، درجې يې اُوچتيږي او د هر قدم په عِوض کې دده د پاره نيکئ ليکلې شي ، دغه وجه وه چې که د چا کور به د جُمات نه ډير لرې ؤ خو بيا به

(۱) عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رضي الله عنه قَالَ: خَلَتِ الْبِقَاعُ حَوْلَ الْمَسْجِدِ ، فَأَرَادَ بَنُو سَلِمَةَ أَنْ يَنْتَقِلُوا إِلَى قُرْبِ الْمَسْجِدِ ، فَبَلَغَ ذٰلِكَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فَقَالَ لَهُمْ: « إِنَّهُ بَلَغَنِي أَنَّكُمْ تُرِيدُونَ أَنْ تَنْتَقِلُوا قُرْبَ الْمَسْجِدِ » . قَالُوا: نَعَمْ ، يَا رَسُولَ اللهِ قَدْ أَرَدْنَا ذٰلِكَ ، فَقَالَ: « يَا بَنِي سَلِمَةَ ! دِيَارَكُمْ تُكْتَبْ آثَارُكُمْ ، دِيَارَكُمْ تُكْتَبْ آثَارُكُمْ » . صحيح مسلم كِتَابُ الْمَسَاجِدِ وَمَوَاضِعِ الصَّلَاةِ بَابُ فَضْلِ كَثْرَةِ الْخُطَا إِلَى الْمَسَاجِدِ رقم الحديث ۲۸۰ ( ٦٦٥ ) .

( ديارکم تکتب آثارکم ) معناه : الزموا ديارکم ، فإنکم إذا لزمتموها کتبت آثارکم وخطاکم الکثيرة إلى المسجد . شرح محمد فؤاد عبد الباقي على صحيح مسلم .

وفي رواية : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رضي الله عنه قَالَ: كَانَتْ دِيَارُنَا نَائِيَةً عَنِ الْمَسْجِدِ ، فَأَرَدْنَا أَنْ نَبِيعَ بُيُوتَنَا ، فَنَقْتَرِبَ مِنَ الْمَسْجِدِ ، فَنَهَانَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فَقَالَ: « إِنَّ لَكُمْ بِكُلِّ خَطْوَةٍ دَرَجَةً » . صحيح مسلم كِتَابُ الْمَسَاجِدِ وَمَوَاضِعِ الصَّلَاةِ بَابُ فَضْلِ كَثْرَةِ الْخُطَا إِلَى الْمَسَاجِدِ رقم الحديث ۲۷۹ ( ٦٦٤ ) .

حضرت جابر بن عبد الله رضي الله عنه فرمايي چې زمونږ کورونه د جُمات نه لرې وو ، مونږ دا اراده اوکړه چې خپل کورونه خرڅ کړو او جُمات ته نزدې راشو ، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ د کورونو خرڅولو نه منع کړو ، او راته وې فرمايل : بيشکه ستاسو د پاره د هر قدم په عِوض کې يوه درجه ده . ( يعنی د هر قدم په عِوض کې به ستاسو درجه اُوچتولې شي ) .

(۲) صحيح مسلم كِتَابُ الْمَسَاجِدِ وَمَوَاضِعِ الصَّلَاةِ بَابُ فَضْلِ كَثْرَةِ الْخُطَا إِلَى الْمَسَاجِدِ رقم الحديث ۲۸۱ ( ٦٦٥ ) .

هم دې جَمعې ته په پابندۍ سره راتلو .

د مسلم شريف حديث دی ، حضرت اُبي بن كعب ﷺ فرمايي چې په انصارو کې د يو کس کور د جُمات نه ډير لرې وُ ( دده نه لرې کور د بل هيچا نه وُ ) خو بيا به هم دده نه د جَمعې يو مونځ هم نه پاتې كيدو ( بلكه هر مانځه ته به جُمات ته راتلو ) خلقو ورته وويل :

لَوِ اشْتَرَيْتَ حِمَارًا تَرْكَبُهُ فِي الظَّلْمَاءِ ، وَفِي الرَّمْضَاءِ .

که چيرته تا ( ځان له ) يو خَر اخيستې وی چې په تياره او د غرمې په ګرمۍ کې ورباندې سوَريدلی (نو دا به ډيره ښه وه) .

دہ ورته وويل : مَا يَسُرُّنِي أَنَّ مَنْزِلِي إِلَى جَنْبِ الْمَسْجِدِ ، إِنِّي أُرِيدُ أَنْ يُكْتَبَ لِي مَمْشَايَ إِلَى الْمَسْجِدِ ، وَرُجُوعِي إِذَا رَجَعْتُ إِلَى أَهْلِي .

زه په دې نه خوشحاليږم چې كور مې د جُمات سره نزدې وي ، بلكه زه دا غواړم چې زما دا جُمات ته تلل او واپس كورته راتلل زما په نيكيو كې اوليكلې شي .

رسول الله صلى الله عليه وسلم (ده ته) وفرمايل :

قَدْ جَمَعَ اللهُ لَكَ ذٰلِكَ كُلَّهُ .(۱) الله تعالى دا ټول تاله دركړل .

---

(۱) عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ ﷺ قَالَ : كَانَ رَجُلٌ لَا أَعْلَمُ رَجُلًا أَبْعَدَ مِنَ الْمَسْجِدِ مِنْهُ ، وَكَانَ لَا تُخْطِئُهُ صَلَاةٌ . قَالَ : فَقِيلَ لَهُ : أَوْ قُلْتُ لَهُ : لَوِ اشْتَرَيْتَ حِمَارًا تَرْكَبُهُ فِي الظَّلْمَاءِ ، وَفِي الرَّمْضَاءِ . قَالَ : مَا يَسُرُّنِي أَنَّ مَنْزِلِي إِلَى جَنْبِ الْمَسْجِدِ ، إِنِّي أُرِيدُ أَنْ يُكْتَبَ لِي مَمْشَايَ إِلَى الْمَسْجِدِ ، وَرُجُوعِي إِذَا رَجَعْتُ إِلَى أَهْلِي . فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « قَدْ جَمَعَ اللهُ لَكَ ذٰلِكَ كُلَّهُ » . صحيح مسلم كِتَابُ الْمَسَاجِدِ وَمَوَاضِعِ الصَّلَاةِ بَابُ فَضْلِ كَثْرَةِ الْخُطَا إِلَى الْمَسَاجِدِ رقم الحديث ۲۷۸ (۶۶۳) .

په ابوداؤد شريف كې دا حديث په دې الفاظو ذكر دی : عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ ﷺ قَالَ : كَانَ رَجُلٌ لَا أَعْلَمُ أَحَدًا مِنَ النَّاسِ مِمَّنْ يُصَلِّي الْقِبْلَةَ مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ أَبْعَدَ مَنْزِلًا مِنَ الْمَسْجِدِ مِنْ ذٰلِكَ الرَّجُلِ ، وَكَانَ لَا تُخْطِئُهُ صَلَاةٌ فِي الْمَسْجِدِ ، فَقُلْتُ : لَوِ اشْتَرَيْتَ حِمَارًا تَرْكَبُهُ فِي الرَّمْضَاءِ وَالظُّلْمَةِ . فَقَالَ : مَا أُحِبُّ أَنَّ مَنْزِلِي إِلَى جَنْبِ الْمَسْجِدِ فَنُمِيَ الْحَدِيثُ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَهُ عَنْ قَوْلِهِ ذٰلِكَ . فَقَالَ : أَرَدْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَنْ يُكْتَبَ لِي إِقْبَالِي إِلَى الْمَسْجِدِ وَرُجُوعِي إِلَى أَهْلِي إِذَا رَجَعْتُ . فَقَالَ : « أَعْطَاكَ اللهُ ذٰلِكَ كُلَّهُ . أَنْطَاكَ اللهُ جَلَّ وَعَزَّ مَا احْتَسَبْتَ كُلَّهُ أَجْمَعَ » سنن ابي داؤد بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الْمَشْيِ إِلَى الصَّلَاةِ رقم الحديث ۵۵۷ ، صحيح ابن حبان رقم ۲۰۴۰ ، شرح السنة للبغوي رقم الحديث ۷۸۷

ددې نه علاوه په نورو ډيرو احاديثو کې دا مضمون ثابت دی چې کوم کس د جمعې مانځه دپاره ځمات ته ځي نو الله تعالى د هر قدم په عوض کې دده ګناهونه معاف کوي، درجې يې اوچتوي او نيکى ورته ليکي.

## ٨ . د جمعې په مانځه سره الله ﷻ خوشحاليږي

حضرت عبدالله بن عُمر رضي الله عنهما فرمايي:

سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: إِنَّ اللهَ لَيَعْجَبُ مِنَ الصَّلَاةِ فِي الْجَمْعِ. (١)

ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه آوريدلي دي چې ذوی فرمايل: بيشکه الله تعالى خامخا د جَمعې د مانځه نه خوشحاليږي.

## ٩ . په تياره کې جَمعې ته د تلونکي خلقو د پاره زيرې

د ابوداؤد شريف حديث دی، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

بَشِّرِ الْمَشَّائِيْنَ فِي الظُّلَمِ إِلَى الْمَسَاجِدِ بِالنُّوْرِ التَّامِّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. (٢)

څوک چې په تياره کې ځماتونو ته ( د جَمعې سره مونځ کولو د پاره ) ځي نو هغوی ته زيرې ورکړه چې د قيامت په ورځ به دوی ته ( ددې په عِوض کې ) کامله رڼا نصيبه کيږي.

---

(١) مسند احمد رقم الحديث ٥١١٢، كنزالعمال كتاب الصلاة الباب الخامس: في صلاة الجماعة وما يتعلق بها الفصل الأول في الترغيب فيها رقم الحديث ٢٠٢٣٩، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ٤٠٦ الترغيب في صلاة الجماعة... و اورده الهيثمي في مجمع الزوائد "٢/٣٩".

(٢) سنن ابي داؤد بَابُ مَا جَاءَ فِي الْمَشْيِ إِلَى الصَّلَاةِ فِي الظَّلَامِ رقم الحديث ٥٦١، سنن ابن ماجه باب المشي الى الصلاة رقم ٧٨١، سنن الترمذي رقم ٢٢٣ باب ما جاء في فضل العشاء والفجر في الجماعة، مشكوة المصابيح باب المساجد ومواضع الصلاة الفصل الثاني رقم ٧٢١ (٣٣).

وفي رواية: مَنْ مَشَى فِي ظُلْمَةِ اللَّيْلِ إِلَى الْمَسْجِدِ لَقِيَ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ بِنُوْرٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْكَبِيْرِ وَرِجَالُهُ ثِقَاتٌ. مجمع الزوائد بَابُ الْمَشْيِ إِلَى الْمَسَاجِدِ ٢ / ٣٠ رقم الحديث ٢٠٨٣.

وفي رواية: مَنْ مَشَى فِي ظُلْمَةِ اللَّيْلِ إِلَى الْمَسَاجِدِ، آتَاهُ اللهُ نُوْرًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ. صحيح ابن حبان رقم الحديث ٢٠٤٦ ذِكْرُ تَفَضُّلِ اللهِ جَلَّ وَعَلَا عَلَى الْمَاشِي فِي الظُّلَمِ إِلَى الْمَسَاجِدِ بِنُوْرٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، مجمع الزوائد رقم الحديث ٢٠٨٤ بَابُ الْمَشْيِ إِلَى الْمَسَاجِدِ.

**فائده** : په دې حديث کې د قرآن کريم دې آيت طرف ته اشاره ده ، الله تعالى فرمايي :

﴿ نُوۡرُهُمۡ یَسۡعٰی بَیۡنَ اَیۡدِیۡهِمۡ وَبِاَیۡمَانِهِمۡ یَقُوۡلُوۡنَ رَبَّنَاۤ اَتۡمِمۡ لَنَا نُوۡرَنَا وَاغۡفِرۡ لَنَا ۚ اِنَّکَ عَلٰی کُلِّ شَیۡءٍ قَدِیۡرٌ ﴾ . (۱)

ترجمه : د دوی نُور به د دوی مخې ته او ښي طرف ته روان وي ، دوی به دا وايي : اې زمونږه ربه ! دا رَنړا زمونږ د پاره پوره کړه ( يعنی تر آخِره پورې يې قائمه اُوساته ) او مونږ ته بخنه اوکړه ، بيشکه ته په هر شيز باندې قادِر يې .

## ۱۰ . څلويښت ورځې تکبيرِ اُولی سره مونځ کوونکي د پاره دوه بشارتونه

د ترمذي شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ صَلّٰى لِلّٰهِ أَرْبَعِيْنَ يَوْمًا فِيْ جَمَاعَةٍ يُدْرِكُ التَّكْبِيْرَةَ الْأُوْلٰى كُتِبَ لَهُ بَرَاءَتَانِ : بَرَاءَةٌ مِّنَ النَّارِ، وَبَرَاءَةٌ مِنَ النِّفَاقِ . (۲)

څوک چې څلويښت ( ۴۰ ) ورځې د الله ﷻ د رَضا د پاره د جَمعې سره داسې مونځ اوکړي چې تکبيرِ اُولی هم اُومومي نو د داسې کس د پاره دوه نِجاته ليکلې شي : يو نِجات د جهنم د اُور نه ، او دويم د نِفاق نه .

**تشريح** : د حديث مطلب دا دی چې که يو کس مسلسل څلويښت ورځې د الله ﷻ د رَضا د پاره د جَمعې سره داسې مونځ اوکړي چې تکبيرِ اُولی ورنه فَوت نشي ، بلکه د اول نه په مانځه کې شريک وي ، اِمام چې څنګه تکبيرِ تَحريمه اُووايي نو دې يې هم ورسره اُووايي ، يا د بعضې علماؤ د قول موافق زيات نه زيات د اِمام د " سُبۡحَانَکَ اللّٰهُمَّ

(۱) سورة التحريم آية ۸ .

(۲) سنن الترمذي أَبْوَابُ الصَّلَاةِ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابٌ فِيْ فَضْلِ التَّكْبِيْرَةِ الْأُوْلٰى رقم الحديث ۲۴۱ ، مشكاة المصابيح باب ما على المأموم من المتابعة وحكم المسبوق رقم الحديث ۱۱۴۴ ( ۹ ) ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۴۰۹ ( ۸ ) الترغيب في صلاة الجماعة ، كنز العمال رقم الحديث ۲۰۲۸۱ .

وَيحَمْدِكَ ... " لوستلو پورې دا کس د امام سره شريک شي نو داسې کس ته به الله ﷻ د دوه شيانو نه نجات ورکوي : يو د جَهنم د اُور نه ، او دويم د نِفاق نه .

د نِفاق نه د نجات مطلب دادی چې داسې کس به الله ﷻ د مُنافقانو د اَعمالو نه ساتي لکه دروغ ، وعده خلافي وغيره وغيره .

همدارنګې دا کس به په قيامت کې د منافقانو د عذاب نه په اَمان کې وي ، بلکه په ميدانِ مَحشَر کې به د داسې کس په باره کې دا ګواهي ورکړې شي چې دا منافق ندی ، بلکه مؤمن او صادِق دی . (۱)

## ۱۱ . د جَمعې په اِراده جُمات ته تللو سره د جَمعې ثواب ملاويږي

که چيرته يو کس هميشه د جَمعې پابندي کوي ، بيا کله داسې اُوشي چې دې د خپل مَعمول موافق په کور کې اُودس اوکړي او جُمات ته د جَمعې د پاره روان شي ، هلته چې د اُورسي نو ورته معلومه شي چې جَمعه شوې ده نو الله ﷻ بيا هم دې انسان ته د جَمعې ثواب ورکوي ، ځکه ده خو قصدًا د غفلت په وجه جَمعه نده پريخې ، بلکه د وخت په اَندازه کې خطاء شوې دی ، او په دې کې د ده څه قصور نشته ، نو ځکه ورته د جَمعې ثواب ورکولې شي ، دا خبره زه د ځان نه نکوم ، بلکه دا په صحيح حديث کې د نبي عليه السلام نه ثابته ده ، د ابوداؤد شريف حديث دی ، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ وُضُوءَهُ ، ثُمَّ رَاحَ فَوَجَدَ النَّاسَ قَدْ صَلَّوْا أَعْطَاهُ اللهُ جَلَّ وَعَزَّ مِثْلَ أَجْرِ مَنْ صَلَّاهَا وَحَضَرَهَا لَا يَنْقُصُ ذٰلِكَ مِنْ أَجْرِهِمْ شَيْئًا . (۲)

---

(۱) مظاهر حق شرح مشکوة ج۲ .

(۲) سنن ابي داؤد بَابٌ فِيمَنْ خَرَجَ يُرِيدُ الصَّلَاةَ فَسُبِقَ بِهَا رقم الحديث ۵۶۴ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۷۵۴ و من كتاب الامامة وصلاة الجماعة ، مشكوة المصابيح باب ما جاء على الماموم من المتابعة وحكم المسبوق الفصل الثاني رقم ۱۱۴۵ (۱۰) ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۵۰۱۰ ، شعب الايمان رقم ۲۶۳۴ ، شرح السنة للبغوي رقم ۷۸۹ ، ورواه احمد في مسنده .

ثوک چې اَودس اوکړي ، او په صحيح طريقې (يعنى د پوره آدابو) سره اُودس اوکړي ، بيا د جَمعې په اِرادې سره جُمات ته لاړ شي ، کله چې هلته اُورسي نو اوګوري چې خلقو په جَمعې سره مونځ کړې دی نو الله تعالى ده ته د هغه خلقو هومره اجر ورکوي کومو چې په جَمعې سره مونځ کړی او په دې کې شريک شوي ، او کومو خلقو چې په جَمعه مونځ کړی د هغوی په ثواب کې به کمې هم نه کيږي .

## ۱۲ . چې په کور کې اُودس اوکړي اوجُمات ته د جَمعې په اِراده روان شي نو تر واپس کيدو پورې ورته دمانځه ثواب ليکلې شي

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

إِذَا تَوَضَّأَ أَحَدُكُمْ فِي بَيْتِهِ ثُمَّ أَتَى الْمَسْجِدَ كَانَ فِي صَلَاةٍ حَتَّى يَرْجِعَ ... (۱)

کله چې په تاسو کې يو کس په کور کې اَودس اوکړي ، بيا جُمات ته راشي نو دې تر هاغه وخته پورې په مانځه کې حسابيږي تر دې پورې چې دې کور ته واپس لاړ شي .

يعنى تر واپس کيدلو پورې ده ته د مانځه ثواب حاصليږي .

## نبي عليه السلام به په وخت باندې جمعې ته تللو

۱ . د نبي کريم صلى الله عليه وسلم عادتِ مُبارکه دا وُ چې کله به دې په کور کې وُ ، او آذان به يې واوريدو نو په وخت به مانځه ته وتلو ، لکه دا خبره په بخاري شريف کې ذکر ده . (۲)

(۱) صحيح ابن خزيمة رقم الحديث ۴۳۹ بَابُ النَّهْيِ عَنِ التَّشْبِيكِ بَيْنَ الأَصَابِعِ عِنْدَ الْخُرُوجِ إِلَى الصَّلَاةِ ، و رقم ۴۴۰ . المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۷۴۴ ، صحيح الترغيب والترهيب للمنذري رقم ۲۹۸ الترغيب في المشي إلى المساجد سيما في الظلم وما جاء في فضلها . قال الأعظمي: إسناده صحيح ، و صححه الحاكم و وافقه الذهبي ۱ / ۲۰۶

(۲) عَنِ الأَسْوَدِ قَالَ : سَأَلْتُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا كَيْفَ كَانَتْ صَلَاةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِاللَّيْلِ ؟ قَالَتْ : « كَانَ يَنَامُ أَوَّلَهُ وَيَقُومُ آخِرَهُ ، فَيُصَلِّي ، ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَى فِرَاشِهِ ، فَإِذَا أَذَّنَ الْمُؤَذِّنُ وَثَبَ ، فَإِنْ كَانَ بِهِ حَاجَةٌ اغْتَسَلَ وَإِلَّا تَوَضَّأَ وَخَرَجَ . صحيح البخاري كتاب التهجد بَابُ مَنْ نَامَ أَوَّلَ اللَّيْلِ وَأَحْيَا آخِرَهُ رقم الحديث ۱۱۴۶ ، صحيح مسلم كتاب صلاة المسافرين وقصرها رقم ۷۳۹ .

٢ . همدارنګې حضرت عائشة رضي الله عنها فرمايي :

كَانَ يَكُونُ فِي مِهْنَةِ أَهْلِهِ . فَإِذَا سَمِعَ الأَذَانَ خَرَجَ . (١)

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم به د کور په کار کې مشغول وُ خو چې کله به يې آذان واوريد نو جَمعې ته به اُووت.

همدارنګې نبي عليه السلام صحابه کرامو ته هم په وخت باندې جَمعې ته د تللو ترغيب ورکړی، چې په احاديثو کې په تفصيل سره ذکر دی.

## صحابه کرامو به د تجارت او دُنيوي کارونو باوجود د جَمعې د مانځه پوره اِهتمام کولو

نن صبا خلق د معمولي کار په وجه د جَمعې مونځ پرېږدي ، حالانکه صحابه کرامو به د تجارت او دُنيوي کارونو کولو باوجود بيا هم د جَمعې د مانځه پوره اِهتمام او پابندي کوله

١ . د بخاري شريف حديث دی، حضرت قتادة رضي الله عنه فرمايي :

كَانَ الْقَوْمُ يَتَبَايَعُونَ وَيَتَّجِرُونَ، وَلٰكِنَّهُمْ إِذَا نَابَهُمْ حَقٌّ مِنْ حُقُوقِ اللهِ لَمْ تُلْهِهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللهِ حَتّٰى يُؤَدُّوهُ إِلَى اللهِ . (٢)

صحابه کرامو به اخيستل خرڅول او تجارت کولو ، ليکن چې کله به دوی ته د الله ﷻ په حقوقو کې يو حق ( لکه مونځ وغيره ) رامخې ته شو نو بيا دوی تجارت او اخيستلو

(١) عَنِ الأَسْوَدِ بْنِ يَزِيدَ، سَأَلْتُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ، مَا كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْنَعُ فِي الْبَيْتِ؟ قَالَتْ : « كَانَ يَكُونُ فِي مِهْنَةِ أَهْلِهِ . فَإِذَا سَمِعَ الأَذَانَ خَرَجَ » صحيح البخاري كِتَابُ النَّفَقَاتِ بَابُ خِدْمَةِ الرَّجُلِ فِي أَهْلِهِ رقم الحديث ٥٣٦٣ .

(٢) صحيح البخاري كِتَابُ البُيُوعِ بَابُ التِّجَارَةِ فِي البَزِّ .

( اَلْقَوْمُ ) المراد الصحابة رضي الله عنهم . ( نَابَهُمْ ) حضرهم حق من حقوق الله تعالى كإقامة الصلاة بادروا لأدائه . تعليق مصطفى البغا على البخاري .

خرڅولو د الله ﷻ د ذِکر نه ندې مَنع کړي ، تر دې پورې چې دوی به د الله ﷻ دا حق اداء کړو .

۲ . يو ځل حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د بازار خلق اوليدل چې هغوی کله آذان واوريد نو خپل اَسباب يې پرېخود ، او مانځه ته راپاڅيدل ( جُمات ته لاړل ) ابن مسعود ﷺ وفرمايل :

هٰؤُلَآءِ الَّذِيْنَ قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ : ﴿ رِجَالٌ لَّا تُلْهِيْهِمْ تِجَارَةٌ وَّلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللهِ وَاِقَامِ الصَّلٰوةِ وَاِيْتَآءِ الزَّكٰوةِ ﴾ . (۱) ، (۲)

دا هغه خلق دي چې د دوی په باره کې الله تعالی فرمايي : ترجمه : دا داسې خلق دي چې تجارت او اخيستل خرڅول دوی نه غافله کوي د الله ﷻ د ذِکر ، مونځ قائمولو او زکوة ورکولو نه .

حضرت عطاء رحمه الله په مذکوره آيت کې د اِقَامِ الصَّلٰوةِ معنی داسې بيان کړی :

شُهُوْدُ الصَّلَاةِ الْمَكْتُوْبَةِ . (۳)

يعنی فرضي مونځونو ته حاضريدل .

## زمونږ د اَسلافو سره د جَمعې د مانځه ډير قدر ؤ

که مونږ د خپلو اَسلافو حالات اوګورو نو مونږ ته به معلومه شي چې د هغوی په زړونو کې د جَمعې د مانځه ډير قدر او اَهميت ؤ ، د جَمعې به يې سَخته پابندي کوله ، او ددې په نوت کيدو به سخت خفه کيدل . ددې يو څو نمونې تاسو ته بيانوم :

---

(۱) سورة النور آية ۳۷ .

(۲) ... أَنَّ ابْنَ مَسْعُوْدٍ ﷺ رَأَى نَاسًا مِنْ أَهْلِ السُّوْقِ سَمِعُوا الْأَذَانَ ، فَتَرَكُوْا أَمْتِعَتَهُمْ وَقَامُوْا إِلَى الصَّلَاةِ . فَقَالَ : هٰؤُلَآءِ الَّذِيْنَ قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ : ﴿ رِجَالٌ لَّا تُلْهِيْهِمْ تِجَارَةٌ وَّلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللهِ وَاِقَامِ الصَّلٰوةِ وَاِيْتَآءِ الزَّكٰوةِ ﴾ . المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۹۰۷۹ ، شعب الايمان رقم ۲۶۵۸ .

(۳) شعب الايمان الصلاة فصل المشي الى المساجد رقم ۲۶۶۰ .

## ۱ . حضرت عُمر ﷺ د جَمعې تللو په کفاره کې د قجورو غونډ باغ صدقه کړو

علامه ذَهبي رحمه الله په " الکبائر " کې ليکلي دي ، حضرت عبدالله بن عُمر رضي الله عنهما فرمايي چې يوه ورځ ( زما پلار ) حضرت عُمر ﷺ ( د قجورو ) خپل باغ ته لاړ ، کله چې راپس شو نو خلقو د مازيګر مونځ د جَمعې سره کړې وُ ، حضرت عُمر ﷺ إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّآ إِلَيْهِ رَاجِعُوْن وويل : او وې فرمايل :

فَاتَتْنِيْ صَلَاةُ الْعَصْرِ فِي الْجَمَاعَةِ أُشْهِدُكُمْ أَنَّ حَائِطِيْ عَلَى الْمَسَاكِيْنِ صَدَقَةٌ لِيَكُوْنَ كَفَّارَةً لِمَا صَنَعَ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ . (۱)

د مانه د مازيګر مونځ د جَمعې سره لاړ ( فوت شو ) ، زه اوس تاسو ګواه کوم چې زما دا باغ په مسکينانو باندې صدقه دی ، دا ددې د پاره چې دا باغ کفاره شي د هغه جَمعې تللو نه کومه چې د عُمر ﷺ نه لاړه .

## ۲ . د جَمعې په فوت کيدو اووه ( ۷ ) ورځې خفګان کول

امام غزالي رحمه الله ليکلي دي چې د آسلافو ( او بزرګانو ) نه به تکبيرِ اُولیٰ فوت شو نو دا به يې دومره لوي نقصان ګنړل چې بيا به يې درې ( ۳ ) ورځې خفګان کول ، او چې د جَمعې سره مونځ کول به ورنه فوت شو نو بيا به يې اُووه ( ۷ ) ورځې غم او خفګان کولو . (۲)

---

(۱) وَقَالَ ابْن عُمر ﷺ خرج عُمر ﷺ يَوْمًا إِلى حَائِطٍ لَهُ . فَرجع وَقد صلى النَّاس الْعَصْرَ . فَقَالَ عمر : إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُوْن فَاتَتْنِيْ صَلَاةُ الْعَصْرِ فِي الْجَمَاعَةِ أُشْهِدُكُمْ أَنَّ حَائِطِيْ عَلَى الْمَسَاكِيْنِ صَدَقَةٌ لِيَكُوْنَ كَفَّارَةً لِمَا صَنعَ عُمر رَضِي الله عَنهُ . والحائط الْبُسْتَان فِيهِ النخل . الكبائر للذهبي اَلْكَبِيرَةُ الرَّابِعَةُ فِي ترك الصَّلَاة ص ۳۲ .

(۲) وروي أن السلف كانوا يعزون أنفسهم ثلاثة أيام إذا فاتتهم التكبيرة الأولى ، ويعزون سبعًا إذا فاتتهم الجماعة . إحياء علوم الدين كتاب أسرار الصلاة ومهماتها فَضِيلَةُ الْجَمَاعَةِ ۱ / ۱۴۹ ط دار المعرفة بيروت . المستطرف في كل فن مستظرف الفصل الثاني في الصلاة وفضلها .

## ۳ . د جَمعې تللو په وجه تعزيت ته خلق راتلل

امام ذهبي رحمه الله په الکبائر کې دا واقعه رانقل کړې : حاتم اصم رحمه الله فرمايي چې يو ځل د مانه د جَمعې مونځ فوت شو نو ماته د تعزيت ( او تسلّی ) د پاره يواځې ابواسحاق البخاري راغی ، که چيرته زما بچې وفات شوې وی نو ماته به د تعزيت د پاره د لسو زرو ( ۱۰۰۰۰ ) نه زيات خلق راغلي وی ( ليکن د جَمعې په تللو سره راته صرف يو کس راغی ) لِأَنَّ مُصِيْبَةَ الدِّيْنِ أَهْوَنُ عِنْدَ النَّاسِ مِنْ مُصِيْبَةِ الدُّنْيَا . (۱)
ځکه خلقو ته د دِين مصيبت د دُنيا د مصيبت نه کمزورې معلوميږي ( حالانکه د دِين مصيبت د دُنيا د مصيبت نه ډير غټ دی ) .

په تنبيه الغافلين کې د دې واقعې په آخر کې دا هم شته ، چې حاتم اصم وويل :
وَإِنَّهُ لَوْ مَاتَ لِي الْأَبْنَاءُ جَمِيْعًا ، لَكَانَ أَهْوَنَ عَلَيَّ مِنْ فَوَاتِ هٰذِهِ الْجَمَاعَةِ . (۲)
که چيرته زما ټول زامن وفات شوي وی دا غم به ماته آسان وُ د دې جَمعې د فوت کيدو د غم نه

## ٤ . د فالج وَهلو باوجود جَمعې ته تلل

د ربيع بن خَيثَم رحمه الله يو طرف فالِج وهلې وُ خو ده به په دوه کسانو باندې لاس اچولې وُ او جُمات ته به راتلو ، ده ته به خلقو ويل :
اې ابومحمد ! تاته خو اجازت شته چې ته په کور کې مونځ اوکړې ځکه ته مَعذور يې .

---

(۱) وقال حاتم الأصم فَاتَتْنِي الصلاةُ في الجماعة . فعزاني أبو إسحاق البخاري وحده ولو مات لي ولد لعزاني أكثر من عشر آلاف لِأَنَّ مُصِيْبَةَ الدِّيْنِ أَهْوَنُ عِنْدَ النَّاسِ مِنْ مُصِيْبَةِ الدُّنْيَا . إحياء علوم الدين كتاب أسرار الصلاة ، مهماتها فَضِيلَةُ الْجَمَاعَةِ ۱ / ۱۴۹ ط دار المعرفة – بيروت .

(۲) پوره واقعه داسې ده : وَذُكِرَ أَنَّ حَاتِمًا فَاتَتْهُ الْجَمَاعَةُ مَرَّةً . فَعَزَّاهُ بَعْضُ أَصْحَابِهِ . فَبَكَى وَقَالَ : لَوْ مَاتَ لِي ابْنٌ وَاحِدٌ لَعَزَّانِي نِصْفُ أَهْلِ بَلْخٍ . وَالْآنَ قَدْ فَاتَتْنِي جَمَاعَةٌ فَمَا عَزَّانِي إِلَّا بَعْضُ أَصْحَابِي . وَإِنَّهُ لَوْ مَاتَ لِي الْأَبْنَاءُ جَمِيْعًا ، لَكَانَ أَهْوَنَ عَلَيَّ مِنْ فَوَاتِ هَذِهِ الْجَمَاعَةِ . تنبيه الغافلين بأحاديث سيد الأنبياء والمرسلين للسمرقندي بَابُ : إِتْمَامُ الصَّلَاةِ وَالْخُشُوعُ فِيهَا ۱ / ۵۴۱ ط دار ابن كثير، دمشق بيروت . دا واقعه په المستطرف في كل فن مستظرف ۱ / ۱۳ کې هم ذکر ده .

ده به ورته ووېل : ستاسو خبره صحيح ده ، ليکن زه د مؤذن نه حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ اورم ، فَمَنِ اسْتَطَاعَ أَنْ يُجِيْبَهُ وَلَو زَحْفًا أَوْ حَبْوًا فَلْيَفْعَلْ . (۱)

پس څوک چې طاقت لري چې د مؤذن خبره قبوله کړي نو هغه دې جُمات ته جَمعې له لاړ شي اګرچې دا د ځا په مدد يا راکښېدو سره وي .

# اَسلافو به د تکبيرِ اُولی پوره اهتمام کولو

اَسلافو به د تَکبيرِ اُولیٰ دومره کلکه پابندي کوله چې په کلونو کلونو به ورنه د جَمعې سره تَکبيرِ اُولیٰ نه فوت کيدو ، ددې په باره کې درته د يو څو اَسلافو واقِعات ذکر کوم :

## ۱ . د امامِ اَعمش نه د اَويا کالو پورې تکبيرِ اُولی نهٔ فوت شوی

امام وکيع رحمه الله د جليلُ القدر تابعي " امام اعمش رحمه الله " په باره کې فرمايي چې دده نه د اَويا (۷۰) کالو پورې تَکبيرِ اُولیٰ نهٔ فوت شوی . (۲)

## ۲ . د محمد ابن سماعة نه په څلويښتو کالو کې تکبيرِ اُولی نهٔ فوت شوی

محمد بن سماعه رحمه الله فرمايي :

مَكَثْتُ أَرْبَعِيْنَ سَنَةً لَمْ تَفُتْنِي التَّكْبِيرَةُ الأُوْلَى إِلَّا يومًا واحدًا مَاتَتْ فِيْهِ أُمِّي . (۳)

---

(۱) وَكَانَ الربيع بن خُثَيْم قد سقط شقُّه في الفالج . فَكَانَ يخرج إِلَى الصَّلاة يتوكأ على رجلَيْن . فَيُقَال لَهُ : يَا أَبَا مُحَمَّد ! قد رخص لَك أَن تصلي فِي بَيْتك أَنْت مَعْذُور . فَيَقُول : هُوَ كَمَا تَقولُونَ . وَلَكِنْ أَسْمَعُ الْمُؤَذِّن يَقُولُ حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ . فَمَنِ اسْتَطَاعَ أَنْ يُجِيْبَهُ وَلَو زَحْفًا أَوْ حَبْوًا فَلْيَفْعَلْ . الكبائر للذهبي الْكَبِيرَة الرَّابِعَة فِي ترك الصَّلَاة ص ۳۲ .

(۲) تذكرة الحفاظ ج۱ ص ۱۵۴ .

(۳) عن محمد بن سماعة القاضي، قَالَ: مكثتُ أربعين سنة لم تفتني التكبيرة الأولى إلا يوما واحدا ماتت فيه أمي ، ففاتتني صلاة واحدة في جماعة، فقمت فصليت خمسا وعشرين صلاة أريد بذلك التضعيف فغلبتني عيني، فأتاني آت، فقال: يا محمد قد صليت خمسة وعشرين صلاة ولكن كيف لك بتأمين الملائكة ؟ . تاريخ بغداد ۳ / ۲۹۸ محمد بن سماعة بن عبيد الله بن هلال طبع دار الغرب الإسلامي – بيروت ، تهذيب الكمال ۲۵ /۳۱۹ ، سير اعلام النبلاء ٦۴٦ ، تاريخ الاسلام للذهبي ۱۷ / ۳۲۵ ، الخشوع في الصلاة في ضوء الكتاب والسنة ج۱ ص ۱۴۵ .

د څلويښتو (۴۰) کالو نه راپه ديخوا د مانه تَکبيرِ اُولیٰ ندې فوت شوی مګر يوه ورځ رانه فوت شوی په کومه ورځ چې زما مور وفات شوې وه.

## ۳. سَعيد بن المُسَيِّب ديرش کاله پورې د آذان نه مخکې په جُمات کې موجود ؤ

مشهور تابعي " سَعِيدِ بنِ المُسَيِّب رحمه الله " فرمايي:

مَا أَذَّنَ الْمُؤَذِّنُ مُنْذُ ثَلَاثِيْنَ سَنَةً إِلَّا وَأَنَا فِي الْمَسْجِدِ. (۱)

د ديرشو (۳۰) کالو نه راپه ديخوا زما دا عادت دی چې: کله هم مؤذِن آذان اوکړي نو زه په جُمات کې د مخکې نه ناست يم.

## ٤. د حاجي سيد عابد حسين نه په آته ويشت (۲۸) کاله کې تکبيرِ اُولیٰ نهٔ فوت شوی

د دِيوبند د اکابرو علماؤ پير او مُرشِد "حضرت حاجي سيد عابد حسين رحمه الله" په باره کې نقل دي چې يوه ورځ دې سخت خفه ؤ، خلقو دا ګمان اوکړو چې د خاندان څوک نزدې کس يې وفات شوی، کله يې چې دده نه معلومات اوکړو نو د ډير اِصرار نه روستو معلومه شوه چې آته ويشت (۲۸) کاله پس نن ورنه د سهَر د مانځه تکبيرِ اُولیٰ فوت شوې دی نو ځکه دومره خفه دی. (۲)

## ۵. د حضرت مِيا جي نور محمد نه په دَرويشت (۲۳) کاله کې تکبيرِ اولیٰ نهٔ فوت شوی

دحضرت حاجي اِمداد الله مهاجر مکي رحمه الله د پير او مُرشِد " حضرت مِيان جي "

(۱) مصنف ابن شيبة ۱/۳۰۸ رقم ۳۵۲۲ مَنْ كَانَ يَشْهَدُ الصَّلَاةَ وَهُوَ مَرِيضٌ لَا يَدَعُهَا، والكني والاسماء للدولابي ۲/٦۱٥، المقصد الارشد لابن مفلح ۱/۳۳۱، حلية الاولياء لابي نعيم ۲/۱٦۲، الخشوع في الصلاة في ضوء الكتاب والسنة ج۱ ص۱۳٥.

(۲) عُلماء حق اور اُن کے مجاهدانه کارنامے ج۱ ص٦۳.

رحمه الله په باره کې نقل دي چې دده د مانځه سره دومره مينه وه چې دده نه په دَرويشت (۲۳) کاله کې تَکبيرِ اُولی نهٔ فوت شوی. (۱)

## ٦ . د مولانا رشيد احمد گنگوهي نه په دوه ويشت (۲۲) کاله کې تکبيرِ اُولی نهٔ فوت شوی

د نزدې زمانې واقعه ده، مشهور و معروف عالِم، د دارالعلوم ديوبند دويم سَرپرست، فَقيهُ العصر حضرت مولانا رشيد احمد گنگوهي رحمه الله کوم چې د خپل دَور مفتي اَعظم وُ، د هندوستان او بهَر ملکونو نه به ورته اِستفتاء گانې راتلې ده به ورته عِلمي او تحقيقي جوابونه ورکول.

همدارنگې د ورځې به يې د اَحاديثو دَرس هم کولو، په سَوُونو شاگردان به ورسره وو.

د هغه وخت لوي پير او بزرگ وُ، د مُريدانو د اِصلاح او تَزکيې سلسله يې هم جاري ساتله، بال بَچه داره هم وُ د هغوی د نان نَفقې وغيره حقوق يې هم پوره اَداء کول.

ددې دومره مَصروفياتو باوجود دومره عبادت گُزاره هم وُ چې په دوه ويشت (۲۲) کاله کې د جَمعې تکبيرِ اُولی هم ورنه نهٔ فوت شوی، بلکه هميشه به يې د جَمعې سره مونځ کول، او تکبيرِ اُولی به يې را ملندې کول.

يوه ورځ د دارالعلوم دِيوبند په سالانه دَستار بَندۍ کې دهٔ تقرير اوکړو، د تقرير نه پس يې دُعا اوکړه، د مازيگر د مانځه وخت وُ، آذان اوشو، جَمعه تياره وه، مولانا يعقوب صاحب جَمعې ته مخکې شو، مولانا رشيد احمد گنگوهي رحمه الله هم جُمات ته روان شو، خو د خلقو رَش ډير زيات وُ، په ډير مُشکل سره جُمات ته لاړ، کله چې جُمات ته اُورسيد نو تکبيرِ اُولی ورنه شوې وُ، ده د جَمعې سره مونځ اوکړو.

د مانځه نه پس په ده باندې د خفگان ډير آثرات وُ، حالانکه د لوي لوي مصيبتونو، بيماريو او د نزدې رِشته دارو په وفات کيدو به ده صبر کولو، او د خفگان آثرات به ورباندې نه وُ، ليکن دا ځل يې په مَخ باندې د خفگان او غَم ډير آثرات وو.

(۱) تاريخ مشائخ چشت ص ۲۳۲ .

شاګردانو ورنه پوښتنه اوکړه : حضرت تاسو ډير خفه او غمجَن معلوميږئ ، د دې څه وجه ده ؟ ده ورته په ډير خفګان سره وويل :

افسوس ، دوه ويشت ( ۲۲ ) کاله پس رانه نن تکبيرِ اُولی فوت شو . (۱)

سبحان الله ، دوه ويشت کاله په خُله ويل آسان دي ليکن عمَلاً دومره اُوږده زمانه د تکبيرِ اُولی سره د جَمعې اِهتمام کول ډير ګران دي . خو ليکن دا دوی ته الله ﷻ توفيق ورکړې وُ .

## ۷ . شمس الدين "التمش" د بادشاهۍ سره د تکبيرِ اُولی پابندي کوله

کله چې قطب الدين بختيار کاکي رحمه الله وفات شو ، او جنازه تياره شوه نو ډير زيات خلق جنازې ته راغلي وو ، خلق په لوي ميدان کې راجَمع وو ، د انسانانو يو لوي سمَندر وُ ، چې د جنازې وخت نزدې شو نو ددې خلقو نه يو کس رااُووت ، هغه دې خلقو ته وويل چې ماته قطب الدين بختيار کاکي رحمه الله يو وَصيت کړی ، زه هغه تاسو ته اَورُوم ، ټول خلق چُپ شو ، ده ورته وويل :

ماته دې مرحوم دا وَصيت کړی چې زما د جنازې اِمامت به هغه کس کوي چې په هغه کې څلور خبرې موجود وي :

۱ . د هغه نه تکبيرِ اُولی چيرته نه وي فوت شوی .

۲ . د هغه نه د تهجدو مونځ نه وي پاتې شوی .

۳ . هغه پرديو ( غير محرم ) زَنانوُ ته په غلط نظر نه وي کتلي .

۴ . دومره عبادت ګُزار وي چې هغه د ماز يګر څلور رکعته سُنتِ غير مُؤکد هم چيرته نه وي پريخي . په چا کې چې دا څلور خبرې موجود وي هغه به زما د جنازې اِمامت کوي .

کله چې خلقو دا خبره واوريده نو ټول چُپ شو ، هر طرف ته خاموشي وه ، ټولو سَرونه ښکته کړل ( ځکه دا څلور خبرې په يو کس کې جَمع کيدل مشکل معلوميږي ) .

(۱) تذکرة الرشيد ج۲ ص ۱٦ . ندائے منبر و محراب ج۳ ص ۱۸۲ ، اهل دل کے تڑپادینے والے واقعات ج۲ ص ۲٦ .

څه ډير وخت پس يو کس د دې خلقو نه د ژړا په حالت کې رااُووت ، د قطب الدين بختيار کاکي د جنازې کټ ته رانژدې شو ، دده د مخ نه يې څادر لرې کړو ، او ورته مخاطب شو :

اې قطب الدين ! ته خو په خپله وفات شوې ليکن زما راز دې خلقو ته ښکاره کړو .

د دې نه پس دې کس دې ټولو خلقو طرف ته مَخ رااُوګرځول ، او وې ويل :

الله ﷻ حاضر او ناظر دی ، قسَم په الله ، چې دا څلور واړه خبرې په ما کې موجود دي .

خلقو چې دې کس ته اُوکتل نو دا د هغه وخت بادشاه "شمس الدين التمش رحمه الله" وُ ، ( بيا ده د جنازې اِمامت اوکړو ) . (۱)

**فائده** : کله چې بادشاهِ وقت د ډيرو مصروفياتو باوجود د فرائضو ، نوافلو ، او تکبيرِ اُولی کلکه پابندي کولې شي نو بيا خو عام کس ته په طريقِ اَولی د دې پابندي په کار ده .

# په جَمعې سره د مونځ کولو حِکمتونه

په جَمعې سره د مونځ کولو د اُخروي ثوابونو سره سره په دې کې ډير حِکمتونه او فوائد هم شته ، شاه ولي الله مُحدِّث دِهلوي رحمه الله په جَمعې سره د مونځ کولو ډير حِکمتونه ذکر کړي دي ، خو زه به ورنه يو څو حِکمتونه په خپلو الفاظو کې رانقل کړم .

**اول حِکمت** : کله چې ټول مسلمانان په يو ځای د الله تعالی عبادت اوکړي او دُعا اوغواړي نو په دې سره د الله ﷻ رَحمتونه نازليږي ، او دُعاګانې يې قبليږي .

**دويم حِکمت** : د بيلمازه خلقو خرابي هم معلومه شي ، او دوی ته د نصيحت موقع په ګوتو ورشي .

**دريم حِکمت** : د کومو خلقو په مانځه کې چې څه غلطي وي نو په يو ځای مونځ کولو سره دوی بر بل ته ګوري نو د صحيح مونځ زده کولو موقع هم ورته په لاس ورشي .

**څلورم حِکمت** : په جَمعه مونځ کولو سره د اِسلام سَربُلندي او اِعلاء کلمةُ الله هم راځي ، ځکه په جَمعه کې ټول مسلمانان په شريکه راجَمع کيږي ، او يو ځای د الله ﷻ عبادت کوي چې په دې سره د اِسلام شان و شوکت ښکاره کيږي .

---

(۱) اهل دل کے تڑپادینے والے واقعات ج۲ ص ۲۶ ، خطبات فقیر ۱ /۹۸ .

دغه وجه ده چې اِسلام په جَمعه کولو باندې ډير زُور اچولې دى ، او بغير عُذره پريخودو باندې يې سخته زُورَنه ورکړې .

**پنځم حکمت :**

په جَمعې سره مونځ کولو کې يوه فائده دا هم ده چې په دې سره مسلمانان د يو بل د حال نه هم خبريږي ، او د يو بل سره په دَرد او مصيبت کې هم شريکيدې شي ، چې په دې سره ديني ورور وَلي او ايماني مينه زياتيږي ، او دا د شريعت مقصود هم دى . (۱)

---

(۱) د حجّة الله البالغة عبارت داسې دى : اَلْجَمَاعَةُ ..... وَأَيْضًا فالملة تجمع نَاسا عُلَمَاء يقْتَدى بهم ، وناسا يَحْتَاجُوْنَ فِي تحصل إحسانهم إِلى دَعْوَة حثيثة ، وناسا ضعفاء البنية وَلَو لم يكلفوا أَن يؤدوا على أعين النَّاس تهاونوا فِيهَا . فَلَا أَنْفَع وَلَا أوفق بِالْمَصْلَحَةِ فِي حق هٰؤُلَاءِ جَمِيْعًا أَن يكلفوا أَن يطيعوا الله على أعين النَّاس ليتميز فاعلها من تاركها ، و راغبها من الزَّاهِد فِيهَا ، ويقتدي بعالمها ، وَيعلم جاهلها ، وَتَكون طَاعَة الله فيهم كسبيكة تعرض على طائف النَّاس ، يُنكر مِنْهَا الْمُنكر ، وَيعرف مِنْهَا الْمَعْرُوف ، وَيرى غشها وخالصها .
وَأَيْضًا فلاجتماع الْمُسلمين راغبين فِي الله ، راجين راهبين مِنْهُ ، مُسلمين وُجُوههم إِلَيْهِ خاصية عَجِيبَة فِي نزُول البركات وتدلي الرَّحْمَة كَمَا بَينا فِي الاسْتِسْقَاء وَالْحج .
وَأَيْضًا فمراد الله من نصب هٰذِه الْأمة أَنْ تكون كلمة الله هِيَ الْعليا ، وَأن لا يكون فِي الأَرْض دين أَعلَى من الْإِسْلَام ، وَلَا يتَصَوَّر ذَلِك إِلَّا بِأَن يكون سنتهمْ أَن يجْتَمع خاصتهم وعامتهم ، وحاضرهم وباديهم ، وصغيرهم وَكَبِيرهمْ لما هُوَ أعظم شعائره وَأشهر طاعاته .
فلهذه الْمعَانِي انصرفت الْعِنَايَة التشريعية إِلَى شرع الْجُمُعَة وَالْجَمَاعَات ، وَالتَّرْغِيب فِيهَا وتغليظ النَّهْي عَن تَركهَا . حجة الله البالغة ۲ / ۳۹ الجماعة .

عبدالعزيز بن باز رحمه الله د جَمعې حِکمتونه داسې ذکر کړي ، ولا يخفى ما في الصلاة في الجماعة من الفوائد الكثيرة ، والمصالح الجمة ، ومن أوضح ذلك التعارف ، والتعاون على البر والتقوى ، والتواصي بالحق والصبر عليه ، وتشجيع المتخلف ، وتعليم الجاهل ، وإغاظة أهل النفاق ، والبعد عن سبيلهم ، وإظهار شعائر الله بين عباده ، والدعوة إليه سبحانه بالقول والعمل إلى غير ذلك من الفوائد الكثيرة . ثلاث رسائل في الصلاة لعبد العزيز بن عبد الله بن باز الرسالة الثانية في وجوب أداء الصلاة في الجماعة ۱ / ۱۸ .

**شپږم حکمت** : په جَمعې سره مونځ کولو کې د انساني مساوات او برابرۍ عمَلي نمونه موجود ده ، ځکه په دې کې اَمير و غريب ، تور او سپين ، عرَب و عجَم ، بادشاه او ګدا ټول په يو صَف کې په شريکه د يو اِمام پسې شاته ولاړ وي او عبادت کوي . دا د اِسلامي مساوات او برابرۍ عمَلي نمونه د ورځې پنځه پيرې هر کس ته په نظر راځي .

**أووم حکمت** : په جَمعې سره مونځ د جَماعتي نظم او د اِتفاق و اِتحاد عمَلي مظاهره ده ، ځکه چې کله ټول مسلمانان په صفونو کې يو شان ولاړ وي او د يو اِمام په اِشاره ټول يو شان حرکت کوي نو دا د دوی د جَماعتي نظَم او قومي وحدت د پاره يو عظيم دَرس دی .

چې په دې سره په مسلمانانو کې اِتفاق ، اِتحاد او وَرُور وَلي هم راځي ، او شريعت هم د مسلمانانو نه د همدې مطالبه کړی . (۱)

**آتم حکمت** : په جَمعې سره مونځ کولو کې د مسلمانانو په مينځ کې وَحشت او لرې والې ختميږي ، او د يو بل سره يې مِينه محبت زياتيږي . ځکه چې کله د يوې مَحلې ټول مسلمانان د ورځې پنځه وَخته په جُمات کې راجَمع کيږي نو په دې سره د دوی په خپل مينځ کې مِينه هم پيدا کيږي ، د يو بل سره د همدردۍ او مدد کولو جَذبه هم پکې پيدا کيږي ، او د يو بل د حالاتو نه هم خبريږي .

**نهَم حکمت** : جَمعې ته د تللو په وجه د انسان دُعاګانې هم قبليږي ، ځکه په جُمات کې به نيکان خلق هم وي چې د هغوی په وجه به دده دُعاګانې هم قبولې شي .

**لسم حکمت** : جَمعې ته د تللو په وجه انسان ته د فرښتو مجلس هم نصيبه کيږي ، ځکه جُمات ته فرښتې حاضريږي .

---

(۱) په بحرالرائق کې د جَمعې حِکمتونه داسې دي: وَأَمَّا حِكْمَةُ مَشْرُوعِيَّتِهَا فَقَدْ ذُكِرَ فِي ذَلِكَ وُجُوهٌ : أَحَدُهَا : قِيَامُ نِظَامِ الْأُلْفَةِ بَيْنَ الْمُصَلِّينَ ، وَلِهَذِهِ الْحِكْمَةِ شُرِعَتِ الْمَسَاجِدُ فِي الْمَحَالِّ لِتَحْصِيلِ التَّعَاهُدِ بِاللِّقَاءِ فِي أَوْقَاتِ الصَّلَوَاتِ بَيْنَ الْجِيرَانِ . ثَانِيهَا : دَفْعُ حَصْرِ النَّفْسِ أَنْ تَشْتَغِلَ بِهَذِهِ الْعِبَادَةِ وَحْدَهَا . ثَالِثُهَا تَعَلُّمُ الْجَاهِلِ مِنَ الْعَالِمِ أَفْعَالَ الصَّلَاةِ . وَذَكَرَ بَعْضُهُمْ أَنَّهَا ثَابِتَةٌ بِالْكِتَابِ وَهُوَ قَوْلُهُ تَعَالَى {وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ . البقرة : آية ۴۳ } فَهِيَ بِالْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ . البحر الرائق شرح كنز الدقائق بَابُ الْإِمَامَةِ صِفَةُ الْإِمَامَةِ فِي الصَّلَاةِ ۱ / ۳۶۷ ط دار الكتاب الإسلامي .

## شريعت د مسلمانانو د اجتماع د پاره بهترين ترتيب مقرر کړی

شريعت دومره بهترين ترتيب مقرر کړی چې په هره مَحله کې يې په جُمات کې د ورځې پنځه پيرې د راجَمع کيدلو حکم کړی، ددې د پاره چې مسلمانان د يو اَهم عبادت يعنی مونځ په جَمعې اداء کولو سره سره د يوبل اَحوال هم معلوم کړي.

بيا يې د ښارېې خلقو د پاره په جُمعه کې يوه ورځ د جُمعې مونځ اداء کولو د پاره د راجَمع کيدو حُکم کړی.

بيا چونکه د اَختر مونځ اَداء کولو په وخت خلق ډير زيات وي نو ځکه يې حُکم کړې چې په يو غټ ميدان کې دې د اختر مونځ اداء کړې شي، چې په دې کې د لرې ځايه راغلي مسلمانان په جَمعه عبادت کولو سره سره د يو بل د اَحوالو نه هم خبر شي.

بيا شريعت د ټولو دُنيا مسلمانان په يو ځای باندې د يو فرضي عبادت کولو او په خپل مينځ کې د يو بل د اَحوالو معلومولو د پاره د حج په موقع راجَمع کيدل لازم کړل، ددې د پاره چې د مسلمانانو په خپل مينځ کې د اسلامي ورورولۍ تعلق هم بَرقرار شي، د يو بل د اَحوالو نه هم خبر شي، او په جَمعې سره فرضي عبادت ( حَج ) هم اَداء کړي.

چونکه حج ته تلل د هر چا په وَس کې نه وي نو ځکه يې حج صرف په صاحبِ اِستطاعت (يعنی مالدار) باندې فرض کړو.(۱)

معلومه شوه چې په جَمعې سره مونځ کولو کې د انسان د پاره ډير اَجرونه، ثوابونه، دُنيوي او اُخروي مَصالِح او حِکمتونه دي نو ځکه ددې اِهتمام په کار دی.

## افسوس

افسوس چې نن صبا په مسلمانانو کې د جَمعې پريخودو عام عادت ګرځيدلې دی، حالانکه په احاديثو کې د جَمعې د مانځه ډير اَهميت او تاکيد بيان شوی، او بغير عُذره دې په پريخودو سخت وعيدونه ذکر شوي، خو ليکن د بعضې مسلمانانو زړونه دومره سخت شوي چې د شريعت ددې اَهم حُکم هيڅ پَرواه نه کوي، د عقل او پوهې باوجود بيا هم دا پريږدي.

---

(۱) احکام اسلام ص ۷۳.

# د غونډ تقرير خلاصه

د غونډ تقرير خلاصه داده چې په قرآن کريم او احاديثو کې د جَمعې د مانځه ډير اَهميت او تاکيد بيان شوی، جَمعه د اِسلام د شعائرو نه ده، د جَمعې د مانځه ثواب د ځانله مونځ کولو نه اُووه ويشت (۲۷) درجې زيات دی، په دې سره الله ﷻ خوشحاليږي، په جَمعې سره مونځ کوونکي ته د حَج ثواب ملاويږي، د جنت مُستحق ګرځي، جَمعې ته د تللو په وجه په هر قدم د انسان ګناهونه معاف کيږي، درجې يې اُوچتيږي، او نيکۍ ورته ليکلې کيږي

# دُعا

الله تعالى دې زمونږ د ټولو په زړونو کې د جَمعې د مانځه اَهميت پيدا کړي، او مونږ ټولو ته دې د جَمعې سره د مانځه کولو توفيق رانصيبه کړي.

آمِين يَارَبَّ الْعَالَمِين.

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ

**نوټ**: د مانځه د مختلفو موضوعاتو متعلق ضروري فِقهي مسائِل او نور اَهم بَحثونه په اَتم (۸) ټوک کې ذِکر دي.

ابوالشمس عفي عنه

# د اول صَف فضائل

په اول صَف كې مونځ كوونكو د پاره په احاديثو كې دير فضائل ذكر شوي ؛ د الله ﷻ خصوصي رحمت ، او د دفرښتو د دُعاګانو مُستحِقين همدا د اول صَف واله دي .

۱. رسولُ الله ﷺ فرمايي : إِنَّ اللهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى الصَّفِّ الْأَوَّلِ . (۱)

بيشكه الله ﷻ (خصوصي) رَحمت راورَوي ، او فرښتې د رَحمت دُعاګانې كوي د اول صف واله د پاره .

۲. په مسند احمد او نورو د احاديثو په كتابونو كې ددې حديث سره نوره اِضافه هم شته ، رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : إِنَّ اللهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى الصَّفِّ الْأَوَّلِ .

بيشكه الله ﷻ په اول صَف واله باندې (خصوصي) رَحمت راورَوي ، او فرښتې د دوى د پاره د رَحمت دُعاګانې كوي .

صحابه كرامو عرض اوكړو : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! وَعَلَى الثَّانِيْ ؟ اې د الله رسوله ! د دويم صَف په باره كې څه حكم دى ؟ (آيا په دوى باندې هم الله ﷻ رَحمت نازلوي ؟)

نبي عليه السلام وفرمايل : إِنَّ اللهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى الصَّفِّ الْأَوَّلِ .

بيشكه الله ﷻ په اول صَف واله باندې رَحمت راورَوي ، او د هغه فرښتې د دوى د پاره د رَحمت دُعاګانې كوي .

صحابه كرامو (په دويم ځل) عرض اوكړو : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! وَعَلَى الثَّانِيْ ؟

اې د الله رسوله ! آيا په دويم صَف واله باندې هم دا رَحمت راورېږي ؟

نبي ﷺ ورته هماغه جواب وركړو چې : إِنَّ اللهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى الصَّفِّ الْأَوَّلِ .

صحابه كرامو (په دريم ځل) عرض اوكړو : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! وَعَلَى الثَّانِيْ ؟

---

(۱) سنن ابن ماجه بَابُ فَضْلِ الصَّفِّ الْمُقَدَّمِ رقم الحديث ۹۹۹ اسناده صحيح و رجاله ثقات ، وقال الالباني هذا حديث حسن صحيح ، و رقم ۹۹۷ ، سنن ابي داؤد بَابُ تَسْوِيَةِ الصُّفُوفِ رقم الحديث ۶۶۴ ، ۶۷۵ ، مسند ابي داؤد الطيالسي رقم ۷۷۷ ، صحيح ابن خزيمة رقم ۱۵۵۱ ، و رقم ۱۵۵۲ ، ۱۵۵۶ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم ۱/ ۵۷۳ .

نبي ﷺ ورته په دې دريم ځل وفرمايل: وَعَلَى الثَّانِي. (۱) او، په دويم صَف واله باندې هم الله ﷻ رَحمت راليږي، او فرښتې د دوی د پاره د رَحمت دُعاګانې کوي.

**فائده**: ددې حديث نه معلومه شوه چې د الله ﷻ د خصوصي رَحمت او د فرښتو د دُعاګانو مُستحقين صرف د اول صَف واله دي، لهذا انسان ته په کار دي چې په اول صف کې د شريکيدلو کوشش اوکړي، او دا هله کيدې شي چې انسان جُمات ته اول راشي، او په اول صف کې کيني.

۳. د بخاري شريف او مسلم شريف دی، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

لَوْ يَعْلَمُ النَّاسُ مَا فِي النِّدَاءِ وَالصَّفِّ الأَوَّلِ، ثُمَّ لَمْ يَجِدُوا إِلَّا أَنْ يَسْتَهِمُوا عَلَيْهِ لَاسْتَهَمُوا، وَلَوْ يَعْلَمُونَ مَا فِي التَّهْجِيرِ لَاسْتَبَقُوا إِلَيْهِ، وَلَوْ يَعْلَمُونَ مَا فِي الْعَتَمَةِ وَالصُّبْحِ لَأَتَوْهُمَا وَلَوْ حَبْوًا. (۲)

---

(۱) عَنْ أَبِي أُمَامَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « إِنَّ اللهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى الصَّفِّ الْأَوَّلِ». قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ! وَعَلَى الثَّانِي؟ قَالَ: « إِنَّ اللهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى الصَّفِّ الْأَوَّلِ ». قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ! وَعَلَى الثَّانِي؟ قَالَ: « إِنَّ اللهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى الصَّفِّ الْأَوَّلِ » قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ! وَعَلَى الثَّانِي؟ قَالَ: « وَعَلَى الثَّانِي ». مسند احمد. رقم الحديث ۲۲۲۶۳ حَدِيثُ أَبِي أُمَامَةَ الْبَاهِلِيِّ الصُّدَيِّ.. طبع مؤسسة الرسالة. مجمع الزوائد ومنبع الفوائد كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابٌ فِي الصَّفِّ الْأَوَّلِ رقم الحديث ۲۵۰۹ طبع مكتبة القدسي، القاهرة، وقال الهيثمي في المجمع: رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالطَّبَرَانِيُّ فِي الْكَبِيرِ وَرِجَالُ أَحْمَدَ مُوَثَّقُونَ.

(۲) صحيح البخاري كِتَابُ الْأَذَانِ بَابُ الِاسْتِهَامِ فِي الْأَذَانِ رقم الحديث ۶۱۵، و رقم ۲۶۸۹ كِتَابُ الشَّهَادَاتِ بَابُ الْقُرْعَةِ فِي الْمُشْكِلَاتِ. صحيح مسلم رقم الحديث ۱۲۹ - (۴۳۷) باب فضل النداء والصف الأول والتكبير.

وفي رواية: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: « لَوْ تَعْلَمُونَ - أَوْ يَعْلَمُونَ - مَا فِي الصَّفِّ الْمُقَدَّمِ لَكَانَتْ قُرْعَةً ». صحيح مسلم باب فضل النداء والصف الأول والتكبير رقم الحديث ۱۳۱ - (۴۳۹)، سنن الترمذي رقم ۲۲۵.

(يَسْتَهِمُوا): يقترعوا أي يضربوا القرعة. (التَّهْجِيرِ): التبكير إلى الصلوات. (الْعَتَمَةِ): صلاة العشاء. (حَبْوًا): حابين من حبا الصبي إذا مشي على يديه و رجليه أو مقعدته. تعليق مصطفى البغا على البخاري في تشريح حديث ۶۱۵. (يَسْتَهِمُوا) الاستهام هو الاقتراع. شرح محمد فؤاد عبد الباقي على صحيح مسلم.

که چیرته خلقو ته هغه ثواب معلوم شي کوم چې په آذان کولو او اول صف کې دی ، او دوی ته داد قُرعه اَندازۍ نه بَغیر نه حاصلیږي نو دوی به ضرور په دې باندې قُرعه اَندازي کوي ( خو دا ثواب به حاصلوي (١)) ، او که چیرته دوی( په ژمي کې ) د ماسپخین مانځه ته په تَادۍ سره د راتلو ثواب اُوپیژني نو په مَنډه به ورته راځي ، او که چیرته دوی ته د ماسخوتن او سهَر د مونځ ثواب معلوم شي نو دوی به دیته خامخا راځي اګر چې دوی په ګناتو خوییدلو سره راروان وي ( یعنی که دوی په خپو باندې د راتلو قوت نه لري خو بیا به هم د معذورو خلقو په شان په ګناتو خویېدو راروان وي ) .

## د صَفونو سِیده کولو او برابرولو اَهمیت

په جَمعه کې د صفونو سِیده کولو اَهمیت او تاکید په احادیثو کې ډیر په اِهتمام سره بیان شوی ، بلکه د جَمعې د تکمیل او مُوثِر والي د پاره اَهم شرط د صفونو سِیده کول ګرځول شوی .

پیغمبر علیه السلام په خپله هم د صفونو سِیده کولو ډیر اِهتمام کړی ، او اُمت ته یې هم وخت په وخت د صفونو سِیده کولو حکم کړی ، ددې اَجرونه یې ورته بیان کړي ، او په دې کې یې د کوتاهي کوونکو د پاره سخته تَنبِیه هم فرمایلې ده .

١ . د بخاري شریف حدیث دی ، رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

سَوُّوا صُفُوْفَكُمْ فَإِنَّ تَسْوِيَةَ الصُّفُوْفِ مِنْ إِقَامَةِ الصَّلَاةِ . (٢)

( اې خلقو ) تاسو خپل صفونه برابروئ ( او سِیده کوئ ) ځکه د صفونو برابرول د مانځه د تَکمِیل (یعنی په صحیح طریقې سره د مونځ اداء کولو ) نه دی .

---

(١) یعنی که چیرته په آذان کولو او اول صَف کې مونځ کولو کې د خلقو جګړه پیدا شي ، او هر یو آذان کول او مخکې صَف کې اُودریدل غواړي ، ـ خبره قُرعه اَندازۍ ته اُورسي نو دوی به په دې باندې قُرعه اَندازي کوي خو ددې ثواب حاصلولو کوشش به کوي .

(٢) صحیح البخاري بَابٌ : إِقَامَةُ الصَّفِّ مِنْ تَمَامِ الصَّلَاةِ رقم الحدیث ٧٢٣ ، صحیح مسلم باب تسویة الصفوف وإقامتها . رقم ٤٣٣ ، مشکوة المصابیح بَاب تَسْوِيَةِ الصَّفِّ اَلْفَصْلُ الأول رقم ١٠٧٨ (٣) .

(إقامة الصلاة) : تمامها وکمالها . تعلیق مصطفی البغا علی البخاري .

**تشريح** : په قرآن مجيد کې ځای په ځای د " اَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ " حکم راغلی . يعنی مونځ د اَرکانو ، سُنتو ، او آدابو سره اَداء کوئ .

دلته په حديث شريف کې هم د صفونو برابرولو ته " مِنْ إِقَامَةِ الصَّلَاةِ " ويل شوی .

په دې کې ديته اِشاره ده چې صفونه برابرول هم د " اَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ " په حکم کې داخل دي ، او په کاملې طريقې سره د مونځ اَداء کولو د پاره شرط په جَمع کې صفونه سِيده کول دي

۲ . په مسلم شريف او ابوداؤد شريف کې صراحتًا ذکر دي ، نبي عليه السلام فرمايي :

سَوُّوْا صُفُوْفَكُمْ فَإِنَّ تَسْوِيَةَ الصَّفِّ مِنْ تَمَامِ الصَّلَاةِ . (۱)

تاسو ( په جَمعه کې ) صفونه برابروئ ، ځکه د صَف برابرول د مانځه د تمام والي نه دی . (يعنی په دې سره د مانځه پوره والې راځي) .

۳ . د ابوداؤد شريف حديث دی ، حضرت نعمان بن بشير رضي الله عنه فرمايي :

كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسَوِّيْ صُفُوْفَنَا إِذَا قُمْنَا لِلصَّلَاةِ . فَإِذَا اسْتَوَيْنَا كَبَّرَ . (۲)

د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم طريقه دا وه چې کله به مانځه ته اُودريدو نو زمونږ صفونه به يې برابرول ، کله به چې مونږ برابر شو نو بيا به يې تکبير اوويل (او مونځ به يې شروع کړو) .

٤ . حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به کله مانځه ته اُودريدو نو اول به يې خي طرف ته اُوکتل ، او اُو به يې فرمايل :

---

(۱) صحيح مسلم بَابُ تَسْوِيَةِ الصُّفُوْفِ وَإِقَامَتِهَا رقم الحديث ۱۲۴ ( ۴۳۳ ) ، سنن ابي داؤد بَابُ تَسْوِيَةِ الصُّفُوْفِ رقم الحديث ٦٦٧ ، سنن ابن ماجه رقم ۹۹۳ ، صحيح ابن حبان رقم ۲۱۷۴ .

وفي رواية : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : أَقِيْمُوا الصَّفَّ فِي الصَّلَاةِ . فَإِنَّ إِقَامَةَ الصَّفِّ مِنْ حُسْنِ الصَّلَاةِ .
صحيح مسلم بَابُ تَسْوِيَةِ الصُّفُوْفِ وَإِقَامَتِهَا رقم الحديث ۱۲٦ ( ۴۳۵ ) .

(۲) سنن ابي داؤد بَابُ تَسْوِيَةِ الصُّفُوْفِ رقم الحديث ٦٦٥ ، مشكوة المصابيح بَاب تَسْوِيَةِ الصَّفِّ اَلْفَصْلُ الثاني رقم ۱۰۹۷ (۱۲) ، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ۸۱۰ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۲۲۹۱ .

اِعْتَدِلُوْا، سَوُّوْا صُفُوْفَكُمْ . برابر شئ (نېغ اُودرېږئ)، خپل صفونه سِيده کړئ .
بيا به يې چَپ (ګس) طرف ته مخ کړو او اُو به يې فرمايل :
اِعْتَدِلُوْا، سَوُّوْا صُفُوْفَكُمْ . (۱) برابر شئ ، او خپل صفونه سِيده کړئ.

۵ . د مسلم شريف حديث دى ، حضرت نعمان بن بشير رضي الله عنه فرمايي :

كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسَوِّيْ صُفُوْفَنَا حَتّٰى كَأَنَّمَا يُسَوِّيْ بِهَا الْقِدَاحَ .
رسول الله صلى الله عليه وسلم به ( د جمعې په وخت ) زمونږ صفونه داسې برابرول ګويا چې دې ددې په ذريعه غشي سِيده کوي .
تر دې پورې چې نبي عليه السلام خيال اوکړو چې مونږ د صفونو برابرولو په اهميت باندې پوهه شو ، بيا يوه ورځ رسول الله ﷺ د خپل کور نه بهَر (راوتلو سره) تشريف راوړو ، د مانځه د پاره اُودريد ، قريبه وه چې دوى تکبير ويلې وى (او مونځ يې شروع کړې وى خو ) يو کس يې اُوليد چې خپله سِينه يې د صف نه څه مخکې راوتلې وه نو نبي عليه السلام وفرمايل :

عِبَادَ اللهِ لَتُسَوُّنَّ صُفُوْفَكُمْ أَوْ لَيُخَالِفَنَّ اللهُ بَيْنَ وُجُوْهِكُمْ . (۲)

اې د الله ﷻ بندګانو ! تاسو خپل صفونه خامخا برابروئ ، ګنې الله تعالى به ستاسو په مينځ کې اختلاف پيدا کړي .

(۱) عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ : إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، كَانَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ أَخَذَهُ بِيَمِيْنِهِ ثُمَّ الْتَفَتَ ، فَقَالَ: « اِعْتَدِلُوْا، سَوُّوْا صُفُوْفَكُمْ » ثُمَّ أَخَذَهُ بِيَسَارِهِ ، فَقَالَ: « اِعْتَدِلُوْا سَوُّوْا صُفُوْفَكُمْ » . سنن ابي داؤد بَابُ تَسْوِيَةِ الصُّفُوْفِ رقم الحديث ٦٧٠ ، مشكوة المصابيح بَابُ تَسْوِيَةِ الصَّفِّ اَلْفَصْلُ الثَّانِي رقم ١٠٩٨ ( ١٤ ) ، صحيح ابن حبان رقم ٢١٦٨ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ٥٣٥٢ ، معرفة السنن والآثار رقم ٢٩٢٧ ، شرح السنة للبغوي رقم ٨١١ .

(۲) عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ ، قَالَ: سَمِعْتُ النُّعْمَانَ بْنَ بَشِيْرٍ رضي الله عنه يَقُوْلُ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسَوِّيْ صُفُوْفَنَا حَتّٰى كَأَنَّمَا يُسَوِّيْ بِهَا الْقِدَاحَ ، حَتّٰى رَأَى أَنَّا قَدْ عَقَلْنَا عَنْهُ ، ثُمَّ خَرَجَ يَوْمًا فَقَامَ ، حَتّٰى كَادَ يُكَبِّرُ فَرَأَى رَجُلًا بَادِيًا صَدْرُهُ مِنَ الصَّفِّ ، فَقَالَ: « عِبَادَ اللهِ لَتُسَوُّنَّ صُفُوْفَكُمْ ، أَوْ لَيُخَالِفَنَّ اللهُ بَيْنَ وُجُوْهِكُمْ » . صحيح مسلم بَابُ تَسْوِيَةِ الصُّفُوْفِ وَإِقَامَتِهَا رقم الحديث ١٢٨ ( ٤٣٦ ) .

**د حديث تشريح** : په دې حديث شريف کې دا ذکر شو چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم به صفونه داسې برابرول : حَتّٰى كَاَنَّمَا يُسَوِّيْ بِهَا الْقِدَاحَ .

تر دې پورې چې ګويا نبي عليه السلام به په دې صفونو سره غشي سِيده کول .

ددې جُملې په مطلب باندې د ځان پوهه کولو نه مخکې دا اُوپېژنئ چې په عربو به د جَنګ يا ښکار د پاره کوم غشي جوړول نو هغه به يې بالکل سِيده او نيغ جوړول . دغه وجه ده چې دوی به د کوم څيز د نيغ والي په تعريف کې مبالغه کوله نو دا به يې ويل چې : " دا څيز دومره نيغ دی ګويا چې په دې باندې غشي نيغولې شي " .

نو اوس د حديث مطلب دا شو چې : رسول الله صلی الله عليه وسلم به دا صفونه دومره نيغ او سِيده کول ګويا چې غشي به هم په دې سره سِيده کولې شو . (۱)

بعضې حضرات دا وايي چې دا عبارت په عکس باندې مَحمول دی ، نو اوس ددې جُملې مطلب دا شو چې : ګويا نبي عليه السلام به صفونه د غشي په ذريعه برابرول .

بهر حال ، **د غونډ حديث خلاصه** دا رااُووته : حضرت نعمان بن بشير رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم به د جَمعې په وخت ډېره زَمانه زمونږ صفونه داسې سِيده کول چې په مونږ کې به هيڅوک مخکې روستو نه وُ ، بلکه ټول به په صفونو کې سِيده ولاړ وو ، د ډېر مسلسل کوشش او اُوږد مِحنت نه پس پيغمبر عليه السلام مُطمئِن شو چې اوس د صفونو سيده کولو خبره زمونږ ( د صحابه کرامو ) په پوهه کې راغله .

ليکن يوه ورځ چې کله دوی مانځه ته اُودريد نو د تکبير ويلو نه مخکې يې يو کس اُوليد چې سِينه يې د صَف نه لږه رابهَر وه ، نو پيغمبر عليه السلام په ډېر جَلالي اَنداز کې وفرمايل :

---

(۱) معارف الحديث ج۳ ص۱۳۳ ، مظاهر حق ج۲ باب تسوية الصفوف .

( كَاَنَّمَا يُسَوِّيْ بِهَا الْقِدَاحَ ) القداح هي خشب السهام حين تنحت وتبرى واحدها قدح . معناه : يبالغ في تسويتها حتى تصير كأنما تقوم بها السهام لشدة استوائها واعتدالها . شرح محمد فؤاد عبد الباقي على صحيح مسلم في تشريح الحديث المذكور .

اې د الله بندګانو ! ( په جَمعه کې ) خپل صفونه سِيده کوئ ، ګني الله تعالى به ستاسو مُخ د يو بل نه بدل کړي ، يعنى ستاسو په مينځ کې به بې اِتفاقي پيدا کړي .(۱)

ددې حديث د آخِري جُملې مطلب مولانا مظهر رحمه الله دا بيان کړى چې ظاهري آداب او فرمانبرداري د باطني آدابو او فرمانبردارۍ د پاره علامه ده .

اوس چې کوم خلق په ظاهري طور باندې د الله ﷻ او د رسول ﷺ اِطاعت نه کوي نو ددې په وجه به ضرور د دوی په زړونو کې اختلاف پيدا کيږي ، دا اِختلاف به بيا په خپل مينځ کې د بُغض ، عِناد او عَداوت سبب ګرځي ، هر کس به بيا د بل نه مخ اړوي ، او د هيچا په زړه کې د يو بل سره د همدردۍ جَذبه نه پاتې کيږي .(۲)

۲ . حضرت ابو مسعود اَنصاري رضي الله عنه فرمايي چې ( کله به مونږ جَمعې ته اُودريدو نو ) رسولُ الله صلى الله عليه وسلم به زمونږ دصفونو سِيده کولو په خاطر زمونږ په اُوږدو باندې لاس ايخودلو ، او فرمايل به يې : اِسْتَوُوْا، وَلَا تَخْتَلِفُوْا، فَتَخْتَلِفَ قُلُوْبُكُمْ .

برابر شئ ، مختلِف کيږئ مه ( يعنى روستو مخکې مه اُودريږئ بلکه په صف کې سِيده اُودريږئ ) ګني ستاسو په زړونو کې به اختلاف پيدا شي .

ددې حديث په آخِر کې ابو مسعود رضي الله عنه وفرمايل : فَأَنْتُمُ الْيَوْمَ أَشَدُّ اخْتِلَافًا .(۳)

---

(۱) معارف الحديث ج۳ ص۱۳۳ .

( أَوْ لَيُخَالِفَنَّ اللهُ بَيْنَ وُجُوهِكُمْ ) قال النووي قيل معناه : يمسخها ويحولها عن صورها لقوله صلى الله عليه وسلم يجعل الله صورته صورة حمار . وقيل يغير صفاتها . والأظهر والله أعلم أن معناه : يوقع بينكم العداوة والبغضاء واختلاف القلوب . شرح محمد فؤاد عبد الباقي على صحيح مسلم في تشريح الحديث رقم ۱۲۷ (۴۳۶) .

(۲) مظاهر حق ج۲ باب تسوية الصفوف ( مع الاختصار ) .

(۳) عَنْ أَبِي مَسْعُوْدٍ الْأَنْصَارِيِّ رضي الله عنه قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْسَحُ مَنَاكِبَنَا فِي الصَّلَاةِ ، وَيَقُوْلُ : « اِسْتَوُوْا، وَلَا تَخْتَلِفُوْا، فَتَخْتَلِفَ قُلُوْبُكُمْ، لِيَلِنِيْ مِنْكُمْ أُولُو الْأَحْلَامِ وَالنُّهٰى ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ، ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ » قَالَ أَبُوْ مَسْعُوْدٍ : « فَأَنْتُمُ الْيَوْمَ أَشَدُّ اخْتِلَافًا » . صحيح مسلم بَابُ تَسْوِيَةِ الصُّفُوْفِ وَإِقَامَتِهَا رقم الحديث ۱۲۲ ( ۴۳۲ ) ، سنن ابن ماجه رقم ۹۷۲ ، السنن الكبرى للنسائي رقم ۸۸۳ ، مشكوة المصابيح رقم الحديث ۱۰۸۸ (۳) ، صحيح ابن حبان رقم ۲۱۷۲ .

په تاسو کې نن ورځ اِختلاف زيات دی.

**تشريح** د حضرت ابو مسعود انصاري ﷺ د وينا مطلب دادی چې نن صبا په تاسو کې دا کومه بې اِتفاقي او اِنتشار پيدا شوې دی، او مختلف قِسمه فِتنې راڅرګندې شوي نو ددې ټولو سبب دادی چې خلق په جَمعه کې صفونه نه برابروي.

لهذا که تاسو ددې اختلافاتو نه بَچ کيدل غواړئ نو اول په صفونو کې دا ظاهري اختلاف (يعنی مخکې روستو کاګه اُودريدل) ختم کړئ، الله تعالی به ستاسو باطني اختلاف هم ختم کړي.

## اول به ړُومبې صَف پوره کولې شي

چې کله په جَمعې سره مونځ کولې شي نو خلق به اول ړُومبې صَف پوره کوي، چې کله ړُومبې صَف پوره شي نو بيا به ورپسې دويم صَف پوره کولې شي، همدغه شان به بيا دريم، څلورم وغيره.

د ابوداؤد شريف حديث دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

أَتِمُّوا الصَّفَّ الْمُقَدَّمَ، ثُمَّ الَّذِي يَلِيهِ، فَمَا كَانَ مِنْ نَقْصٍ فَلْيَكُنْ فِي الصَّفِّ الْمُؤَخَّرِ. (۱)

تاسو اول ړُومبې صَف پوره کړئ، بيا چې کوم صَف ديته نزدې وي هغه پوره کړئ، او کوم کمې چې راځي نو هغه دې په آخِري صف کې راشي.

## چې په ړُومبي صَف کې ځای وي نو روستو ځانله اُودريدل مکروهه دي

چې کله په ړُومبي صَف کې ځای وي او بيا هم يو کس په روستو صف کې ځانله اُودرېږي نو دامکروهه دی، نبي کريم صلی الله عليه وسلم اِحتياطًا يو کس ته دمانځه راګرځولو حکم کړې وُ.

د مشکوة شريف شريف حديث دی، حضرت وَابِصَة بن مَعبَد رضي الله عنه فرمايي:

(۱) سنن ابي داؤد بَابُ تَسْوِيَةِ الصُّفُوفِ رقم الحديث ۶۷۱، السنن الکبری للبيهقي رقم ۵۱۹۱، صحيح ابن حبان رقم ۲۱۵۵، شرح السنة للبغوي رقم ۸۲۰، مشکاة المصابيح بَاب تَسْوِيَةِ الصَّفِّ الفصل الثاني رقم الحديث ۱۰۹۴ (۱۰).

رَأَى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا يُصَلِّيْ خَلْفَ الصَّفِّ وَحْدَهُ فَأَمَرَهُ أَنْ يُعِيْدَ الصَّلَاةَ . (۱)

رسول الله صلى الله عليه وسلم يو كس اوليد چې په شاته صف كې يې ځانله (اودريدو سره) مونځ كولو ، نبي عليه السلام دهٔ ته (احتياطًا) د مانځه راګرځولو حكم اوكړو .

## په روستو صف کې د ځانله اودريدونکي کس حُکم

چې په مخکې صَف کې ځای وي او يو کس ځانله په روستو صَف کې ولاړ وي نو د امام اعظم ابوحنيفه ، امام شافعي ، او امامِ مالک رحمهم الله په نزد اګر چې د داسې کس مونځ کيږي خو دا مونځ يې مکروهه دی ، په ثواب کې يې ضرور کمې راځي ، نبي عليه السلام هغه کس ته احتياطًا د مانځه راګرځولو حکم کړې وُ .

د امامِ احمد بن حنبل رحمه الله او د بعضو نورو علماؤ په نزد باندې د داسې کس مونځ نه کيږي ، دوی په اِستدلال کې همدا حديث پيش کوي . (۲)

( **نوټ** : د احنافو په نزد باندې د داسې کس مونځ کيږي ، دوی اِستدلال د نورو احاديثو نه کوي ، مُحدّثينو دواړه طرف احاديث رانقل کړي ، امام بغوي رحمه الله په

(۱) مشكاة المصابيح بَابُ تَسْوِيَةِ الصَّفِّ الفصل الثالث رقم الحديث ۱۱۰۵ (۲۱) ، سنن ابي داؤد رقم الحديث ۶۸۲ ، صحيح ابن حبان ۲۱۹۹ ، المعجم الكبير للطبراني رقم ۳۸۵ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۵۲۰۹ ، شرح بابُ من صلى خلف الصف وحده ، كنزالعمال رقم الحديث ۲۳۰۰۷ . وَرَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرمِذِيُّ وَقَالَ التِّرمِذِيُّ هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ

وفي رواية : ..... فَرَأَى رَجُلًا فَرْدًا يُصَلِّيْ خَلْفَ الصَّفِّ، قَالَ: فَوَقَفَ عَلَيْهِ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ انْصَرَفَ . قَالَ: « اِسْتَقْبِلْ صَلَاتَكَ . لَا صَلَاةَ لِلَّذِيْ خَلْفَ الصَّفِّ » . في الزوائد إسناده صحيح. رجاله ثقات. و قال الالباني : هذا حديث صحيح . سنن ابن ماجه بَابُ صَلَاةِ الرَّجُلِ خَلْفَ الصَّفِّ وَحْدَهُ رقم الحديث ۱۰۰۳ .

يو صحابي فرمايي : ...... وَصَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا آخَرَ . فَلَمَّا سَلَّمَ إِذَا رَجُلٌ خَلْفَ الصَّفِّ يُصَلِّيْ وَحْدَهُ . فَقَامَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى قَضَى صَلَاتَهُ . فَلَمَّا سَلَّمَ قَالَ : " أَعِدْ صَلَاتَكَ، لَا صَلَاةَ لِفَرْدٍ خَلْفَ الصَّفِّ " . السنن الكبرى للبيهقي ۳/۱۰۴ رقم الحديث ۵۲۱۳ بَابُ كَرَاهِيَةِ الْوُقُوفِ خَلْفَ الصَّفِّ وَحْدَهُ .

(۲) مظاهر حق شرح مشكوة باب تسوية الصفوف حديث ۲۱ .

شرح السنة کې د دې بهترين تحقيق کړې دی ) (١)

**مسئله** : که يو کس جُمات ته لاړ ، جَمعه ولاړه وه ، ژومبې صَف مکمل ډک وُ ، دده د اُودريدو ځاى په کې نه وُ ، او دده سره داسې بل څوک هم نه وُ چې دده سره په شاته صَف کې اُودريږي ، نو بيا به د مخکې صف نه يو کس په قلاره راولي ، او د ځان سره به يې اُودروي .

خو دا حکم هلته دی چې ده ته دا يقين وي چې دا کس په آسانه باندې شاته راځي ، او که دا يقين يې نه وُ نو بيا به مجبورًا ځانله شاته اُودريږي . (٢)

---

(١) بَابُ مَنْ صَلَّى خَلْفَ الصَّفِّ وَحْدَهُ : عَنْ أَبِي بَكْرَةَ ﷺ أَنَّهُ انْتَهَى إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ رَاكِعٌ. فَرَكَعَ قَبْلَ أَنْ يَصِلَ إِلَى الصَّفِّ . فَذُكِرَ ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَقَالَ : « زَادَكَ اللهُ حِرْصًا وَلَا تَعُدْ » . هٰذا حديث صحيح

عَنِ الْحَسَنِ . أَنَّ أَبَا بَكْرَةَ ﷺ جَاءَ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَاكِعٌ ، فَرَكَعَ دُوْنَ الصَّفِّ ، ثُمَّ مَشَى إِلَى الصَّفِّ . فَلَمَّا قَضَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاتَهُ ، قَالَ : « أَيُّكُمُ الَّذِي رَكَعَ دُوْنَ الصَّفِّ ، ثُمَّ مَشَى إِلَى الصَّفِّ » ؟ فَقَالَ أَبُو بَكْرَةَ : أَنَا . فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « زَادَكَ اللهُ حِرْصًا وَلَا تَعُدْ »

قُلْتُ : فِي هٰذَا الْحَدِيثِ أَنْوَاعٌ مِنَ الْفِقْهِ ، مِنْهَا : أَنَّ مَنْ صَلَّى خَلْفَ الصَّفِّ مُنْفَرِدًا بِصَلَاةِ الْإِمَامِ تَصِحُّ صَلَاتُهُ ، لِأَنَّ أَبَا بَكْرَةَ ﷺ رَكَعَ خَلْفَ الصَّفِّ . فَقَدْ أَتَى بِجُزْءٍ مِنَ الصَّلَاةِ خَلْفَ الصَّفِّ . ثُمَّ لَمْ يَأْمُرْهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْإِعَادَةِ . وَأَرْشَدَهُ فِي الْمُسْتَقْبَلِ إِلَى مَا هُوَ أَفْضَلُ بِقَوْلِهِ : « وَلَا تَعُدْ » وَهُوَ نَهْيُ إِرْشَادٍ ، لَا نَهْيُ تَحْرِيمٍ ، وَلَوْ كَانَ لِلتَّحْرِيمِ لَأَمَرَهُ بِالْإِعَادَةِ . وَهٰذَا قَوْلُ مَالِكٍ ، وَالثَّوْرِيِّ ، وَابْنِ الْمُبَارَكِ ، وَالشَّافِعِيِّ ، وَأَصْحَابِ الرَّأْيِ ، قَالُوا : تَصِحُّ صَلَاةُ الْمُنْفَرِدِ خَلْفَ الصَّفِّ .

وَذَهَبَ جَمَاعَةٌ إِلَى أَنَّ صَلَاتَهُ فَاسِدَةٌ ، وَهُوَ قَوْلُ النَّخَعِيِّ ، وَحَمَّادِ بْنِ أَبِي سُلَيْمَانَ ، وَابْنِ أَبِي لَيْلَى ، وَوَكِيعٍ ، وَبِهِ قَالَ أَحْمَدُ ، وَإِسْحَاقُ . وَاحْتَجُّوا بهذا الحديث : عَنْ وَابِصَةَ بْنِ مَعْبَدٍ ﷺ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ « رَأَى رَجُلًا يُصَلِّي خَلْفَ الصَّفِّ وَحْدَهُ ، فَأَمَرَهُ أَنْ يُعِيدَ الصَّلَاةَ » . هٰذا حديث حسن

وَمَنْ لَمْ يُوجِبِ الْإِعَادَةَ ، تَأَوَّلُوا أَمْرَهُ بِالْإِعَادَةِ فِي حَدِيثِ وَابِصَةَ عَلَى الِاسْتِحْبَابِ .

وَقَالَ الزُّهْرِيُّ ، وَالْأَوْزَاعِيُّ : مَنْ رَكَعَ دُوْنَ الصَّفِّ ، إِنْ كَانَ قَرِيبًا مِنَ الصَّفِّ أَجْزَأَهُ ، وَإِنْ كَانَ بَعِيدًا لَمْ يُجْزِهِ .

شرح السنة للبغوي ٣ / ٣٧٧ بَابُ مَنْ صَلَّى خَلْفَ الصَّفِّ وَحْدَهُ .

(٢) معارف الحديث ج٣ ص ١٣٧ .

# د سستۍ په وجه هميشه په رُومبي صَف كې د نه شامليدونكي كس د پاره وعيد

كوم كس چې د سستۍ په وجه هميشه په روستي صَف كې ولاړ وي ، او په رُومبي صَف كې د اُودريدلو كوشش نه كوي ، ځان د رُومبي صَف د ثواب نه هميشه محرومه كوي نو دداسې كس د پاره په احاديثو سخت وَعيد ذكر شوی .

**۱** . د ابوداؤد شريف حديث دی ، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

لَا يَزَالُ قَوْمٌ يَتَأَخَّرُوْنَ عَنِ الصَّفِّ الْأَوَّلِ حَتَّى يُؤَخِّرَهُمُ اللهُ فِي النَّارِ . (۱)

څه خلق هميشه د رُومبي صَف نه روستو كيږي ، تر دې چې الله تعالى به دوی په دوزخ كې روستو وَر اُوغورځوي .

**تشريح** : د حَتَّى يُؤَخِّرَهُمُ اللهُ فِي النَّارِ دوه مطلبه دي : اول دا چې الله تعالى به دا خلق آخِر هم په جهنم كې داخل كړي . دويم مطلب يې دادی چې الله تعالى به دا خلق په جهنم كې روستو پاتې كيدونكي كړي . (۲)

**۲** . د مسلم شريف حديث دی ، حضرت ابوسعيد خُدري رضي الله عنه فرمايي چې كله رسولُ الله صلى الله عليه وسلم صحابه كرام اُوليدل چې ( رُومبي صَف ته د راتلو نه ) تَاخير كوي نو دوی ته يې وفرمايل :

---

(۱) سنن ابي داؤد تَفْرِيعُ أَبْوَابِ الصُّفُوفِ بَابُ صَفِّ النِّسَاءِ وَكَرَاهِيَةِ التَّأَخُّرِ عَنِ الصَّفِّ الْأَوَّلِ رقم الحديث ۶۷۹ ، وقال الالباني: هذا حديث صحيح ، مشكوة المصابيح بَابُ تَسْوِيَةِ الصَّفِّ الفصل الثالث رقم الحديث ۱۱۰۴ ( ۲۰ ) ، كنزالعمال رقم ۲۰۶۰۶ ، ورقم ۲۰۶۵۱ ، مسند السراج رقم ۷۷۷ .

وفي رواية : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « لَا يَزَالُ قَوْمٌ يَتَخَلَّفُوْنَ عَنِ الصَّفِّ الْأَوَّلِ حَتَّى يُخَلِّفَهُمُ اللهُ فِي النَّارِ » . مصنف عبدالرزاق الصنعاني بَابُ فَضْلِ الصَّفِّ الْأَوَّلِ رقم الحديث ۲۴۵۳ ، كنزالعمال رقم الحديث ۲۰۶۵۲ الفصل الثاني "في الإمامة وما يتعلق بها" وفيه أربعة فروع الفرع الثالث في تسوية الصفوف وفضلها وآدابها والتحذير عن تركها .

(۲) مظاهر حق شرح مشكوة ج۲ باب تسوية الصفوف حديث ۲۰ .

تَقَدَّمُوا فَأْتَمُّوا بِي ، وَلْيَأْتَمَّ بِكُمْ مَنْ بَعْدَكُمْ ، لَا يَزَالُ قَوْمٌ يَتَأَخَّرُونَ حَتَّى يُؤَخِّرَهُمُ اللَّهُ . (۱)

تاسو رامخکې شئ ، او زما اقتداء اوکړئ ، کوم خلق چې د تاسو نه روستو ولاړ دي هغه دې ستاسو ( د اَفعالو (۲) ) اِقتداء اوکړي ، يو قوم هميشه ( په ړومبي صَف کې د اُودريدو نه ) روستو کيږي تر دې پورې چې الله تعالى به هم هغوى ( د خپل فضل او رَحمت نه ) روستو اوغورځوي .

## په صَفونو کې خالي ځای پريخودل ندي پکار

د ابوداؤد شريف حديث دی ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

رُصُّوا صُفُوفَكُمْ وَقَارِبُوا بَيْنَهَا وَحَاذُوا بِالْأَعْنَاقِ . فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنِّي لَأَرَى الشَّيْطَانَ يَدْخُلُ مِنْ خَلَلِ الصَّفِّ كَأَنَّهَا الْحَذَفُ . (۳)

تاسو خپل صفونه يو ځای ( جُخت ) ساتئ ( يعنى د يو بل سره نزدې اُودريږئ ) ، د صفونو په مينځ کې نزدې والې ساتئ ( يعنى د يو صف او بل صف په مينځ کې دومره ډيره فاصله مه پريږدئ چې په دې کې بل صف هم راتلې شي ) ، او خپل څټونه برابر ساتئ ،

---

(۱) عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ ﷺ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى فِي أَصْحَابِهِ تَأَخُّرًا . فَقَالَ لَهُمْ : « تَقَدَّمُوا فَأْتَمُّوا بِي . وَلْيَأْتَمَّ بِكُمْ مَنْ بَعْدَكُمْ ، لَا يَزَالُ قَوْمٌ يَتَأَخَّرُونَ حَتَّى يُؤَخِّرَهُمُ اللهُ » . صحيح مسلم رقم الحديث ۱۳۰ ( ۴۳۸ ) ، سنن ابن ماجه رقم ۹۷۸ ، سنن ابي داؤد رقم ۶۷۹ ، مشكوة المصابيح ۱۰۹۰ ( ۶ ) ، السنن الكبرى للنسائي رقم ۸۷۲ ، صحيح ابن خزيمة رقم ۱۶۱۲ ، شرح السنة للبغوي رقم ۸۱۴ .

(۲) د روستي صَف والا خلق د اول صَف والو اِقتداء صرف د ظاهري اَفعالو په اِعتبار سره کوي ، يعنى کوم اَفعال چې د ړومبي صَف والا کوي هغه د روستي صف والا هم کوي ، ګني په حقيقت کې ټول مونځ ګزار د اِمام اقتداء کوي .

( وَلْيَأْتَمَّ بِكُمْ مَنْ بَعْدَكُمْ ) أي يقتدوا بي مُستدلّين على أفعالي بأفعالكم . شرح محمد فؤاد عبد الباقي في تشريح الحديث المذكور .

(۳) سنن ابي داؤد تَفْرِيعُ أَبْوَابِ الصُّفُوفِ بَابُ تَسْوِيَةِ الصُّفُوفِ رقم الحديث ۶۶۷ ، وقال الالباني : هذا حديث صحيح ، مشكوة المصابيح بَابُ تَسْوِيَةِ الصَّفِّ الفصل الثاني رقم الحديث ۱۰۹۳ ( ۹ ) ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۵۱۷۹ ، صحيح ابن حبان رقم ۲۱۶۶ ، شرح السنة للبغوي بَابُ تَسْوِيَةِ الصَّفِّ وَإِتْمَامِهِ رقم ۸۱۳ .

(يعنى په صف کې دې څوک په اوچت ځاى نه اودريږي ، بلکه ټول دې يو شان په هوار ځاى کې اودريږي چې ځنګونه د ټولو برابر وي ) قسَم په هغه ذات چې د هغه په قبضه کې زما ساه ده بيشکه زه شيطان ګورم چې د ګډې (يا چيلى) د توربچي په شان د صفونو په خالي ګاه کې داخليږي .

( يعنى کله چې په صفونو کې فاصله وي نو شيطان د ګډې د توربچي په شکل باندې په دې کې ننوځي . (۱) ) .

(۱) وَالحَذَفُ : غَنَمٌ سُودٌ صِغَارٌ ، وَاحِدَتُهَا : حَذَفَةٌ ، وَفِي رِوَايَةٍ : « كَأَنَّهَا بَنَاتُ حَذَفٍ »، وَيُرْوٰى « أَوْلَادُ الحَذَفِ » قِيلَ : مَا أَوْلَادُ الحَذَفِ ؟ قَالَ : ضَأْنٌ سُودٌ جُرْدٌ صِغَارٌ تَكُونُ بِالْيَمَنِ. شرح السنة للبغوي بَابُ تَسْوِيَةِ الصَّفِ وَإِتْمَامِهِ ۳۶۹/۳ في تشريح رقم الحديث ۸۱۳ .

# جمعه په چا واجب ده ؟

فقهاء كرامو ليكلي دي چې په هر عاقل، بالغ، آزاد نارينه مسلمان باندې جمعې ته حاضريدل واجب دي (۱)، خو چې ده ته څه شرعي عُذر نه وي، البته كه ده ته شرعي عُذر وُ نو بيا د مجبوريت په وجه ده ته اجازت شته چې جمعې ته حاضر نه شي. (۲)

---

(۱) وَفِي الْبَدَائِعِ تَجِبُ عَلَى الرِّجَالِ الْعُقَلَاءِ الْبَالِغِينَ الْأَحْرَارِ الْقَادِرِينَ عَلَى الصَّلَاةِ بِالْجَمَاعَةِ مِنْ غَيْرِ حَرَجٍ. الفتاوى الهندية الْبَابُ الْخَامِسُ فِي الْإِمَامَةِ وَفِيهِ سَبْعَةُ فُصُولٍ الْفَصْلُ الْأَوَّلُ فِي الْجَمَاعَةِ ۱ / ۸۲ طبع دار الفكر بيروت

فَصْلٌ بَيَانُ مَنْ تَجِبُ عَلَيْهِ الْجَمَاعَةُ. وَأَمَّا بَيَانُ مَنْ تَجِبُ عَلَيْهِ الْجَمَاعَةُ: فَالْجَمَاعَةُ إِنَّمَا تَجِبُ عَلَى الرِّجَالِ، الْعَاقِلِينَ، الْأَحْرَارِ، الْقَادِرِينَ عَلَيْهَا مِنْ غَيْرِ حَرَجٍ، فَلَا تَجِبُ عَلَى النِّسَاءِ، وَالصِّبْيَانِ، وَالْمَجَانِينِ، وَالْعَبِيدِ، وَالْمُقْعَدِ، وَمَقْطُوعِ الْيَدِ، وَالرِّجْلِ مِنْ خِلَافٍ، وَالشَّيْخِ الْكَبِيرِ الَّذِي لَا يَقْدِرُ عَلَى الْمَشْيِ، وَالْمَرِيضِ. (أَمَّا) النِّسَاءُ فَلِأَنَّ خُرُوجَهُنَّ إِلَى الْجَمَاعَاتِ فِتْنَةٌ. (وَأَمَّا) الصِّبْيَانُ وَالْمَجَانِينُ فَلِعَدَمِ أَهْلِيَّةِ وُجُوبِ الصَّلَاةِ فِي حَقِّهِمْ. وَأَمَّا الْعَبِيدُ فَلِدَفْعِ الضَّرَرِ عَنْ مَوَالِيهِمْ بِتَعْطِيلِ مَنَافِعِهِمِ الْمُسْتَحَقَّةِ. وَأَمَّا الْمُقْعَدُ وَمَقْطُوعُ الْيَدِ وَالرِّجْلِ مِنْ خِلَافٍ، وَالشَّيْخُ الْكَبِيرُ فَلِأَنَّهُمْ لَا يَقْدِرُونَ عَلَى الْمَشْيِ، وَالْمَرِيضُ لَا يَقْدِرُ عَلَيْهِ إِلَّا بِحَرَجٍ. (وَأَمَّا) الْأَعْمَى فَأَجْمَعُوا عَلَى أَنَّهُ إِذَا لَمْ يَجِدْ قَائِدًا لَا تَجِبُ عَلَيْهِ، وَإِنْ وَجَدَ قَائِدًا فَكَذَلِكَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، وَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ وَمُحَمَّدٍ تَجِبُ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع فَصْلٌ بَيَانُ مَنْ تَجِبُ عَلَيْهِ الْجَمَاعَةُ ۱ / ۱۵۵ طبع دار الكتب العلمية

(۲) وَتَسْقُطُ الْجَمَاعَةُ بِالْأَعْذَارِ حَتَّى لَا تَجِبَ عَلَى الْمَرِيضِ وَالْمُقْعَدِ وَالزَّمِنِ وَمَقْطُوعِ الْيَدِ وَالرِّجْلِ مِنْ خِلَافٍ وَمَقْطُوعِ الرِّجْلِ وَالْمَفْلُوجِ الَّذِي لَا يَسْتَطِيعُ الْمَشْيَ وَالشَّيْخِ الْكَبِيرِ الْعَاجِزِ وَالْأَعْمَى عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى. وَالصَّحِيحُ أَنَّهَا تَسْقُطُ بِالْمَطَرِ وَالطِّينِ وَالْبَرْدِ الشَّدِيدِ وَالظُّلْمَةِ الشَّدِيدَةِ. كَذَا فِي التَّبْيِينِ وَتَسْقُطُ بِالرِّيحِ فِي اللَّيْلَةِ الْمُظْلِمَةِ، وَأَمَّا بِالنَّهَارِ فَلَيْسَتِ الرِّيحُ عُذْرًا، وَكَذَا إِذَا كَانَ يُدَافِعُ الْأَخْبَثَيْنِ أَوْ أَحَدَهُمَا أَوْ كَانَ إِذَا خَرَجَ يَخَافُ أَنْ يَحْبِسَهُ غَرِيمُهُ فِي الدَّيْنِ أَوْ يُرِيدُ سَفَرًا وَأُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَيَخْشَى أَنْ تَفُوتَهُ الْقَافِلَةُ أَوْ كَانَ قَيِّمًا لِمَرِيضٍ أَوْ يَخَافُ ضَيَاعَ مَالِهِ، وَكَذَا إِذَا حَضَرَ الْعَشَاءُ وَأُقِيمَتْ صَلَاتُهُ وَنَفْسُهُ تَتُوقُ إِلَيْهِ، وَكَذَا إِذَا حَضَرَ الطَّعَامُ فِي غَيْرِ وَقْتِ الْعِشَاءِ وَنَفْسُهُ تَتُوقُ إِلَيْهِ. كَذَا فِي السِّرَاجِ الْوَهَّاجِ. الفتاوى الهندية الْبَابُ الْخَامِسُ فِي الْإِمَامَةِ وَفِيهِ سَبْعَةُ فُصُولٍ الْفَصْلُ الْأَوَّلُ فِي الْجَمَاعَةِ ۱ / ۸۳ طبع دار الفكر بيروت، الدرالمختار مع رد المحتار كتاب الصلاة باب الامامة ۲ / ۲۹۰ _ ۲۹۳.

( **نوټ** : د جَمعې د صحیح کیدلو دولس شرطونه پوره په تفصیل سره مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله په جنت کالي کې لیکلي دي ، هلته یې اوګوره. (۱) )

## ښځو د پاره په کور کې د مونځ کولو ثواب زیات دی

ښځو د پاره جَمعې ته حاضریدل ضروري ندي ، بلکه د دوی د پاره په خپل کور کې د پَردې سره مونځ کولو کې ثواب زیات دی. (۲)

## په ځنې حالاتو کې جَمعې ته حاضریدل ضروري ندي

په اسلامي شریعت کې د مسلمانانو د حقیقي عُذرونو لِحاظ ساتل شوی دی ، ځکه په دِین کې تَنګي نشته ، الله تعالی فرمایي :

﴿ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ ﴾. (۳)

ترجمه : او الله تعالی په تاسو باندې د دِین په باره کې څه تَنګي نده اِیخی.

همدارنګې الله تعالی په چا باندې د خپل طاقت نه زیات تکلیف هم نه ږدي ، ربِّ کریم فرمایي :

﴿ لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ﴾. (۴)

ترجمه : الله تعالی هیچا ته د هغه د طاقت نه زیات تکلیف نه ورکوي.

لهذا په شریعت کې د حقیقي عُذرونو په وخت جَمعې ته حاضریدل ضروري ندي.

---

(۱) دجنت کالي پرلسمه حصه.

(۲) قوله: "ولا يحضرون الجماعات" لقوله صلى الله عليه وسلم: « صَلَاةُ الْمَرْأَةِ فِي بَيْتِهَا أَفْضَلُ مِنْ صَلَاتِهَا فِي حُجْرَتِهَا، وَصَلَاتُهَا فِي مَخْدَعِهَا أَفْضَلُ مِنْ صَلَاتِهَا فِي بَيْتِهَا . سنن ابي داود رقم الحديث ٥٧٠ بَابُ مَا جَاءَ فِي خُرُوجِ النِّسَاءِ إِلَى الْمَسْجِدِ » فالأفضل لها ما كان أستر لها لا فرق بين الفرائض وغيرها كالتراويح . حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح فصل في بيان الأحق بالإمامة ١ / ٣٠٢ طبع دار الكتب العلمية بيروت لبنان،
الدرالمختار مع المحتار ١ /٥٦٦ باب الامامة .

(۳) سورة الحج آية ٧٨ .

د هغې نه يو څو عذرونو درته بيانوم

## ١ . د سختې يخنۍ او باران په وخت

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دى ، د حضرت عبدالله بن عُمر رضي الله عنهما نه روايت دى چې دوى يوه شپه د مانځه د پاره آذان اوكړو ، دا داسې شپه وه چې ډيره يَخه او د تېزې هوا واله وه ، بيا يې د آذان نه روستو پخپله ( اِعلان اوكړو او دايې ) اوفرمايل :

أَلَا صَلُّوا فِي الرِّحَالِ .

خبردار ، اې خلقو ! تاسو په خپلو كورونو كې مونځ اوكړئ .

بيا يې وفرمايل :

إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْمُرُ الْمُؤَذِّنَ إِذَا كَانَتْ لَيْلَةٌ ذَاتُ بَرْدٍ وَمَطَرٍ يَقُوْلُ : أَلَا صَلُّوا فِي الرِّحَالِ . (١)

د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم طريقه دا وه چې كله به د يَخنۍ او باران واله شپه وه نو دوى به مُؤذِن ته حكم اوكړو چې د آذان نه پس په اُوچت آواز سره دا هم ووايه : خبردار ، اې خلقو ! تاسو په خپلو كورونو كې مونځ اوكړئ .

**فائده** : ددې حديث نه معلومه شوه چې كله داسې تېزه هوا وي چې په هغې كې جَمعې ته تلل ممكن نه وي ، يا سخت باران وي ، يا په لاره كې دومره خټې وي چې د غورځيدو خطره وي نو مسلمان ته اِجازت شته چې دې په خپل كور كې مونځ اوكړي ، او جَمعې ته حاضر نشي .

---

(١) عَنْ نَافِعٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ رضي الله عنهما أَذَّنَ بِالصَّلَاةِ فِي لَيْلَةٍ ذَاتِ بَرْدٍ وَ رِيْحٍ ، ثُمَّ قَالَ : أَلَا صَلُّوا فِي الرِّحَالِ ، ثُمَّ قَالَ : إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْمُرُ الْمُؤَذِّنَ إِذَا كَانَتْ لَيْلَةٌ ذَاتُ بَرْدٍ وَمَطَرٍ يَقُوْلُ : « أَلَا صَلُّوا فِي الرِّحَالِ » . صحيح البخاري بَابُ الرُّخْصَةِ فِي الْمَطَرِ وَالْعِلَّةِ أَنْ يُصَلِّيَ فِي رَحْلِهِ رقم الحديث ٦٦٦ ، صحيح مسلم رقم الحديث ٢٢ ( ٦٩٧ ) باب الصلاة في الرحال في المطر ، و رقم ٢٣ ( ٦٩٧ ) ، سنن ابي داؤد رقم ١٠٦٣ باب التخلف عن الجماعة في الليلة الباردة او الليلة المطيرة ، سنن النسائي رقم ٦٥٤ ، مشكاة المصابيح باب الجماعة وفضلها رقم الحديث ١٠٥ (٤)

# ۲ . چې کله خوراک حاضر شي او دې ډير اوږې وي

چې کله انسان ډير اوږې وي او ده ته خوراک راوړې شي ، او په دې وخت کې د جَمعې د مانځه وخت هم وي نو دې به اول خوراک کوي بيا به روستو مونځ کوي .

ځکه که اول ده ته د جَمعې سره د مونځ کولو حکم اوکړې شي نو دا قوي اِمکان دی چې په مانځه کې به د ده ټوله تَوَجُهٔ همدې خوراک ته وي ، مونځ طرف ته به يې هيڅ تَوَجُهٔ نه وي، چې د دې په وجه به په مانځه کې د ده حُضورِ قلبي او خُشوع پاتې نشي ، نو ځکه شريعت ده ته اول د دې خوراک کولو حکم کړی .

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی ، د حضرت عبدالله بن عُمر رضي الله عنهما نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي :

إِذَا وُضِعَ عَشَاءُ أَحَدِكُمْ وَأُقِيمَتِ الصَّلَاةُ ، فَابْدَءُوا بِالْعَشَاءِ وَلَا يَعْجَلْ حَتَّى يَفْرُغَ مِنْهُ .

کله چې په تاسو کې د چا مخې ته د ماسخوتن روټۍ ( ډوډۍ ) کيښودې شي او په دې وخت کې د جَمعې مونځ اُودريږي نو اول تاسو د ماسخوتن په روټۍ خوړلو باندې شروع اوکړئ ، او دا دې په روټۍ خوړلو باندې تادي ( جَلتي ) نه کوي ، تر دې پورې چې دې په اِطمينان سره د دينه فارغ شي .

د حضرت عبدالله بن عُمر رضي الله عنهما په باره کې نقل دي : کله به چې داسې اِتفاق اوشو چې ابن عُمر ﷺ ته به روټۍ کيښودې شوه ، او په جُمات کې به جَمعه اُودريده :

فَلَا يَأْتِيهَا حَتَّى يَفْرُغَ ، وَ إِنَّهُ لَيَسْمَعُ قِرَاءَةَ الْإِمَامِ . (۱)

---

(۱) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « إِذَا وُضِعَ عَشَاءُ أَحَدِكُمْ وَأُقِيمَتِ الصَّلَاةُ ، فَابْدَءُوا بِالْعَشَاءِ وَلَا يَعْجَلْ حَتَّى يَفْرُغَ مِنْهُ » وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ ﷺ : « يُوضَعُ لَهُ الطَّعَامُ ، وَتُقَامُ الصَّلَاةُ ، فَلَا يَأْتِيهَا حَتَّى يَفْرُغَ ، وَ إِنَّهُ لَيَسْمَعُ قِرَاءَةَ الْإِمَامِ » . صحيح البخاري بَابٌ: إِذَا حَضَرَ الطَّعَامُ وَأُقِيمَتِ الصَّلَاةُ رقم الحديث ۶۷۳ ، صحيح مسلم باب كراهة الصلاة بحضرة الطعام .. رقم الحديث ۶۶ ( ۵۵۹ ) ، سنن ابي داؤد رقم الحديث ۳۷۵۷ ، مشكاة المصابيح باب الجماعة وفضلها الفصل الاول رقم الحديث ۱۰۵۶ ( ۵ ) .

دې به جَمعې ته نه راتلو تر دې پورې چې دې به د خوراک نه فارغ شو (نو بيا به مانځه ته لاړو)، حالانکه ده به په خپله د اِمام قراءت اَوريدلو.

**فائده** حضرت عبدالله بن عُمر رضي الله عنهما اګر چې د شريعت پُوخ پابند او عاشق وُ ليکن ده به چې دا کار کولو نو دا ځکه چې دوی د پيغمبر عليه السلام نه دا مذکوره حديث اَوريدلې وُ.

خو دا حُکم هلته دی چې کله دا کس اُوږې وي او دې پوهيږي چې که زه د اُولږې په حالت کې مونځ کوم نو ټوله توَجّه به مې خوراک طرف ته وي، او مونځ به په اِطمينان او سکون سره اُونکړې شم، نو بيا به دې اول خوراک کوي.

همدارنګې چې کله روټی راوړې شي او په دې وخت کې جَمعه هم تياره وي، اوس که دې جَمعې له ځي دا تَلکارې يَخيږي او د ده سره ددې د ګرمولو څه سِستَم هم نه وي نو بيا هم ده ته اِجازت شته چې دې اول خوراک اوکړي او بيا مونځ اوکړي.

خو شرط دا دی چې د خوراک نه روستو دده سره دومره وخت پاتې کيږي چې دې په هغې کې دا مونځ اوکړې شي، او مونځ ورنه قضاء نشي.

## ۳. د تشو مِتيازو يا اُودس ماتي د تقاضې په وخت

۱. د مسلم شريف حديث دی، حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اَوريدلي دي، چې دوی فرمايل:

لَا صَلَاةَ بِحَضْرَةِ الطَّعَامِ، وَلَا هُوَ يُدَافِعُهُ الْأَخْبَثَانِ. (۱)

چې خوراک حاضر شي نو بيا کامِل مونځ نشته، همدارنګې چې کله دوه خَبِيث شيان (يعنی تشې مِتيازې او غټ اَودس ماتې) دده د مونځ حُضورِ قلبي ختم کړي نو بيا هم د انسان مونځ کامِل نه وي.

(۱) صحيح مسلم بَابُ كَرَاهَةِ الصَّلَاةِ بِحَضْرَةِ الطَّعَامِ الَّذِي يُرِيدُ أَكْلَهُ فِي الْحَالِ وَكَرَاهَةِ الصَّلَاةِ مَعَ مُدَافَعَةِ الْأَخْبَثَيْنِ رقم الحديث ٦٧ (٥٦٠)، مشكاة المصابيح باب الجماعة وفضلها الفصل الاول رقم الحديث ١٠٥٧ (٦)، صحيح ابن حبان رقم الحديث ٢٠٧٣، شرح السنة للبغوي رقم الحديث ٨٠١.

علامه نووي رحمه الله ددې تشريح داسې کړې : چې کله د چا مخې ته خوراک راوړې شي ، او دده خوراک ته خواهِش هم وي ، يا ده ته تشې مِتيازې يا ډک اَودس ماتې تېنګ وي ، يا دده په خېټه کې هوا ( باد ) وي ، يا اَلتِي ( کانګې ) وَرځي نو په دې ټولو صورتونو کې مونځ کول مکروهه دي .

ځکه په دې صورتونو کې دده حُضورِ قلبي او خُشوع نه پاتې کيږي نو مونځ په کې کامِل نه پاتې کيږي ، بلکه انسان ته په کار دي چې اول دا کارونه سَر ته اُورسوي او بيا مونځ اوکړي . خو ددې د پاره شرط دادی چې په وخت کې وُسعت او ګُنجائش وي ، ځکه که وخت تَنګ وُ ، او د مونځ قضاء کيدو خطره وه نو بيا اول مونځ په کار دی . (۱)

۲ . د ترمذي شريف حديث دی ، حضرت عبدالله بن اَرقم ﷺ فرمايي چې ما د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم نه اَوريدلي دي چې دوی فرمايل :

إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ وَوَجَدَ أَحَدُكُمُ الْخَلَاءَ فَلْيَبْدَأْ بِالْخَلَاءِ . (۲)

---

(۱) مظاهر حق شرح مشكوة ج۲ باب الجماعة وفضلها الفصل الاول في تشريح الحديث رقم ٦ .
همدا مضمون د مشکوة شريف په دې حديث کې هم ذکر دی ، حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم صحابه کرامو ته وفرمايل : لَا تُؤَخِّرُوا الصَّلَاةَ لِطَعَامٍ وَلَا لِغَيْرِهِ . رَوَاهُ فِي شرح السنة ، مشكوة المصابيح باب الجماعة وفضلها الفصل الثاني رقم الحديث ۱۰۷۱ ( ۲۰ ) .
تاسو مونځ د خوراک يا بل څيز د پاره مه روستو کوئ . يعنی چې کله خوراک حاضر وي او په دې باندې مشغوليدلو سره د مانځه د قضاء کيدو خطره وي نو بيا مونځ مه روستو کوئ ، او که په وخت کې ګُنجائش وُ ، او دده د خوراک خواهِش هم وُ نو بيا اول خوراک په کار دی ، بيا مونځ په کار دی . په دې طريقې سره اوس په دواړه قِسمه احاديثو کې تطبيق هم پيدا شو ، او تعارض ختم شو . مظاهر حق ج۲ باب الجماعة وفضلها الفصل الثاني .
(۲) سنن الترمذي بَابُ مَا جَاءَ إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ وَوَجَدَ أَحَدُكُمُ الخَلَاءَ فَلْيَبْدَأْ بِالخَلَاءِ رقم الحديث ۱۴۲ ، وقال الترمذي : هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ . مشكوة المصابيح باب الجماعة وفضلها الفصل الثاني رقم الحديث ۱۰۶۹ ( ۱۸ ) .
وفي رواية : عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْأَرْقَمِ ، أَنَّهُ خَرَجَ حَاجًّا ، أَوْ مُعْتَمِرًا وَمَعَهُ النَّاسُ ، وَهُوَ يَؤُمُّهُمْ . فَلَمَّا كَانَ ذَاتَ يَوْمٍ أَقَامَ الصَّلَاةَ . صَلَاةَ الصُّبْحِ . ثُمَّ قَالَ : لِيَتَقَدَّمْ أَحَدُكُمْ وَذَهَبَ إِلَى الخَلَاءِ . فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . يَقُولُ : « إِذَا أَرَادَ أَحَدُكُمْ أَنْ يَذْهَبَ الخَلَاءَ وَقَامَتِ الصَّلَاةُ فَلْيَبْدَأْ بِالخَلَاءِ » . سنن ابي داؤد بَابُ أَيُصَلِّي الرَّجُلُ وَهُوَ حَاقِنٌ ؟ رقم الحديث ۸۸ ، صحيح ابن خزيمة رقم الحديث ۱۶۵۲ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۵۰۲۸ ، مشكوة المصابيح رقم ۱۰۶۹ ( ۱۸ ) ، وكذا رواه مالک والنسائي .

كله چې جَمعه اُودريږي او په تاسو كې چاته د اَودس ماتي ضرورت وي نو پكار ده چې دي اول اَودس ماتي ته لاړ شي ( اګر چې دده نه جَمعه فوت شي ).

## ٤ . نور شرعي عُذرونه

ددې مذكوره ځايونو نه علاوه فقهاؤ نور ځايونه او عُذرونه هم ذِكر كړي چې د هغې په وجه په جَمعه كې شِركت ضروري نه دى (١) ، (٢) ، هغه عُذرونه دا دي :

د انسان سره د عورت پټولو د پاره كپړه نه وي . (٣)

---

(١) فَلَا تَجِبُ عَلَى النِّسَاءِ ، وَالصِّبْيَانِ ، وَالْمَجَانِيْنِ ، وَالْعَبِيْدِ ، وَالْمُقْعَدِ ، وَمَقْطُوْعِ الْيَدِ ، وَالرِّجْلِ مِنْ خِلَافٍ ، وَالشَّيْخِ الْكَبِيْرِ الَّذِيْ لَا يَقْدِرُ عَلَى الْمَشْيِ ، وَالْمَرِيْضِ .
(أَمَّا) النِّسَاءُ فَلِأَنَّ خُرُوْجَهُنَّ إِلَى الْجَمَاعَاتِ فِتْنَةٌ . (وَأَمَّا) الصِّبْيَانُ وَالْمَجَانِيْنُ فَلِعَدَمِ أَهْلِيَّةِ وُجُوْبِ الصَّلَاةِ فِيْ حَقِّهِمْ . وَأَمَّا الْعَبِيْدُ فَلِرَفْعِ الضَّرَرِ عَنْ مَوَالِيْهِمْ بِتَعْطِيْلِ مَنَافِعِهِمِ الْمُسْتَحَقَّةِ . وَأَمَّا الْمُقْعَدُ وَمَقْطُوْعُ الْيَدِ وَالرِّجْلِ مِنْ خِلَافٍ ، وَالشَّيْخُ الْكَبِيْرُ فَلِأَنَّهُمْ لَا يَقْدِرُوْنَ عَلَى الْمَشْيِ ، وَالْمَرِيْضُ لَا يَقْدِرُ عَلَيْهِ إِلَّا بِحَرَجٍ .
( وَأَمَّا ) الْأَعْمَى فَأَجْمَعُوْا عَلَى أَنَّهُ إِذَا لَمْ يَجِدْ قَائِدًا لَا تَجِبُ عَلَيْهِ ، وَإِنْ وَجَدَ قَائِدًا فَكَذَلِكَ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ ، وَعِنْدَ أَبِيْ يُوْسُفَ وَمُحَمَّدٍ تَجِبُ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع فَصْلٌ بَيَانُ مَنْ تَجِبُ عَلَيْهِ الْجَمَاعَةُ ١ / ١٥٥ طبع دار الكتب العلمية

(٢) وَتَسْقُطُ الْجَمَاعَةُ بِالْأَعْذَارِ حَتَّى لَا تَجِبَ عَلَى الْمَرِيْضِ وَالْمُقْعَدِ وَالزَّمِنِ وَمَقْطُوْعِ الْيَدِ وَالرِّجْلِ مِنْ خِلَافٍ وَمَقْطُوْعِ الرِّجْلِ وَالْمَفْلُوْجِ الَّذِيْ لَا يَسْتَطِيْعُ الْمَشْيَ وَالشَّيْخِ الْكَبِيْرِ الْعَاجِزِ وَالْأَعْمَى عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى وَالصَّحِيْحُ أَنَّهَا تَسْقُطُ بِالْمَطَرِ وَالطِّيْنِ وَالْبَرْدِ الشَّدِيْدِ وَالظُّلْمَةِ الشَّدِيْدَةِ . كَذَا فِي التَّبْيِيْنِ
وَتَسْقُطُ بِالرِّيْحِ فِي اللَّيْلَةِ الْمُظْلِمَةِ . وَأَمَّا بِالنَّهَارِ فَلَيْسَتِ الرِّيْحُ عُذْرًا ، وَكَذَا إِذَا كَانَ يُدَافِعُ الْأَخْبَثَيْنِ أَوْ أَحَدَهُمَا أَوْ كَانَ إِذَا خَرَجَ يَخَافُ أَنْ يَحْبِسَهُ غَرِيْمُهُ فِي الدَّيْنِ أَوْ يُرِيْدُ سَفَرًا وَأُقِيْمَتِ الصَّلَاةُ فَيَخْشَى أَنْ تَفُوْتَهُ الْقَافِلَةُ أَوْ كَانَ قَيِّمًا لِمَرِيْضٍ أَوْ يَخَافُ ضَيَاعَ مَالِهِ ، وَكَذَا إِذَا حَضَرَ الْعَشَاءُ وَأُقِيْمَتْ صَلَاتُهُ وَنَفْسُهُ تَتُوْقُ إِلَيْهِ ، وَكَذَا إِذَا حَضَرَ الطَّعَامُ فِيْ غَيْرِ وَقْتِ الْعِشَاءِ وَنَفْسُهُ تَتُوْقُ إِلَيْهِ . كَذَا فِي السِّرَاجِ الْوَهَّاجِ . الفتاوى الهندية الْبَابُ الْخَامِسُ فِي الْإِمَامَةِ وَفِيْهِ سَبْعَةُ فُصُوْلٍ الْفَصْلُ الْأَوَّلُ فِي الْجَمَاعَةِ ١ / ٨٣ طبع دار الفكر بيروت ، الدرالمختار مع رد المحتار كتاب الصلاة باب الامامة ٢ / ٢٩٠ _ ٢٩٣ .

(٣) عالمكيري ج ١ ص ٣٦ ، دجنت كالي پولسمه حصه .

سخت بيمار وي ، يا فالِج وهلې وي او جُمات ته نشي تللی ، يا ډير بُوډا وي او د کمزورتيا دوجې نشي تللی ، يا په سترګو باندې ړوند وي ، يا ګډ يا شَل وي ، يا لاس خپې يې کټ شوي وي ، يا داسې سخته يَخني وي چې جَمعې ته تللو سره ده ته بيماري پيدا کيږي يا زياتيږي ، يا په لاره کې ډيرې خټې وي ، يا شپه تياره وي او دده سره د رڼا څه انتظام نه وي ، يا د شپې په وخت سخته تيزه هوا چليږي ، يا د يو مريض په خدمت کې داسې مشغول وي چې دده جَمعې ته تللو سره مريض ته تکليف وي يا يريږي ، يا يې د سفر اراده وي او دا يَره ورسره وي چې که زه جَمعې ته لاړ شم نو قافله يا ګاډې رانه ځي ، يا جَمعې ته تللو سره دده د مال او اَسباب ضائع کيدو يا پټېدو خطره وي ، يا په لاره کې د دُشمن خطره وي .

همدارنګې که جَمعې ته د تللو په وجه د قرض خواه د طرفه د تکليف يَره وي او دده سره دومره روپۍ نه وي چې خپل قرض پرې خلاص کړي نو هم ده ته په کور کې د مونځ کولو اجازت شته .

(( **نوټ** : څه نور عذرونه هم علماؤ ذکر کړي ، د اهلِ علمو د فائدې د پاره مې هغه هم درې (۳) صفحې روستو په عربې کې رانقل کړي ، هلته يې اوګوره . ابوالشمس عفي عنه ))

## بعضې خلق جَمعې ته د راتلو نه مَنع کول جائز دي

**بَدبُوداره څيز خوړونکې** : څوک چې داسې بَدبوداره څيز اُوخوري چې د هغې په وجه بيا نورو خلقو ته تکليف رسي نو داسې کس هم د جُمات راتلو نه مَنع کول جائز دي .

نبي عليه السلام هم کچه (اُومَه) اُوګه يا کچه پياز خوړونکې جُمات ته د راتلو نه منع کړې ؤ ، چې په دې سره نورو خلقو او فرښتو ته تکليف رسي :

د مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ اَكَلَ مِنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ الْمُنْتِنَةِ فَلَا يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا ، فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَأَذّٰى مِمَّا يَتَأَذّٰى

مِنْهُ الْإِنْسُ. (۱)

څوک چې ددې بَدبُوداره اوبي ( کچه پیاز یا کچه اوګې ) نه خوراک اوکړي نو دا دې زمونږ جُمات ته نه راځي ځکه فرښتو ته هم د هغه شیانو نه تکلیف وي د کومو نه چې انسانانو ته تکلیف وي.

امام نووي رحمه الله ددې حدیث ذکر کولو نه روستو لیکلي : ... هٰذَا تَصْرِيحٌ بِنَهْيِ مَنْ أَكَلَ الثُّومَ وَنَحْوَهُ عَنْ دُخُولِ كُلِّ مَسْجِدٍ وَهٰذَا مَذْهَبُ الْعُلَمَاءِ كَافَّةً. (۲)

**فايده** : په دې حدیث کې نبي علیه السلام د کچه ( اُوم ) پیاز او کچه اوګې خوړونکې کس جُمات ته د راتلو نه منع کړو ، او وجه یې دا بیان کړه چې لکه څرنګې یو سَلیمُ الطَّبع انسان ته د بَدبُویي نه ضرر رسي نو همدغه شان فرښتو ته هم د بَدبویۍ نه تکلیف رَسي.

---

(۱) . صحيح مسلم بَابُ نَهْيِ مَنْ أَكَلَ ثُومًا أَوْ بَصَلًا أَوْ كُرَّاثًا أَوْ نَحْوَهَا رقم الحديث ۷۲ - (۵۶۳). صحيح البخاري بَابُ مَا جَاءَ فِي الثُّومِ النِّيِّ وَالبَصَلِ وَالكُرَّاثِ رقم الحديث ۸۵۳ ، مشكوة المصابيح رقم الحديث ۷۰۷ (۱۹) .

(فلا يقربنّ مسجدنا) لا يحضر مواضع صلاة الجماعة حتى تذهب عنه الرائحة الكريهة . تعليق مصطفى البغا على صحيح البخاري في تشريح حديث ۸۵۳ .

وفي رواية : قَالَ عليه السلام : « مَنْ أَكَلَ ثُومًا أَوْ بَصَلًا، فَلْيَعْتَزِلْنَا أَوْ لِيَعْتَزِلْ مَسْجِدَنَا، وَلْيَقْعُدْ فِي بَيْتِهِ » . صحيح مسلم بَابُ نَهْيِ مَنْ أَكَلَ ثُومًا أَوْ بَصَلًا أَوْ كُرَّاثًا أَوْ نَحْوَهَا رقم الحديث ۷۳ (۵۶۴) .

وفي رواية : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : " مَنْ أَكَلَ مِنْ هَذِهِ الْبَقْلَةِ، الثُّومِ وَقَالَ مَرَّةً : مَنْ أَكَلَ الْبَصَلَ وَالثُّومَ وَالْكُرَّاثَ فَلَا يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا ، فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَتَأَذَّى مِمَّا يَتَأَذَّى مِنْهُ بَنُو آدَمَ " . صحيح مسلم بَابُ نَهْيِ مَنْ أَكَلَ ثُومًا أَوْ بَصَلًا أَوْ كُرَّاثًا أَوْ نَحْوَهَا رقم الحديث ۷۴ - (۵۶۴) .

وفي رواية : عَنْ مَعْدَانَ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رضي الله عنه خَطَبَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، فَذَكَرَ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَذَكَرَ أَبَا بَكْرٍ رضي الله عنه قَالَ ........ ثُمَّ إِنَّكُمْ، أَيُّهَا النَّاسُ تَأْكُلُونَ شَجَرَتَيْنِ لَا أَرَاهُمَا إِلَّا خَبِيثَتَيْنِ، هَذَا الْبَصَلَ وَالثُّومَ لَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا وَجَدَ رِيحَهُمَا مِنَ الرَّجُلِ فِي الْمَسْجِدِ، أَمَرَ بِهِ فَأُخْرِجَ إِلَى الْبَقِيعِ، فَمَنْ أَكَلَهُمَا فَلْيُمِتْهُمَا طَبْخًا . صحيح مسلم بَابُ نَهْيِ مَنْ أَكَلَ ثُومًا أَوْ بَصَلًا أَوْ كُرَّاثًا أَوْ نَحْوَهَا رقم ۷۸ (۵۶۷) .

(۲) شرح النووي على مسلم ۵/۴۸ باب نَهْيِ مَنْ أَكَلَ ثُومًا أَوْ بَصَلًا أَوْ كُرَّاثًا أَوْ نَحْوَهَا .

او ځمات ته چونکه فرښتې ډيرې ځي راځي ، يا خاصکې د مونځ ګزارو سره خو ډيرې شريکې وي نو په بَدبويۍ سره دوی ته ضَرَر رسول ندي په کار .

البته که پياز او اوګه پاخه شي نو په دې سره ددې بَدبُويي ختميږي لهذا ددې خوړلو نه روستو ځمات ته تلل صحيح دي .

## چې دده د خُولې يا جامو نه بَدبويي ځي

همدارنګې څوک چې د خُلې صفائي نه کوي او د خُلې نه يې داسې بَدبُويي ځي چې نورو خلقو ته ورنه تکليف رسي ، يا قصاب ، يا د کبانو خرڅوونکې (ماهي فروش) چې خپلې جامې بدلې نکړي او د دوی د بَدبُويۍ په وجه نورو خلقو ته تکليف رَسي نو داسې خلق هم د جَمعې نه منع کول جائز دي . (۱)

علامه شامي رحمه الله هم ددې تذکره کړې . (۲)

---

(۱) حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباري کې ليکلي دي :
وَأَلْحَقَ بَعْضُهُمْ بِذٰلِكَ مَنْ بِفِيْهِ بَخَرٌ أَوْ بِهِ جُرْحٌ لَهُ رَائِحَةٌ وَ زَادَ بَعْضُهُمْ فَأَلْحَقَ أَصْحَابَ الصَّنَائِعِ كَالسَّمَّاكِ وَالْعَاهَاتِ كَالْمَجْذُوْمِ . فتح الباري شرح صحيح البخاري لابن حجر رحمه الله ۲ / ۳۴۴ قَوْلُهُ بَابُ مَا جَاءَ فِي الثُّوْمِ دار المعرفة بيروت . فتاوی دارالعلوم ديوبند ج۳ ص ۵۰ باب الجماعة والامامة طبع دارالاشاعت .

(۲) وَأَكْلُ نَحْوِ ثُوْمٍ ، وَيُمْنَعُ مِنْهُ . الدر المختار ۱/۶۶۱ فُرُوعٌ أَفْضَلُ الْمَسَاجِدِ ..

وفي رد المحتار : ( قَوْلُهُ وَأَكْلُ نَحْوِ ثُوْمٍ ) أَيْ كَبَصَلٍ وَنَحْوِهِ مِمَّا لَهُ رَائِحَةٌ كَرِيْهَةٌ لِلْحَدِيْثِ الصَّحِيْحِ فِي النَّهْيِ عَنْ قُرْبَانِ آكِلِ الثُّوْمِ وَالْبَصَلِ الْمَسْجِدَ . قَالَ الْإِمَامُ الْعَيْنِيُّ فِي شَرْحِهِ عَلَى صَحِيْحِ الْبُخَارِيِّ قُلْتُ : عِلَّةُ النَّهْيِ أَذَى الْمَلَائِكَةِ وَأَذَى الْمُسْلِمِيْنَ وَلَا يَخْتَصُّ بِمَسْجِدِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ، بَلِ الْكُلُّ سَوَاءٌ لِرِوَايَةِ مَسَاجِدِنَا بِالْجَمْعِ ، خِلَافًا لِمَنْ شَذَّ ، وَيَلْحَقُ بِمَا نَصَّ عَلَيْهِ فِي الْحَدِيْثِ كُلُّ مَا لَهُ رَائِحَةٌ كَرِيْهَةٌ مَأْكُولًا أَوْ غَيْرَهُ ، وَإِنَّمَا خَصَّ الثُّومَ هُنَا بِالذِّكْرِ وَفِي غَيْرِهِ أَيْضًا بِالْبَصَلِ وَالْكُرَّاثِ لِكَثْرَةِ أَكْلِهِمْ لَهَا ، وَكَذٰلِكَ أَلْحَقَ بَعْضُهُمْ بِذٰلِكَ مَنْ بِفِيْهِ بَخَرٌ أَوْ بِهِ جُرْحٌ لَهُ رَائِحَةٌ ، وَكَذٰلِكَ الْقَصَّابُ ، وَالسَّمَّاكُ ، وَالْمَجْذُوْمُ وَالْأَبْرَصُ أَوْلَى بِالْإِلْحَاقِ ...
وَقَوْلُهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ « وَلْيَقْعُدْ فِي بَيْتِهِ » صَرِيْحٌ فِي أَنَّ أَكْلَ هٰذِهِ الْأَشْيَاءِ عُذْرٌ فِي التَّخَلُّفِ عَنِ الْجَمَاعَةِ . وَأَيْضًا هُنَا عِلَّتَانِ : أَذَى الْمُسْلِمِيْنَ وَأَذَى الْمَلَائِكَةِ ، فَبِالنَّظَرِ إِلَى الْأُولَى يُعْذَرُ فِي تَرْكِ الْجَمَاعَةِ وَحُضُوْرِ الْمَسْجِدِ ، رد المحتار على الدر المختار ۱/۶۶۱ فُرُوعٌ أَفْضَلُ الْمَسَاجِدِ طبع دار الفكر بيروت

## په جُمات کې شر و فساد جوړوونکې:

کوم کس چې په جُمات کې شَر و فساد جوړوي ، مونځ ګزارو ته تکليف رسوي ، او دده په وجه په جُمات کې جګړه جوړيږي ، نو داسې سړي د جَمعې نه منع کول جائز دي (۱)

همدارنګې نبي عليه السلام هغه ښځې جُمات ته د راتلو نه منع کړې وی کومو به چې جُمات ته د راتلو په وخت خُوشبو لګوله ، ځکه په دې کې د فِتنې خطره ده . (۲)

**نوټ**: که يو کس د عُذر يا بيمارۍ په وجه داسې څيز خوري چې د هغې بُويي خراب وي نو بيا دا کس معذوره دی ، داسې کس جُمات ته راتلې شي . (۳)

---

(۱) وَكَذَا كُلُّ مُؤْذٍ وَلَوْ بِلِسَانِهِ. الدر المختار ۱/۶۶۱ فُرُوعٌ أَفْضَلُ الْمَسَاجِدِ..

وفي رد المحتار ........ وَالْحَقَ بِالْحَدِيثِ كُلُّ مَنْ آذَى النَّاسَ بِلِسَانِهِ. وَبِهِ أَفْتَى ابْنُ عُمَرَ وَهُوَ أَصْلٌ فِي نَفْيِ كُلِّ مَنْ يَتَأَذَّى بِهِ. رد المحتار على الدر المختار ۱/۶۶۱ فُرُوعٌ أَفْضَلُ الْمَسَاجِدِ طبع دار الفكر بيروت

حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباري کې ليکلي دي :

وَأَلْحَقَ بَعْضُهُمْ بِذَلِكَ ..... مَنْ يُؤْذِي النَّاسَ بِلِسَانِهِ. فتح الباري شرح صحيح البخاري لابن حجر رحمه الله ۲ / ۳۴۴ قَوْلُهُ بَابُ مَا جَاءَ فِي الثُّومِ دار المعرفة بيروت . فتاوى دارالعلوم ديوبند ج۳ ص ۵۰ باب الجماعة والامامة طبع دارالاشاعت .

(۲) قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « أَيُّمَا امْرَأَةٍ أَصَابَتْ بَخُورًا فَلَا تَشْهَدْ مَعَنَا الْعِشَاءَ الْآخِرَةَ ». صحيح مسلم رقم الحديث ۱۴۳ (۴۴۴) بَابُ خُرُوجِ النِّسَاءِ إِلَى الْمَسَاجِدِ إِذَا لَمْ يَتَرَتَّبْ عَلَيْهِ فِتْنَةٌ، وَأَنَّهَا لَا تَخْرُجُ مُطَيَّبَةً . مشكاة المصابيح رقم ۱۰۶۱ (۱۰) بَابُ الْجَمَاعَةِ وَفَضْلِهَا اَلْفَصْلُ الأول. فتاوى دارالعلوم ديوبند ج۳ ص ۵۰ باب الجماعة والامامة

(۳) وَلَا يَبْعُدُ أَنْ يُعْذَرَ الْمَعْذُورُ بِأَكْلِ مَا لَهُ رِيحٌ كَرِيهَةٌ. لِمَا فِي صَحِيحِ ابْنِ حِبَّانَ عَنِ « الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ انْتَهَيْتُ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَجَدَ مِنِّي رِيحَ الثُّومِ فَقَالَ: مَنْ أَكَلَ الثُّومَ ؟ فَأَخَذْتُ يَدَهُ فَأَدْخَلْتُهَا فَوَجَدَ صَدْرِي مَعْصُوبًا. فَقَالَ: إِنَّ لَكَ عُذْرًا » وَفِي رِوَايَةِ الطَّبَرَانِيِّ فِي الْأَوْسَطِ « اشْتَكَيْتُ صَدْرِي فَأَكَلْتُهُ » وَفِيهِ: فَلَمْ يُعَنِّفْهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ....

أَقُولُ: كَوْنُهُ يُعْذَرُ بِذَلِكَ يَنْبَغِي تَقْيِيدُهُ بِمَا إِذَا أَكَلَ ذَلِكَ بِعُذْرٍ أَوْ أَكَلَ نَاسِيًا قُرْبَ دُخُولِ وَقْتِ الصَّلَاةِ لِئَلَّا يَكُونَ مُبَاشِرًا لِمَا يَقْطَعُهُ عَنِ الْجَمَاعَةِ بِصُنْعِهِ. رد المحتار على الدر المختار ۱/۶۶۱ فُرُوعٌ أَفْضَلُ الْمَسَاجِدِ طبع دار الفكر بيروت .

# د جمعې پرېښودو نور عذرونه

**نوټ**: د جمعې پرېښودو عُذرونه مخکې ذکر شو ، صرف د اهل علمو د فائدې د پاره د دُرمختار او شامي عبارت رانقل کوم

په در مختار کې ذکر دي :

(فَلَا تَجِبُ عَلَى مَرِيضٍ وَمُقْعَدٍ وَزَمِنٍ وَمَقْطُوعِ يَدٍ وَرِجْلٍ مِنْ خِلَافٍ) أَوْ رِجْلٍ فَقَطْ ، ذَكَرَهُ الْحَدَّادِيُّ (وَمَفْلُوجٍ وَشَيْخٍ كَبِيرٍ عَاجِزٍ وَأَعْمَى) وَإِنْ وَجَدَ قَائِدًا (وَلَا عَلَى مَنْ حَالَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا مَطَرٌ وَطِينٌ وَبَرْدٌ شَدِيدٌ وَظُلْمَةٌ كَذَلِكَ) وَرِيحٌ لَيْلًا لَا نَهَارًا ، وَخَوْفٌ عَلَى مَالِهِ ، أَوْ مِنْ غَرِيمٍ أَوْ ظَالِمٍ ، أَوْ مُدَافَعَةُ أَحَدِ الْأَخْبَثَيْنِ ، وَإِرَادَةُ سَفَرٍ ، وَقِيَامُهُ بِمَرِيضٍ ، وَحُضُورُ طَعَامٍ (تَتَوَقُهُ) نَفْسُهُ ذَكَرَهُ الْحَدَّادِيُّ ، وَكَذَا اشْتِغَالُهُ بِالْفِقْهِ لَا بِغَيْرِهِ ، كَذَا جَزَمَ بِهِ الْبَاقَانِيُّ تَبَعًا لِلْبَهْنَسِيِّ : أَيْ إلَّا إذَا وَاظَبَ تَكَاسُلًا فَلَا يُعْذَرُ ، وَيُعَزَّرُ وَلَوْ بِأَخْذِ الْمَالِ يُغْنِي بِحَبْسِهِ عَنْهُ مُدَّةً وَلَا تُقْبَلُ شَهَادَتُهُ إلَّا بِتَأْوِيلِ بِدْعَةِ الْإِمَامِ . (۱)

په شامي کې ددې تشريح داسې شوې :

(قَوْلُهُ وَمُقْعَدٍ وَزَمِنٍ) قَالَ فِي الْمُغْرِبِ : الْمُقْعَدُ الَّذِي لَا حَرَاكَ بِهِ مِنْ دَاءٍ فِي جَسَدِهِ كَأَنَّ الدَّاءَ أَقْعَدَهُ . وَعِنْدَ الْأَطِبَّاءِ : هُوَ الزَّمِنُ ، وَبَعْضُهُمْ فَرَّقَ ، وَقَالَ : الْمُقْعَدُ الْمُتَشَنِّجُ الْأَعْضَاءِ . وَالزَّمِنُ الَّذِي طَالَ مَرَضُهُ . وَقَالَ فِي فَصْلِ الزَّايِ : الزَّمِنُ الَّذِي طَالَ مَرَضُهُ زَمَانًا ، وَقِيلَ الزَّمِنُ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ الْمُقْعَدُ وَالْأَعْمَى وَالْمَقْطُوعُ الْيَدَيْنِ أَوْ إحْدَاهُمَا . وَالْمَفْلُوجُ وَالْأَعْرَجُ الَّذِي لَا يَسْتَطِيعُ الْمَشْيَ وَالْأَشَلُّ .

(قَوْلُهُ وَمَفْلُوجٍ) وَهُوَ مَنْ بِهِ فَالِجٌ ... (قَوْلُهُ وَلَا عَلَى مَنْ حَالَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا مَطَرٌ وَطِينٌ) أَشَارَ بِالْحَيْلُولَةِ إلَى أَنَّ الْمُرَادَ الْمَطَرُ الْكَثِيرُ كَمَا قَيَّدَهُ بِهِ فِي صَلَاةِ الْجُمُعَةِ . وَكَذَا الطِّينُ وَفِي الْحِلْيَةِ ،

---

(۱) الدّر المختار باب الإمامة ۱ / ۵۵۵

وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ : سَأَلْتُ أَبَا حَنِيْفَةَ رحمه الله عَنِ الْجَمَاعَةِ فِي طِيْنٍ وَ رَدْغَةٍ ، فَقَالَ: لَا أُحِبُّ تَرْكَهَا.

وَقَالَ مُحَمَّدٌ فِي الْمُوَطَّأِ : اَلْحَدِيْثُ رُخْصَةٌ . يَعْنِي قَوْلَهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ « إِذَا ابْتَلَّتِ النِّعَالُ فَالصَّلَاةُ فِي الرِّحَالِ » وَالنِّعَالُ: هُنَا الْأَرَاضِي الصِّلَابُ . وَفِي شَرْحِ الزَّاهِدِيِّ عَنْ شَرْحِ التُّمُرْتَاشِيِّ : وَاخْتُلِفَ فِي كَوْنِ الْأَمْطَارِ وَالثُّلُوْجِ وَالْأَوْحَالِ وَالْبَرْدِ الشَّدِيْدِ عُذْرًا، وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ: إِنِ اشْتَدَّ التَّأَذِّي يُعْذَرُ . قَالَ الْحَسَنُ : أَفَادَتْ هٰذِهِ الرِّوَايَةُ أَنَّ الْجُمُعَةَ وَالْجَمَاعَةَ فِي ذٰلِكَ سَوَاءٌ. لَيْسَ عَلَى مَا ظَنَّهُ الْبَعْضُ أَنَّ ذٰلِكَ عُذْرٌ فِي الْجَمَاعَةِ لِأَنَّهَا سُنَّةٌ لَا فِي الْجُمُعَةِ لِأَنَّهَا مِنْ آكَدِ الْفَرَائِضِ.

وَفِي شَرْحِ الشَّيْخِ إِسْمَاعِيلَ عَنِ ابْنِ الْمُلَقِّنِ الشَّافِعِيِّ: وَالْمَشْهُوْرُ أَنَّ النِّعَالَ جَمْعُ نَعْلٍ: وَهُوَ مَا غَلُظَ مِنَ الْأَرْضِ فِي صَلَابَةٍ، وَإِنَّمَا خَصَّهَا بِالذِّكْرِ لِأَنَّ أَدْنٰى بَلَلٍ يُنَدِّيهَا، بِخِلَافِ الرَّخْوَةِ فَإِنَّهَا تُنَشِّفُ الْمَاءَ . وَقِيْلَ : اَلنِّعَالُ الْأَحْذِيَةُ .

( قَوْلُهُ وَبَرْدٌ شَدِيْدٌ ) لَمْ يَذْكُرِ الْحَرَّ الشَّدِيْدَ أَيْضًا، وَلَمْ أَرَ مَنْ ذَكَرَهُ مِنْ عُلَمَائِنَا، وَلَعَلَّ وَجْهَهُ أَنَّ الْحَرَّ الشَّدِيْدَ إِنَّمَا يَحْصُلُ غَالِبًا فِي صَلَاةِ الظُّهْرِ، وَقَدْ كُفِيْنَا مُؤْنَتَهُ بِسُنِّيَّةِ الْإِبْرَادِ، نَعَمْ قَدْ يُقَالُ: لَوْ تَرَكَ الْإِمَامُ هٰذِهِ السُّنَّةَ وَصَلَّى فِي أَوَّلِ الْوَقْتِ كَانَ الْحَرُّ الشَّدِيْدُ عُذْرًا تَأَمَّلْ .

( قَوْلُهُ وَظُلْمَةٌ كَذٰلِكَ ) أَيْ شَدِيْدَةٌ. فِي الظَّاهِرِ أَنَّهُ لَا يُكَلَّفُ إِلَى إِيْقَادِ نَحْوِ سِرَاجٍ وَإِنْ أَمْكَنَهُ ذٰلِكَ ، وَأَنَّ الْمُرَادَ بِشِدَّةِ الظُّلْمَةِ كَوْنُهُ لَا يُبْصِرُ طَرِيْقَهُ إِلَى الْمَسْجِدِ فَيَكُوْنُ كَالْأَعْمٰى.

( قَوْلُهُ وَرِيْحٌ ) أَيْ شَدِيْدٌ أَيْضًا فِيمَا يَظْهَرُ تَأَمَّلْ ، وَإِنَّمَا كَانَ عُذْرًا لَيْلًا فَقَطْ لِعِظَمِ مَشَقَّتِهِ فِيهِ دُوْنَ النَّهَارِ .

(قَوْلُهُ وَخَوْفٌ عَلَى مَالِهِ ) أَيْ مِنْ لِصٍّ وَنَحْوِهِ إِذَا لَمْ يُمْكِنْهُ غَلْقُ الدُّكَّانِ أَوِ الْبَيْتِ مَثَلًا ، وَمِنْهُ خَوْفُهُ عَلَى تَلَفِ طَعَامٍ فِي قِدْرٍ أَوْ خُبْزٍ فِي تَنُّوْرٍ تَأَمَّلْ ، وَانْظُرْ هَلِ التَّقْيِيْدُ بِمَالِهِ لِلِاحْتِرَازِ عَنْ مَالِ غَيْرِهِ ؟ وَالظَّاهِرُ عَدَمُهُ: لِأَنَّ لَهُ قَطْعَ الصَّلَاةِ لَهُ وَلَا سِيَّمَا إِنْ كَانَ أَمَانَةً عِنْدَهُ كَوَدِيْعَةٍ أَوْ عَارِيَةٍ أَوْ رَهْنٍ مِمَّا يَجِبُ عَلَيْهِ حِفْظُهُ تَأَمَّلْ .

(قَوْلُهُ أَوْ مِنْ غَرِيمٍ) أَيْ إِذَا كَانَ مُعْسِرًا لَيْسَ عِنْدَهُ مَا يُوَفِّي غَرِيمَهُ ، وَإِلَّا كَانَ ظَالِمًا .

(قَوْلُهُ أَوْ ظَالِمٍ) يَخَافُهُ عَلَى نَفْسِهِ أَوْ مَالِهِ . (قَوْلُهُ الْأَخْبَثَيْنِ ) وَكَذَا الرِّيحُ .

( قَوْلُهُ وَإِرَادَةُ سَفَرٍ) أَيْ وَأُقِيمَتِ الصَّلَاةُ وَيَخْشَى أَنْ تَفُوتَهُ الْقَافِلَةُ بَحْرٌ ، وَأَمَّا السَّفَرُ نَفْسُهُ فَلَيْسَ بِعُذْرٍ كَمَا فِي الْقُنْيَةِ . (قَوْلُهُ وَقِيَامُهُ بِمَرِيضٍ) أَيْ يَحْصُلُ لَهُ بِغَيْبَتِهِ الْمَشَقَّةُ وَالْوَحْشَةُ، كَذَا فِي الْإِمْدَادِ .

(قَوْلُهُ تَتُوقُهُ نَفْسُهُ ) أَيْ تَشْتَاقُهُ وَتُنَازِعُهُ إِلَيْهِ مِصْبَاحٌ. سَوَاءٌ كَانَ عَشَاءً أَوْ غَيْرَهُ لِشُغْلِ بَالِهِ إِمْدَادٌ. وَمِثْلُهُ الشَّرَابُ. وَقُرْبُ حُضُورِهِ كَحُضُورِهِ فِيمَا يَظْهَرُ لِوُجُودِ الْعِلَّةِ. وَبِهِ صَرَّحَ الشَّافِعِيَّةُ .

( قَوْلُهُ وَكَذَا اشْتِغَالُهُ بِالْفِقْهِ إلَخْ ) عِبَارَةُ نُورِ الْإِيضَاحِ : وَتَكْرَارُ فِقْهٍ بِجَمَاعَةٍ تَفُوتُهُ ، وَلَمْ أَرَ هٰذَا الْقَيْدَ لِغَيْرِهِ. وَرَمَزَ فِي الْقُنْيَةِ لِنَجْمِ الْأَئِمَّةِ فِيمَنْ لَا يَحْضُرُهَا لِاسْتِغْرَاقِ أَوْقَاتِهِ فِي تَكْرِيرِ الْفِقْهِ لَا يُعْذَرُ وَلَا تُقْبَلُ شَهَادَتُهُ . ثُمَّ رَمَزَ لَهُ ثَانِيًا أَنَّهُ يُعْذَرُ. بِخِلَافِ مُكَرِّرِ اللُّغَةِ . ثُمَّ وَفَّقَ بَيْنَهُمَا بِحَمْلِ الْأَوَّلِ عَلَى الْمُوَاظِبِ عَلَى التَّرْكِ تَهَاوُنًا . وَالثَّانِي عَلَى غَيْرِهِ. وَهٰذَا مَا مَشَى عَلَيْهِ الشَّارِحُ فِي قَوْلِهِ أَيْ إِلَّا إلَخْ .

( قَوْلُهُ يَعْنِي بِحَبْسِهِ عَنْهُ إلَخْ ) صَرَّحَ بِذٰلِكَ فِي الْبَحْرِ عَنِ الْبَزَّازِيَّةِ قَالَ الزَّحْمَتِيُّ قَالُوا: هٰذَا مِمَّا يُعْلَمُ وَيُكْتَمُ لِأَنَّ الظَّلَمَةَ صَيَّادُونَ لِأَخْذِ الْمَالِ مَتَى وَقَعَ فِي شَرَكِهِمْ لَا يُؤْخَذُ مِنْهُمْ. وَرُبَّمَا يُحْدِثُونَ لِلْإِنْسَانِ ذَنْبًا لَمْ يَفْعَلْهُ تَوَصُّلًا إِلَى مَالِهِ .

## د جمعې پرېښودو د پاره شل (۲۰) عُذرونه

علامه شامي رحمه الله ليکلي :

مَجْمُوعُ الْأَعْذَارِ الَّتِي مَرَّتْ مَتْنًا وَشَرْحًا عِشْرُونَ. وَقَدْ نَظَمْتُهَا بِقَوْلِي:

أَعْذَارُ تَرْكِ جَمَاعَةٍ عِشْرُونَ قَدْ ✿ أَوْدَعْتُهَا فِي عَقْدِ نَظْمٍ كَالدُّرَرِ

مَرَضٌ وَإِقْعَادٌ عَمًى وَزَمَانَةٌ ✿ مَطَرٌ وَطِينٌ ثُمَّ بَرْدٌ قَدْ أَضَرَّ

قَطْعٌ لِرِجْلٍ مَعَ يَدٍ أَوْ دُوْنَهَا ۞ فَلَجٌ وَعَجْزُ الشَّيْخِ قَصْدٌ لِلسَّفَرِ ،
خَوْفٌ عَلَى مَالٍ كَذَا مِنْ ظَالِمٍ ۞ أَوْ دَائِنٍ وَشَهِيَ أَكْلٌ قَدْ حَضَرَ ،
وَالرِّيحُ لَيْلًا ظُلْمَةٌ تَمْرِيضُ ذِيْ ۞ أَلَمٍ مُدَافَعَةٌ لِبَوْلٍ أَوْ قَذَرٍ ،
ثُمَّ اشْتِغَالٌ لَا بِغَيْرِ الْفِقْهِ فِيْ ۞ بَعْضٍ مِنَ الْأَوْقَاتِ عُذْرٌ مُعْتَبَرٌ ، (۱)

---

(۱) رد المحتار على الدر المختار بَابُ الإِمَامَةِ ۱/ ۵۵۵ .

بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

﴿ وَاَقِیْمُوا الصَّلٰوۃَ وَاٰتُوا الزَّکٰوۃَ وَارْکَعُوْا مَعَ الرّٰکِعِیْنَ ﴾ البقرۃ آیۃ ۴۳ .

# بَغیر عُذره د جَمعې پرېښودو سزاګانې

تالیف


اَبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالْھُدٰی عُفِیَ عَنْہُ.

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القرآن اکاخیل کالونی مردان

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# بغير عُذره د جمعې پريخودو سزاګانې

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ اَنْعَمَ عَلَى الْخَلْقِ بِبَعْثَةِ الْاَنْبِيَآءِ وَالْمُرْسَلِيْنَ ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ خَاتَمِ النَّبِيِّيْنَ ، وَعَلٰى آلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ ،

اَمَّا بَعْدُ فَقَدْ قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَارْكَعُوْا مَعَ الرّٰكِعِيْنَ ﴾. (۱)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لَا صَلَاةَ لِجَارِ الْمَسْجِدِ إِلَّا فِي الْمَسْجِدِ . (۲)

وَقَالَ عليه السلام : لَيَنْتَهِيَنَّ رِجَالٌ عَنْ تَرْكِ الْجَمَاعَةِ ، أَوْ لَأُحَرِّقَنَّ بُيُوْتَهُمْ . (۳)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم

محترمو مسلمانانو ورونو ! بغير عُذره جمعه پريخودل او ځان له مونځ کول لوي جُرم او سخته ګناه ده ، د داسې کس د پاره په شريعت کې سخت وعيدونه ذکر شوي .

بِلا عُذره هميشه جمعه پريخودل ګناهِ کبيره ده ، داسې سړی منافِق دی . (۴)

---

(۱) سورة البقرة آية ۴۳ .

(۲) المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۸۹۸ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۴۹۴۵ ، كنزالعمال رقم الحديث ۲۰۷۳۷ ، و رقم ۲۲۸۰۰ .

(۳) سنن ابن ماجه بَابُ التَّغْلِيظِ فِي التَّخَلُّفِ عَنِ الْجَمَاعَةِ رقم الحديث ۷۹۵ ، وقال الالباني هذا حديث صحيحٌ . صحيح الترغيب والترهيب ج۱ ص۳۰۴ رقم الحديث ۴۳۳ (۸) الترهيب من ترک حضور الجماعة لغير عُذر .

(۴) حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمايي : ..... وَلَقَدْ رَأَيْتُنَا وَمَا يَتَخَلَّفُ عَنْهَا إِلَّا مُنَافِقٌ مَعْلُوْمُ النِّفَاقِ ، وَلَقَدْ كَانَ الرَّجُلُ يُؤْتٰى بِهٖ يُهَادٰى بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ حَتّٰى يُقَامَ فِي الصَّفِّ . صحيح مسلم بَابُ صَلَاةِ الْجَمَاعَةِ مِنْ سُنَنِ الْهُدٰى رقم الحديث ۲۵۷ ( ۶۵۴ ) ، مشكاة المصابيح رقم الحديث ۱۰۷۲ ( ۲۱ ) ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۸۶۰۷ . و رواه النسائي ۲ / ۱۰۸ ، والمنذري في الترغيب والترهيب ۱ / ۲۶۰ ، والهيثمي في المجمع ۳۹/۲ .

علماؤ تر دې پورې ليکلي چې که يو کس آذان آوري ، او ده ته څه شرعي عُذر نه وي ، خو دې بيا هم جَمعې ته نه حاضرېږي نو داسې کس سخت ګناهګار ، فاسِق او مُنافِق دی ، دده شهادت به نشي قبلولی . (۱)

البته که اتفاقًا يو پېره يا دوه پېرې جَمعه پاتې شي نو بيا ګناه نده .

## بغير عُذره جمعې پرېښودونکي د پاره د قيامت په ورځ ذلت او رسوائي

څوک چې بغير عُذره فرض مونځ نه کوي ، يا جَمعې ته نه حاضرېږي نو دداسې خلقو د پاره به په قيامت کې سخته رَسوائي او ذلت وي . الله تعالی فرمايي :

﴿ يَوْمَ يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ وَيُدْعَوْنَ إِلَى السُّجُودِ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ ۝ خَاشِعَةً أَبْصَارُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ۖ وَقَدْ كَانُوا يُدْعَوْنَ إِلَى السُّجُودِ وَهُمْ سَالِمُونَ ﴾. (۲)

ترجمه : ( هاغه ورځ د هيرولو نده ) په کومه ورځ چې به د پُنډۍ تَجَلي اوکړې شي (يعنی الله ﷻ به خپله پُنډۍ ښکاره کړي . كَمَا يَلِيقُ بِشَانِهِ ) ، او دوی (رياکار) به سجدې ته رابللې شي خو دوی به سجده نشي کولی ، د دوی سترګې به ښکته وي ، او ذِلت به پرې راخور وي ( ددې وجه داده چې ) دوی به (په دُنيا کې د آذان په ذريعه د فرض مانځه (۳)

(۱) قال العلامة ابن نجيم رحمه الله : وَذَكَرَ فِي غَايَةِ الْبَيَانِ مَعْزِيًّا إِلَى الْأَجْنَاسِ أَنَّ تَارِكَ الْجَمَاعَةِ يَسْتَوْجِبُ إِسَاءَةً وَلَا تُقْبَلُ شَهَادَتُهُ إِذَا تَرَكَهَا إِسْتِخْفَافًا بِذَلِكَ وَمَجَانَةً ، أَمَّا إِذَا تَرَكَهَا سَهْوًا أَوْ تَرَكَهَا بِتَأْوِيلٍ بِأَنْ يَكُونَ الْإِمَامُ مِنْ أَهْلِ الْأَهْوَاءِ أَوْ مُخَالِفًا لِمَذْهَبِ الْمُقْتَدِي لَا يُرَاعِي مَذْهَبَهُ فَلَا يَسْتَوْجِبُ الْإِسَاءَةَ وَتُقْبَلُ شَهَادَتُهُ .
البحر الرائق شرح كنز الدقائق صِفَةُ الْإِمَامَةِ فِي الصَّلَاةِ ١ / ٣٦٦ ، فتاوى فريديه ج ٢ ص ٣٠٣ باب الامامة فصل في الجماعة .
قال العلامة ابن عابدين رحمه الله : وَقَالَ فِي شَرْحِ الْمُنْيَةِ: وَالْأَحْكَامُ تَدُلُّ عَلَى الْوُجُوبِ، مِنْ أَنَّ تَارِكَهَا بِلَا عُذْرٍ يُعَزَّرُ وَتُرَدُّ شَهَادَتُهُ، وَيَأْثَمُ الْجِيرَانُ بِالسُّكُوتِ عَنْهُ . رد المحتار على الدر المختار بَابُ الْإِمَامَةِ ١ / ٥٥٢ . كبيري ص ٥٠٩ فصل في الامامة ، مراقي الفلاح ص ٢٣٢ باب الامامة ، فتح القدير ج ١ ص ٣٤٥ باب الامامة ، فتاوى محموديه ج ٩ ص ٣٩٥ .

(۲) سورة القلم آية ٤٢ ، ٤٣ .

(۳) ﴿ وَقَدْ كَانُوا يُدْعَوْنَ ﴾ يعني : بِالْأَذَانِ فِي دَارِ الدُّنْيَا ، وَيُؤْمَرُوْنَ بِالصَّلَاةِ الْمَكْتُوبَةِ . زاد المسير في علم التفسير ٤ / ٣٢٥ سورة القلم آية ٤٣ دار الكتاب العربي بيروت .

سجدې ته رابللې شو ، او دوی به ښه روغ رمټ وو ( خو بيا به هم دوی سجده نه کوله ، نو ځکه اوس به په قيامت کې ذليل وي ) .(۱)

علامه ابن جوزي رحمه الله په تفسير زاد المسير کې ددې آيت په تشريح کې ليکلي :

وَفِيْ هٰذَا وَعِيْدٌ لِمَنْ تَرَكَ صَلَاةَ الْجَمَاعَةِ . وَكَانَ كَعْب يَقُوْلُ : وَاللهِ مَا نَزَلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ إِلَّا فِي الَّذِيْنَ يَتَخَلَّفُوْنَ عَنِ الْجَمَاعَاتِ . (۲)

په دې آيت کې د هغه خلقو د پاره وعيد دی کوم چې د جَمعې سره مونځ نه کوي ، او کعب الاحبار به فرمايل : قسَم په الله ، دا آيت صرف د هغه خلقو په باره کې نازل شوی چې هغوی د جَمعې سره مونځ نه کوي .

علامه ذهبي رحمه الله هم په " الكبائر " کې د سورة القلم ددې دوه آيتونو ذِکر کولو نه پس د کعب الاحبار او څه نور اَقوال نقل کړي . (۳) ، بيا په آخِر کې فرمايي :

---

(۱) په بخاري شريف کې ددې تفصيل شته : عَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ : يَكْشِفُ رَبُّنَا عَنْ سَاقِهِ، فَيَسْجُدُ لَهُ كُلُّ مُؤْمِنٍ وَمُؤْمِنَةٍ، فَيَبْقَى كُلُّ مَنْ كَانَ يَسْجُدُ فِي الدُّنْيَا رِيَاءً وَسُمْعَةً . فَيَذْهَبُ لِيَسْجُدَ ، فَيَعُوْدُ ظَهْرُهُ طَبَقًا وَاحِدًا . صحيح البخاري بَابُ {يَوْمَ يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ} رقم الحديث ۴۹۱۹ .

حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه فرمايي چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه دا اَوريدلي دي ، دوی فرمايل چې د قيامت په ورځ به الله تعالى خپله پنډۍ ښکاره کړي ( څنګه چې د الله ﷻ د شان سره لائِق وي ، دا د انسانانو په شان پنډۍ نده بلکه دا د الله ﷻ يو خاص صفت دی ، ديته مُتشابهات وايي . معارف القرآن سورة القلم) ددې تجلي په ليدلو سره به ټول مؤمنان سړي او مؤمنانې ښځې الله ﷻ ته په سجده بانې پريوځي ، صرف هغه خلق به پاتې شي چا چې په دُنيا کې د رِيا او ځان ښودنې د پاره سجده کړې وه ، د دوی مَلا به د يوې تَختې په شان نيغه پاتې شي ، دوی به سجده اونکړې شي .

(۲) زاد المسير في علم التفسير ۴ / ۳۲٦ سورة القلم آية ۴۳ دار الكتاب العربي بيروت .

(۳) علامه ذهبي رحمه الله د مذکوره آيت نه روستو ليکلي : وَذٰلِكَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ يَغْشَاهُمْ ذلّ الندامة وَقد كَانُوْا فِي الدُّنْيَا يُدْعَوْنَ إِلَى السُّجُوْدِ . قَالَ إِبْرَاهِيم التَّيْمِيّ يَعْنِيْ إِلَى الصَّلَاةِ الْمَكْتُوْبَة بِالْأَذَانِ وَالْإِقَامَة . وَقَالَ سعيد بن المسيب : كَانُوْا يَسْمَعُوْنَ حَيّ عَلَى الصَّلَاة حَيّ عَلَى الْفَلَاحِ فَلَا يُجِيْبُوْنَ وَهُمْ أَصحاء سَالِمُوْنَ . الكبائر للذهبي اَلْكَبِيرَة الرَّابِعَة فِي ترك الصَّلَاة ۱ / ۲۹ فصل فِي عُقُوبَة تَارِك الصَّلَاة (فِي جمَاعَة) مَعَ الْقُدْرَة .

فَأَيُّ وَعِيْدٍ أَشَدُّ وَأَبْلَغُ مِنْ هٰذَا لِمَنْ تَرَكَ الصَّلَاةَ فِي الْجَمَاعَةِ مَعَ الْقُدْرَةِ عَلَى إِتْيَانِهَا . (۱)

کوم خلق چې د قُدرت باوجود د جَمعې سره مونځ نه کوي د هغوی د پاره ددې نه سخت وعید بل څه شی دی ؟ (چې د قیامت په ورځ به دوی د دومره سخت ذِلت او رَسوائۍ سره مخامخ کیږي) .

## په جَمعه کې د نه شریکیدونکو خلقو په کورونو باندې د اور لږولو دَهمکي

۱ . د بخاري شریف او مسلم شریف حدیث دی ، رسول الله ﷺ قسَم کوي ، او فرمایي :

وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ آمُرَ بِحَطَبٍ ، فَيُحْطَبَ ، ثُمَّ آمُرَ بِالصَّلَاةِ ، فَيُؤَذَّنَ لَهَا ، ثُمَّ آمُرَ رَجُلًا فَيَؤُمَّ النَّاسَ ~~ثُمَّ~~ أُخَالِفَ إِلَى رِجَالٍ ، فَأُحَرِّقَ عَلَيْهِمْ بُيُوْتَهُمْ ، وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ لَوْ يَعْلَمُ أَحَدُهُمْ أَنَّهُ يَجِدُ عَرْقًا سَمِيْنًا ، أَوْ مِرْمَاتَيْنِ حَسَنَتَيْنِ لَشَهِدَ الْعِشَاءَ . (۲)

قسَم په هغه ذات چې د هغه په قَبضه کې زما سَاه ده ما دا اِراده اوکړه (یعنی زما زړه دا غواړي) چې زه یو کس ته د لرګو راجَمع کولو حُکم اوکړم ، کله چې لرګي راجَمع شي ، بیا د (ماسخوتن) مانځه د پاره د آذان حُکم اوکړم ، کله چې آذان اوشي بیا یو کس ته حکم اوکړم چې هغه (زما په ځای) خلقو ته اِمامت اوکړي ، بیا زه د هغه خلقو کورونو ته لاړ شم (کوم چې جَمعې ته نه راځي) او د هغوی کورونه اُوسوزوم ، قسَم په هغه ذات چې د هغه په قَبضه کې زما ساه ده (کوم خلق چې جَمعې ته نه راځي) که چیرته په دوی کې یو کس ته

---

(۱) الکبائر للذهبي اَلْکَبِیْرَةُ الرَّابِعَةُ فِي تَرْكِ الصَّلَاةِ ۱ / ۲۹ فصل فِي عُقُوبَةِ تَارِكِ الصَّلَاةِ (فِي جَمَاعَةٍ) مَعَ الْقُدْرَةِ .

(۲) صحيح البخاري رقم الحديث ۶۴۴ بَابُ وُجُوبِ صَلَاةِ الْجَمَاعَةِ ، و رقم ۲۴۲۰ بَابُ إِخْرَاجِ أَهْلِ الْمَعَاصِي وَالْخُصُومِ مِنَ الْبُيُوتِ بَعْدَ الْمَعْرِفَةِ ، و رقم ۷۲۲۴ بَابُ إِخْرَاجِ الْخُصُومِ وَأَهْلِ الرِّيَبِ مِنَ الْبُيُوتِ بَعْدَ الْمَعْرِفَةِ ، صحيح مسلم باب اللين يتخلفون عن صلاة الجَماعة والجُمعة رقم ۲۵۱ (۶۵۱) ، مشكاة المصابيح باب الجماعة وفضلها الفصل الاول رقم ۲ .

وفي رواية : لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ آمُرَ الْمُؤَذِّنَ ، فَيُقِيْمَ ، ثُمَّ آمُرَ رَجُلًا يَؤُمُّ النَّاسَ ، ثُمَّ آخُذَ شُعَلًا مِنْ نَارٍ ، فَأُحَرِّقَ عَلَى مَنْ لَا يَخْرُجُ إِلَى الصَّلَاةِ بَعْدُ . صحيح البخاري رقم الحديث ۶۵۷ باب فضل العشاء في الجماعة .

وفي رواية : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ آمُرَ فِتْيَانِيْ أَنْ يَسْتَعِدُّوا لِيْ بِحُزَمٍ مِنْ حَطَبٍ ، ثُمَّ آمُرَ رَجُلًا يُصَلِّيْ بِالنَّاسِ ، ثُمَّ تُحَرَّقُ بُيُوْتٌ عَلَى مَنْ فِيْهَا » . صحيح مسلم بَابُ فَضْلِ صَلَاةِ الْجَمَاعَةِ ، وَبَيَانِ التَّشْدِيْدِ فِي التَّخَلُّفِ عَنْهَا . رقم الحديث ۲۵۳ (۶۵۱) .

دامعلومه شي چې دې به په جُمات کې د غوښې ډک هډوکې اومومي، یا به د غوا یا چیلۍ د خپو سُم اومومي نو دې به بیا (ددې دُنیوي لالچ په وجه) د ماسخوتن په مونځ کې خامخا حاضر شي.

**تشریح** په دې حدیث کې بَغیر عُذره د جَمعې پرېښودونکو د پاره سخت وعید بیان شوی، باوجود ددینه چې نبي علیه السلام په خپل اُمت باندې ډېر شفیق او مهربانه ؤ، چاته یې معمولي تکلیف ورکول هم نه خوښول، لیکن کوم خلق چې به بَغیر د عُذره جَمعې ته نه حاضرېدل د هغوی په باره کې یې دومره سخته غصه ښکاره کړه چې په خپله یې د هغوی د کورونو سوَزولو اِراده اوکړه.

بیا یې د حدیث په آخِر کې د جَمعې پرېښودونکو خلقو طَبعي کمزورۍ طرف ته هم اِشاره اوکړه چې دا دومره د دُنیا لالچیان دي که چیرته دوی ته دا معلومه شي چې په جُمات کې راته د دُنیا معمولي څیز (د غوښې یو هډوکې) ملاوېږي نو دوی به بیا په مَنډه جَمعې ته راځي، لیکن د جَمعې په کولو سره چې دوی ته د آخِرت کامیابي، ثوابونه او د الله ﷻ قُرب نصیبه کېږي خو دوی بیا هم دې طرف ته توَجّه نه کوي.

۲. د ابن ماجه شریف حدیث دی، رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

لَيَنْتَهِيَنَّ رِجَالٌ عَنْ تَرْكِ الْجَمَاعَةِ، أَوْ لَأُحَرِّقَنَّ بُيُوتَهُمْ. (۱)

په کار ده چې خلق د جَمعې پرېښودو نه مَنع شي، او که مَنع نه شو نو زه به بیا خامخا د دوی کورونه اُوسوَزوم.

۳. رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

لَوْلَا مَا فِي الْبُيُوتِ مِنَ النِّسَاءِ وَالذُّرِّيَّةِ، لَأَقَمْتُ الصَّلَاةَ صَلَاةَ الْعِشَاءِ، وَأَمَرْتُ فِتْيَانِي يُحْرِقُونَ مَا فِي الْبُيُوتِ بِالنَّارِ. (۲)

(۱) سنن ابن ماجه بَابُ التَّغْلِيظِ فِي التَّخَلُّفِ عَنِ الْجَمَاعَةِ رقم الحديث ۷۹۵، وقال الالباني هذا حديث صحيح. صحيح الترغيب والترهيب ج۱ ص۳۰۲ رقم الحديث ۴۳۳ (۸) الترهيب من ترک حضور الجماعة لغير عُذر.

(۲) مسند احمد رقم الحديث ۸۷۹۶ مُسْنَدُ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، مشكوة المصابيح رقم ۱۰۷۳ (۲۲) باب الجماعة وفضلها الفصل الثالث.

که چيرته په دې کورونو کې ښځې او ماشومان نه وی نو ما به د ماسخوتن مونځ قائم کړې وی ، بیا به مې خپلو قوي ځوانانو صحابه کرامو (یا خپلو غلامانو ) ته حکم کړې وی چې کوم خلق جَمعې ته نه راځي تاسو هغه او په کور کې چې څه موجود وي هغه ټول اوسوزوئ ( ددې د پاره چې دوی ته اِحساس اوشي چې بغير عُذره د جَمعې پريخودو څومره سخته سزا ده ) .

ددې احاديثو نه معلومه شوه چې بغير عُذره جَمعه پريخودل سخته ګناه ده ، ځکه خو رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ددا سې کس متعلق د سختې غصې اِظهار کړې دی .

۴ . په فتاوی رحيميه کې ذِکر دي چې کله نبي عليه السلام د هغه خلقو متعلق " چې بغير عُذره جَمعې ته نه راتلل ، او په کورونو کې يې مونځ کول " د دوی د کورونو سوَزولو اِراده اوکړه ، نو اوس تاسو په خپله سوچ اوکړئ چې کوم کس د سره مونځ نه کوي د هغه به څه سزا وي ؟ (۱)

( **مسئله** : بَغير عُذره جَمعې پريخودونکي اګر چې سخت ګناهګار دی ، خو يقيني د دوی کورونه سوَزول جائز ندي ، ځکه نبي عليه السلام د دوی کورونه سوَزو لي نه وو ، بلکه د سختې غصې اِظهاريې کړې وُ ) . (۲)

## په جَمعه کې د نه شريکيدو په وجه نبي عليه السلام حضرت مِحجَن ﷺ ته زُورَنه ورکړه

په موطاء امام مالک او مشکوة شريف کې دا واقعه ذکر ده چې : يو ځل حضرت مِحجَن رضي الله عنه د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم سره په مجلس کې ناست وُ ، د مانځه د پاره آذان اوشو ، نبي عليه السلام پاڅيد ، او مونځ يې اوکړو ، کله چې د مانځه نه فارغ شو او راأوګرځيد ، نو حضرت مِحجَن ﷺ هماغه شان په مجلس کې ناست وُ ، د نبي عليه السلام سره يې مونځ اونکړو ، رسولُ الله ﷺ ورته وفرمايل :

(۱) فتاوی رحيميه ۴ / ۱۳۰ باب الجماعة والامامة .

(۲) فتاوی دارالعلوم ديوبند ج۳ ص ۵۲ باب الامامة والجماعة . ط دارالاشاعت کراچي .

مَا مَنَعَكَ أَنْ تُصَلِّيَ مَعَ النَّاسِ؟ أَلَسْتَ بِرَجُلٍ مُسْلِمٍ ؟

تا ولې د خلقو سره د جَمعې مونځ اونکړو ؟ آيا ته مسلمان نه يې ؟

ده ورته ووېل :

بَلَى يَا رَسُوْلَ اللهِ وَلٰكِنِّيْ كُنْتُ قَدْ صَلَّيْتُ فِيْ أَهْلِيْ .

اې د الله ﷺ رسوله ! زه مسلمان يم ، خو ليکن ما په کور کې مونځ کړې وُ .

نبي عليه السلام ورته وفرمايل :

إِذَا جِئْتَ الْمَسْجِدَ وَكُنْتَ قَدْ صَلَّيْتَ فَأُقِيْمَتِ الصَّلَاةُ فَصَلِّ مَعَ النَّاسِ وَإِنْ كُنْتَ قَدْ صَلَّيْتَ . (۱)

چې کله ته جُمات ته راشې او تا مونځ کړې وي بيا جَمعه اُودرېږي نو ته د خلقو سره د جَمعې مونځ کوه اګرچې تا په کور کې ( د ماسپښين او ماسخوتن ) فرض مونځ کړې وي .

( البته که چا د سهَر ، مازيګر ، او ماښام فرض مُونځ په کور کې کړې وي نو بيا به په جَمعه کې نه شريکيږي ) .

**فائده** : محترمو مسلمانانو ! په دې واقعه باندې سوچ اوکړئ چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم حضرت مِحجَن رضي الله عنه ته څومره زُورَنه ورکړه او ورته وې فرمايل : أَلَسْتَ بِرَجُلٍ مُسْلِمٍ ؟ آيا ته مسلمان نه يې ؟ چې په جَمعه کې نه شريکيږې ؟ حالانکه

---

(۱) عَنْ بُسْرِ بْنِ مِحْجَنٍ ، عَنْ أَبِيْهِ ( مِحْجَنٍ ) أَنَّهُ كَانَ فِيْ مَجْلِسٍ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأُذِّنَ بِالصَّلَاةِ ، فَقَامَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّى ، وَرَجَعَ ، وَمِحْجَنٌ فِيْ مَجْلِسِهِ ( لَمْ يُصَلِّ مَعَهُ ) فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « مَا مَنَعَكَ أَنْ تُصَلِّيَ مَعَ النَّاسِ؟ أَلَسْتَ بِرَجُلٍ مُسْلِمٍ؟ » فَقَالَ : بَلَى يَا رَسُوْلَ اللهِ وَلٰكِنِّيْ كُنْتُ قَدْ صَلَّيْتُ فِيْ أَهْلِيْ ، فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « إِذَا جِئْتَ الْمَسْجِدَ وَكُنْتَ قَدْ صَلَّيْتَ فَأُقِيْمَتِ الصَّلَاةُ فَصَلِّ مَعَ النَّاسِ وَإِنْ كُنْتَ قَدْ صَلَّيْتَ » . موطا امام مالک كِتَابُ صَلَاةِ الْجَمَاعَةِ بَابُ إِعَادَةِ الصَّلَاةِ مَعَ الْإِمَامِ رقم الحديث ۸ ، مشكوة المصابيح بَابُ مَنْ صَلَّى صَلَاةً مَرَّتَيْنِ الفصل الثالث رقم الحديث ۱۱۵۴ ( ۴ ) ، شرح السنة للبغوي رقم ۸۵۶ باب من صلى وحده ثم ادرک جماعة يصليها معهم .

حضرت مِحجَن رضي الله عنه دا مونځ په کور کې کړې ؤ . معلومه شوه چې د مسلمان د شان سره دا مناسب ندي چې دا جُمعه پرېږدي .

## بغير عُذره د جَمعې او جُمعې مونځ پرېښودونکې د جهنم مُستحق دی

د ترمذي شريف حديث دی :

سُئِلَ ابْنُ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما عَنْ رَجُلٍ يَصُوْمُ النَّهَارَ وَيَقُوْمُ اللَّيْلَ . لَا يَشْهَدُ جُمُعَةً وَلَاجَمَاعَةً ؟ فَقَالَ : « هُوَفِي النَّارِ » . (۱)

د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه د هغه کس متعلق پوښتنه اوشوه چې هغه هميشه د ورځې روژه نيسي او د شپې ټوله شپه نفلي عبادت کوي خو جَمعې ته او د جُمعې مونځ ته نه حاضرېږي ( د داسې کس څه حکم دی ؟ )

ابن عباس رضي الله عنهما ورته وفرمايل : هُوَفِي النَّارِ . دا به د جهنم په اُور کې وي .

امام غزالي رحمه الله په احياء العلوم کي د دغه روايت نقل کولو نه روستو دا هم ليکلي :

فَلَمْ يَزَلْ يَتَرَدَّدُ إِلَيْهِ شَهْرًا يَسْأَلُهُ عَنْ ذٰلِكَ . وَهُوَيَقُوْلُ فِي النَّارِ . (۲)

دا تپوس کوونکې پوره يو مياشت مسلسل حضرت ابن عباس رضي الله عنهما ته راتلو ، او همدغه يو تپوس به يې ورنه کولو ، ابن عباس رضي الله عنهما به ورته همدا يو جواب ورکولو چې :

هُوَفِي النَّارِ . دا به د جهنم په اُور کې وي .

---

(۱) سنن الترمذي بَابُ مَا جَاءَ لِمَنْ سَمِعَ النِّدَاءَ فَلَا يُجِيبُ رقم الحديث ۲۱۸ ، الكبائر للذهبي الكبيرة الرابعة في ترک الصلاة ص ۳۱ ، الترغيب والترهيب ج ۱ ص ۱۶۹ الترهيب من ترک حضور الجماعة لغير عُذر .

(۲) واختلف رجلٌ إلى ابن عباس رضي الله عنهما يسأله عن رجلٍ مات لم يكن يشهد جُمعة ولا جَمَاعَةً . فقال : في النار فلم يزل يتردد إليه شهرًا يسأله عن ذلك وهو يقول في النار . احياء علوم الدين ج ۱ ص ۱۷۸ الباب الخامس فضل الجمعة وادابها وسننها وشروطها طبع دار المعرفة بيروت .

همدا روايت علامه ابن قيم رحمه الله ، او فقيه ابو الليث ثمرقندي رحمه الله هم رانقل کړی . (۱)

د حديث مطلب دادی چې که يو کس ټول عُمر د ورځې روژه نيسي او د شپې ټوله شپه نفلي عبادت کوي خو چې د جَمعې او جُمعې مانځه ته نه حاضرېږي ، او ديته هيڅ توَجّه نه ورکوي نو داسې کس اګرچې مسلمان دي خو بيا به هم د دې ګناه سزا په جهنم کې خوري .

امام ترمذي رحمه الله د مذکوره حديث مطلب دا بيان کړی چې : دا د جهنم دائمي سزا د هغه چا د پاره ده چې هغه د جَمعې او جُمعې نه اِعراض کوي ، او د دې سپکاوی کوي . (۲)

(او که د دې نه د جهنم غير دائمي سزا مراد شي نو بيا په دې کې د هيڅ تاويل ضرورت نشته ) .

## د آذان اَوريدو نه پس جَمعې ته نه تلونکي د پاره وَعيد

حضرت ابو هريرة رضي الله عنه فرمايي :

لَأَنْ يَمْتَلِئَ أُذُنُ ابْنِ آدَمَ رَصَاصًا مُذَابًا خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَسْمَعَ الْمُنَادِيَ ثُمَّ لَا يُجِيبُهُ . (۳)

---

(۱) وقال عبد الرزاق عن ليث عن مجاهد قال : سأل رجل ابن عباس فقال : رجل يصوم النهار ويقوم الليل لا يشهد جُمعة ولا جَماعة. فقال ابن عباس : هو في النار. ثمّ جاء الغد فسأله عن ذلك ، فقال : هو في النار. قال : واختلف إليه قريبا من شهر يسأله عن ذلك ، ويقول ابن عباس : هو في النار . الصلاة واحكام تاركها لابن قيم الجوزية ۱ / ۱۱۱ وأما المسألة السادسة: وهي هل تصح صلاة من صلى وحده وهو يقدر على الصلاة جماعة أم لا ؟ طبع مكتبة الثقافة بالمدينة المنورة.

وَرُوِيَ عَنْ مُجَاهِدٍ ، أَنَّ رَجُلًا جَاءَ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمَا ، فَقَالَ : يَا ابْنَ عَبَّاسٍ ! مَا تَقُولُ فِي رَجُلٍ يَقُومُ اللَّيْلَ وَيَصُومُ النَّهَارَ وَلَا يَشْهَدُ جُمُعَةً وَلَا يُصَلِّي فِي الْجَمَاعَةِ فَمَاتَ عَلَى ذَلِكَ ، فَأَيْنَ هُوَ ؟ فَقَالَ : هُوَ فِي النَّارِ. فَاخْتَلَفَ إِلَيْهِ شَهْرًا يَسْأَلُهُ عَنْ ذَلِكَ ، وَهُوَ يَقُولُ هُوَ فِي النَّارِ . تنبيه الغافلين بأحاديث سيد الأنبياء والمرسلين للسمرقندي ۱ / ۲۷٦ بَابُ: الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ طبع دار ابن كثير، دمشق بيروت .

(۲) وَمَعْنَى الحَدِيثِ : أَنْ لَا يَشْهَدَ الجَمَاعَةَ وَالجُمُعَةَ رَغْبَةً عَنْهَا ، وَاسْتِخْفَافًا بِحَقِّهَا، وَتَهَاوُنًا بِهَا . سنن الترمذي بَابُ مَا جَاءَ فِيمَنْ سَمِعَ النِّدَاءَ فَلَا يُجِيبُ في تشريح حديث رقم ۲۱۸ .

(۳) مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۳۴٦۵ مَنْ قَالَ إِذَا سَمِعَ الْمُنَادِيَ فَلْيُجِبْ. طبع مكتبة الرشد الرياض.

چې د بني آدم دواړه غوږونه د ويلې شوې ټانبې نه ډک شي دا دده د پاره ددينه ډيره بهتره ده چې دې آذان واوري او بيا جَمعې ته لاړ نشي.(۱)

## بَغير عُذره ځان له مونځ کوونکي ته کامل ثواب نه ملاويږي

کوم کس چې بَغير د څه شَرعي عُذر نه جَمعې ته نه حاضريږي بلکه په کور يا دُکان کې مونځ کوي نو داسې کس ته د مانځه کامِل ثواب نه ملاويږي.

۱. د ابوداؤد شريف حديث دى، حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا حديث نقل کړى:

مَنْ سَمِعَ الْمُنَادِيَ فَلَمْ يَمْنَعْهُ مِنِ اتِّبَاعِهِ عُذْرٌ .... لَمْ تُقْبَلْ مِنْهُ الصَّلَاةُ الَّتِيْ صَلّٰى.(۲)

---

(۱) وفي رواية: عَن أبي هريرة رضي الله عنه قَالَ: لِأَنْ تَمْتَلِئَ أُذُنَا ابْنِ آدَمَ رَصَاصًا مُذَابًا خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَسْمَعَ الْمُنَادِيَ فَلَا يُجِيْبُهُ. تنقيح التحقيق في احاديث التعليق للذهبي ۱ / ۲۵۰ اَلْجَمَاعَة والإمامة. الصلاة واحكام تاركها لابن قيم الجوزية ۱ / ۱۰۱ وأما المسألة السادسة: وهي هل تصح صلاة من صلى وحده وهو يقدر على الصلاة جماعة أم لا؟

(۲) مَنْ سَمِعَ الْمُنَادِيَ فَلَمْ يَمْنَعْهُ مِن اتِّبَاعِهِ عُذْرٌ، قَالُوْا: وَمَا الْعُذْرُ؟، قَالَ: خَوْفٌ أَوْ مَرَضٌ لَمْ تُقْبَلْ مِنْهُ الصَّلَاةُ الَّتِيْ صَلّٰى. سنن ابي داؤد بَابٌ فِي التَّشْدِيْدِ فِي تَرْكِ الْجَمَاعَةِ رقم الحديث ۵۵۱ وقال الالباني صحيح. مشكاة المصابيح باب الجماعة وفضلها الفصل الثاني رقم الحديث ۱۰۶۸ (۱۷)، كنزالعمال رقم الحديث ۲۰۹۹۴.

ملاعلي قاري رحمه الله په مرقاة ددې حديث تشريح داسې کړى: (فَلَمْ يَمْنَعْهُ): قَالَ ابْنُ الْمَلَكِ: فِيْهِ حَذْفٌ اِعْتِمَادًا عَلَى الْمَعْنَى، أَيْ: فَلَمْ يَتْبَعْهُ وَلَمْ يَمْنَعْهُ. (مِنِ اتِّبَاعِهِ): بِحُضُوْرِ الْمَسْجِدِ لِلْجَمَاعَةِ. قَالَ ابْنُ حَجَرٍ رحمه الله أَيْ: مِنْ إِتْيَانِهِ إِلَى الْجَمَاعَةِ الَّتِيْ دُعِيَ إِلَيْهَا... (قَالُوْا) أَيْ: لِابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما إِذْ ذَكَرَ لَهُمْ ذٰلِكَ (وَمَا الْعُذْرُ؟) أَيِ: الَّذِيْ عَنَاهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ (قَالَ) أَيْ: ابْنُ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما. (خَوْفٌ) أَيْ: هُوَ خَشْيَةٌ عَلَى نَفْسِهِ، أَوْ عِرْضِهِ، أَوْ مَالِهِ. وَقَالَ ابْنُ الْمَلَكِ: أَوْ خَوْفُ ظُلْمَةٍ، أَوْ غَرِيْمٍ وَكَانَ مُفْلِسًا. وَقَدْ سَبَقَ أَنَّ مِنَ الْأَعْذَارِ الْمَطَرَ، وَالْبَرْدُ الشَّدِيْدُ، وَحُضُوْرُ الطَّعَامِ، وَمُدَافَعَةُ الْخَبَثِ، وَرَوَى الْبُخَارِيُّ وَغَيْرُهُ: أَنَّ السِّمَنَ الْمُفْرِطَ عُذْرٌ. (أَوْ مَرَضٌ) أَيْ: يُبِيْحُ لَهُ التَّيَمُّمَ، كَذَا فِي شَرْحِ الْمُنْيَةِ.

(لَمْ تُقْبَلْ مِنْهُ) أَيْ: كَامِلًا. قَالَ الطِّيْبِيُّ: "مَنْ سَمِعَ" مُبْتَدَأٌ، وَ "لَمْ تُقْبَلْ" خَبَرُهُ، يَعْنِيْ وَقَعَ السُّؤَالُ وَالْجَوَابُ مُعْتَرِضَيْنِ بَيْنَ الشَّرْطِ وَالْجَزَاءِ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح /۸۳۹ رقم الحديث ۱۰۶۸ بَابُ الْجَمَاعَةِ وَفَضْلِهَا طبع دار الفكر، بيروت لبنان.

څوک چې د مُؤذِن آذان واوري ، بيا دې د مونځ د تابعدارۍ ( يعنی په جَمعه کې دشريکيدو ) نه څه شی منع نه کړي ( او ددې باوجود دې په کور يا دُکان کې مونځ اوکړي ) نو دده دا مونځ نه قبليږي ( يعنی کامِل ثواب ورته نه ملاويږي ) . کله چې ابن عباس رضي الله عنهما دا حديث بيانول نو د حديث په مينځ کې صحابه کرامو دده نه پوښتنه اوکړه :

وَمَا الْعُذْرُ ؟ هغه عُذر څه شی دی ؟ ده ورته وويل : خَوْفٌ أَوْ مَرَضٌ . يَره يا مرَض .

۲ . علامه ابن منذر رحمه الله په کتاب الاوسط کې د حضرت علي ﷺ دا قول رانقل کړی چې :

مَنْ سَمِعَ النِّدَاءَ فَلَمْ يَأْتِهِ لَا تُجَاوِزُ صَلَاتُهُ رَأْسَهُ إِلَّا مِنْ عُذْرٍ . (۱)

څوک چې آذان واوري او بيا جَمعې ته لاړ نشي نو دده ځانله مونځ دده د غوږونو نه پورته نه ځي ( يعنی کامِل او مقبول نه وي ) ، البته که دده ته عُذر وُ نو بيا خير دی .

۳ . نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ سَمِعَ النِّدَاءَ فَلَمْ يُجِبْ فَلَا صَلَاةَ لَهُ إِلَّا مِنْ عُذْرٍ . (۲)

څوک چې آذان واوري او بيا جَمعې ته لاړ نشي نو دده مونځ نه ( کامِل ) کيږي ، البته که دده شرعي عُذر وُ نو بيا جائز دی .

٤ . رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي : لَا صَلَاةَ لِجَارِ الْمَسْجِدِ إِلَّا فِي الْمَسْجِدِ . (۳)

---

(۱) الأوسط في السنن والإجماع والاختلاف رقم الحديث ۱۸۹۸ ذِكْرُ تَخَوُّفِ النِّفَاقِ عَلَى تَارِكِ شُهُودِ الْعِشَاءِ. وَالصُّبْحِ فِي جَمَاعَةٍ ... طبع دار طيبة الرياض السعودية . الصلاة واحكام تاركها لابن قيم الجوزية ۱ / ۱۰۱ واما المسألة السادسة: وهي هل تصح صلاة من صلى وحده وهو يقدر على الصلاة جماعة ام لا ؟

(۲) صحيح ابن حبان رقم الحديث ۲۰٦۴ ذِكْرُ الْخَبَرِ الدَّالِّ عَلَى أَنَّ هَذَا الْأَمْرَ حَتْمٌ لَا نَدْبٌ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۱۲۲٦٦ ، المستدرک علی الصحيحين للحاکم رقم الحديث ۸۹۳ ، مشکاة المصابيح رقم ۱۰۷۷ ( ۲٦ ) ، و رَوَاهُ الدَّارقُطْنِيُّ .

(۳) المستدرک علی الصحيحين للحاکم رقم الحديث ۸۹۸ ، السنن الكبری للبيهقي رقم ۴۹۴۵ ، کنزالعمال رقم ۲۰۷۳۷ ، و رقم ۲۲۸۰۰ .

د جُمات سره د نزدې اُوسېدونکي ( نارينه ) ګاوندي مونځ صرف په جُمات کې جائز (يعنی کامِل ) دی.

جمهور فقهاء ددې احاديثو مطلب دا بيانوي چې دداسې کس مونځ کامِل نه دی ، يعنی مونځ يې کيږي خو کامِل نه دی. (۱)

**فائده** : په مذکوره احاديثو کې بغير عُذره جَمعې پرېخودونکي د پاره سخت وعيدونه بيان شوي . دې قِسمه احاديثو ته نظر کولو سره بعضې اَئمهؤ او اسلافو لکه امام احمد بن حنبل ، داؤد ، عطاء او ابوثور رحمهم الله وغيره دا قول کړی چې د جَمعې سره مونځ کول فرضِ عين دی ، او جَمعه هم د اَودس په شان د مانځه د پاره شرط ده ، د غير معذوره کس مونځ بغير د جَمعې نه بالکل نه صحيح کيږي . (۲)

ليکن د جمهورو علماؤ په نزد جَمعه سُنّتِ مؤکد ده ، واجِبو ته نزدې ده ، دداسې کس مونځ اګر چې کيږي ، ليکن ناقِص وي ، ثواب يې کم وي ، داسې کس بَدبخته او د الله ﷻ

---

(۱) ملاعلي قاري رحمه الله په مرقاة شرح مشکوة کې د مذکوره احاديثو همدا مطلب بيان کړی : ( مَنْ سَمِعَ النِّدَاءَ فَلَمْ يُجِبْ فَلَا صَلَاةَ ) كَامِلَةَ أَوْ مَقْبُولَةَ (لَهُ إِلَّا مِنْ عُذْرٍ ) . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح بَابُ الْجَمَاعَةِ وَفَضْلِهَا ۳ / ۸۴۴ رقم الحديث ۱۰۷۷ ط . دار الفكر، بيروت لبنان .

(۲) (اَلْجَمَاعَةُ سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ ) أَيْ قَوِيَّةٌ تُشْبِهُ الْوَاجِبَ فِي الْقُوَّةِ حَتَّى اُسْتُدِلَّ بِمُلَازَمَتِهَا عَلَى وُجُودِ الْإِيمَانِ . وَقَالَ كَثِيرٌ مِنَ الْمَشَايِخِ : إِنَّهَا فَرِيضَةٌ، ثُمَّ مِنْهُمْ مِنْ يَقُولُ : إِنَّهَا فَرْضُ كِفَايَةٍ ، وَمِنْهُمْ مَنْ يَقُولُ : إِنَّهَا فَرْضُ عَيْنٍ.... تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق وحاشية الشِلْبِيِّ ۱ /۱۳۲ بَابُ الْإِمَامَةِ وَالْحَدَثِ فِي الصَّلَاةِ .

وَمن كَانَ يرى أَن حُضُور الجَمَاعَات فرض : عَطاء وَأحمد بن حَنْبَل وَأَبُو ثَوْر . وَقَالَ الشَّافِعِي رَضِي الله عَنهُ لَا أرخص لمن قدر على صَلَاة الجَمَاعَة فِي ترك إتيانها إِلَّا من عذر .

وَقَالَ الخطابِي بعد ذكر حَدِيث ابْن أم مَكْتُوم : وَفِي هَذَا دَلِيل على أَن حُضُور الجَمَاعَة وَاجِب ، وَلَو كَانَ ذَلِك ندبا لَكَانَ أولى من يَسعهُ التَّخَلُّف عَنْهَا أهل الضَّرُورَة والضعف وَمن كَانَ فِي مثل حَال ابْن أم مَكْتُوم . وَكَانَ عَطاء بن أبي رَبَاح يَقُول : لَيْسَ لأحد من خلق الله فِي الحَضَر وبالقرية رخصَة إِذا سمع النداء فِي أَن يدع الصَّلَاة ..

الترغيب والترهيب للمنذري ۱ / ۱۶۸ التَّرْهِيب من ترك حُضُور الجَمَاعَة لغير عذر طبع دار الكتب العلمية بيروت

د رِضا نه محروم وي . (١) ، (٢)

( **نوټ** : ددې مسئلې پوره تفصيل په مخکينی موضوع " په جمعې سره د مونځ کولو اَهميت او فضائل " کې تېر شوی ، هلته يې اوګوره ابوالشمس عفي عنه ) .

## جَمعې ته په نه حاضريدلو سره د سَر قلم کولو دَهمکي ورکول

حافظ ابن قيم رحمه الله په خپل کتاب " الصلاة واحكام تاركها " کې ليکلي دي :

چې کله رسولُ الله صلى الله عليه وسلم وفات شو نو حضرت عتاب بن أسيد رضي الله عنه " چې د نبي عليه السلام دطرفه په مکه مکرمه باندې عامل مقرر وُ " ده خلق راجَمع کړل ، او ورته وې ويل :

يَا أَهْلَ مَكَّةَ ! وَاللهِ لَا يَبْلُغُنِيْ أَنَّ أَحَدًا مِنْكُمْ تَخَلَّفَ عَنِ الصَّلَاةِ فِي الْمَسْجِدِ فِي الْجَمَاعَةِ إِلَّا ضَرَبْتُ عُنُقَهُ . (٣)

اې اهلِ مکه وُ ! قسَم په الله ، که ماته دا خبره راأورسيده چې په تاسو کې يو کس جُمات ته د جَمعې مانځه ته ( بغير عُذره ) نه راځي نو زه به د هغه څټ په توره اُووَهم .

ده په دې خبره باندې صحابه کرام خوشحاله شو ، او د دوی په سترګو کې دده عِزت نور هم زيات شو . (۴)

ددې خبرې نقل کولو نه پس علامه ابن قيم رحمه الله ليکلي :

لَا يَجُوْزُ لِأَحَدٍ التَّخَلُّفُ عَنِ الْجَمَاعَةِ فِي الْمَسْجِدِ إِلَّا مِنْ عُذْرٍ .

بغير عُذره هيچا ته د جُمات د جَمعې نه پاتې کيدل جائز ندي .

---

(١) ملاعلي قاري رحمه الله د حضرت عبدالله بن مكتوم د حديث په تشريح كې ليكلي .... وَاسْتَدَلَّ بِهِ أَبُوْ ثَوْرٍ عَلَى وُجُوْبِ حُضُوْرِ الْجَمَاعَةِ ، وَقَالَ بَعْضُ الشَّافِعِيَّةِ : هِيَ فَرْضٌ عَلَى الْكِفَايَةِ ، وَالْأَصَحُّ أَنَّهُ سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ . وَعَلَيْهِ الْأَكْثَرُوْنَ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح بَابُ الْجَمَاعَةِ وَفَضْلِهَا ٣ / ٨٣۴ رقم الحديث ١٠٧٧ ط . دار الفكر بيروت

(٢) معارف الحديث حصه سوم ص ١٢٨ .

(٣) الصلاة واحكام تاركها لابن قيم الجوزية ١ / ١١٨ وأما المسألة الثامنة وهي هل له فعلها في بيته أم يتعين المسجد ؟

(۴) وشكر له أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم هذا الصنيع و زاده رفعة في أعينهم . مذكوره حواله .

## بغير عُذره د جَمعې پرېښودونکې د سُنن هُدیٰ پرېښودونکې دی

**۱** . حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي :

مَنْ سَمِعَ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ فَلَمْ يُجِبْ فَقَدْ تَرَكَ سُنَّةَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . (۱)

څوک چې حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ واوري او دې جَمعې ته لاړ نشي نو ده د محمّد صلی الله علیه وسلم سُنت پرېښود .

**۲** . د مسلم شريف حديث دی ، حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمايي :

...... وَلَوْ أَنَّكُمْ صَلَّيْتُمْ فِي بُيُوتِكُمْ كَمَا يُصَلِّي هٰذَا الْمُتَخَلِّفُ فِي بَيْتِهِ ، لَتَرَكْتُمْ سُنَّةَ نَبِيِّكُمْ ، وَلَوْ تَرَكْتُمْ سُنَّةَ نَبِيِّكُمْ لَضَلَلْتُمْ ... (۲)

که چيرته تاسو دا مونځونه په خپلو کورونو کې کوی لکه څرنګې چې دا فلانی کس په خپل کور کې د نورو نه ځانله مونځ کوي (۳) نو تاسو به د خپل پيغمبر سُنت پرېښودونکي شی ، او که تاسو د خپل پيغمبر سُنت پرېښودل نو ګمراه به شی .

## بغير عُذره د جَمعې په پرېښودو سره په زړه باندې مُهر لګېدل

د ابن ماجه شريف حديث دی ، رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :

لَيَنْتَهِيَنَّ أَقْوَامٌ عَنْ وَدْعِهِمُ الْجَمَاعَاتِ ، أَوْ لَيَخْتِمَنَّ اللهُ عَلَى قُلُوبِهِمْ ، ثُمَّ لَيَكُونُنَّ مِنَ الْغَافِلِيْنَ . (۴)

---

(۱) المعجم الاوسط للطبراني ۸ / ۷۰ رقم الحديث ۷۹۹۰ بَابُ الْمِيمِ مِنْ بَقِيَّةِ مَنْ أَوَّلُ اسْمِهِ مِيمٌ مَنِ اسْمُهُ مُوسَى طبع دار الحرمين القاهرة . صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۴۳۲ وقال : رواه الطبراني في الأوسط بإسناد حسن .

(۲) صحيح مسلم بَابُ صَلَاةِ الْجَمَاعَةِ مِنْ سُنَنِ الْهُدَى رقم الحديث ۲۵۷ ( ۶۵۴ ) ، مشكاة المصابيح رقم الحديث ۱۰۷۲ ( ۲۱ ) ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۸۶۰۷ . و رواه النسائي ۲ / ۱۰۸ ، والمنذري في الترغيب والترهيب ۱ / ۲۶۰ ، والهيثمي في المجمع ۲ / ۳۹ .

(۳) ابن مسعود ﷺ يو خاص کس ته اِشاره اوکړه چې هغه به په کور کې ځانله مونځ کول .

(۴) سنن ابن ماجة بَابُ التَّغْلِيظِ فِي التَّخَلُّفِ عَنِ الْجَمَاعَةِ رقم الحديث ۷۹۴ .

خلق دي د جَمعې مونځ پرېخودو نه مَنع شي ګني الله تعالى به د دوى په زړونو باندې مُهر اُولږوي ، بيا به دوى خامخا د غافلينو نه اوګرځي .

**نوټ** : دا حديث په سنن ابن ماجه كې د " بَابُ التَّغْلِيْظِ فِي التَّخَلُّفِ عَنِ الْجَمَاعَةِ " د باب لاندې ذكر شوى . همدغه شان حديث په مسلم شريف او نورو د احاديثو په كتابونو كې د جُمعې مانځه پرېخودو باره كې هم راغلې دى . (۱)

## منافقانو ته د سهَر او ماسخوتن جَمعې ته حاضريدل ډير ګران وي

**۱** . د بخاري شريف حديث دى ، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

لَيْسَ صَلَاةٌ أَثْقَلَ عَلَى الْمُنَافِقِيْنَ مِنَ الْفَجْرِ وَالْعِشَاءِ. وَلَوْ يَعْلَمُوْنَ مَا فِيْهِمَا لَأَتَوْهُمَا وَلَوْ حَبْوًا . (۲)

په منافقانو باندې د سهَر او ماسخوتن د مونځ نه بل دروند مونځ نشته ( يعنى منافقانو ته په ټولو مونځونو كې د سهَر او ماسخوتن مونځ ته راتلل ډير مشكل دي ) ، كه چيرته دوى ته دا معلومه وى چې په دې دوه مونځونو كې څومره ډير ثوابونه او بركتونه دي نو دوى به دې دوه مونځونو ته د ګناټو په سرونو راكښيدلو سره راتلى .

يعنى بِالفَرض كه د بيمارۍ په وجه په خپو نشو راتلى نو په زنګونانو باندې به په كښيدو كښيدو ، يا د ګناټو په سرونو باندې به خوئيدلو سره راتلى .

---

(۱) په مسلم شريف كې د جُمعې مونځ پرېخودو باره كې ذكر دي ... أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ رضي الله عنه وَأَبَا هُرَيْرَةَ رضي الله عنه حَدَّثَاهُ . أَنَّهُمَا سَمِعَا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ عَلَى أَعْوَادِ مِنْبَرِهِ : « لَيَنْتَهِيَنَّ أَقْوَامٌ عَنْ وَدْعِهِمُ الْجُمُعَاتِ . أَوْ لَيَخْتِمَنَّ اللهُ عَلَى قُلُوبِهِمْ . ثُمَّ لَيَكُوْنُنَّ مِنَ الْغَافِلِيْنَ » . صحيح مسلم رقم الحديث ۴۰ (۸۶۵) ، سنن ابي داؤد الطيالسي رقم الحديث ۲۰۴۶ .

(۲) صحيح البخاري بابُ فَضْلِ العِشَاءِ فِي الجَمَاعَةِ رقم الحديث ۶۵۷ ، مشكاة المصابيح باب فضائل الصلاة الفصل الاول رقم ۶۲۹ (۶) ، المعجم الكبير للطبراني رقم ۱۰۰۸۲ ، كنز العمال رقم الحديث ۲۲۸۱۱ .

( حَبْوًا ) : حابين من حبا الصبي إذا مشي على يديه و رجليه أو مقعدته . تعليق مصطفى البغا على البخاري في تشريح حديث ۶۱۵ .

۲ . د ابوداؤد شریف حدیث دی ، حضرت ابي بن کعب رضي الله عنه فرمايي چې یوه ورځ مونږ ته رسول الله صلی الله علیه وسلم د سهَر مونځ په جَمعه اوکړو ، د مانځه د فراغت نه پس یې وفرمایل :

أَشَاهِدٌ فُلَانٌ ؟ آیا فلانکې حاضر دی ؟

صحابه کرامو ورته وفرمایل : لَا . نه دې حاضر .

رسول الله ﷺ بیا وفرمایل :

أَشَاهِدٌ فُلَانٌ ؟ آیا فلانې سړې حاضر دی ؟

صحابه کرامو ورته وفرمایل : لَا . نه دې حاضر .

نبي علیه السلام وفرمایل :

إِنَّ هَاتَيْنِ الصَّلَاتَيْنِ أَثْقَلُ الصَّلَوَاتِ عَلَى الْمُنَافِقِيْنَ . وَلَوْ تَعْلَمُوْنَ مَا فِيْهِمَا لَأَتَيْتُمُوْهُمَا وَلَوْ حَبْوًا عَلَى الرُّكَبِ . (۱)

بیشکه دا دوه ( یعنی د سهَر او ماسخوتن ) مونځونه په منافقانو باندې ډیر درانه مونځونه دي ، که چیرته تاسو ته هغه ثواب معلوم شي کوم چې په دې دوه مونځونو کې دی نو تاسو به بیا خامخا دې ته راځي اګر چې په زَنګونانو ( یا کناټو ) باندې په کښیدلو کښیدلو سره وي .

۳ . حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما فرمايي :

(۱) عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ ﷺ قَالَ : صَلَّى بِنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا الصُّبْحَ . فَقَالَ : أَشَاهِدٌ فُلَانٌ ؟ قَالُوْا : لَا . قَالَ : أَشَاهِدٌ فُلَانٌ ؟ قَالُوْا : لَا ، قَالَ : « إِنَّ هَاتَيْنِ الصَّلَاتَيْنِ أَثْقَلُ الصَّلَوَاتِ عَلَى الْمُنَافِقِيْنَ . وَلَوْ تَعْلَمُوْنَ مَا فِيْهِمَا لَأَتَيْتُمُوْهُمَا وَلَوْ حَبْوًا عَلَى الرُّكَبِ . وَإِنَّ الصَّفَّ الْأَوَّلَ عَلَى مِثْلِ صَفِّ الْمَلَائِكَةِ . وَلَوْ عَلِمْتُمْ مَا فَضِيْلَتُهُ لَابْتَدَرْتُمُوْهُ . وَإِنَّ صَلَاةَ الرَّجُلِ مَعَ الرَّجُلِ أَزْكَى مِنْ صَلَاتِهِ وَحْدَهُ ، وَصَلَاتُهُ مَعَ الرَّجُلَيْنِ أَزْكَى مِنْ صَلَاتِهِ مَعَ الرَّجُلِ ، وَمَا كَثُرَ فَهُوَ أَحَبُّ إِلَى اللهِ تَعَالَى . سنن ابي داؤد بَابٌ فِي فَضْلِ صَلَاةِ الْجَمَاعَةِ رقم الحديث ۵۵۴ ، سنن النسائي رقم الحديث ۸۴۳ .

كُنَّا إِذَا فَقَدْنَا الْإِنْسَانَ فِيْ صَلَاةِ الْعِشَاءِ الْآخِرَةِ وَالصُّبْحِ أَسَأْنَا بِهِ الظَّنَّ. (۱)

مونږ به چې يو كس د ماسخوتن او سهَر په مانځه كې او نه ليدو نو مونږ به وربانديې بَدګماني كوله (چې ګني دې منافق شوی، ځكه مانځه ته نه راځي).

امام ذهبي رحمه الله په الكبائر كې دا روايت په تفصيل سره نقل كړی، حضرت عبدالله بن عُمر رضي الله عنهما فرمايي:

كُنَّا إِذَا تَخَلَّفَ مِنَّا إِنْسَانٌ فِيْ صَلَاةِ الْعِشَاءِ وَالصُّبْحِ فِي الْجَمَاعَةِ أَسَأْنَا بِهِ الظَّنَّ أَنْ يَكُوْنَ قَدْ نَافَقَ. (۲)

په مونږ كې به چې كوم انسان د ماسخوتن او د سهَر مانځه د جَمعې نه پاتې شو نو مونږ به پرې دا ګمان كولو چې ګني دې منافق شوې دی.

**فائده**: د منافقانو په مِزاج كې د عبادت په سلسله كې سستي زياته وي، دوی چې كوم مونځونه كوي نو هغه هم صرف د خپل ځان د بچ كولو يا مسلمانانو ته د ځان ښودنې د پاره كوي. د سهَر او ماسخوتن مونځونه داسې دي چې په دې وخت كې د خُوب غلبه زياته وي، او د تيارې په وجه خلق يو بل كم پيژني نوځان خُودَنه په كې نه كيږي، نو ځكه دا دوه مونځونه د جَمعې سره كول منافقانو ته ډير ګران او سخت وي.

لهذا مسلمانانو ته په كار دي چې د منافقانوددې خَصلت نه ځان اُوساتي، او خالصه د الله ﷻ د رَضا د پاره د ټولو مونځونو د جَمعې سره كلكه پابَندي اوكړي. (۳)

## په جَمعې سره مونځ نه كوونكو خلقو باندې شيطان غالِب كيږي

د ابوداؤد شريف حديث دی، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

(۱) صحيح ابن خزيمة رقم الحديث ۱۴۸۵ بَابُ ذِكْرِ أَثْقَلِ الصَّلَاةِ عَلَى الْمُنَافِقِيْنَ وَتَخَوُّفِ النِّفَاقِ عَلَى تَارِكِ شُهُوْدِ الْعِشَاءِ وَالصُّبْحِ فِي الْجَمَاعَةِ ، مجمع الزوائد ومنبع الفوائد بَابٌ فِيْ صَلَاةِ الْعِشَاءِ الْآخِرَةِ وَالصُّبْحِ فِيْ جَمَاعَةٍ رقم الحديث ۲۱۵۱، ورقم ۲۱۵۲ وقال الهيثمي: رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْكَبِيْرِ، وَالْبَزَّارُ وَرِجَالُ الطَّبَرَانِيِّ مُوَثَّقُوْنَ.

(۲) الكبائر للذهبي ۳۱/۱ اَلْكَبِيْرَةُ الرَّابِعَةُ فِيْ ترك الصَّلَاة فصل فِيْ عُقُوْبَةِ تَارِكِ الصَّلَاةِ (فِيْ جَمَاعَةٍ) مَعَ الْقُدْرَةِ.

(۳) مظاهر حق شرح مشكوة ج۲ باب فضائل الصلاة.

مَا مِنْ ثَلَاثَةٍ فِي قَرْيَةٍ وَلَا بَدْوٍ لَا تُقَامُ فِيهِمُ الصَّلَاةُ إِلَّا قَدِ اسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطَانُ ، فَعَلَيْكَ بِالْجَمَاعَةِ فَإِنَّمَا يَأْكُلُ الذِّئْبُ الْقَاصِيَةَ . (۱)

په کومه آبادۍ يا ځنګل کې چې درې کسان وي او دوی په جَمعې سره مونځ نه کوي نو يقينًا په دوی باندې شيطان غالِب کيږي ، لهذا په جَمعې سره مونځ کول په ځان لازم کړئ ، ځکه ليوه ( شَرمخ ) هغه ګډه ( يا چيلۍ ) خوري کومه چې د رَمې نه ځانله وي .

**قوت په اجتماعيت کې دی :** په دې کې هيڅ شک نشته چې د مسلمانانو کاميابي په اِجتماعيت او اِتفاق کې ده ، په کومو خلقو کې چې اِجتماعيت وي د دوی قوت هم زيات وي او څوک په دوی باندې نشي غالِب کيدی ، دغه وجه ده چې اسلام مسلمانانو ته د اتفاق حکم کړی ، او د اِسلام اکثره عبادات په اِجتماعي طريقې سره اَداء کيږي .

او کوم کس چې تَنِ تَنها يواځې وي نو نه خو دده څه قوت وي ، او نه دده د خبرې څه حيثيت وي ، داسې کس هَميشه ناکامه وي ، ځکه د هر چا په ده باندې زُور رَسي .

همداسې حالت د شيطان هم دی ، چې کوم خلق په اِجتماعيت او جَمعې سره مونځ کوي نو شيطان په دوی باندې نشي غالِب کيدی .

او چې څوک د جَمعې نه بَغير ځانله مونځ کوي نو په ده باندې د شيطان اَثر ډير زَر کيږي ، او شيطان په ده باندې غالِب کيږي .

بيا نبي عليه السلام د دې مثال هم بيان کړی چې ليوه ( شَرمَخ ) د چيلو په رَمې باندې د حَملې کولو جُرأت نشي کولی ، خو چې کله دا چيلۍ د رَمې نه جدا شي نو بيا شَر مخ په آسانه دا خپل خوراک جوړولې شي .

لهذا که په يو ځای کې صرف درې کسان وي اګر چې دا ځنګل يا دَښته وي خو بيا به هم دوی د جَمعې سره مونځ کوي ، او که دوی ځانله ځانله مونځ کوي نو بيا به خامخا په دوی باندې شيطاني اَثر کيږي ، او شيطان به ور باندې غالِب کيږي .

(۱) سنن ابي داؤد بَابٌ فِي التَّشْدِيدِ فِي تَرْكِ الْجَمَاعَةِ رقم الحديث ۵۴۷ ، سنن النسائي اَلتَّشْدِيْدُ فِي تَرْكِ الْجَمَاعَةِ رقم الحديث ۸۴۷ ، المستدرک على الصحيحين للحاکم رقم ۷۶۵ ، مشکاة المصابيح رقم ۱۰۶۷ ( ۱۶ ) باب الجماعة وفضلها الفصل الثاني ، کنز العمال رقم ۲۰۳۵۴ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۴۲۷ ( ۲ ) الترهيب من ترک حضور الجماعة بغير عذر .

# د امام نه مخکې سر اوچتولو باندې وعيد

دلته دا يوه خبره ذِكر كول لازمي ګڼم ، هغه دا چې بعضې خلق جُمات ته جُمعې له لاړ شي خو بيا په جُمعه كې د اِمام نه مخكې ركوع او سجدې ته ښكته كيږي .

نو خبردار ، كوم كس چې د مانځه اَركان د اِمام نه مخكې اَداء كوي ، يعنې رُكوع او سجدې ته د امام نه مخكې ځي ، يا د اِمام نه مخكې سَر راپورته كوي نو دداسې كس د پاره په احاديثو كې سخت وعيدونه راغلي ، ددې متعلق درته يو څو اَحاديث ذكر كوم :

**اول حديث** : د مسلم شريف حديث دى ، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

أَمَا يَخْشَى الَّذِيْ يَرْفَعُ رَأْسَهُ قَبْلَ الْإِمَامِ أَنْ يُحَوِّلَ اللهُ رَأْسَهُ رَأْسَ حِمَارٍ ؟ (۱)

آيا هغه كس چې هغه د اِمام نه مخكې (په ركوع او سجده كې) خپل سَر اُوچتوي دا ددينه نه ويريږي چې الله تعالى دده سَر د خَر په شان اوګرځوي ؟

يعنې ده ته دا يَره په كار ده چې هسې نه الله تعالى دده سَر د خَر په شان كړي .

**د حديث تشريح** : ددې حديث په تشريح كې د علماؤ مختلف اَقوال دي :

۱ . دا حديث په خپله حقيقي معنىٰ (يعنې مَسخ حقيقي) باندې مَحمول نه دى ، بلكه ددې نه مَسخ مَعنوي مراد ده ، اوس د حديث مطلب دا شو چې : كوم كس په جُمعه كې د اِمام نه مخكې سَر پورته كوي نو الله ﷻ به دا د خَر په شان كم عَقل او كم فهم كړي .

---

(۱) صحيح مسلم بَابُ النَّهْيِ عَنْ سَبْقِ الْإِمَامِ بِرُكُوعٍ أَوْ سُجُودٍ وَنَحْوِهِمَا رقم الحديث ۱۱۴ ( ۴۲۷ ) ، سنن ابي داؤد بَابُ التَّشْدِيدِ فِيمَنْ يَرْفَعُ قَبْلَ الْإِمَامِ أَوْ يَضَعُ قَبْلَهُ رقم الحديث ۶۲۳ ، سنن الترمذي رقم الحديث ۵۸۲ باب ما جاء في التشديد الذي يرفع راسه قبل الامام ، مشكاة المصابيح رقم الحديث ۱۱۴۱ ( ۶ ) ، سنن ابن ماجه رقم ۹۶ .

دا حديث په بخاري شريف كې په دې الفاظو ذكر دى : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَمَا يَخْشَى أَحَدُكُمْ – أَوْ : لَا يَخْشَى أَحَدُكُمْ – إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ قَبْلَ الْإِمَامِ أَنْ يَجْعَلَ اللهُ رَأْسَهُ رَأْسَ حِمَارٍ ، أَوْ يَجْعَلَ اللهُ صُوْرَتَهُ صُوْرَةَ حِمَارٍ . صحيح البخاري بَابُ إِثْمِ مَنْ رَفَعَ رَأْسَهُ قَبْلَ الْإِمَامِ رقم الحديث ۶۹۱

( يَجْعَلَ اللهُ ) يصير حقيقة وهو أمر ممكن . أو مجازا فيكون تشبيها له بالحمار من حيث البلادة والغباء لقلة فقهه في الدين . تعليق مصطفى البغا على صحيح البخاري .

۲ . د عُلماؤ دويم قول دادی چې دا حديث په خپله حقيقي معنٰی (يعنی مَسخ حقيقي) باندې مَحمول دی ، ځکه په دې اُمت کې هم مَسخ مُمکِن ده ، لکه په بَابُ اَشْرَاطِ السَّاعَةِ کې ددې حقيقي مَسخې ذکر شته ، او ددې خبرې تائيد د مسلم شريف ددې حديث نه هم کيږي ، نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَا يَأْمَنُ الَّذِيْ يَرْفَعُ رَأْسَهُ فِيْ صَلَاتِهِ قَبْلَ الْإِمَامِ أَنْ يُحَوِّلَ اللهُ صُوْرَتَهُ فِيْ صُوْرَةِ حِمَارٍ . (۱) ، (۲)

---

(۱) صحيح مسلم بَابُ النَّهْيِ عَنْ سَبْقِ الْإِمَامِ بِرُكُوْعٍ أَوْ سُجُوْدٍ وَنَحْوِهِمَا رقم الحديث ۱۱۵ (۴۲۷) .

وفي رواية : أَنْ يَجْعَلَ اللهُ وَجْهَهُ وَجْهَ حِمَارٍ . صحيح مسلم رقم الحديث ۱۱٦ (۴۲۷) .

(۲) ملا علي قاري رحمه الله په مرقاة کې ددې حديث په تشريح کې د علماؤ اَقوال داسې رانقل کړي :

( رَأْسَهُ رَأْسَ حِمَارٍ ) : يَعْنِيْ يَجْعَلُهُ بَلِيْدًا كَالْحِمَارِ الَّذِيْ هُوَ أَبْلَدُ الْحَيَوَانَاتِ ، فَيَكُوْنُ مَسْخًا مَعْنَوِيًّا مَجَازِيًّا ، لٰكِنْ يَأْبَاهُ التَّخْصِيْصُ بِالرَّأْسِ .

وَيَجُوْزُ الْحَمْلُ عَلَى الْحَقِيْقَةِ ، فَإِنَّ الْمَسْخَ فِيْ هٰذِهِ الْأُمَّةِ جَائِزٌ كَمَا ذُكِرَ فِيْ بَابِ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ ، كَذَا ذَكَرَهُ بَعْضُ عُلَمَائِنَا . وَيُؤَيِّدُهُ مَا فِيْ رِوَايَةٍ : أَنْ يُحَوِّلَ اللهُ صُوْرَتَهُ صُوْرَةَ حِمَارٍ .

وَقَالَ الْأَشْرَفُ : أَيْ يَجْعَلُهُ بَلِيْدًا وَإِلَّا فَالْمَسْخُ غَيْرُ جَائِزٍ فِيْ هٰذِهِ الْأُمَّةِ .

وَقَدْ سَبَقَ عَنِ الْخَطَّابِيِّ جَوَازُ الْمَسْخِ فِيْ هٰذِهِ الْأُمَّةِ ، فَيَجُوْزُ الْحَمْلُ عَلَى الْحَقِيْقَةِ ، كَذَا ذَكَرَهُ الطِّيْبِيُّ .

وَقَالَ ابْنُ حَجَرٍ : يَحْتَمِلُ أَنْ يَكُوْنَ عَلٰى حَقِيْقَتِهِ ، فَيَكُوْنُ ذٰلِكَ مَسْخًا خَاصًّا ، وَالْمُمْتَنِعُ الْمَسْخُ الْعَامُّ كَمَا صَرَّحَتْ بِهِ الْأَحَادِيْثُ الصِّحَاحُ ، وَأَنْ يَكُوْنَ مَجَازًا عَنِ الْبَلَادَةِ .........

أَقُوْلُ : وَلَعَلَّ وَجْهَ الْمَسْخِ اِسْتِبْعَادُ وُقُوْعِهِ ، وَ إِلَّا فَالْوَاقِعُ بِخِلَافِهِ فِيْ مُخَالَفَةِ النَّاسِ إِمَامَهُمْ فِي الْمُسَابَقَةِ ، وَالْأَظْهَرُ أَنَّ هٰذَا تَهْدِيْدٌ شَدِيْدٌ وَوَعِيْدٌ أَكِيْدٌ ، وَيَكُوْنُ حَقِيْقَتُهُ فِي الْبَرْزَخِ أَوْ فِي النَّارِ ، وَيُمْكِنُ أَنْ يُقَالَ : اَلْمَسْخُ مُعَلَّقٌ عَلٰى عَدَمِ الْخَشْيَةِ الْمُقَارِنَةِ مَعَ الْمُخَالَفَةِ ، لَا عَلٰى مُجَرَّدِ عَدَمِ الْمُتَابَعَةِ ، فَيَنْدَفِعُ بِهِ قَوْلُ ابْنِ دَقِيْقِ الْعِيْدِ يُرَجِّحُ التَّجَوُّزَ أَنَّ التَّحْوِيْلَ الظَّاهِرَ لَمْ يَقَعْ مَعَ كَثْرَةِ رَفْعِ الْمَأْمُوْمِيْنَ قَبْلَ الْإِمَامِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۳ / ۸۷۹ في تشريح رقم الحديث ۱۱۴۱ بَابُ مَا عَلَى الْمَأْمُوْمِ مِنَ الْمُتَابَعَةِ وَحُكْمِ الْمَسْبُوْقِ طبع دار الفكر، بيروت لبنان

کوم کس چې په مانځه کې د امام نه مخکې سَر راپورته کوي نو دا دې ددينه نه په اَمن کيږي چې الله تعالى دده صورت د خَر د صورت په شان اُوګرځوي.

۳ . علامه خطابي رحمه الله هم ليکلي چې دا حديث په خپله حقيقي معنى باندې مَحمول دى، او په دې اُمت کې هم مَسخ جائز ده.

٤ . علامه ابن حجر رحمه الله فرمايي چې ددينه خاص مَسخ مراد ده، او ددې اُمت د پاره چې کومه مَسخ مُمتنِع ده هغه عامه نَسخ ده.

۵ . ملا علي قاري رحمه الله ليکلي دي چې په دې حديث کې دا سزا د سخت تهديد او اِنتهائي زُورَنې په طور ذِکر شوى، يا دا مطلب چې داسې کس به په عالَمِ بَرزخ يا جهنم کې په دې عذاب کې مُبتلاء کولې شي.

## د امام نه مخکې سَر اُوچتولو سره سَر د خَر په شان ګرځيدل

د مذکوره حديث متعلق د علامه ابن حجر رحمه الله قول دادى چې ددې نه حقيقي مَسخ مراد ده، او دده د قول تائيد ددې واقعې نه هم کيږي کومه چې ملا علي قاري رحمه الله په مرقاة شرح مشکوة کې رانقل کړې:

يو لوي مُحدِّث خپله واقعه داسې بيانوي چې کله زه د احاديثو زده کولو د پاره دمشق ته لاړم، هلته يو عالِم په احاديثو کې دير مشهور وُ، ما د هغه نه احاديث ويل شروع کړل، خو ډيره د حيرانتيا خبره دا وه چې ما ددې اُستاذ سره ډيره مُوده سبق وويل ليکن په دې دومره وخت کې ما دده مَخ نه وُ ليدلى، بلکه هميشه به زما د اُستاذ په مخ باندې پَرده وه، زما په زړه کې ددې اُستاذ د مَخ د ليدلو ډير شوق وُ، چې کم از کم يو ځل خو د خپل استاذ د مخ دِيدار اوکړم.

څه ډيره موده پس کله چې اُستاذ ته ددې شاګرد د احاديثو سره مِينه او بار بار اِصرار اُوليد نو يوه ورځ يې ده ته د خپل مخ نه پَرده لرې کړه:

فَرَأَى وَجْهَهُ وَجْهَ حِمَارٍ .

دې شاګرد چې د اُستاذ مخ اُوليد نو د خَر په شان وُ .

ې ډير حيران شو ، د استاذ نه يې ددې سبب معلوم کړو ، هغه ورته ووېل :

إِحْذَرْ يَا بُنَيَّ أَنْ تَسْبِقَ الْإِمَامَ . فَإِنِّيْ لَمَّا مَرَّ بِيْ فِي الْحَدِيْثِ اسْتَبْعَدْتُ وُقُوْعَهُ فَسَبَقْتُ الْإِمَامَ فَصَارَ وَجْهِيْ كَمَا تَرٰى . (۱)

اې بچيه ! ته ددې نه اُويريږه چې ته په مانځه کې د اِمام نه مخکې شې ( يعنې په رکوع او سجده کې د امام نه مه مخکې کيږه ) ، ځکه چې کله ما ته په حديث کې دا خبره ( أَمَا يَخْشَى الَّذِيْ يَرْفَعُ رَأْسَهُ قَبْلَ الْإِمَامِ أَنْ يُحَوِّلَ اللّٰهُ رَأْسَهُ رَأْسَ حِمَارٍ ؟ ) تېره شوه ، نو ما ددې واقع کيدل بَعيد او ګڼړل ( يعنې ما ووېل چې دا خو نشي کيدی چې د انسان سَر د خر د سَر په شان اوګرځي ) ، نو زه ( د بَدقِسمتۍ نه ) د تجربې په طور ( په رکوع او سجده ) د اِمام نه مخکې راپورته شوم ، چې ددې په وجه زما مخ د خَر په شان شو ، لکه ته دا اوس ګورې .

**فائده** : د نبي عليه السلام په احاديثو کې هيڅ شک نشته ، په دې باندې تجربې ندي په کار ، بلکه انسان ته په کار دي چې د مانځه په اَرکانو کې د اِمام نه مخکې نشي ، يعنې په رکوع او سجده کې د امام نه مخکې سَر راپورته نکړي .

**دويم حديث** : د مسلم شريف حديث دی ، حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې يوه ورځ مونږ ته رسول الله صلی الله عليه وسلم مونځ اوکړو ، کله يې چې مونځ خلاص کړو نو مونږ طرف ته يې خپل مَخ مُبارک را اُوګرځول ، او وې فرمايل :

---

(۱) ملا علي قاري رحمه الله په مرقاة کې دا واقعه رانقل کړې :

وَقَالَ ابْنُ حَجَرٍ : يَحْتَمِلُ أَنْ يَكُوْنَ عَلٰى حَقِيْقَتِهِ ، فَيَكُوْنُ ذٰلِكَ مَسْخًا خَاصًّا ، وَالْمُمْتَنِعُ الْمَسْخُ الْعَامُّ كَمَا صَرَّحَتْ بِهِ الْأَحَادِيْثُ الصِّحَاحُ ، وَأَنْ يَكُوْنَ مَجَازًا عَنِ الْبَلَادَةِ .
وَيُؤَيِّدُ الْأَوَّلَ مَا حُكِيَ عَنْ بَعْضِ الْمُحَدِّثِيْنَ أَنَّهُ رَحَلَ إِلٰى دِمَشْقَ لِأَخْذِ الْحَدِيْثِ عَنْ شَيْخٍ مَشْهُوْرٍ بِهَا . فَقَرَأَ عَلَيْهِ جُمْلَةً . لٰكِنَّهُ كَانَ يَجْعَلُ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ حِجَابًا وَلَمْ يَرَ وَجْهَهُ . فَلَمَّا طَالَتْ مُلَازَمَتُهُ لَهُ رَأٰى حِرْصَهُ عَلَى الْحَدِيْثِ كَشَفَ لَهُ السِّتْرَ . فَرَأٰى وَجْهَهُ وَجْهَ حِمَارٍ . فَقَالَ لَهُ : إِحْذَرْ يَا بُنَيَّ أَنْ تَسْبِقَ الْإِمَامَ . فَإِنِّيْ لَمَّا مَرَّ بِيْ فِي الْحَدِيْثِ اسْتَبْعَدْتُ وُقُوْعَهُ فَسَبَقْتُ الْإِمَامَ فَصَارَ وَجْهِيْ كَمَا تَرٰى . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۳ / ۸۷۹ في تشريح رقم الحديث ۱۱۴۱ بَابُ مَا عَلَى الْمَأْمُوْمِ مِنَ الْمُتَابَعَةِ وَحُكْمِ الْمَسْبُوْقِ طبع دار الفكر، بيروت لبنان

أَيُّهَا النَّاسُ، إِنِّي إِمَامُكُمْ، فَلَا تَسْبِقُوْنِي بِالرُّكُوْعِ وَلَا بِالسُّجُوْدِ، وَلَا بِالْقِيَامِ وَلَا بِالْإِنْصِرَافِ، فَإِنِّي أَرَاكُمْ أَمَامِيْ وَمِنْ خَلْفِيْ . (۱)

اې خلقو ! زه ستاسو امام يم ، پس تاسو د مانه په ركوع ، سجده ، قيام او سلام ګرځولو کې مه مخکې کيږئ ، ځکه زه تاسو د خپل وړاندې او روستو طرف نه ( د مُعجزې يا کشَف او يا مشاهدې په ذريعه ) ګورم .

**دريم حديث** : د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه او حضرت عبدالله بن عُمر رضي الله عنهما نه نقل دي چې دوی يو کس اُوليد چې هغه په مونځ کې په رُکوع او سجده کې د امام نه مخکې کيدو ، نو دوی ورته وفرمايل :

لَا صَلَّيْتَ وَحْدَكَ وَلَا صَلَّيْتَ مَعَ إِمَامِكَ . (۲)

تا خو نه يواځې مونځ اوکړو ، او نه دې د امام سره اوکړو .

## د افسوس مقام

کله چې د نبي عليه السلام يو اُمتي د جَمعې پريخودو دومره سزاګانې او نقصانات واوري ، او دې بياهم جَمعې ته نه راځي نو يقيني چې دا انسان ډير بَدبخته دی ، د الله جل جلاله د عظيم رَحمت نه ځان په خپله محرومه کوي ، او ځان په خپله د الله جل جلاله د عذاب مُستحق ګرځوي .

---

(۱) عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ : صَلَّى بِنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ فَلَمَّا قَضَى الصَّلَاةَ أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ، فَقَالَ: « أَيُّهَا النَّاسُ ، إِنِّي إِمَامُكُمْ، فَلَا تَسْبِقُوْنِي بِالرُّكُوْعِ وَلَا بِالسُّجُوْدِ، وَلَا بِالْقِيَامِ وَلَا بِالْإِنْصِرَافِ، فَإِنِّي أَرَاكُمْ أَمَامِيْ وَمِنْ خَلْفِيْ ».... صحيح مسلم بَابُ النَّهْيِ عَنْ سَبْقِ الْإِمَامِ بِرُكُوعٍ أَوْ سُجُودٍ وَنَحْوِهِمَا رقم الحديث ۱۱۲ ( ۴۲۶ ) ، مشكاة المصابيح باب ما على المأموم من المتابعة وحكم المسبوق الفصل الاول رقم الحديث ۱۱۳۷ ( ۲ ) ، كنزالعمال رقم الحديث ۲۰۴۸۲ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۲۵۹۲ .

(۲) كتاب الصلاة للامام احمد رحمه الله ص ۲ .

# د غونډ تقرير خلاصه

د غونډ تقرير خلاصه دا را اُووته چې کوم کس بغير د څه شرعي عُذر نه جَمعه پرېښودل خپل عادت اوګرځوي نو دداسې کس د پاره په شريعت کې سخت وعيدونه ذکر شوي :

داسې کس د پاره د قيامت په ورځ د ذِلَت او رَسوائي سزا ذکر شوى ، داسې کس د جهنم مُستحق ګرځول شوى ، داسې کس د سُننِ هُدیٰ پرېښودونکې ګرځول شوى ، نبي عليه السلام دداسې کس متعلق د سختې غصې او خفګان اِظهار کړى ، داسې کس ته د ځانله مونځ کولو پوره ثواب نه ملاوېږي ، او شيطان په ده باندې غالِب کېږي . لهذا انسان ته په کار دي چې د جَمعې د مانځه پوره اِهتمام اوکړي .

## دُعا

الله تعالیٰ دې زمونږ په زړونو کې د جَمعې د مانځه اَهميت پيدا کړي ، مونږ ټولو ته دې په جَمعې سره د مانځه کولو توفيق رانصيبه کړي ، او مونږ ټول دې د جَمعې د پرېښودو نه اُوساتي .

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

**نوټ** : د مانځه د مختلفو موضوعاتو متعلق ضروري فِقهي مسائِل او نور اَهم بَحثونه په اَتم (۸) جِلد کې ذِکر دي .

**ابوالشمس عفي عنه**

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# په مانځه کې د خُشوع اَهميت او فضائل

اَلْحَمْدُ لِحَضْرَةِ الْجَلَالَةِ ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ الرِّسَالَةِ ، وَعَلٰى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ الَّذِيْنَ هُمْ أَهْلُ الْفَضْلِ وَالْعَدَالَةِ .

أَمَّا بَعْدُ فَقَدْ قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ ، الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ خٰشِعُوْنَ ﴾ . (۱)

وَقَالَ تَعَالٰى : ﴿ وَقُوْمُوْا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ ﴾ . (۲)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّ الرَّجُلَ لَيَنْصَرِفُ وَمَا كُتِبَ لَهُ إِلَّا عُشْرُ صَلَاتِهِ تُسْعُهَا ثُمُنُهَا سُبْعُهَا سُدُسُهَا خُمُسُهَا رُبُعُهَا ثُلُثُهَا نِصْفُهَا . (۳) صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْمُ

## د مسلمانانو د کامیابۍ د پاره اَوّلنۍ شرط په خُشوع سره مونځ کول دي

محترمو مسلمانانو ورونو ! په قرآن کريم چې د مسلمانانو د پاره په دُنيا او آخِرت دواړو کې د کاميابۍ کوم شرائط ذکر شوي په هغې کې اَوّلنۍ شرط په خُشوع او عاجزۍ سره مونځ کول دي ، الله تعالى فرمايي :

---

(۱) سورة المؤمنون آية ۱ ، ۲ .

(۲) سورة البقرة آية ۲۳۸ .

(۳) سنن ابي داؤد بَابُ مَا جَاءَ فِيْ نُقْصَانِ الصَّلَاةِ رقم الحديث ۷۹۶ ، السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ۶۱۵ ، كنزالعمال رقم الحديث ۲۰۰۳۰ ، ورواه ابن حبان في صحيحه ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۵۳۷ (۱۶) ، وحسّنه الالباني في صحيح سنن ابي داؤد ۱ / ۲۲۶ .

وفي رواية : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مِنْكُمْ مَنْ يُصَلِّي الصَّلَاةَ كَامِلَةً ، وَمِنْكُمْ مَنْ يُصَلِّي النِّصْفَ ، وَالثُّلُثَ ، وَالرُّبُعَ ، وَالْخُمُسَ ، حَتّٰى بَلَغَ الْعُشْرَ . السنن الكبرى للنسائي باب ... فِيْ نُقْصَانِ الصَّلَاةِ رقم الحديث ۶۱۶ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۳۵۲۷ ، مسند احمد رقم الحديث ۱۵۵۲۲ ، كنزالعمال رقم الحديث ۲۰۰۱۱ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث رقم الحديث ۵۳۸ (۱۷) .

﴿ قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ ۔ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ خٰشِعُوْنَ ﴾ . (۱)

ترجمه : يقينًا هغه مومنان ( په دُنيا او آخرت دواړو کې ) کامياب شو کوم چې په خپلو مونځونو کې عاجزي کوونکي دي ( يعنى د الله ﷻ د يَرې نه چپ ولاړ وي ) .

په عربى کې د '' فلاح '' معنى دا ده چې انسان په دُنيا او آخِرت دواړو کې کاميابه او خوشحاله وي .

## په مانځه کې د خُشوع مطلب

په مانځه کې خُشوع داده چې انسان په مانځه کې په ډير عاجزى ، اَدب او حُضورِ قلب سره ولاړ وي ، الله ﷻ طرف ته مُتوَجِه وي ، بې ځايه حرکات نه کوي ، اَخوا ديخوا نه ګوري ، د مانځه معنٰى طرف ته متوَجِه وي . نو ددې په وجه به انسان د وَسوَسو او غلطو فکرونو نه هم محفوظ وي ، او همدا د مانځه مقصود هم دى . (۲)

---

(۱) المؤمنون آية ۱ ، ۲ .

(۲) والخشوعُ في الصلاة : هو حضورُ القلب بين يدي الله تعالى ، مستحضرًا لقربه ، فيسكن لذلك قلبه، وتطمئن نفسه ، وتسكن حركاته ، ويقلُّ التفاته ، متأدِّبًا بين يدي ربه ، مستحضرًا جميع ما يقوله ويفعله في صلاته منْ أوّل صلاته إلى آخرها ، فتنتفي بذلك الوساوس والأفكار الرديئة، وهذا روحُ الصلاة ، والمقصود منها، وهو الذي يكتب للعبد . فالصلاة الّتي لا خشوع فيها، ولا حضور قلب، وإن كانت مجزئة مثابًا عليها، فإن الثواب على حسب ما يعقل القلب منها . تيسير الكريم الرحمن في تفسير كلام المنّان للعلامة عبد الرحمن بن ناصر السعدي ص ۵۴۷. الخشوع في الصلاة في ضوء الكتاب والسنة ص ۲۱ .

﴿ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ خٰشِعُوْنَ ﴾ أي خائفون ساكنون " والخشوعُ هو السكون والطمأنينة والتؤدة والوقار والتواضع . والحامل عليه الخوف من الله ومراقبته . " تفسير ابن كثير ۶/ ۴۱۴ ط. دار الشعب

والخشوعُ هو قيام القلب بين يدي الربّ بالخضوع والذل . المدارج ۱/ ۵۲۰ .

ومحلُ الخشوع في القلب وثمرته على الجوارح ، والأعضاء تابعة للقلب . فإذا فسد خشوعه بالغفلة والوساوس فسدت عبودية الأعضاء والجوارح ، فإن القلب كالملك ، والأعضاء كالجنود له فبه يأتمرون وعن أمره يصدرون فإذا عُزل الملك وتعطل بفقد القلب لعبوديته ضاعت الرعية وهي الجوارح . ۳۳ سببا للخشوع في الصلاة .

مفسرينو هم د خشوع همدغه مطلب بيان کړی. (۱)

اوس چې د چا په مانځه کې څومره خُشوع او حُضورِ قلبي زيات وي نو همدومره به ده ته د مانځه ثواب هم زيات ليکلې شي.

## په خُشوع او عاجزۍ سره دمونځ کولو حکم

الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَقُومُوا لِلَّهِ قَٰنِتِينَ ﴾.(۲)

ترجمه: او الله جلّ جلاله ته په عاجزۍ (او ادب) سره اُودريږئ.

د " قَانِت " معنى داده چې انسان په سُکون او عاجزۍ سره د الله ﷻ د وړاندې اُودريږي. (۳)

---

(۱) وأصل الخشوع في اللغة: الخضوع والتواضع. وفي المراد بالخشوع في الصلاة أربعة أقوال: أحدها: أنه النظر إلى موضع السجود. روى أبو هريرة قال: كان رسول الله صلى الله عليه وسلّم إذا صلى رفع بصره إلى السماء، فنزلت: ﴿ٱلَّذِينَ هُمۡ فِي صَلَاتِهِمۡ خَٰشِعُونَ﴾. فنكس رأسه. وإلى هذا المعنى ذهب مسلم بن يسار، وقتادة. والثاني: أنه ترك الالتفات في الصلاة، وأن تُلين كنفك للرجل المسلم. قاله علي بن أبي طالب. والثالث: أنه السكون في الصلاة، قاله مجاهد، وإبراهيم، والزهري. والرابع: أنه الخوف، قاله الحسن. زاد المسير في علم التفسير ۳/ ۲۵۵ سورة المؤمنون آية ۲.

قال الطبري رحمه الله: الخشوع: التذلل والخضوع. تفسير طبري ۹/ ۱۹۸.

علامه ابن قيم رحمه الله د خشوع دا تعرف کړی: وَالْخُشُوعُ: قِيَامُ الْقَلْبِ بَيْنَ يَدَيِ الرَّبِّ بِالْخُضُوعِ وَالذُّلِّ، وَالْجَمْعِيَّةِ عَلَيْهِ. وَقِيلَ: اَلْخُشُوعُ الْإِنْقِيَادُ لِلْحَقِّ، وَهٰذَا مِنْ مُوجِبَاتِ الْخُشُوعِ. مدارج السالكين لابن قيم ۱/ ۵۱۶ فصل منزلة الخشوع.

وَالْخُشُوعُ قَرِيبُ الْمَعْنَى مِنَ الْخُضُوعِ، إِلاَّ أَنَّ الْخُضُوعَ فِي الْبَدَنِ، وَالْخُشُوعَ فِي الْبَدَنِ وَالْبَصَرِ وَالصَّوْتِ.

وَقَالَ مُجَاهِدٌ فِي قَوْلِهِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى: {سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِمْ مِنْ أَثَرِ السُّجُودِ. سورة الفتح: ۲۹} قَالَ: هُوَ الْخُشُوعُ وَالتَّوَاضُعُ. شرح السنّة للبغوي بَابُ الْخُشُوعِ فِي الصَّلَاةِ ۳/ ۲۵۹.

(۲) سورة البقرة آية ۲۳۸.

(۳) ويروى عَنْ مُجَاهِدٍ رحمه الله ﴿ وَقُومُوا لِلَّهِ قَٰنِتِينَ ﴾ قَالَ: فَمِنَ الْقُنُوتِ الرُّكُودُ وَالْخُشُوعُ، وَغَضُّ الْبَصَرِ، وَخَفْضُ الْجَنَاحِ مِنْ رَهْبَةِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ. تعظيم قدر الصلاة لمحمد بن نصر المروزي ۱/ ۱۸۸ رقم ۱۳۸ آيةٌ في تَرْكِ الالتِفَاتِ.

اوس چې يو کس بِلا ضرورته په مانځه کې خوَزي ، کله يو ځای ګرَوي او کله بل ځای ، کله د جامو سره لوبې کوي ، او کله د بَدن د يوې حصې سره . دا ټولې خبرې د خُشوع او خُضوع خِلاف دي .

فقهاء کرامو خو تر دې پورې ليکلي چې که يو کس بِلا ضرورته د مانځه په يو رُکن ( مثلا قِيام ) کې درې ( ۳ ) پېرې په لاسونو يو کار اوکړي نو په دې سره دده مونځ ماتيږي ، او که د درې پېرو نه يې کم اوکړي نو مونځ يې اګر چې نه ماتيږي ليکن د مانځه برکت ورته نه حاصليږي . (۱)

## په مونځ کې خُشوع او حُضورِ قلبي د مونځ رُوح دی

امام غزالي رحمه الله په کيميائې سعادت کې ليکلي چې يو د مونځ ظاهري اَرکان دي ( لکه د بَدن پاکوالې ، جامو پاکوالې ، عورت پټول ، وخت پيژندل ، تکبيرِ تحريمه ، قِيام ، قِرأت ، رُکوع ، سجده وغيره ) ، او بل د مانځه حقيقت دی چې ديته د مونځ رُوح ويلې شي : هغه د اول نه تر آخِره پورې په خُشوع او حُضورِ قلب سره اَرکان اداء کول ، په مانځه کې الله ﷻ طرف ته مُتوَجّه کيدل ، او په ډير تَعظيم سره د الله تعالی ياد تازه کول دي .

لکه الله تعالی فرمايي :

﴿ وَ اَقِمِ الصَّلٰوةَ لِذِکۡرِیۡ ﴾ . (۲) ترجمه : او ته قائم کړه مونځ زما د ياد د پاره .

## بَغير د خُشوع نه مونځ داسې دی لکه بې رُوحه مړ جسَد

امام غزالي رحمه الله دا هم ليکلي دي چې په مانځه کې د خُشوع مثال داسې دی لکه د رُوح . لهذا اوس چې په کوم مونځ کې رُوح ( يعنی خُشوع او حُضورِ قلبي ) نه وي نو دا داسې دی لکه د مَړ کس لاش . يا داسې دی لکه چې سترګه وي خو نظَر په کې نه وي .

او که چيرته په مانځه کې رُوح وي خو ددې د نورو آدابو لحاظ او نه ساتلې شي نو دا بيا داسې دی لکه د يو کس نه چې لاسونه ، غوږونه او خپې کټ شوي وي . (۳)

---

(۱) اصلاحي خطبات ج۱۲ ص۱۸۷ .

(۲) سورة طه آية ۱۴ .

(۳) کيميائې سعادت

**د علامه ابن قيم رحمه الله قول** : علامه ابن قيم رحمه الله هم دا خبره ليکلې چې په مانځه کې د خُشوع مثال په شان د رُوح دی ، پس که په مونځ کې خُشوع او حُضورِ قلبي نه وي نو دا داسې دی لکه بې رُوحه مړ جسَد . په دُنيا کې څوک بل چاته مړ جسَد په هَديه کې نشي ورکولی ، نو بيا الله ﷻ د وړاندې څنګه داسې مونځ اَداء کوي چې په هغې کې خُشوع او حُضورِ قلبي نه وي ؟ په داسې مونځ سره اګر چې فرض ساقطيږي ليکن پوره ثواب ورته نه ملاويږي . (۱)

# د خُشوع په باره کې د عُلماؤ اَقوال

**د سفيان ثوري رحمه الله قول** : سفيان ثوري رحمه الله فرمايي چې د چا په مونځ کې خشوع نه وي نو دده مونځ صحيح ندی . (۲)

---

(۱) فالخشوع في الصلاة بمنزلة الروح من الجسد ، فإذا فُقدتِ الروح مات الجسد . فالخشوع روحُ الصلاة ولبُّها . قال العلامة ابن قيم رحمه الله : وكذلك فوتُ الخشوعِ في الصلاة وحضور القلب فيها بين يدي الرب تبارك وتعالى الذي هو روحها ولُبُّها ، فصلاةٌ بلا خشوعٍ ولا حضور كبدنٍ ميّتٍ لا روح فيه ، أفلا يستحي العبد أن يُهدي إلى مخلوق مثله عبداً ميّتاً أو جارية ميّتة ؟ فما ظن هذا العبد أن تقع تلك الهدية ممن قصده بها من ملكٍ أو من أميرٍ أو غيره ؟ فهكذا سواء الصلاة الخيالية عن الخشوع والحضور وجمع الهمة على الله تعالى فيها بمنزلة هذا العبد ـ أو الأمَة ـ الميت الذي يريد إهداءه إلى بعض الملوك . ولهذا لا يقبلها الله تعالى منه وإن أسقطت الفرض في أحكام الدنيا ، ولا يثيبه عليها ، فإنه ليس للعبد من صلاته إلا ما عقل منها كما في السنن ومسند الإمام أحمد وغيره ... الوابل الصيب من الكلم الطيب لابن قيم الجوزية رحمه الله ص ۱۰ طبع دار الحديث القاهرة ، الخشوع في الصلاة في ضوء الكتاب والسنة ص ۴۸ .

وَقَالَ بَعْضُ السَّلَفِ : اَلصَّلَاةُ كَجَارِيَةٍ تُهْدٰى إِلٰى مَلِكٍ مِنَ الْمُلُوْكِ . فَمَا الظَّنُّ بِمَنْ يَهْدِيْ إِلَيْهِ جَارِيَةً شَلَّاءَ ، أَوْ عَوْرَاءَ ، أَوْ عَمْيَاءَ ، أَوْ مَقْطُوْعَةَ الْيَدِ وَالرِّجْلِ ، أَوْ مَرِيْضَةً ، أَوْ دَمِيْمَةً ، أَوْ قَبِيْحَةً ، حَتّٰى يُهْدِيَ إِلَيْهِ جَارِيَةً مَيْتَةً بِلَا رُوْحٍ وَجَارِيَةً قَبِيْحَةً . فَكَيْفَ بِالصَّلَاةِ الَّتِيْ يُهْدِيْهَا الْعَبْدُ ، وَيَتَقَرَّبُ بِهَا إِلٰى رَبِّهِ تَعَالٰى ؟ وَاللّٰهُ طَيِّبٌ لَا يَقْبَلُ إِلَّا طَيِّبًا ، وَلَيْسَ مِنَ الْعَمَلِ الطَّيِّبِ صَلَاةٌ لَا رُوْحَ فِيْهَا ، كَمَا أَنَّهُ لَيْسَ مِنَ الْعِتْقِ الطَّيِّبِ عِتْقُ عَبْدٍ لَا رُوْحَ فِيْهِ . مدارج السالكين بين منازل إياك نعبد وإياك نستعين لابن قيم الجوزية ص ۵۲۳ طبع دار الكتاب العربي بيروت .

(۲) كيمياي سعادت

**د حسن بصري رحمه الله قول** : حسن بصري رحمه الله فرمايلي : کوم مونځ چې د زړه په حُضور اَداء نشي نو دا عذاب ته ډير نزدې دی.

**د امام غزالي رحمه الله قول** : امام غزالي رحمه الله ليکلي چې امام اعظم ابوحنيفه، امام شافعي او نورو علماؤ رحمهم الله چې دا خبره کړې : "که د تکبيرِ تحريمه په وخت د انسان زړه حاضِر ( او الله ﷻ طرف ته مُتوجِّه ) وي نو دا مونځ صحيح دی" نو دوی دا فتوٰی د ضرورت په وجه ورکړې وه، ځکه چې په خلقو باندې غفلت غالِب دی، خو د آخِرت توخه هغه مونځ دی چې هغه په خُشوع او حُضورِ قلب سره اَداء کړې شي. (۱)

## هر مونځ قبليدل ضروري ندي

دا ضروري نده چې يو کس مونځ اوکړي نو دا دې خامخا قبول شي، بلکه ډير کرَت انسان مونځ اوکړي خو دا مونځ د زړو جامو په شان راتاؤ کړې شي او دده په مخ باندې ورَاوويشتلې شي، او مونځ ورته دا خبرې اوکړي : ضَيَّعَكَ اللهُ كَمَا ضَيَّعْتَنِيْ . (۲)

الله تعالٰی دې تا داسې ضائع کړي لکه څرنګې چې تا زه ضائع کړم.

دا ځکه چې دې کس د مونځ رکوع، سجده، قرأت وغيره په صحيح طريقې سره نه وي اَداء کړي، او دده د شرائط اَرکانو او آدابو لحاظ يې نه وي ساتلی.

---

(۱) کيميائي سعادت لامام غزالي رحمه الله.

(۲) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ..... وَإِذَا لَمْ يُتِمَّ رُكُوْعَهَا ، وَلَا سُجُوْدَهَا ، وَلَا الْقِرَاءَةَ فِيْهَا قَالَتْ : " ضَيَّعَكَ اللهُ كَمَا ضَيَّعْتَنِيْ " ثُمَّ صُعِدَ بِهَا إِلَى السَّمَاءِ وَعَلَيْهَا ظُلْمَةٌ ، فَغُلِّقَتْ دُوْنَهَا أَبْوَابُ السَّمَاءِ ، ثُمَّ تُلَفُّ كَمَا يُلَفُّ الثَّوْبُ الْخَلِقُ فَضُرِبَ بِهَا وَجْهُ صَاحِبِهَا .
وَفِيْ رِوَايَةٍ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا أَحْسَنَ الرَّجُلُ الصَّلَاةَ فَأَتَمَّ رُكُوْعَهَا وَسُجُوْدَهَا قَالَتِ الصَّلَاةُ : " حَفِظَكَ اللهُ كَمَا حَفِظْتَنِيْ " وَإِذَا أَسَاءَ الصَّلَاةَ فَلَمْ يُتِمَّ رُكُوْعَهَا، وَلَا سُجُوْدَهَا قَالَتِ الصَّلَاةُ : " ضَيَّعَكَ اللهُ كَمَا ضَيَّعْتَنِيْ " فَتُلَفُّ كَمَا يُلَفُّ الثَّوْبُ الْخَلِقُ فَيُضْرَبُ بِهَا وَجْهُهُ . شعب الايمان رقم الحديث ۲۸۷۱ تحسين الصلاة والاكثار منها ليلا و نهارًا ، كنزالعمال رقم الحديث ۱۹۰۵۳ ، الترغيب في فضائل الاعمال و ثواب ذلک لابن شاهين رقم الحديث ۳۲ ، مسند ابي داؤ الطيالسي رقم الحديث ۵۸۶ .

د ابن ماجه شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

رُبَّ صَائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ صِيَامِهِ إِلَّا الْجُوْعُ ، وَرُبَّ قَائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ قِيَامِهِ إِلَّا السَّهَرُ . (۱)

ډير رُوژه نيوونکي داسې دي چې دوی ته به د روژې نيولو په وجه د وږې او تندې نه علاوه بل هيڅ نه ملاويږي ، او ډير د شپې عبادت کوونکي داسې دي چې دوی ته به د شپې رُوڼولو او بې خوابۍ نه علاوه بل هيڅ نه ملاويږي .

يعنی الله تعالی به د دوی روژه ، مونځونه او عبادات نه قبلوي .

## په مونځ کې اَخوا ديخوا کتونکي ته د الله ﷻ رَحمت مُتوَجِّه نه وي

کوم کس چې په مانځه کې اَخوا ديخوا ګوري او د زړه نه الله ﷻ طرف ته مُتوجّه نه وي نو الله ﷻ هم ده طرف ته توَجّه نه کوي .

۱ . د ابوداؤد شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

لَا يَزَالُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ مُقْبِلًا عَلَى الْعَبْدِ ، وَهُوَ فِي صَلَاتِهِ ، مَا لَمْ يَلْتَفِتْ ، فَإِذَا الْتَفَتَ انْصَرَفَ عَنْهُ . (۲)

چې کله يو کس په مانځه کې وي نو الله ﷻ تر هاغه وخته پورې مسلسل ده طرف ته متوَجِّه وي تر څو پورې چې ده په مانځه کې اَخوا ديخوا نه وي کتلي ، پس کله چې بنده اَخوا ديخوا اُوګوري نو الله ﷻ هم د هغه نه مَخ واړوي .

(۱) سنن ابن ماجة بَابُ مَا جَاءَ فِي الْغِيبَةِ وَالرَّفَثِ لِلصَّائِمِ رقم الحديث ۱۶۹۰ ، و روالنسائي ، وابن خزيمة في صحيحه ، والحاكم ، ولفظهما قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « رُبَّ صَائِمٍ حَظُّهُ مِنْ صِيَامِهِ الْجُوْعُ ، وَرُبَّ قَائِمٍ حَظُّهُ مِنْ قِيَامِهِ السَّهَرُ » المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۱۵۷۱ وقَالَ الحاكم : هٰذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ الْبُخَارِيِّ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ" (حسن صحيح) .ورواه البيهقي ايضاً ، صحيح الترغيب والترهيب ج۱ ص ۶۲۵ رقم الحديث ۱۰۸۳

(۲) سنن ابي داؤد كتاب الصلاة بَابُ الِالْتِفَاتِ فِي الصَّلَاةِ رقم الحديث ۹۰۹ ، سنن النسائي كتاب السهو باب التشديد فی الالتفات فی الصلاة رقم ۱۱۹۶ ، واخرجه ايضا فی الكبرى برقم ۵۳۲ ، واحمد فی المسند برقم ۲۱۵۰۸ ، وابن خزيمه برقم ۴۸۲ ، والحاكم ۱ /۲۳۶ ، والبيهقي ۲ /۲۸۲ ، وحسنه الالباني لغيره في صحيح الترغيب والترهيب ۱ /۳۶۰ ، الخشوع فی الصلاة في ضوء الكتاب والسنّة ص ۴۳ .

۲ . د ترمذي شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ اللهَ أَمَرَكُمْ بِالصَّلَاةِ ، فَإِذَا صَلَّيْتُمْ فَلَا تَلْتَفِتُوا فَإِنَّ اللهَ يَنْصِبُ وَجْهَهُ لِوَجْهِ عَبْدِهِ فِي صَلَاتِهِ مَا لَمْ يَلْتَفِتْ . (۱)

بيشکه الله ﷻ تاسو ته د مانځه حکم کړی ، پس کله چې تاسو مونځ کوی نو اخوا ديخوا مه ګورئ ، ځکه چې کله انسان په مانځه کې وي نو الله ﷻ خپله توجّه بنده طرف ته کوي خو چې تر څو پورې اخوا ديخوا او نه ګوري .

## د مونځ ثواب د خُشوع او آدابو په مقدار وي

چې څومره د انسان په مانځه کې خُشوع او خُضوع زياته وي نو همدومره به ده ته د مانځه ثواب ليکلې شي .

۱ . حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه فرمايي :

اَلصَّلَاةُ مِكْيَالٌ ، فَمَنْ أَوْفَىٰ أُوفِيَ لَهُ ، وَمَنْ طَفَّفَ ، فَقَدْ عَلِمْتُمْ مَا قَالَ اللهُ لِلْمُطَفِّفِينَ . (۲)

مونځ يوه پيمانه ده پس څوک چې دا پوره کوي نو ده ته به پوره ثواب ورکړې شي ، او څوک چې په دې کې تَطْفِيف يعنی کمې کوي نو بيا تاسو ته پته ده چې الله تعالی د مُطَفِّفِينو (يعنی کمي کوونکو) په باره کې څه فرمايلي دي .

**فائده** : په دې کې اِشاره ده دې آيت طرف ته " وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ "

(۱) سنن الترمذي أَبْوَابُ الأَمْثَالِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي مَثَلِ الصَّلَاةِ وَالصِّيَامِ وَالصَّدَقَةِ رقم الحديث ۲۸۶۳ ، مسند احمد ۲۸/ ۴۰۵ رقم الحديث ۱۷۱۷۰ ، و ۲۹/ ۳۳۵ رقم الحديث ۱۷۸۰۰ ، صحيح ابن خزيمة رقم ۱۸۹۵ ، و صححه الالباني في صحيح سنن الترمذي ۳/ ۱۴۴ ، وصححه محققوا المسند ۲۸/ ۴۰۶ ، الخشوع في الصلاة في ضوء الكتاب والسنّة ص ۴۳ .

(۲) شرح السنّة للبغوي بَابُ الخُشُوعِ فِي الصَّلَاةِ رقم الحديث ۳/ ۲۶۱ طبع المكتب الإسلامي دمشق ، بيروت ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۳۵۸۶ ، شعب الايمان رقم ۲۸۸۱ ، كنز العمال رقم ۲۲۵۴۳ .

۲ د ابوداؤد شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ الرَّجُلَ لَيَنْصَرِفُ وَمَا كُتِبَ لَهُ إِلَّا عُشْرُ صَلَاتِهِ تُسْعُهَا ثُمُنُهَا سُبُعُهَا سُدُسُهَا خُمُسُهَا رُبُعُهَا ثُلُثُهَا نِصْفُهَا . (۱)

چې کله سړی د مانځه نه فارغ شي نو ده ته د مانځه صرف لسمه حصه ثواب ليکلې شي ، د بعضو د پاره نهمه ، د بعضو د پاره اتمه ، همدغه شان د بعضو د پاره اوومه ، شپږمه ، پنځمه ، څلورمه ، دريمه ، او نيمه حصه ثواب ليکلې شي .

## په خشوع سره دوه رکعته مونځ د ټولې شپې د عبادت نه بهتر دی

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما قَالَ : رَكْعَتَانِ مُقْتَصِدَتَانِ فِي تَفَكُّرٍ خَيْرٌ مِنْ قِيَامِ لَيْلَةٍ وَالْقَلْبُ سَاهٍ . (۲)

حضرت عبدالله عباس رضي الله عنهما فرمايي : کوم دوه درميانه رکعتونه چې په تفکّر (او خشوع) سره اداء کړې شي دا د ټولې شپې د هاغه عبادت نه بهتر دي په کوم کې چې زړه غافله (او بې خشوع) وي .

---

(۱) سنن ابي داؤد بَابُ مَا جَاءَ فِي نُقْصَانِ الصَّلَاةِ رقم الحديث ۷۹۶ ، السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ۶۱۵ ، كنز العمال رقم الحديث ۲۰۰۳۰ ، و رواه ابن حبان في صحيحه ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۵۳۷ (۱۶) ، و حسنه الالباني في صحيح سنن ابي داؤد ۱ / ۲۲۶ .

وفي رواية : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مِنْكُمْ مَنْ يُصَلِّي الصَّلَاةَ كَامِلَةً ، وَمِنْكُمْ مَنْ يُصَلِّي النِّصْفَ ، وَالثُّلُثَ ، وَالرُّبُعَ ، وَالْخُمُسَ ، حَتَّى بَلَغَ الْعُشْرَ . السنن الكبرى للنسائي باب ... فِي نُقْصَانِ الصَّلَاةِ رقم الحديث ۶۱۶ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۳۵۲۷ ، مسند احمد رقم الحديث ۱۵۵۲۲ ، كنز العمال رقم الحديث ۲۰۰۱۱ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث رقم الحديث ۵۳۸ (۱۷) .

(۲) شرح السنة للبغوي بَابُ الْخُشُوعِ فِي الصَّلَاةِ ۳ / ۲۶۱ ، الزهد والرقائق لابن المبارک رقم الحديث ۲۸۸ بَابُ الِاعْتِبَارِ وَالتَّفَكُّرِ ، مكاشفة القلوب .

# په خُشوع او عاجزۍ سره د مونځ کولو فضائل

محترمو مسلمانانو ورونو ! په قرآن کريم او احاديثو کې په خُشوع او عاجزۍ سره د مونځ کولو ډير فضائل ذِکر شوي ، خو زه به درته صرف يو څو مختصر فضائل ذکر کړم :

## ۱ . د خُشوع واله مانځه سره مخکيني ټول ګناهونه معاف کيږي

کوم کس چې په داسې طريقې سره مونځ اوکړي چې ددې د شرائطو ، آدابو او خُشوع لحاظ او ساتي نو په دې سره دده مخکيني ټول ګناهونه معاف کيږي .

۱ . د مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَا مِنَ امْرِئٍ مُسْلِمٍ تَحْضُرُهُ صَلَاةٌ مَكْتُوبَةٌ فَيُحْسِنُ وُضُوءَهَا وَخُشُوعَهَا وَرُكُوعَهَا . إِلَّا كَانَتْ كَفَّارَةً لِمَا قَبْلَهَا مِنَ الذُّنُوبِ مَا لَمْ يُؤْتِ كَبِيرَةً . وَذَلِكَ الدَّهْرَ كُلَّهُ . (۱)

په کوم مسلمان چې د فرض مانځه وخت راشي ، او دا ددې د پاره په ښه طريقې سره اَودس اوکړي ، يا په خُشوع او ښه طريقې سره رکوع ( او سجده ) اوکړي نو دا مونځ به دده د پاره د مخکيني ګناهونو د پاره کفاره شي خو چې ده کبيره ګناه نه وي کړي ، او په مانځه سره د ګناهونو د مغفرت دا سعادت به انسان ته ټول عُمر حاصل وي .

يعنی دا سعادت د څه معلوم وخت سره خاص نه دی ، بلکه په ټول عُمر کې چې کله هم انسان په ښه طريقې سره اَودس اوکړي ، يا په خُشوع او صحيح طريقې سره رکوع ، سجده او ټول مونځ اوکړي نو په دې سره به دده ټول صغيره ګناهونه معاف کولې شي . (۲)

۲ . په مسلم شريف کې اُوږد حديث ذکر دی ، نبي کريم صلی الله عليه وسلم حضرت عَمرو بن عَبَسه رضي الله عنه ته د اَودس فضائِل ذکر کولو نه روستو او فرمايل :

---

(۱) صحيح مسلم رقم ۷ ( ۲۲۸ ) ، مشكوة المصابيح كتاب الطهارة الفصل الاول رقم الحديث ۲۸٦ ( ٦ ) .

(۲) ﴿ وَذَلِكَ الدَّهْرَ كُلَّهُ ﴾ أي التكفير بسبب الصلاة مستمر في جميع الأزمان لا يختص بزمان دون زمان . شرح محمد فؤاد عبد الباقي على صحيح مسلم .

..... فَإِنْ هُوَ قَامَ فَصَلَّى، فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ وَمَجَّدَهُ بِالَّذِي هُوَ لَهُ أَهْلٌ، وَفَرَّغَ قَلْبَهُ لِلهِ، إِلَّا انْصَرَفَ مِنْ خَطِيئَتِهِ كَهَيْئَتِهِ يَوْمَ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ. (۱)

بیا که دي پاځي، مونځ اوکړي، د الله تعالی حمد و ثناء بیان کړي، د الله تعالی هغه بزرګي بیان کړي کومه چې د هغه د شان سره لائقه وي، او خپل زړه خالصه الله ﷻ ته فارغ کړي (یعنی په خُشوع او حُضورِ قلب سره مونځ اوکړي) نو دې د خپلو ګناهونو نه داسې صفا شي لکه په کومه ورځ چې دې مور زیږولې وي.

د همدې حدیث په آخر کې ذکر دي، حضرت عَمرو بن عَبَسه ﷺ فرمايي چې ما دا حدیث د نبي کریم صلی الله نه د اوو (۷) پېرو نه زیات آوریدلې دی. (۲)

په نورو احادیثو کې هم په خُشوع او عاجزۍ سره مونځ کولو باندې د ګناهونو د معفرت تذکره راغلی. (۳)

---

(۱) پوره حدیث په مسلم شریف کې داسې ذکر دی : قَالَ (عَمْرُو بْنُ عَبَسَةَ السُّلَمِيُّ) : فَقُلْتُ : يَا نَبِيَّ اللهِ فَالْوُضُوءَ حَدِّثْنِي عَنْهُ، قَالَ: « مَا مِنْكُمْ رَجُلٌ يُقَرِّبُ وَضُوءَهُ فَيَتَمَضْمَضُ، وَيَسْتَنْشِقُ فَيَنْتَثِرُ إِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا وَجْهِهِ، وَفِيهِ، وَخَيَاشِيمِهِ، ثُمَّ إِذَا غَسَلَ وَجْهَهُ كَمَا أَمَرَهُ اللهُ إِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا وَجْهِهِ مِنْ أَطْرَافِ لِحْيَتِهِ مَعَ الْمَاءِ، ثُمَّ يَغْسِلُ يَدَيْهِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ إِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا يَدَيْهِ مِنْ أَنَامِلِهِ مَعَ الْمَاءِ، ثُمَّ يَمْسَحُ رَأْسَهُ إِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا رَأْسِهِ مِنْ أَطْرَافِ شَعْرِهِ مَعَ الْمَاءِ، ثُمَّ يَغْسِلُ قَدَمَيْهِ إِلَى الْكَعْبَيْنِ إِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا رِجْلَيْهِ مِنْ أَنَامِلِهِ مَعَ الْمَاءِ، فَإِنْ هُوَ قَامَ فَصَلَّى، فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ وَمَجَّدَهُ بِالَّذِي هُوَ لَهُ أَهْلٌ، وَفَرَّغَ قَلْبَهُ لِلهِ، إِلَّا انْصَرَفَ مِنْ خَطِيئَتِهِ كَهَيْئَتِهِ يَوْمَ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ ». صحيح مسلم كِتَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِينَ بَابُ إِسْلَامِ عَمْرِو بْنِ عَبَسَةَ رقم ۲۹۴ (۸۳۲).

(۲) فَحَدَّثَ عَمْرُو بْنُ عَبَسَةَ ﷺ بِهَذَا الْحَدِيثِ أَبَا أُمَامَةَ صَاحِبَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ لَهُ أَبُو أُمَامَةَ ﷺ : « يَا عَمْرُو بْنَ عَبَسَةَ! انْظُرْ مَا تَقُولُ فِي مَقَامٍ وَاحِدٍ يُعْطَى هَذَا الرَّجُلُ » فَقَالَ عَمْرٌو : « يَا أَبَا أُمَامَةَ! لَقَدْ كَبِرَتْ سِنِّي، وَرَقَّ عَظْمِي، وَاقْتَرَبَ أَجَلِي، وَمَا بِي حَاجَةٌ أَنْ أَكْذِبَ عَلَى اللهِ وَلَا عَلَى رَسُولِ اللهِ، لَوْ لَمْ أَسْمَعْهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا مَرَّةً، أَوْ مَرَّتَيْنِ، أَوْ ثَلَاثًا حَتَّى عَدَّ سَبْعَ مَرَّاتٍ، مَا حَدَّثْتُ بِهِ أَبَدًا، وَلَكِنِّي سَمِعْتُهُ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ ». صحيح مسلم كِتَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِينَ بَابُ إِسْلَامِ عَمْرِو بْنِ عَبَسَةَ رقم ۲۹۴ (۸۳۲).

(۳) قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ..... مَنْ تَوَضَّأَ نَحْوَ وُضُوئِي هَذَا، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ لَا يُحَدِّثُ فِيهِمَا نَفْسَهُ، غَفَرَ اللهُ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ. صحيح البخاري بَابُ المَضْمَضَةِ فِي الوُضُوءِ رقم الحديث ۱۶۴

## ۲. په خُشوع سره مونځ کوونکو د پاره د مغفرت ذمه داري

څوک چې په خُشوع او عاجزۍ سره پنځه واړه مونځونه کوي الله ﷻ د داسې کس د مغفرت ذمه داري په خپله اخيستې ده . د ابوداوُد شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

خَمْسُ صَلَوَاتٍ اِفْتَرَضَهُنَّ اللهُ تَعَالٰى ، مَنْ أَحْسَنَ وُضُوءَهُنَّ وَصَلَّاهُنَّ لِوَقْتِهِنَّ وَأَتَمَّ رُكُوعَهُنَّ وَخُشُوعَهُنَّ كَانَ لَهُ عَلَى اللهِ عَهْدٌ أَنْ يَغْفِرَ لَهُ ، وَمَنْ لَمْ يَفْعَلْ فَلَيْسَ لَهُ عَلَى اللهِ عَهْدٌ ، إِنْ شَاءَ غَفَرَ لَهُ وَ إِنْ شَاءَ عَذَّبَهُ . (۱)

پنځه مونځونه الله تعالی فرض کړي دي ، څوک چې په ښه طريقې سره ددې د پاره اَودس اوکړي ، دا په خپل وخت اداء کړي ، ددې رکوع په پوره طريقې سره اداء کړي ، او مونځ په خُشوع ( او د زړه په حُضور ) سره اداء کړي ، نو د داسې کس د پاره دالله ﷻ کلکه وعده ده چې ده ته به بخَنه کوي ( ده ته ټولې صغيره ګناهونه به معاف کوي ) ، او چا چې داسې اونکړل ( يعنی په مذکوره طريقې سره يې مونځ اونکړو ، يا يې بالکل مونځ اونکړو ) نو د داسې کس د پاره د الله ﷻ هيڅ وعده نشته ، که د الله ﷻ خوَښه شي نو بخَنه به ورته اوکړي ، او که خوَښه يې شي نو عذاب به ورکړي .

## ۳ . په خُشوع واله مانځه سره جنت نصيبه کيږي

د مسلم شريف حديث دی ، رسول الله ﷺ فرمايي : مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَتَوَضَّأُ فَيُحْسِنُ وُضُوءَهُ ، ثُمَّ يَقُوْمُ فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ ، مُقْبِلٌ عَلَيْهِمَا بِقَلْبِهِ وَوَجْهِهِ إِلَّا وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ . (۲)

---

(۱) سنن ابي داؤد كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابٌ فِي الْمُحَافَظَةِ عَلَى وَقْتِ الصَّلَوَاتِ رقم الحديث ۴۲۵ ، وصححه الالباني في صحيح ابي داؤد ۱/۱۲۵ ، مشكاة المصابيح كتاب الصلاة الفصل الثاني رقم الحديث ۵۷۰ (۷) ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۳۱۶۶ و رقم ۶۵۰۰ ، شرح السنّة للبغوي رقم ۹۷۸ ، سنن ابن ماجه رقم ۲۴۰۱ ، و رواه احمد في مسنده ۵/۳۱۷ ، ۳۲۲ .

(۲) صحيح مسلم كِتَابُ الطَّهَارَةِ بَابُ الذِّكْرِ الْمُسْتَحَبِّ عَقِبَ الْوُضُوءِ رقم الحديث ۱۷ ( ۲۳۴ ) ، سنن ابي داؤد باب كراهية الوسوسة و حديث النفس في الصلاة رقم الحديث ۹۰۶ ، مشكاة المصابيح كتاب الطهارة الفصل الاول رقم ۲۸۸ (۸) ، شرح السنّة للبغوي باب فضل من تطهّر فصلى عليه رقم الحديث ۱۰۱۴ .

کوم مسلمان چې په ښه طريقې سره اَودس اوکړي ، بيا پاڅي او دوه رکعته داسې مونځ اوکړي چې د زړه نه په پوره توجّه سره الله ﷻ طرف ته متوجّه وي (يعنی په پوره خُشوع او عاجزۍ سره يې اوکړي) نو دداسې مسلمان د پاره جنت واجبيږي .

په قرآن کريم کې هم د خُشوع کوونکو سړو او خشوع کوونکو ښځو ، همدارنګې د نورو ښو صفاتو لرونکو مسلمانانو د پاره د جنت وعده شوی . (۱)

## ٤ . په خُشوع سره انسان ته مونځ آسانه او مَحبوب جوړيږي

کوم کس چې په خُشوع او عاجزۍ سره مونځ کوي نو په دې سره ده ته دا مونځ آسانيږي . ځکه کله چې د انسان په زړه کې خُشوع ، د الله ﷻ سره د ملاقات او د مانځه د ثواب اُميد وی نو په دې سره ده ته دا مونځ ډير آسان معلوميږي ، بُوج ورباندې نه وي ، بلکه ډير په شوق سره يې کوي . الله تعالی فرمايي :

﴿ وَاسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ ۚ وَاِنَّهَا لَكَبِيْرَةٌ اِلَّا عَلَى الْخٰشِعِيْنَ ، اَلَّذِيْنَ يَظُنُّوْنَ اَنَّهُمْ مُّلٰقُوْا رَبِّهِمْ وَاَنَّهُمْ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ ﴾ . (۲)

---

(۱) الله تعالی فرمايي : اِنَّ الْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمٰتِ وَالْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ وَالْقٰنِتِيْنَ وَالْقٰنِتٰتِ وَالصّٰدِقِيْنَ وَالصّٰدِقٰتِ وَالصّٰبِرِيْنَ وَالصّٰبِرٰتِ وَالْخٰشِعِيْنَ وَالْخٰشِعٰتِ وَالْمُتَصَدِّقِيْنَ وَالْمُتَصَدِّقٰتِ وَالصَّآئِمِيْنَ وَالصّٰٓئِمٰتِ وَالْحٰفِظِيْنَ فُرُوْجَهُمْ وَالْحٰفِظٰتِ وَالذّٰكِرِيْنَ اللهَ كَثِيْرًا وَّالذّٰكِرٰتِ اَعَدَّ اللهُ لَهُمْ مَّغْفِرَةً وَّاَجْرًا عَظِيْمًا سورة الاحزاب آية ۳۵ .

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَاَخْبَتُوْٓا اِلٰى رَبِّهِمْ ۙ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ . سورة هود آية ۲۳ .

وَالإِخْبَاتُ : اَلْخُشُوعُ وَالتَّوَاضُعُ . النهاية في غريب الحديث والأثر بَابُ الْخَاءِ مَعَ الْبَاءِ مادة " خبت " ۲ / ۴ طبع المكتبة العلمية بيروت .

وَ " الْخَبْتُ " فِي أَصْلِ اللُّغَةِ : اَلْمَكَانُ الْمُنْخَفِضُ مِنَ الْأَرْضِ ...... وَقَالَ الْأَخْفَشُ: اَلْخَاشِعُوْنَ . وَقَالَ إِبْرَاهِيمُ النَّخَعِيُّ : اَلْمُصَلُّوْنَ الْمُخْلِصُوْنَ . وَقَالَ الْكَلْبِيُّ : هُمُ الرَّقِيْقَةُ قُلُوْبُهُمْ . وَهٰذِهِ الْأَقْوَالُ تَدُوْرُ عَلٰى مَعْنَيَيْنِ : اَلتَّوَاضُعِ . وَالسُّكُوْنِ إِلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ . مدارج السالكين بين منازل إياك نعبد وإياك نستعين لابن القيم الجوزية ۲ / ۶ فَصْلٌ مَنْزِلَةُ الإِخْبَاتِ .

(۲) سورة البقرة آية ۴۵ ، ۴۶ .

ترجمه: او تاسو مدد غواړئ د الله ﷻ نه په صبر او مونځ کولو سره، او يقينًا دا مونځ ډير درُوند (او ګران) کار دی مګر څوک چې عاجزي کوونکي دي (نو بيا دوی ته مونځ کول آسان دي)، دا هغه خلق دي کوم چې دا يقين لري چې دوی د خپل رَب سره ملاقات کوونکي دي، او دوی هغه طرف ته ورګرځيدونکي دي.

معلومه شوه چې په خُشوع سره انسان ته مونځ محبوب او آسانه جوړيږي. (۱)

## ۵. په خُشوع سره مونځ کوونکي ته به د قيامت په ورځ د الله ﷻ د وړاندې اُودريدل آسان وي

علامه ابن قيم رحمه الله ليکلي دي چې انسان په دوه ځايونو کې د الله ﷻ د وړاندې اُودريږي، يو د مانځه په وخت، او دويم د قيامت په ورځ.

پس څوک چې په دُنيا کې په خُشوع او اَدب سره په مانځه کې اُودريږي نو ده ته به د قيامت په ورځ د الله ﷻ د وړاندې اُودريدل هم آسان وي، او چاته چې دلته په مانځه کې

(۱) الخشوع الصلاة محبوبة يسيرة على المصلي. قال الله تعالى: ﴿ وَاسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ ۗ وَاِنَّهَا لَكَبِيْرَةٌ اِلَّا عَلَى الْخٰشِعِيْنَ ﴾، قال العلامة السعدي رحمه الله في تفسيره: { وَإِنَّهَا } أي: الصلاة {لَكَبِيرَةٌ} أي: شاقة { إِلَا عَلَى الْخَاشِعِينَ } فإنها سهلة عليهم خفيفة؛ لأن الخشوع، وخشية الله، ورجاء ما عنده يوجب له فعلها، منشرحا صدره لترقبه للثواب، وخشيته من العقاب، بخلاف من لم يكن كذلك، فإنه لا داعي له يدعوه إليها، وإذا فعلها صارت من أثقل الأشياء عليه.

والخشوع هو: خضوعُ القلب وطمأنينته، وسكونه لله تعالى، وانكساره بين يديه، ذلا وافتقارا، وإيمانا به وبلقائه. ولهذا قال: { اَلَّذِيْنَ يَظُنُّوْنَ } أي: يستيقنون { اَنَّهُمْ مُّلٰقُوْا رَبِّهِمْ } فيجازيهم بأعمالهم { وَاَنَّهُمْ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ } فهذا الذي خفف عليهم العبادات وأوجب لهم التسلي في المصيبات، ونفس عنهم الكربات، وزجرهم عن فعل السيئات، فهؤلاء لهم النعيم المقيم في الغرفات العاليات، وأما من لم يؤمن بلقاء ربه، كانت الصلاة وغيرها من العبادات من أشق شيء عليه. تيسير الكريم الرحمن في تفسير كلام المنان لعبد الرحمن بن ناصر السعدي رحمه الله ۱/ ۵۱ سورة البقرة آية ۴۵، الخشوع في الصلاة في ضوء الكتاب والسنّة ج۱ ص ۱۳۴.

اُودريدل سخت وي نو ده ته به د قيامت په ورځ د الله ﷻ د وړاندې اُودريدل هم سخت وي. (۱)

## ٦. په خُشوع سره د مونځ کولو نورې فائدی

په خُشوع سره د مونځ کولو نورې ډيرې فائدې هم شته، مثلا :

په خُشوع واله مانځه سره انسان د بې حيايَی خبرو او ناجائزو کارونو نه بچ کيږي، په زړه کې يې د الله ﷻ نه يَره پيدا کيږي، انسان د الله ﷻ مُقرّب جوړيږي، اِيمان يې قوي کيږي، د انسان د زړه نه غمونه لرې کيږي او شَرحهٔ صدر ورته نصيبه کيږي، د مونځ سره يې مِينه پيدا کيږي، په انسان کې د دُعا غوښتلو عادت پيدا کيږي، او انسان د مانځه په حَلاوت او خوَند پوهيږي.

## د مونځ په وخت د نبي عليه السلام حالت

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې ما او نبي کريم صلی الله عليه وسلم به يو ځای خبرې کولی خو چې کله به د مانځه وخت راغی نو د الله ﷻ عَظمت په وجه به مونږ داسې شو چې ييا به رسولُ الله صلی الله عليه وسلم نه زه پيژندم، او نه به ما دوی پيژندو، دا ځکه چې مونږ به د الله ﷻ په عظمت او لويی باندې مشغول شو. (۲)

يعنی چې د مانځه وخت به راغی نو زمونږ په ظاهر او باطن باندې به د الله ﷻ عظمت او هيبت داسې راخور شو چې ييا به مونږ صرف الله ﷻ طرف ته متوجِّه وو.

---

(۱) الخشوعُ فی الصلاة يهوّن الوقوف علی العبد يوم القيامة. ولهذا قال الامام ابن القيم رحمه الله: لِلعَبد بَين يَدي الله موقفان: موقف بَين يَدَيْهِ فِي الصَّلَاة، وموقف بَين يَدَيْهِ يَوْم لِقَائِه. فَمن قَامَ بِحَق الموقف الأول هوّن عَلَيْهِ الْموقف الآخر. وَمن استهان بِهَذَا الْموقف وَلم يوفّه حقه شدّد عَلَيْهِ ذَلِك الْموقف قَالَ تَعَالَی: ﴿ وَمِنَ الَّيْلِ فَاسْجُدْ لَهُ وَسَبِّحْهُ لَيْلًا طَوِيْلًا . اِنَّ هٰؤُلَاءِ يُحِبُّوْنَ الْعَاجِلَةَ وَيَذَرُوْنَ وَرَآءَهُمْ يَوْمًا ثَقِيْلًا. سورة الانسان آية ۲٦، ۲۷ ﴾. الفوائد لابن القيم الجوزية ص ۲۰۰ قَاعِدَة للعَبد بَين يَدي الله موقفان. الخشوع فی الصلاة في ضوء الكتاب والسنّة ج۱ ص ۱۳۸.

(۲) کيميائي سعادت، مكاشفة القلوب باب ۱۴.

# په مانځه کې د نبي عليه السلام ژړا

نبي عليه السلام به کله کله په مانځه کې ژړل، خو دا ژړا به کله د الله ﷻ نه د يَرې وه، کله به د اِشتياق، محبت او اِجلال وه.

١ . په يوه موقع باندې حضرت بلال رضي الله عنه راغی، او رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يې د مانځه اِطلاع ورکوله، کله چې حضرت بلال رضي الله عنه نبي عليه السلام په ژړا اُوليد نو پوښتنه يې ورنه اوکړه:

يَا رَسُوْلَ اللهِ ! لِمَ تَبْكِيْ ؟ وَقَدْ غَفَرَ اللهُ لَكَ مَا تَقَدَّمَ وَمَا تَأَخَّرَ.

اې د الله ﷻ رسوله! تاسو ولې ژاړئ ؟ حالانکه الله ﷻ خو ستاسو مخکيني او روستني ټول لغزشونه معاف کړي.

نبي عليه السلام ورته وفرمايل:

أَفَلَا أَكُوْنُ عَبْدًا شَكُوْرًا. آيا زه د الله ﷻ شکرگزار بنده جوړ نه شم ؟

بيا يې وفرمايل: په ما باندې نن شپه دا آيت نازل شوی، پس د هغه چا د پاره هلاکت دی چې هغه دا اُولولي او په دې کې تفکر او نکړي، (هغه آيت دادی):

﴿ إِنَّ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَاٰيَاتٍ لِّأُولِي الْأَلْبَابِ .... ﴾ . (١). (٢)

---

(١) آل عمران آيت ١٩٠ و ١٩١.

(٢) په صحيح ابن حبان کې اُورِد حديث دی، حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي ..... فَقَامَ، فَتَطَهَّرَ ثُمَّ قَامَ يُصَلِّيْ. قَالَتْ: فَلَمْ يَزَلْ يَبْكِيْ حَتّٰى بَلَّ حِجْرَهُ. قَالَتْ: ثُمَّ بَكٰى. فَلَمْ يَزَلْ يَبْكِيْ حَتّٰى بَلَّ لِحْيَتَهُ. قَالَتْ ثُمَّ بَكٰى فَلَمْ يَزَلْ يَبْكِيْ حَتّٰى بَلَّ الْأَرْضَ. فَجَاءَ بِلَالٌ يُؤْذِنُهُ بِالصَّلَاةِ. فَلَمَّا رَآهُ يَبْكِيْ، قَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ ! لِمَ تَبْكِيْ وَقَدْ غَفَرَ اللهُ لَكَ مَا تَقَدَّمَ وَمَا تَأَخَّرَ. قَالَ: " أَفَلَا أَكُوْنُ عَبْدًا شَكُوْرًا لَقَدْ نَزَلَتْ عَلَيَّ اللَّيْلَةَ آيَةٌ وَيْلٌ لِمَنْ قَرَأَهَا وَلَمْ يَتَفَكَّرْ فِيْهَا: ﴿ إِنَّ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَاٰيَاتٍ لِّأُولِي الْأَلْبَابِ .... ﴾ . صحيح ابن حبان رقم الحديث ٦٢٠ ذِكْرُ الْبَيَانِ بِأَنَّ الْمَرْءَ عَلَيْهِ إِذَا تَخَلَّى لُزُوْمُ الْبُكَاءِ عَلٰى مَا ارْتَكَبَ مِنَ الْحَوْبَاتِ ... وقال شعيب الارنؤوط: اسناده صحيح على شرط مسلم. وقال الالباني في سلسلة الاحاديث الصحيحة برقم ٦٨: هذا اسناد جيد. تفسير قرطبي ج۴ ص ۳۰۰ سورة آل عمران آيت ١٩٠.

ترجمه : بيشکه د آسمانونو او زمکې په پيدا کولو ، او د شپې او ورځې په تلو راتلو کې خامخا نښې ( د قدرت ، او دلايل د توحيد ) دي د خاوندانو د عقل د پاره ....

۲ . د مشکوة شريف حديث دی ، يو صحابي فرمايي :

أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُصَلِّيْ وَلِجَوْفِهِ أَزِيْزٌ كَأَزِيْزِ الْمِرْجَلِ . (۱)

زه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغلم ، دوی مونځ کول ، د دوی د سينې مبارکې نه د ژړا داسې آواز راوتو لکه د دېګي نه چې د جوش شيدو آواز راأوځي .

د ابوداؤد شريف په روايت کې داسې ذکر دي ، صحابي فرمايي :

رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ وَفِيْ صَدْرِهِ أَزِيْزٌ كَأَزِيْزِ الرَّحٰى مِنَ الْبُكَاءِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . (۲)

ما رسول الله صلى الله عليه وسلم اُوليد چې مونځ يې کولو ، او د ژړا په وجه د دوی په سينه کې د ژرندې د آواز په شان آواز وُ .

## په مونځ کې د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه حالت

۱ . حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه به چې په مونځ اُودريد نو ( داسې په اِطمينان او خُشوع سره به ولاړ وُ چې ) هيڅ حرکت به يې نه کولو داسې به معلوميدو لکه مېخ چې په زمکه کې ټک وهل شوې وي . (۳)

۲ . حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه به کله په مانځه کې د الله جل جلاله د يَرې دومره اُوژړل چې بيا به يې مخکې قرأت هم نه شو کولی .

(۱) مشکوة المصابيح بَابُ مَا لَا يَجُوْزُ مِنَ الْعَمَلِ فِي الصَّلَاةِ وَمَا يُبَاحُ مِنْهُ الفصل الثاني رقم الحديث ۱۰۰۰ (۲۳) ، مسند احمد رقم الحديث ۱۶۳۱۲ و رقم ۱۶۳۲۶ حَدِيثُ مُطَرِّفِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنْ أَبِيهِ ، سنن النسائي رقم الحديث ۱۲۱۴ ، صحيح ابن حبان رقم ۶۶۵ ، المستدرک على الصحيحين للحاکم رقم ۹۷۱ ، شعب الايمان رقم ۱۸۸۹ .

(۲) سنن ابي داؤد بَابُ الْبُكَاءِ فِي الصَّلَاةِ رقم الحديث ۹۰۴ .

(۳) مکاشفة القلوب باب ۱۹ .

په بخاري شريف او مسلم شريف کښې اوږد حديث ذکر دی ، حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې کله د رسول الله صلی الله عليه وسلم بيماري سخته شوه ، حضرت بلال ﷺ راغی ، او نبي عليه السلام ته يې د مونځ خبر ورکړو ، رسول الله ﷺ اوفرمايل :

مُرُوْا أَبَا بَكْرٍ أَنْ يُصَلِّيَ بِالنَّاسِ .

تاسو حضرت ابوبکر صديق ﷺ ته حکم اوکړئ چې خلقو ته د جُمعې مونځ اوکړي .

حضرت عائشة رضي الله عنها فرمايي چې ما ورته ووېل :

يَا رَسُوْلَ اللهِ ! إِنَّ أَبَا بَكْرٍ رَجُلٌ أَسِيفٌ وَإِنَّهُ مَتَى مَا يَقُمْ مَقَامَكَ لَا يُسْمِعُ النَّاسَ . فَلَوْ أَمَرْتَ عُمَرَ . (۱)

اې د الله رسوله ! بيشکه ابوبکر صديق ﷺ د ډير نرم زړه واله کس دی کله چې ستاسو په ځای باندې اودرېږي نو بيا ( د ډيرې ژړا په وجه ) قِرأة نشي کولی ، پس تاسو حضرت عُمر رضي الله عنه ته د جُمعې کولو حکم اوکړئ نو دا به ډيره بهتره وي ....

**فائده** : ددې حديث نه دا خبره هم معلومه شوه چې که په مانځه کښې يو انسان ته بې اختياره د الله ﷻ د يرې نه ژړا ورشي نو دا خېر دی ، په دې سره مونځ نه ماتيږي .

(۱) عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ : لَمَّا ثَقُلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَ بِلَالٌ يُؤْذِنُهُ بِالصَّلَاةِ، فَقَالَ: « مُرُوْا أَبَا بَكْرٍ أَنْ يُصَلِّيَ بِالنَّاسِ » . فَقُلْتُ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! إِنَّ أَبَا بَكْرٍ رَجُلٌ أَسِيفٌ وَإِنَّهُ مَتَى مَا يَقُمْ مَقَامَكَ لَا يُسْمِعُ النَّاسَ . فَلَوْ أَمَرْتَ عُمَرَ .... صحيح البخاري بَابٌ : اَلرَّجُلُ يَأْتَمُّ بِالإِمَامِ وَيَأْتَمُّ النَّاسُ بِالْمَأْمُوْمِ رقم الحديث ۷۱۳ . صحيح مسلم كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ اسْتِخْلَافِ الإِمَامِ إِذَا عَرَضَ لَهُ عُذْرٌ مِنْ مَرَضٍ ... رقم الحديث ۹۵ (۴۱۸) .

وفي رواية : إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي مَرَضِهِ : « مُرُوْا أَبَا بَكْرٍ يُصَلِّي بِالنَّاسِ » قَالَتْ عَائِشَةُ ﷺ : قُلْتُ إِنَّ أَبَا بَكْرٍ إِذَا قَامَ فِي مَقَامِكَ لَمْ يُسْمِعِ النَّاسَ مِنَ الْبُكَاءِ ، فَمُرْ عُمَرَ فَلْيُصَلِّ لِلنَّاسِ .... صحيح البخاري بَابٌ : أَهْلُ الْعِلْمِ وَالْفَضْلِ أَحَقُّ بِالإِمَامَةِ رقم الحديث ۶۷۹ .

## عبدالله بن زبير ﷺ به په ډير اطمينان او خُشوع سره مونځ کول

**١** . د حضرت عبدالله بن زبير ﷺ په باره کې په احاديثو کې ذکر دي چې ده به دومره په اطمينان ، سُکون ، او خُشوع سره مونځ کولو چې ولاړ به وُ نو بالکل د اُوچ لرګي په شان به يې حرکت نه کولو ، همدارنګې کله به چې سجدې ته لاړ نو دومره په اِطمينان او خُشوع سره به يې سجده کوله چې مرغۍ به راغلی او په ده باندې به کيناستی .

ځکه دې به د الله ﷻ د خَوف او عظمت د وجې داسې خُشوع او عاجزۍ سره چې ولاړ وُ چې مرغانو به په ده باندې د لرګي ګمان اوکړو نو ځکه به پرې کيناست . (١)

**٢** . بعضې وخت به ده دومره اُوږده رُکوع کوله چې تر صبا پورې به يې ټوله شپه په رکوع کې تيره کړه .

يو ځل ده مونځ کولو دده سره په څنګ کې دده ماشوم ځوي " هاشم " اُوده وُ ، د چت نه مار رااُوغورځيد ، ماشوم په ژړا شو ، د کور خلق راغلل ماريې مَر کړو ، دې همدغه شان په اِطمينان سره په مانځه ولاړ وُ ، کله يې چې سلام اُوګرځول نو وې ويل :

دا شور د څه شي وُ ؟ څه چَل وُ ؟

---

(١) عَنْ مُجَاهِدٍ قَالَ: « كَانَ ابْنُ الزُّبَيْرِ إِذَا قَامَ فِي الصَّلَاةِ كَأَنَّهُ عُودٌ مِنَ الْخُشُوعِ » .مصنف ابن ابي شيبة رقم ٧٢٢٥ مَنْ كَانَ يَقُولُ فِي الصَّلَاةِ: لَا تَتَحَرَّكْ .

و في رواية : عَنْ مُجَاهِدٍ . قَالَ: « كَانَ ابْنُ الزُّبَيْرِ إِذَا قَامَ فِي الصَّلَاةِ كَأَنَّهُ وَتِدٌ » . رقم ٣٤٨٢٥ كَلَامُ ابْنِ الزُّبَيْرِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ . طبع مكتبة الرشد الرياض . احياء علوم الدين ١ /٢٢٤ بيان تفصيل ما ينبغي ان يحضر في القلب . ط دار الخير دمشق

عن ثابت البناني قال كنت امر بابن الزبير وهو يصلي خلف المقام كأنه خشبة منصوبة لا يتحرك . تاريخ دمشق لابن عساكر ٢٨ / ١٧٠ عبد الله بن الزبير بن العوام . سير الأعلام ٣ / ٣٦٩ وتاريخ الإسلام ٦١ / ٨٠ ص ٤٣٩ .

عن يحيى بن وثاب ان ابن الزبير كان إذا سجد وقعت العصافير على ظهره تصعد وتنزل لاتراه الا جذم حائط . تاريخ دمشق لابن عساكر ٢٨ / ١٧٠ عبد الله بن الزبير بن العوام .

وَكَانَ عَبْدُ اللهِ بْنُ الزُّبَيْرِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يَسْجُدُ فَأَتَى الْمَنْجَنِيقُ فَأَخَذَ طَائِفَةً مِنْ ثَوْبِهِ وَهُوَ فِي الصَّلَاةِ لَا يَرْفَعُ رَأْسَهُ . مجموع الفتاوى ٢٢ / ٦٠٥ طبع مجمع الملك فهد لطباعة المصحف الشريف، المدينة النبوية

بي بي ورته وويل : الله ﷻ دې په تا رَحم اوکړي ، ماشوم خو بَس تللې تللې وُ (خو الله ﷻ بَچ کړو) حالانکه تا ته پته هم او نه لګېده .

ده ورته وويل : الله تعالى دې ښه کړه ، چې کله په مونځ کې بل خوا توَجّه اوشي نو آيا بيا دا مونځ صحيح مونځ پاتې کيږي ؟ (۱)

# د مونځ په وخت د حضرت علي رضي الله عنه حالت

په تنبيه الغافلين کې د حضرت علي رضي الله عنه متعلق ذکر دي چې کله به د مانځه وخت راغی نو د دوی بَدن به په لړزيدو شو ، او رَنګ به يې مُتغَيّر (بدل) شو . دده نه ددې متعلق پوښتنه اوشوه ، نو ده ورته وويل :

جَاءَ وَقْتُ الْأَمَانَةِ الَّتِيْ عَرَضَهَا اللهُ عَلَى السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَنْ يَحْمِلْنَهَا ، وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا الْإِنْسَانُ . فَلَا أَدْرِيْ أَأُحْسِنُ أَدَاءَ مَا حَمَلْتُ أَمْ لَا ؟ . (۲)

د هغې اَمانت اَداء کولو وخت راغی چې کوم الله تعالى په زمکې او غرونو باندې پيش کړو نو دوی ددې د اُوچتولو نه انکار اوکړو ، او ددې نه اُويريدل ، دا اَمانت انسان اُوچت (او قبول) کړو . لهذا ما ته نده معلومه چې ما کوم اَمانت اُوچت کړی آيا زه به دا په ښه طريقې سره اَداء کړې شم يا نه ؟

په احاديثو کې د نورو صحابه کرامو په مانځه کې د خُشوع تذکره هم شته .

---

(۱) خطبات حکيم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله .

(۲) وَ رُوِيَ عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِيْ طَالِبٍ كَرَّمَ اللهُ وَجْهَهُ . أَنَّهُ كَانَ إِذَا حَضَرَ وَقْتُ الصَّلَاةِ ، اِرْتَعَدَتْ فَرَائِصُهُ . وَتَغَيَّرَ لَوْنُهُ فَسُئِلَ عَنْ ذٰلِكَ فَقَالَ : جَاءَ وَقْتُ الْأَمَانَةِ الَّتِيْ عَرَضَهَا اللهُ عَلَى السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالْجِبَالِ ، فَأَبَيْنَ أَنْ يَحْمِلْنَهَا ، وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا ، وَحَمَلَهَا الْإِنْسَانُ ، فَلَا أَدْرِيْ أَأُحْسِنُ أَدَاءَ مَا حَمَلْتُ أَمْ لَا ؟ . تنبيه الغافلين باحاديث سيد الأنبياء والمرسلين للسمرقندي بَابُ: إِتْمَامُ الصَّلَاةِ وَالْخُشُوعُ فِيهَا ص ۵۳۹ طبع دار ابن كثير، دمشق بيروت . مكاشفة القلوب باب ۱۴ :

# د مونځ په وخت د علي بن الحسين رحمه الله حالت

حافظ ابو نعيم اصبهاني رحمه الله په حلية الاولياء کې ليکلي چې علي بن حسين رحمه الله به کله اُودس اوکړو نو د اُودس او مونځ په مينځ مينځ کې به وربانديې رپيدل او يَره راغله، چا ورنه پوښتنه اوکړه چې ددې څه وجه ده؟ ده ورته وويل:

وَيحَكُمْ أَتَدْرُوْنَ إِلَى مَنْ أَقُوْمُ، وَمَنْ أُرِيْدُ أَنْ أُنَاجِيَ (۱)

تعجب دې په تاسو بانديې، آيا تاسو نه پوهيږئ چې زه اوس د چا وړانديې (په مانځه کې) اُودريږم؟ او د چا سره د مُناجات اِراده لرم؟

يعنی د الله ﷻ د وړانديې اُودريږم، او د هغه سره خبرې کوم نو ځکه رابانديې يَره راغله.

# په مانځه کې د بعضې نورو اَسلافو حالت

د بعضې اسلافو متعلق نقل دي چې کله به دوی د مانځه نه فارغ شو نو رَنګ به يې مکمل مُتغيّر شوې وُ، ځکه چې دوی به د الله ﷻ د وړاندې ولاړ وو (نو د الله ﷻ د عظمت په وجه به يې رَنګ مُتغيّر شوې وُ).

د بعضې اَسلافو متعلق نقل دي چې کله به دوی د جَمعې په مانځه بانديې اُودريدل نو دا پته به ورته نه لږيده چې زماخي او چَپ (ګس) طرف ته څوک ولاړ دي؟

د سعيد تنوخي رحمه الله متعلق نقل دي چې کله به دې په مانځه بانديې اُودريد (نو د الله ﷻ د يَرې به يې داسې ژړل چې) تر آخره پورې به يې د سترګو نه اُوخکې په مَخ او ګيره بانديې راروانې وی. (۲)

---

(۱) كَانَ عَلِيُّ بْنُ الْحُسَيْنِ إِذَا فَرَغَ مِنْ وُضُوئِهِ لِلصَّلَاةِ وَصَارَ بَيْنَ وُضُوئِهِ وَصَلَاتِهِ أَخَذَتْهُ رِعْدَةٌ وَنَفْضَةٌ. فَقِيْلَ لَهُ فِي ذٰلِكَ. فَقَالَ: وَيحَكُمْ أَتَدْرُوْنَ إِلَى مَنْ أَقُوْمُ، وَمَنْ أُرِيْدُ أَنْ أُنَاجِيَ. حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ۳/۱۳۳ زَيْنُ الْعَابِدِيْنَ عَلِيُّ بْنُ الْحُسَيْنِ طبع دار الفكر بيروت. سير اعلام النبلاء ۳/۲۹۲.

(۲) وبعضهم ينفتل من صلاته متغيّر اللون لقيامه بين يدي الله عز وجل. وبعضهم إذا كان في الصلاة لايعرف من على يمينه وشماله. وكان سعيد التنوخي إذا صلى لم تنقطع الدموع من خديه على لحيته. ۳۳ سببا للخشوع في الصلاة.

## امام بُخاري اوولس (۱۷) ځايه مچۍ اوچيچل خو مونځ يې مات نه کړو

امام بخاري رحمه الله به دومره په خُشوع او عاجزۍ سره مونځ کولو چې يو ځل دې په مانځه باندې اودريد نو مچې اوولس (۱۷) ځايه اوچيچَل، کله يې چې مونځ خلاص کړو نو ناست موجود کسانو ته يې ووېل: أُنظُرُوا أَيّ شَيْءٍ آذَانِيْ؟

تاسو اوګورئ چې په دې مانځه کې څه شي ماته تکليف راأورسول؟

هغوی چې اوکتل نو مچۍ اوولس (۱۷) ځايه دې چيچلې او پړسولې وُ، ليکن ده مونځ نه وُ مات کړی.

خلقو ورنه پوښتنه اوکړه: کله چې دې مچۍ تا له اول ځل ټک درکړو نو تا ولې مونځ مات نه کړو؟ ده ورته ووېل: کُنْتُ فِيْ سُوْرَةٍ فَأَحْبَبْتُ أَنْ أُتِمَّهَا. (۱)

ما په مانځه کې يو سورة شروع کړې وُ نو زما دا خوښه وه چې زه دا آخِر ته اُورسوم (نو ځکه مې مونځ مات نه کړو).

## په مونځ کې د لاس په پريکيدلو نه پوهيدل

امام غزالي رحمه الله په مکاشفة القلوب کې ذکر کړي چې عمربن زر رحمه الله يو ډير نيک او عبادت ګزار انسان وُ، يو ځل ده په لاس کې زخم پيدا شو (دا زَخم خراب شو) طبيبانو ده د لاس پريکولو فيصله اوکړه، ده ورته اِجازت ورکړو، طبيبانو ورته ووېل چې مونږ به تا اول په پړو باندې اوتړو، يا به درنه لاس پريکړو، ځکه مونږ خو تا نه شو ټينګولی.

(۱) كَانَ مُحَمَّدُ بنُ إِسْمَاعِيْلَ رحمه الله يُصَلِّيْ ذَاتَ لَيْلَةٍ فلسعَهُ الزُّنْبُوْرُ سَبْعَ عَشْرَةَ مَرَّةً فَلَمَّا قضَى الصَّلَاةَ قَالَ: أُنْظُرُوا أَيّ شيء آذَانِيْ؟. وَقَالَ مُحَمَّدُ بنُ أَبِي حَاتِمٍ: دُعِيَ مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيْلَ رحمه الله إِلى بُسْتَانِ بَعْضِ أَصْحَابِهِ. فَلَمَّا صَلَّى بِالقَوْمِ الظُّهرَ، قَامَ يَتَطَوَّعُ فَلَمَّا فَرَغَ مِنْ صَلَاتِهِ رفعَ ذيلَ قميصِهِ. فَقَالَ لبَعْضِ مَنْ مَعَهُ: أنظرْ هَلْ تَرَى تَحْتَ قَمِيْصِيْ شَيْئًا؟ فَإِذَا زنبورٌ قَدْ أَبَرَهُ فِيْ ستةِ عشر، أو سبعة عشر موضعًا، وَقَدْ تورمَ مِنْ ذٰلِكَ جَسَدُهُ. فَقَالَ لَهُ بَعْضُ القَوْمِ: كَيْفَ لَمْ تخرجْ مِنَ الصَّلَاةِ أَوَّلَ مَا أَبَرَكَ؟ قَالَ: كُنْتُ فِيْ سُوْرَةٍ فَأَحْبَبْتُ أَنْ أُتِمَّهَا. سير اعلام النبلاء للذهبي ۱۰۳/۱۰ الطبقة الرابعة عشر: ابو عبد الله البخاري، وهدي الساري لابن حجر ص ۴۸۰.

ده ورته وويل : زما د ترلو ضرورت نشته ، بلکه چې کله زه په مانځه باندې اودريږم نو بيا زما لاس غوڅ کړئ .

کله چې دې په مانځه باندې اودريد ، طبيبانو ورنه لاس غوڅ کړو ، ليکن دې ورباندې هيڅ پوهه نه شو ، نه يې څه چغه او وهله ، او نه يې فرياد اوکړو . (۱)

## په مونځ کې د خپې په پريکيدو نه پوهيدل

• حافظ ابن کثير رحمه الله په البداية والنهاية کې د مشهور تابعي عروه بن زبير بن عوام رحمه الله اوږده واقعه رانقل کړې ، چې کله دې د مدينې منورې نه دمشق ته د وليد د ملاقات د پاره روان شو ، نو په لاره کې يې په خپه کې خطرناکه د آکلې ( خوړونکي ) بيماري پيدا شوه ، دا بيماري دده نيمې پوندۍ ته رااورسيده .

کله چې دې وليد ته راغی ، د هغه وخت مشهور طبيبان ورته راجمع شو ، نو هغوی ټولو په دې فيصله اوکړه چې دا خپه به کټ کول غواړي کني دا بيماري به دده ټوله خپه خرابه کړي ، او امکان شته چې پاس بدن ته اورسي ، نو دې ورباندې راضي شو .

طبيبانو ورته وويل : مونږ به تاته نشه درکوو ( ددې د پاره چې ته د خپې په درد باندې پوهه نه شې ) ، ده ورته وويل : زه دا نه خوښوم چې يو کس شراب يا بل نشه يي څيز استعمال کړي او په دې سره دده عقل لاړ شي ، تر دې پورې چې دې بيا خپل رب نه پيژني ،

وَلٰكِنْ إِنْ كُنْتُمْ لَابُدَّ فَاعِلِيْنَ فَافْعَلُوْا ذٰلِكَ ، وَأَنَا فِي الصَّلَاةِ...

ليکن که تاسو خامخا زما خپه کټ کول غواړئ نو بيا چې کله زه په مانځه باندې اودريږم نو کټ يې کړئ ، ځکه زه د مانځه په حالت کې بيا په دې دردونو باندې نه پوهيږم .

کله چې دې په مانځه باندې اودريد نو طبيبانو د احتياط د پاره د زخم نه پورته په روغ ځای کې دده خپه کټ کړه ، ددې د پاره چې د بيمارۍ اثر مکمل ختم شي .

وَهُوَ قَائِمٌ يُصَلِّيْ ، فَمَا تَأَلَّمَ وَلَا اضْطَرَبَ ...

د خپې کټ کولو په وخت بغير د نشې نه دې په مانځه ولاړ وو ليکن دې په مانځه کې داسې

(۱) مکاشفة القلوب للامام غزالي رحمه الله باب ۱۴ .

مشغول وُ چې د خپې کټ کولو په دَرد هم پوهه نه شو، او نه اُوخوَزيد . (۱)

# په مانځه کې د مچې په چيچلو نه پوهيدل

۱ . د محمد بن نصر المروزي رحمه الله متعلق نقل دي چې دهٔ به داسې په خُشوع او بهترينې طريقې سره مونځ کولو چې يو ځل دې په مانځه ولاړ وُ يوه مچۍ دده په تندي کيناسته، دومره پوخ يې اُوچيچل چې فَسَالَ الدَّمُ عَلَى وَجْهِهِ وَلَمْ يَتَحَرَّكْ . (۲)
وينه دده په مَخ باندې راروانه شوه خو دې په مانځه کې او نه خوَزيد .

---

(۱) قد ذكر غير واحد أنّ عروة بن الزبير لمّا خرج من المدينة متوجهًا إلى دمشق ليجتمع بالوليد ، وقعت الأكله في رجله في واد قرب المدينة ، وكان مبدؤها هناك. فظنّ أنها لا يكون منها ما كان ، فذهب في وجهه ذلك، فما وصل إلى دمشق إلّا وهي قد أكلت نصف ساقه ، فدخل على الوليد ، فجمع له الأطباء العارفين بذلك، فأجمعوا على أنّه إن لم يقطعها وإلّا أكلت رجله كلها إلى وركه . و ربما ترقت إلى الجسد فأكلته ، فطابت نفسه بنشرها وقالوا له : ألا نسقيك مرقدًا حتى يذهب عقلك منه فلا تحس بألم النشر؟ فقال: لا ، والله ما كنت أظن أن أحداً يشرب شرابا ويأكل شيئًا يذهب عقله، ولكن إن كنتم لابد فاعلين فافعلوا ذلك . وأنا في الصلاة فإني لا أحس بذلك، ولا أشعر به . قال: فنشروا رجله من فوق الأكلة، من المكان الحي، احتياطًا أنه لا يبقى منها شئ ، وهو قائم يصلي، فما تألم و لا اضطرب ....
وَرُوِيَ أَنَّهُمْ قَطَعُوْهَا وَهُوَ فِي الصَّلَاةِ فَلَمْ يَشْعُرْ لِشُغْلِهِ بِالصَّلَاةِ . وَوَقَعَ فِيْ هَذِهِ اللَّيْلَةِ الَّتِيْ قُطِعَتْ فِيْهَا رِجْلُهُ وَلَدٌ لَهُ يُسَمّٰى مُحَمَّدًا كَانَ أَحَبَّ أَوْلَادِهِ مِنْ سَطْحٍ فَمَاتَ . فَدَخَلُوْا عَلَيْهِ فَعَزَّوْهُ فِيْهِ . فَقَالَ : اَللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ. كَانُوْا سَبْعَةً فَأَخَذْتَ وَاحِدًا وأبقيت ستة، وكان لي أطراف أربعة فأخذت واحدًا وأبقيت ثلاثة. فَلَئِنْ كُنْتَ قَدْ أَخَذْتَ فَلَقَدْ أَعْطَيْتَ ، وَلَئِنْ كنت قد ابتليت فقد عافيت. البداية والنهاية لابن كثير ۱۲۰/۹ سَعِيْدُ بْنُ جُبَيْرٍ الْأَسَدِيُّ..

(۲) قال أبو بكر الصبغي : أدركت إمامين لم أُرزق السّماع منهما : أبو حاتم الرازي ومحمد بن نصر المروزي، فأما ابن نصر فما رأيت أحسن صلاة منه . لقد بلغني أن زنبورا قعد على جبهته فسال الدم على وجهه ولم يتحرك . وقال محمد بن يعقوب الأخرم : ما رأيت أحسن صلاة من محمد بن نصر . كان الذباب يقع على أذنه .. فلا يذبّه على نفسه ، ولقد كنا نتعجب من حسن صلاته وخشوعه وهيبته للصلاة كان يضع ذقنه على صدره كأنه خشبة منصوبة . تعظيم قدر الصلاة ۵۸/۱ . ۳۳ سببا للخشوع في الصلاة سبب ۱۵ .

۲. همدغه شان واقعه د خلف بن ايوب رحمه الله په باره کې هم نقل ده، چې دې يو ځل په مانځه ولاړ وُ، مچى اوچيچل، وينه ورنه را اووته ليکن ده ته هيڅ پته او نه لېيده. په دې وخت کې ابن سعيد د بهر نه راغى، ده ته يې وويل: د وجود نه دې وِينه رااُوتې ده او جامې دې پليتې شوې. دې لاړو جامې يې اُووينځلې.

ابن سعيد ورنه پوښتنه اوکړه چې ته خو مچى اوچيچلې، او وِينه دې هم د وجود نه رااُووته ليکن ته بيا هم پرې پوهه نه شوې ( دا ولې ؟ )، ده ورته وويل:

چې کله يو کس په مانځه کې د الله ﷻ په حُضور کې ولاړ وي، شاته يې مَلِک الموت وي، ګس ( چَپ ) طرف يې دُوزخ وي، او د خپو لاندې يې پُل صراط وي نو هغه به ( د مچى په چيچلو ) څنګه پوهه شي ؟ (۱)

## د حاتم زاهد رحمه الله د مونځ کيفيت

يوه ورځ حاتم زاهد رحمه الله په عاصم بن يوسف رحمه الله باندې داخل شو، عاصم ورنه پوښتنه اوکړه: کَيْفَ تُصَلِّيْ ؟ ته څنګه طريقې سره مونځ کوې ؟

ده ورته د خپل مانځه کيفيت بيان کړو چې کله د مانځه وخت راشي نو زه پوره کاملې طريقې سره اُودس اوکړم، بيا چې په کوم ځاى کې مونځ کوم هلته لږ وخت کينم ددې د پاره چې زما ټول اَندامونه مُطمئِن شي، بيا د مانځه د پاره پاڅم، کعبه خپلې مخې ته ګڼړم، الله ﷻ د خپل سَر د پاسه ګڼړم چې هغه زما د زړه په خبرو پوهېږي، خپل قدم په پُلِ صراط باندې، جنت خپل خي طرف، جهنم خپل ګس طرف، او مَلَکُ الموت خپل شاته ګڼړم، او دا ګمان کوم چې ګني په دُنيا کې دا زما آخِري مونځ دى.

بيا ډېر په تعظيم سره الله اکبر ووايم، په ډېر فکر ( او اَدب ) سره قراءت کوم، په ډېرې عاجزى سره رکوع کوم، په ډېر خُشوع سره سجده کوم، بيا په اَدب سره په التحيّات کينم، پوره اُميد سره تَشَهُّد اووايم، په سُنت طريقې سره سلام اُوګرځوم، په اِخلاص سره پوره مونځ اوکړم، بيا په داسې حالت کې پاڅم چې په زړه کې مې ددې مونځ د نه قبليدو يَره وي،

(۱) مکاشفة القلوب باب ۱۴.

خو ورسره مې د قبليدو اُميد هم وي (يعنی د خَوف او رَجاء په مينځ کې يم)، بيا په خپل زړه کې آئنده ټول عُمر د همدغه شان مونځ کولو عَهد کوم. عاصم ورنه پوښتنه اوکړه:

يَا حَاتِمُ كَذَا صَلَاتُكَ؟ اې حاتم! آيا ستا مونځ په همدغه طريقه وی؟

حاتم زاهد ورته وويل: هٰكَذَا صَلَاتِي... مُنْذُ ثَلَاثِيْنَ سَنَةً.

همدغه شان مونځ زه د ديرشو (۳۰) کالو نه راپه ديخوا کوم.

عاصم اُوژړل او وې ويل: مَا صَلَّيْتُ صَلَاةً مِنْ صَلَاتِي مِثْلَ هٰذَا قَطُّ. (۱)

---

(۱) په تنبيه الغافلين کې دا واقعه داسې ذکر ده: وَذُكِرَ أَنَّ حَاتِمًا الزَّاهِدَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰى دَخَلَ عَلٰى عِصَامِ بْنِ يُوسُفَ. فَقَالَ لَهُ عِصَامٌ: يَا حَاتِمُ! هَلْ تُحْسِنُ أَنْ تُصَلِّيَ؟ فَقَالَ: نَعَمْ. فَقَالَ: كَيْفَ تُصَلِّيْ؟ قَالَ: إِذَا تَقَارَبَ وَقْتُ الصَّلَاةِ أسبغتُ الوضوء، ثم أستوي في الموضع الذي أصلي فيه حتى يستقر كل عضو مني، وأرى الكعبة بين حاجبي، والمقام بحيال صدري، والله تعالى يعلم ما في قلبي وكأن قدمي على الصراط، والجنة عَنْ يَمِيْنِي، وَالنَّارَ عَنْ يَسَارِي، وَمَلَكَ الْمَوْتِ خلفي، وأظن أنها آخر صلاتي، ثم أكبر تكبيرة بإخبات، وأقرأ قراءة بالتفكر، وأركع ركوعا بالتواضع، وأسجد سجودا بالتضرع، ثم أجلس على التمام، وأتشهد على الرجاء والخوف، وأسلم على السنة، ثم أسلمها بإخلاص، وأقوم بين الرجاء والخوف، ثم أتعاهد بالصبر. قَالَ عِصَامٌ: يَا حَاتِمُ كَذَا صَلَاتُكَ؟ قَالَ: هٰكَذَا صَلَاتِي. قَالَ: مُنْذُ كَمْ صَلَاتُكَ عَلٰى هٰذَا الْوَصْفِ؟ قَالَ: مُنْذُ ثَلَاثِيْنَ سَنَةً. فَبَكٰى عِصَامٌ وَقَالَ: مَا صَلَّيْتُ صَلَاةً مِنْ صَلَاتِي مِثْلَ هٰذَا قَطُّ. تنبيه الغافلين بأحاديث سيد الأنبياء والمرسلين للسمرقندي ص ۵۴۰ بَابُ: إِتْمَامُ الصَّلَاةِ وَالْخُشُوعُ فِيهَا.

امام غزالي رحمه الله دا واقعه په احياء العلوم کې داسې رانقل کړې: ويروى عن حاتم الأصم رحمه الله أنه سئل عن صلاته، فقال: إذا حانت الصلاة أسبغتُ الوضوء وأتيتُ الموضع الذي أريد الصلاة فيه فأقعد فيه حتى تجتمع جوارحي، ثم أقوم إلى صلاتي وأجعل الكعبة بين حاجبي، والصراط تحت قدمي، والجنة عن يميني، والنار عن شمالي، وملك الموت ورائي، أظنها آخر صلاتي، ثم أقوم بين الرجاء والخوف، وأكبر تكبيرًا بتحقيق، وأقرأ قراءة بترتيل، وأركع ركوعًا بتواضع، وأسجد سجودًا بتخشع، وأقعد على الورك الأيسر وأفرش ظهر قدمها وأنصب القدم اليمنى على الإبهام وأتبعها الإخلاص ثم لا أدري أقبلت مني أم لا؟ [إحياء علوم الدين ۱ / ۱۵۱ فضيلة الخشوع. مكاشفة القلوب الباب الرابع عشر / فوائد: دا واقعه په نورو کتابونو کې هم ذکر ده لکه په: حلية الاولياء لابي نعيم ۸/ ۷۳، الخشوع في الصلاة لابن رجب ص ۳۷، الخشوع في ضوء الكتاب والسنة ص ۱۱۷.

(های افسوس) ما خو دغه شان بهترين مونځ کله هم ندې أداء کړی .

## په مانځه کې د زين العابدينؒ الله ﷻ طرف ته متوجِّه کيدل

په روض الرياحين کې دا واقعه ليکلی چې يو ځل امام زين العابدينؒ په يو جُمات کې مونځ کولو ، ناڅاپه د دې جُمات په چَت باندې أور اولږيد ، دې هماغه شان په مانځه ولاړ وُ، خلقو چې دې أوليد نو ډير آوازونه يې ورته اوکړل ، ليکن دې په مانځه مشغول وُ .

کله چې د مانځه نه فارِغه شو او بهَر راأووت ، خلقو ورته وويل : په جُمات أور لږيدلې وُ مونږ تاسو ته ډيرې چغې اوکړې خو تاسو زمونږ آوازونه نه آوريدل .

ده ورته وويل : تاسو زه د دُنيا د أور نه بچ کولم خو زه په دغه وخت کې د الله ﷻ په حُضور کې ولاړ ووم او د الله تعالى د قهَر د أور نه مې د ځان بچ کولو کوشش کولو ، نو ځکه زه د دُنيا د أور نه د آخِرت أور غافِله کړې ووم ، او ستاسو آوازونه مې نه آوريدل . (۱)

## په مانځه کې د مُسلم بن يسارؒ الله ﷻ طرف ته متوجِّه کيدل

۱ . د مسلم بن يسار رحمه الله په باره کې نقل دي :

صَلَّى كَأَنَّهُ وَدٌّ (أَيْ وَتَدٌ) لَا يَمِيْلُ لَا هٰكَذَا ، وَلَا هٰكَذَا . (۲)

کله به چې ده مونځ کولو ( نو دومره په خُشوع او عاجزۍ سره به يې مونځ کولو ) داسې به معلوميدو لکه په زمکه چې يو ميخ ټک وهل شوې وي ، آخوا ديخوا به بې ضرورته نه خوَزيد .

۲ . يو ځل دې په کور کې په مانځه ولاړ وُ ، ناڅاپه دده په کور دده سره نزدې أور أولږيد ، خلق راجَمع شو ، أوريې مَرکړو خو ليکن دې وريانديې پوهه نه شو . (۳)

---

(۱) روض الرياحين .

(۲) سير اعلام النبلاء ۴ / ۵۱۱ مُسْلِمُ بْنُ يَسَارٍ أَبُو عَبْدِ اللهِ الْبَصْرِيُّ . المعرفة والتاريخ ۲ / ۸۵ ، وابن عساكر ۱۶ / ۲۴۵ ، ثم انظر ابن سعد ۷ / ۱۸۶ والحلية ۲ / ۲۹۱ .

(۳) عَنْ حَبِيْبِ بْنِ الشَّهِيْدِ أَنَّ مُسْلِمَ بْنَ يَسَارٍ رحمه الله : « كَانَ قَائِمًا يُصَلِّيْ فَوَقَعَ حَرِيْقٌ إِلَى جَانِبِهِ فَمَا شَعَرَ بِهِ حَتّٰى طُفِئَتِ النَّارُ . حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ۲ / ۲۹۰ مُسْلِمُ بْنُ يَسَارٍ طبع دار الكتاب العربي بيروت. الطبقات الكبرى لابن سعد ۷/۱۸۶ .

يعنى ده بنه په اِطمينان سره مونځ اوکړو ، د مانځه نه پس ورته خلقو وويل چې ټول خلق د اُور مړ کولو د پاره راجمع شوي وو ، تاته خو مونځ ماتول هم جائز وُ نو تا ولې مونځ مات نه کړو ؟ ده ورته وويل ؛ زه په مانځه مشغول ووم ، قسَم په الله ماته هيڅ پته نه وه . (١)

٣ . د مسلم بن يسار رحمه الله په باره کې دا هم نقل دي چې کله به ده په کور کې د (نفل يا سُنت) مانځه کولو اِراده اوکړه نو ده به کور والهته وويل :

تَحَدَّثُوْا. فَلَسْتُ أَسْمَعُ حَدِيْثَكُم . (٢)

تاسو خپلې خبرې کوئ ، ځکه زه (په مانځه کې) ستاسو په خبرو باندې نه پوهيږم .

٤ . يو ځل ده د بَصرې په جُمات کې مونځ کولو نو د جُمات يو طرف رااُوغورځيد ، خلق ورته راجمع شو (شور او غوغا جوړه شوه)

فَلَمْ يَشْعُرْ بِهِ حَتَّى انْصَرَفَ مِنَ الصَّلَاةِ . (٣)

دې د جُمات په راغورځيدو او خلقو راجَمع کيدو باندې بالکل پوهه نه شو ، تر دې پورې چې مونځ يې پوره کړو .

---

(١) وَروى : أَنَّهُ وَقَعَ حَرِيْقٌ فِيْ دَارِهِ ، وَأُطْفِئَ . فَلَمَّا ذُكِرَ ذٰلِكَ لَهُ . قَالَ: مَا شَعَرْتُ . سير اعلام النبلاء ٣ / ٥١١ مُسْلِمُ بنُ يَسَارٍ أَبُو عَبْدِ اللهِ البَصْرِيُّ ، ابن عساكر ١٦ / ٢٣٦ آ، وانظر ابن سعد ٧ / ١٨٦.

(٢) كَانَ مُسْلِمُ بنُ يَسَارٍ يَقُوْلُ لأَهْلِهِ إِذَا دَخَلَ فِي الصَّلَاةِ :تَحَدَّثُوْا. فَلَسْتُ أَسْمَعُ حَدِيْثَكُم . سير اعلام النبلاء ٣ / ٥١١ مُسْلِمُ بنُ يَسَارٍ أَبُو عَبْدِ اللهِ البَصْرِيُّ ، الحلية ٢ / ٢٩٠ وابن عساكر ١٦ / ٢٣٦ آ، وانظر ابن سعد ٧ / ١٨٦ ، احياء علوم الدين ١ / ١٥١ كتاب أسرار الصلاة ومهماتها فضيلة الخُشُوعِ . تنبيه الغافلين ٥٣٨/١ بَابُ إِتْمَامُ الصَّلَاةِ وَالخُشُوعُ فِيهَا .

(٣) ويروى عنه أنه كان يصلي يوماً في جامع البصرة فسقطت ناحية من المسجد فاجتمع الناس لذلك فلم يشعر به حتى انصرف من الصلاة. احياء علوم الدين ١ / ١٥١ كتاب اسرار الصلاة ومهماتها فضيلة الخُشُوع. وَقَالَ غَيْلَانُ بْنُ جَرِيْرٍ: كَانَ مُسْلِمُ بنُ يَسَارٍ إِذَا صَلَّى كَأَنَّهُ ثَوْبٌ مُلْقًى . الحلية ٢ / ٢٩١ ، وابن عساكر ١٦ / ٢٣٥ ، سير اعلام النبلاء ٣ / ٥١٢ مُسْلِمُ بنُ يَسَارٍ أَبُو عَبْدِ اللهِ البَصْرِيُّ.

## په مانځه کې د سفيان ثوريؒ الله ﷻ طرف ته متوجِّه کيدل

يو کرَت سفيان ثوري رحمه الله په مانځه ولاړ وُ ، کله چې سجدې ته ښکته شو نو يو دشمن راغی او دده د يوې خپې نه يې دوه ګُتې کټ کړی ، او بلې خپې نه يې پنځه واړه ګوتې کټ کړی خو دې ورباندې پوهه نه شو ، کله يې چې سلام اُوګرځول نو اول خو يې د مانځه په ځای کې وِينه اُوليده ، بيا يې په خپو کې تکليف محسوس کړو نو بيا ورته معلومه شوه چې چا زما د خپو ګُتې کټ کړي دي . (۱)

سبحان الله . په مانځه کې الله ﷻ طرف ته داسې متوجِّه وُ چې د خپو ګُتو کټ کولو په دَرد هم پوهه نه شو .

## په مانځه کې د يعقوب قاريؒ الله ﷻ طرف ته متوجِّه کيدل

فقيه ابو الليث ثمرقنديؒ په تنبيهُ الغافلين کې دا واقعه رانقل کړی چې يو ځل يعقوب قاریؒ رحمه الله په مانځه ولاړ وُ ( څادر يې اغوستې وُ ) يو جيب تراش ( غَل ) راغی او دده نه يې څادر اُوتختول ، کله چې دا غَل خپلو ملګرو له ورغی او څادر يې هغوی ته اُوخود نو هغوی دا څادر اُوپيژند ، ده ته يې ووېل : رُدَّهُ إِلَى الرَّجُلِ الصَّالِحِ . فَإِنَّا نَخَافُ دُعَاءَهُ .

دې نيک سړي ته دا څادر واپس وَروړه ځکه مونږ د هغه د خېرو نه ويرېږو .

دې غل واپس دا څادر راوړو ، دده په اُوګه يې واچول ، او معافي يې هم اُوغوښته .

کله چې يعقوب قاري رحمه الله د مانځه نه فارغ شو ، خلقو ورته د دې واقعې خبر ورکړو ( چې د تا نه جيب تراش څادر اُوتختول ، بيا يې واپس راوړو ، او معافي يې هم درنه اُوغوښته ) ، ده ورته ووېل : إِنِّي لَمْ أَشْعُرْ مَنْ رَفَعَهُ وَلَا مَنْ وَضَعَهُ . (۲)

---

(۱) ميري نماز ، نماز کے مسائل کا انسائيکلو پيڈيا ج۱ ص ۳۶۳ .

(۲) وَذُكِرَ عَنْ يَعْقُوبَ الْقَارِئِ رحمه الله : أَنَّهُ كَانَ فِي الصَّلَاةِ فَجَاءَ طَرَّارٌ فَاخْتَلَسَ رِدَاءَهُ . فَذَهَبَ بِهِ إِلَى أَصْحَابِهِ فَعَرَفُوا رِدَاءَهُ . فَقِيلَ لَهُ : رُدَّهُ إِلَى الرَّجُلِ الصَّالِحِ . فَإِنَّا نَخَافُ دُعَاءَهُ . فَوَضَعَهُ عَلَى كَتِفِهِ ، وَاعْتَذَرَ إِلَيْهِ مِنْ صَنِيعِهِ . فَلَمَّا فَرَغَ مِنْ صَلَاتِهِ أُخْبِرَ بِذَلِكَ . فَقَالَ : إِنِّي لَمْ أَشْعُرْ مَنْ رَفَعَهُ وَلَا مَنْ وَضَعَهُ . تنبيه الغافلين باحاديث سيد الأنبياء والمرسلين للسمرقندي ص ۵۳۹ بَابُ إِتْمَامُ الصَّلَاةِ وَالْخُشُوعُ فِيهَا طبع دار ابن كثير، دمشق بيروت

ماته خو د سره دا پته نده لړيدلی چې دا څادر چا اُوچت کړې وُ ؟ او چا واپس کيښود ؟

## د خلف بن ايوبؒ د مونځ کيفيت

خلف بن ايوب رحمه الله به په مانځه کې د خپل مَخ نه مچان نه شَړل ، چا ورنه پوښتنه اوکړه : چې کله ته په مانځه ولاړيې نو آيا تاته مچان تکليف نه دَر رسوي ؟ ته په دې څنګه صبر کوی ؟ ده ورته ووېل : فاسقان خلق د حکومت په کوړو خوَړلو باندې صبر کوي (او په دې خپل صبر و تحمّل باندې فخر کوي) صرف ددې د پاره چې خلق اُووايي چې دا فلانې ډير صبرناک دی ، وأنا بين يدي ربّي أفلا أصبرُ على ذباب يقعُ عَلَيَّ .(١)

زه خو په مانځه کې د خپل رَب مخې ته ولاړ يم نو آيا د مچانو په دې تکليف زه صبر اونکړم ؟

## د يوې زَنانه د مانځه کيفيت

علماؤ يوه واقعه رانقل کړې چې يوې زَنانه تنُور لمبه کړو ، خيال يې اوکړو چې مونځ به اوکړم بيا به روټۍ پخې کړم ، نو په مانځه اُودريده ، ددې ښځې د يو نيم کال يا دوه کالو ماشوم بچې وُ ، په دې کور کې يې لوبې کولې ، شيطان راغی او دا ماشوم يې د تنور غاړې له بوتلو ، بيا يې دې ښځې ته ووېل : اوګوره ، ستا وړوکې بچې د تنور غاړې ته ورسيدو ، هغې مونځ مات کړه او خپل بچې راواخله هسې نه چې دې تنور ته اُولوېږي او اُوسوَزي ، د دې نېکې بي بي د شيطان خبرو ته هيڅ توجّه ورنکړه ، او همداغه شان يې خپل مونځ جاري اُوساتل ، شيطان ډير غصه شو ، دا ماشوم يې راواخيست او په تنور کې يې وَر او غورځول ، بيا راغی دې ښځې ته يې ووېل : ته اوس هم مونځ کوی حالانکه ستا بچې په تنور کې اُولويد ، په مَنډه ورشه د تنور نه يې رااُوباسه کيدې شي څه نا څه بَچ شي ، اې کم بَختې بې وقوفې ! مونځ خو بيا هم کيدې شي ليکن که بچې دې مړ شو نو بيا به درته نصيب نشي .

---

(١) وكان خلف بن أيوب لا يطرد الذباب عن وجهه في الصلاة ، فقيل له : كيف تصبر؟ فقال: « بلغني أن الفساق يتصبرون تحت السياط ليقال فلان صبور. وأنا بين يدي ربي أفلا أصبر على ذباب يقع عليّ. المستطرف في كل فن مستظرف ١/ ١٢ الباب الأول في مباني الإسلام الفصل الثاني في الصلاة وفضلها .

شيطان د خپل طرف نه نورې ډيرې خبرې هم اوکړې ، خو دا نېکه بي بي هماغه شان په مانځه ولاړه وه ، دده خبرو ته يې هيڅ توجّه ورنکړه .

شيطان چې ددې زَنانه ثابت قدمي اوليده نو په ډيرې رَسوايۍ او شرمندګۍ سره روان شو .

کله چې دې ښځې ښه په اِطمينان سره مونځ اوکړو او د تنور خواته راغله نو وې کتل چې بچې يې ژوندې په تنور کې ناست دی ، اُور لمبې وهي خو دې ماشوم د سَکروټو سره لوبې کولی ، دې ماشوم يوه سَکروټه راواخيسته او خُلې ته يې واچوله ، الله ﷻ ددې سکروټې نه وَرته ياقوت جوړ کړو . (۱)

## په اِخلاص او توَجّه سره د مونځ کولو ثواب زيات دی

څومره چې يو کس مونځ په اِخلاص ، توَجّه ، او صحيح طريقې سره کوي نو همدومره به ددې مونځ شان اُوچت وي او د الله ﷻ په نزد به مقبول وي .

او کوم کس چې په مونځ کې بې پرواه ولاړ وي او الله ﷻ طرف ته يې هيڅ توجّه نه وي نو په داسې کس به الله ﷻ څه رَحم اوکړي ؟ او داسې مونځ به څه قبول شي ؟

د داسې کس مثال خو د هغه چا په شان دی چې هغه د يو بادشاه کور ته د خپلې خطائې معاف کولو د پاره لاړ شي ، د هغه دَروازه اُوټکوي ، کله چې بادشاه رااُووځي نو دې اَخوا

---

(۱) الجواهرات في عقوبة اهل الكبائر للشيخ العلامه زين العابدين المليباري ص ۱۵ طبع دار الكتاب العربي دمشق سوريه . نماز کے مسائل کا انسائيکلو پيڈيا ج۱ ص ۳۶۳ .

په نزهة المجالس کې دا واقعه په دې اَنداز ذکر ده : كان في زمن عيسى عليه السلام امرأة صالحة ، فجعلت العجين في التنور وأحرمت بالصلاة ، فجاءها الشيطان في صورة امرأة وقال : احترق العجين . فلم تلتفت إليه فأخذ ولدها وجعله في التنور ، فلم تلتفت إليه فدخل زوجها فوجد الولد في التنور يلعب بالجمر وقد جعله الله عقيقاً أحمر . فأخبر عيسى بذلك فقال ادعها فدعاها فسألها عن عملها فقالت : يا روح الله ! ما أحدثت إلا توضأت . وما توضأت إلا صليت ، ولا طلب مني أحد حاجة ترضي الله إلا قضيتها له . وأتحمل الأذى من الأحياء كما يتحمل الأموات منهم . نزهة المجالس ومنتخب النفائس ص ۱۰۸ باب فضل الصلوات ليلا ونهارا ومتعلقاتها طبع المطبعه الكاستلية مصر.

ديخوا ګوري ، بادشاه ته هيڅ توَجّه نه ورکوي نو په داسې کس به بادشاه څه رَحم اوکړي ؟ او دده خطاء به څه معاف کړي ؟

بادشاه خو به هغه وخت دده سره اِحسان کوي چې دا کس خو بادشاه ته متوَجِّه شي . (۱)

## په مانځه کې د قلبي توَجّه برابرولو طريقه

امام غزالي رحمه الله ليکلي دي چې په مانځه کې د غفلت پيدا کيدو او حُضورِ قلبي ختميدو دوه غټ سببونه دي :

۱. ظاهري سبَب . ۲ . باطني سبَب .

ظاهِري سبب خو دادی چې انسان په داسې ځای کې په مانځه ولاړ وي چې هلته هر طرف ته شور او آوازونه وي ، د انسان نظر په مختلفو شيانو لږي ، چې ددې په وجه د انسان توجّه د الله ﷻ نه کټ شي ، او ددې ظاهري شيانو طرف ته متوَجِّه شي .

ددې عِلاج دادی چې انسان په داسې ځای کې مونځ اوکړي چې هلته شور او آوازونه نه وي ، او د سترګو نظر په مختلف قِسمه شيانو باندې نه لږي .

باطني سبَب دادی چې د انسان زړه ته مختلف قِسمه خيالات او وَسوسې راځي . بيا دا باطني سبَب په خپل کور کې په دوه قِسمه دی :

اول قِسم دا چې د يو کار د وجې د انسان زړه ته دا مختلف قِسمه وَسوسې او خيالات راځي نو ددې عِلاج دادی چې انسان اول د دغه کار نه ځان فارِغ کړي ، او بيا په اِطمينان سره مونځ اوکړي .

(۱) په تنبيه الغافلين کې دا خبره په دې انداز ذکر ده : وَإِنَّمَا عِظَمُ شَأْنِ صَلَاةِ الْعَبْدِ بِإِقْبَالِ الْعَبْدِ عَلَى اللهِ ، فَإِذَا لَمْ يُقْبِلْ عَلَى صَلَاتِهِ وَلَهَا بِحَدِيثِ النَّفْسِ كَانَ بِمَنْزِلَةِ مَنْ قَدْ وَقَفَ إِلَى بَابِ مَلِكٍ مُعْتَذِرًا مِنْ خَطِيئَتِهِ وَ زَلَّتِهِ . فَلَمَّا وَصَلَ إِلَى بَابِ الْمَلِكِ قَامَ بَيْنَ يَدَيْهِ ، وَأَقْبَلَ عَلَيْهِ الْمَلِكُ فَجَعَلَ الْوَاقِفُ يَلْتَفِتُ يَمِينًا وَشِمَالًا . فَإِنَّ الْمَلِكَ لَا يَقْضِي حَاجَتَهُ وَإِنَّمَا يُقْبِلُ الْمَلِكُ عَلَيْهِ عَلَى قَدْرِ عِنَايَتِهِ . فَكَذٰلِكَ الصَّلَاةُ إِذَا قَامَ الْعَبْدُ فِيهَا وَسَهَا فِيهَا لَا تُقْبَلُ مِنْهُ . تنبيه الغافلين باحاديث سيد الأنبياء والمرسلين للسمرقندي ص ۲۷۸ بَابُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ دار ابن كثير، دمشق بيروت .

مثلاً : چې کله روټۍ راوړې شي ، او دې سخت اوږې وي ، خوراک ته يې شوق زيات وي نو دې به اول دا روټۍ اوخوري ، بيا به مونځ اوکړي .(۱)

دويم قِسم هغه خيالات او سُوچونه دي چې بې اِختياره د انسان زړه ته راځي ، نو ددې عِلاج دادی چې انسان د مانځه او تلاوت معنٰی طرف ته متوَجّه شي ، نو په دې سره به هم دا خيالات په خپله ختم شي .

## نبي عليه السلام به توَجّه خرابوونکې څيز د مخې نه لرې کول

که مونږ د نبي کريم صلی الله عليه وسلم او صحابه کرامو د مانځه واقعات اوګورو نو دا به راته واضحه شي چې د کومو شيانو په وجه به په مانځه کې حُضورِ قلبي او توَجّه خرابيده نو دوی به هغه سبب مکمل لرې کولو . ددې يو څو نمونې تاسو ته بيانوم :

۱ . يو ځل رسولُ الله صلی الله عليه وسلم ته چا په هديه کې بهترينې جامې ( کپړې ) راوړې ، دوی واچولې ، چې کله په مانځه باندې اُودريد نو د دوی نظر په جامو کې په ګلکارۍ باندې اُولږيد ، چې ډيره بهترينه جوړه شوې وه .

کله چې پيغمبر عليه السلام د مانځه نه فارغ شو نو دا جامې يې اُوويستې ، خپل مالِک ته يې واپس کړې ، او هماغه مخکينۍ جامې يې واغوستې .(۲)

۲ . يو ځل نبي کريم صلی الله عليه وسلم په خپلو څپلو کې نوې تَسمه اُولږوله ، په مانځه کې يې په دې باندې نظر پريوَت ، ډيره ښه ورته معلومه شوه ، د مانځه نه پس يې حکم اوکړو چې دا ورنه لرې کړئ ، او واپس هماغه زړه تَسمه پکې اُولږوئ .(۳)

---

(۱) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « إِذَا وُضِعَ عَشَاءُ أَحَدِكُمْ وَأُقِيمَتِ الصَّلَاةُ ، فَابْدَءُوا بِالْعَشَاءِ وَلَا يَعْجَلْ حَتَّى يَفْرُغَ مِنْهُ » وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ رضي الله عنهما : « يُوضَعُ لَهُ الطَّعَامُ ، وَتُقَامُ الصَّلَاةُ ، فَلَا يَأْتِيهَا حَتَّى يَفْرُغَ ، وَ إِنَّهُ لَيَسْمَعُ قِرَاءَةَ الإِمَامِ » . صحيح البخاري بَابٌ: إِذَا حَضَرَ الطَّعَامُ وَأُقِيمَتِ الصَّلَاةُ رقم الحديث ٦٧٣ ، صحيح مسلم باب كراهة الصلاة بحضرة الطعام .. رقم الحديث ٦٦ ( ٥٥٩ ) ، سنن ابي داؤد رقم الحديث ٣٧٥٧ ، مشكاة المصابيح باب الجماعة وفضلها الفصل الاول رقم الحديث ١٠٥٦ ( ٥ ) .

(۲) کيميائي سعادت ، مكاشفة القلوب .

(۳) کيميائي سعادت ، مكاشفة القلوب .

۳ . امام غزالي رحمه الله په کيمياي سعادت او مکاشفة القلوب کې دا واقعه ذکر کړې چې : يو ځل حضرت ابوطلحة رضي الله عنه په خپل باغ کې مونځ کولو ( ددې باغ قيمت په لکونو دِرهم وُ ) يوه ښائسته مرغۍ يې اُوليده چې په اُونو کې اَلوتله ، ( چونکه باغ ډير ګڼړ وُ ) د باغ نه يې د وتلو لار نه موندله ( په اُونو کې اَخوا ديخوا تلله ) دده زړه د هغې سره مشغول شو ، دا ورنه هېر شو چې ما څو رکعته مونځ اوکړو .

د مانځه نه پس د نبي عليه السلام په خِدمت کې حاضر شو ، د خپل زړه شِکايت يې ورته اوکړو ( او ورته وې ويل چې ددې باغ په وجه زما په مانځه کې خَلل پيدا شو ، او سَهوه شوم ) ، نو ده ددې په کفاره کې هغه ( د لکونو دِرهمو ) باغ صدقه کړو . (۱)

۴ . په مکاشفة القلوب کې دا واقعه ذکر کړه : چې يو اَنصاري په باغ کې مونځ کولو ، د قجورو د پَخيدو موسم وُ ، د قجورو غُونچکې ( خُوشې ) د درُوند والي په وجه ښکته رازوړَندې وې ، دده نظر ددې قجورو په غنچکو باندې پريوَت ، دا ورته ډيرې ښې معلومې شوې ، خيال يې هغې طرف ته لاړ ، په دې پوهه نه شو چې ما څو رکعته مونځ اوکړو ؟

په دې مانځه کې خَلل راتلو سره دې ډير خفه شو ، په زړه کې يې دا فيصله اوکړه چې اوس به ددې په عِوض کې دا باغ د الله جل جلاله په لار کې خَرچ کوم .

دا د حضرت عثمان رضي الله عنه د خِلافت زمانه وه ، ده ته راغی او دا واقعه يې ورته بيان کړه ( چې ددې باغ په وجه زما په مانځه کې خَلل راغی ) او وې ويل چې :

زه اوس دا باغ د الله جل جلاله په لار کې خرچ کول غواړم لهذا دا تاسو ته حواله کوم ، تاسو چې دا په هر دِيني کار کې لږوئ نو وې لږوئ .

حضرت عثمان رضي الله عنه دا باغ په پنځوس زره دِرهمه خرڅ کړو او دا دِرهم يې په دِيني کارونو کې اُولږول . (۲)

---

(۱) کيمياي سعادت ، مکاشفة القلوب باب ۱۹ .

(۲) مکاشفة القلوب باب ۱۹ .

# په مانځه کې د نن صبا خلقو حالت

چې انسان د دې خپلو اَسلافو د مانځه حالت واوري نو حيران پاتې شي چې د وی څومره په اِطمينان، سُکون، خُشوع او عاجزۍ سره مونځ کول، نن صبا خو بعضې خلق په مانځه کې عجيبه عجيبه نَخرې کوي :

څوک بِلاضرورته د بدن د اَندامونو سره لوبې کوي، څوک په پُوزه کې ګوتې وهي، څوک په ږيره کې ګوتې وهي، څوک چُوغې سمَوي، څوک د اخيستلو او خرڅولو سوچونه کوي، څوک په کې روپۍ شماري، څوک د جُمات او قالينو په ډَول او سِينګار کې سوچونه کوي، او څوک د خواږُ شا کسانو په پيژندګلو کې سوچونه کوي.

افسوس، که چيرته يو کس د دُنيا د بادشاه يا د يو بل مشر کس د وړاندې ولاړ وي نو دې به هيڅ کله د دوی په مخکې د دې کارونو کولو جُرأت اونکړي،

نو بيا دې څنګه په مانځه کې د اَحْکَمُ الحَاکِمِين، او د بادشاهانو د بادشاه " الله ربّ العزت " د وړاندې د دې کارونو کولو جُرأت کوي؟

# په مانځه کې د خشوع پیدا کولو اسباب

## شیطان د وسوسې اچولو په وجه د انسان د مونځ خشوع ختمول غواړي

مونځ چونکه د دین اَهم رُکن او بهترین عبادت دی ، بیا خاصکر په خُشوع او عاجزۍ سره د مونځ کولو ډیر اِهتمام راغلی ، ځکه بل طرفته اِبلیس قسَم کړی او په ځان یې دا خبره لازمه کړې چې زه به همیشه د انسان د ګمراه کولو کوشش کوم او په فِتنه کې به یې اَچوم ، په قرآن کریم کې الله رب العزت د اِبلیس دا خبره رانقل کړې :

﴿ قَالَ فَبِمَآ اَغْوَيْتَنِیْ لَاَقْعُدَنَّ لَهُمْ صِرَاطَكَ الْمُسْتَقِيْمَ، ثُمَّ لَاٰتِيَنَّهُمْ مِّنْۢ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ وَعَنْ اَيْمَانِهِمْ وَعَنْ شَمَآئِلِهِمْ ؕ وَلَا تَجِدُ اَكْثَرَهُمْ شٰكِرِيْنَ ﴾ (۱)

ترجمه : اِبلیس ( ته د مُهلت ملاویدو نه روستو ده الله ﷻ ته ) وویل : پس په سبب ددې سره چې تا زه ګمراه کړم نو زه به هم خامخا دې انسانانو ته ستا په نیغه لاره کې کینم ، بیا به زه خامخا دوی ته د دوی د وړاندې ، روستو ، خي طرف او چَپ طرف نه راځم ( یعنی په مختلفو طریقو سره به دوی ګمراه کوم ) ، او ته به په دوی کې اکثر خلق شُکر ګزار او نه مومې .

نو د مانځه په باره کې هم اِبلیس دا کوشش کوي چې انسان ته مختلف قِسمه وَسوَسې وَرواچوي ، ددې د پاره چې دده نه مونځ قضاء کړي .

یا مختلف سوچونه او فِکرونه ورته وَراچوي ددې د پاره چې په مانځه کې خُشوع ختمیدلو سره د مانځه اَصل رُوح پاتې نشي ، او انسان د کارغه په شان زر زریو ټوپونګې اُووهي او د مانځه نه ځان خلاص کړي .

چونکه خُشوع د مانځه د پاره اَصل رُوح دی لهذا اُوس به درته یو څو هغه اَسباب بیانوم چې د هغې په وجه د انسان په مونځ کې خُشوع او عاجزي پیدا کیږي ، او دده مونځ د قبلیدو لائِق ګرځي .

(۱) سورة الاعراف آیة ۱۶ ، ۱۷ .

## ۱ . تلاوت او د مانځه الفاظ په صحيح طريقې او پوره توَجه سره اَداء کول

په مانځه کې د خُشوع پيدا کولو د پاره اول سبب دادی چې انسان په مانځه کې کوم تلاوت کوي ، يا د مانځه کوم الفاظ وايي دا به په صحيح طريقې ، تجويد او خُوش آوازی سره اَداء کوي ، د مَشِين په شان زَر زَر به يې نه وايي چې صرف ځان ورنه خلاص کړي . (۱)

## ۲ . په آيتونو او د مانځه په معنٰی کې تدَبّر کول

په مانځه کې د خُشوع پيدا کولو د پاره دويم سبب دادی چې انسان کوم تلاوت کوي ، يا د مانځه کوم الفاظ يا دُعاگانې وايي نو دې به ددې په معنٰی کې تدَبّر کوي ، يعنی چې دده د خُلې نه کوم الفاظ راوځي دې به د هغې په معنٰی کې سوچ او تدَبّر کوي نو په دې سره به په خپله د ده په مانځه کې خُشوع پيدا شي . (۲)

---

(۱) كما قال الله عز وجل: ﴿ وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا . سورة المزمل آية ۴ ﴾

وكانت قراءته صلى الله عليه وسلم ( ... مُفَسَّرَةٌ حَرْفًا حَرْفًا ) مسند احمد حَدِيثُ أُمِّ سَلَمَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ۴۴ / ۱۹۰ رقم الحديث ۲۶۵۶۴ بسند صحيح .

وَكَانَ يَقْرَأُ بِالسُّورَةِ فَيُرَتِّلُهَا حَتَّى تَكُونَ أَطْوَلَ مِنْ أَطْوَلَ مِنْهَا . رواه مسلم بَابُ جَوَازِ النَّافِلَةِ قَائِمًا وَقَاعِدً رقم الحديث ۷۳۳ . وهذا الترتيل والترسل أدعى للتفكر والخشوع بخلاف الإسراع والعجلة . ومما يعين على الخشوع أيضا تحسين الصوت بالتلاوة وفي ذلك وصايا نبوية منها قوله صلى الله عليه و سلم :

« زَيِّنُوا الْقُرْآنَ بِأَصْوَاتِكُمْ . فَإِنَّ الصَّوْتَ الْحَسَنَ يَزِيدُ الْقُرْآنَ حُسْنًا » . المستدرک على الصحيحين للحاكم ۱ /۷۶۸ . رقم الحديث ۲۱۲۵ .

وليس المقصود بتحسين الصوت: التمطيط والقراءة على ألحان أهل الفسق وإنما جمال الصوت مع القراءة بحزن كما قال رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « إِنَّ مِنْ أَحْسَنِ النَّاسِ صَوْتًا بِالْقُرْآنِ ، الَّذِي إِذَا سَمِعْتُمُوهُ يَقْرَأُ حَسِبْتُمُوهُ يَخْشَى اللهَ » . سنن ابن ماجه بَابٌ فِي حُسْنِ الصَّوْتِ بِالْقُرْآنِ رقم الحديث ۱۳۳۹ ، و هو في صحيح الجامع رقم ۲۲۰۲ .

(۲) القرآن نزل للتدبر ﴿ كِتَٰبٌ أَنزَلْنَٰهُ إِلَيْكَ مُبَٰرَكٌ لِّيَدَّبَّرُوٓا۟ ءَايَٰتِهِۦ وَلِيَتَذَكَّرَ أُو۟لُوا۟ ٱلْأَلْبَٰبِ . سورة ص آية ۲۹﴾ ولا يحصل التدبر إلا بالعلم بمعنى ما يقرأ فيستطيع التفكر فينتج الدمع والتأثر . وهنا يتبين أهمية..

( نور په راتلونکې صفحه اوگوره )

خو ددې د پاره دا ضروري ده چې انسان به د مانځه او سورتونو معنى ياده کړې وي .
( **نوټ** : د مانځه معنی ما روستو ذکر کړی . ابوالشمس عفي عنه )

## ۳ . په مانځه کې دا سوچ کول چې " زه الله ﷻ ګورم " يا " هغه ما ګوري "

په مانځه کې د خُشوع پيدا کولو د پاره دريم سبب دادی چې انسان الله ﷻ ته داسې متوجِّه وي چې په مانځه کې دا تصوّر اوکړي چې " زه د الله ﷻ په مخکې ولاړ يم ، زه الله ﷻ ګورم او د هغه سره مُناجاة کوم " او که دا تصوّر نشي کولی نو کم از کم دا تصوّر خو په کار دی چې " الله ﷻ ما ګوري " .

د خُشوع اَعلٰی درجه د اِحسان ده ، په بخاري شريف او مسلم شريف کې دا حديث ذِکر دی چې حضرت جبريل عليه السلام د نبي کريم صلی الله عليه وسلم نه د اِحسان متعلق پوښتنه اوکړه : مَا الْإِحْسَانُ ؟ اِحسان څه شی دی ؟
نبي عليه السلام ورته وفرمايل :
اَنْ تَعْبُدَ اللهَ كَاَنَّكَ تَرَاهُ ، فَاِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَاِنَّهُ يَرَاكَ . (۱)
( اِحسان ديته وايي ) چې ته د الله ﷻ داسې عبادت اوکړې ګويا چې ته هغه ګورې ، پس که ته دا تصوّر نشې برابرولی نو بيا خو کم از کم دا تصوّر پيدا کړه چې الله ﷻ تا ګوري .

---

( د تيرې صفحې مَابَقِيَ حصه ) ... الاعتناء بالتفسير ، قال ابن جرير رحمه الله : "إني لأعجب ممن قرأ القرآن ولم يعلم تأويله (أي : تفسيره) كيف يلتذ بقراءته" مقدمة تفسير الطبري لمحمود شاكر ۱/۱۰.
ومما يُعين على التدبر كثيرا ترديد الآيات لأنه يعين على التفكّر ومعاودة النظر في المعنى وكان النبي صلى الله عليه وسلم يفعل ذلك فقد جاء أنه صلى الله عليه وسلم "قام ليلة بآية يرددها حتى أصبح وهي { اِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَاِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَاِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَاِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ } " . رواه ابن خزيمة ۱/۲۷۱ ، واحمد ۵/۱۴۹ وهو في صفة الصلاة ص : ۱۰۲ .

(۱) صحيح البخاري بَابُ سُؤَالِ جِبْرِيلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الإِيمَانِ، وَالإِسْلاَمِ، وَالإِحْسَانِ، وَعِلْمِ السَّاعَةِ رقم الحديث ۵۰ ، ورقم ۴۷۷۷ ، صحيح مسلم رقم الحديث ۸ ، ورقم ۹ ، ورقم ۱۰ ، سنن ابي داؤد رقم الحديث ۴۶۹۵ .

**سوال** : که يو کس دا اُووايي چې مونږ خو الله ﷻ په سترګو نه ګورو ، او دا هم نه ګورو چې الله ﷻ مونږ ويني نو بيا څنګه په مانځه کې د دې تصوّر اوکړو ؟

**جواب** : په دُنيا کې ډير شيان داسې دي چې انسان هغه په خپلو سترګو نه ګوري ليکن بيا يې هم په زړه کې د هغې د موجوديدو دومره پُوخ يقين وي ګويا چې دې هغه په خپلو سترګو باندې ګوري ، مثلاً کله چې مونږ هوائي جِهاز پورته اوګورو نو مونږ ته په کې پائيلټ ( جِهاز چلوُونکې ) په نظر نه راځي خو زمونږ سَل فيصده يقين وي چې په دې کې پائيلټ موجود دی .

يا مثلاً مونږ په جُمات کې دَننه ناست يو ، د بهَر نه د نمَر رَڼا دَننه راځي ، مونږ نمَر ليدلې نه وي خو بيا هم زمونږ دا پُوخ يقين وي چې نمَر موجود دی .

همدارنګې د دې عالَم هر شی د الله ﷻ په خالِقيَت او وجود باندې دلالت کوي ، که دا نمَر ، سپوږمۍ ، زمکه ، آسمان ، غرونه ، سمندرونه ، اُونې ، بُوټي وغيره دي د دې ټولو خالِق الله ﷻ دی ، او دا د هغه په وجود باندې دلالت کوي .

نو اوس چې کوم کس په مانځه ولاړ وي نو دا به د الله ﷻ د وجود او د هغه په دَربار کې د اُودريدو داسې يقين کوي ګويا چې دې الله ﷻ ګوري ، يا به دا تصوّر کوي چې الله ﷻ ما ګوري ، نو په دې سره به د انسان په مانځه کې خُشوع او عاجزي پيدا کيږي .

## ٤ . په مانځه کې دا تصوّر کول چې " الله ﷻ ماته جواب راکوي "

چې کله انسان په مانځه کې دا تصوّر اوکړي چې " دا زه په مانځه کې څه وايم الله ﷻ ماته د دې جواب راکوي ، او زه د هغه سره مناجات کوم " نو په دې سره د انسان په مونځ کې خُشوع پيدا کيږي .

په مسلم شريف کې په تفصيل سره دا حديث ذِکر دی چې کله يو کس په مانځه کې د

سورة فاتحې هر آيت وايي نو الله ربّ العزت دهٔ ته د دې جواب ورکوي. (۱)

## ۵ . په اطمينان او سُکون سره مونځ کول

په مانځه کې د خُشوع پيدا کولو د پاره پنځم سبب دا دی چې انسان به په ډير اطمينان او سُکون سره مونځ کوي، په رکوع او سجده کې به د کارغه په شان زر زر ټونګې نه وهي. ځکه چې کله انسان زر زر مونځ کوي نو په دې سره د مانځه خُشوع ختميږي، او د مانځه د ثواب نه هم محرومه کيږي. (۲)

---

(۱) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " قَالَ اللهُ تَعَالَى : قَسَمْتُ الصَّلَاةَ بَيْنِيْ وَبَيْنَ عَبْدِيْ نِصْفَيْنِ . وَلِعَبْدِيْ مَا سَأَلَ . فَإِذَا قَالَ الْعَبْدُ : { اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ } قَالَ اللهُ تَعَالَى : حَمِدَنِيْ عَبْدِيْ . وَإِذَا قَالَ : { اَلرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ } . قَالَ اللهُ تَعَالَى : أَثْنٰى عَلَيَّ عَبْدِيْ . وَإِذَا قَالَ : { مَالِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ } . قَالَ : مَجَّدَنِيْ عَبْدِيْ - وَقَالَ مَرَّةً فَوَّضَ إِلَيَّ عَبْدِيْ - فَإِذَا قَالَ : { إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ } قَالَ : هٰذَا بَيْنِيْ وَبَيْنَ عَبْدِيْ . وَلِعَبْدِيْ مَا سَأَلَ . فَإِذَا قَالَ : { اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ صِرَاطَ الَّذِيْنَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّيْنَ } قَالَ : هٰذَا لِعَبْدِيْ وَلِعَبْدِيْ مَا سَأَلَ " . صحيح مسلم بَابُ وُجُوبِ قِرَاءَةِ الْفَاتِحَةِ فِيْ كُلِّ رَكْعَةٍ رقم الحديث ۳۸ (۳۹۵).

وهذا حديث عظيم جليل لو استحضره كل مصلٍ لحصل له خشوع بالغ، ولوجد للفاتحة أثرا عظيما. كيف لا وهو يستشعر أن ربه يخاطبه ثم يعطيه سؤله. وينبغي إجلال هذه المخاطبة وقدرها حق قدرها.

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا صَلَّى يُنَاجِيْ رَبَّهُ . صحيح البخاري بَابٌ: اَلْمُصَلِّيْ يُنَاجِيْ رَبَّهُ عَزَّ وَجَلَّ رقم ۵۳۱، ورقم ۴۰۵ بَابُ حَكِّ الْبُزَاقِ بِالْيَدِ مِنَ الْمَسْجِدِ، ورقم ۴۱۳، صحيح مسلم رقم ۵۴ (۵۵۱) باب النهي عن البصاق في الصلاة وغيرها.

(۲) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « أَسْوَأُ النَّاسِ سَرِقَةً الَّذِيْ يَسْرِقُ مِنْ صَلَاتِهِ » . قَالُوْا : يَا رَسُوْلَ اللهِ، وَكَيْفَ يَسْرِقُ مِنْ صَلَاتِهِ ؟ قَالَ : « لَا يُتِمُّ رُكُوْعَهَا وَلَا سُجُوْدَهَا » أَوْ قَالَ : « لَا يُقِيْمُ صُلْبَهُ فِي الرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ » . مسند الإمام احمد بن حنبل حَدِيثُ أَبِي قَتَادَةَ الْأَنْصَارِيِّ رقم الحديث ۲۲۶۴۲ طبع مؤسسة الرسالة.

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَثَلُ الَّذِيْ لَا يُتِمُّ رُكُوْعَهُ وَيَنْقُرُ فِيْ سُجُوْدِهِ ، مَثَلُ الْجَائِعِ يَأْكُلُ التَّمْرَةَ وَالتَّمْرَتَانِ لَا يُغْنِيَانِ عَنْهُ شَيْئًا . المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۳۸۴۰ والذي لا يطمئن في صلاته لا يمكن أن يخشع، لأن السرعة تذهب بالخشوع، ونقر الغراب يذهب بالثواب.

## ۶ . په خُشوع سره د مونځ کولو فضائل ذهن ته راوستل

چې کله انسان ځان ته په خُشوع سره د مونځ کولو فضائل رامخې ته کړي او بغير خُشوع د مونځ کولو نقصانات رامخې ته کړي نو په دې سره به خامخا دده په مانځه کې خُشوع پيدا کيږي . (۱)

## ۷ . په مانځه کې بل طرف ته توَجّه نه کول

په مانځه کې د خُشوع پيدا کولو د پاره دا ضروري ده چې انسان به په مانځه کې اَخوا ديخوا نه ګوري ، او د زړه توَجُّهُ به يې د الله ﷻ نه علاوه بل طرف ته نه وي .

ځکه که دې اَخوا ديخوا ګوري يا توَجّه يې غَيرُ الله طرف ته وي نو په داسې مانځه کې خُشوع هم نه پيدا کيږي ، او په دې سره د مانځه اَجر هم کميږي . (۲)

---

(۱) **نوټ** : په خشوع سره د مونځ کولو فضائل ددې موضوع په شروع کې په تفصيل سره مخکې تير شو ، چې په دې سره د انسان ګناهونه معاف کيږي ، جنت ورته نصيبه کيږي .... وغيره . ابو الشمس عفي عنه

(۲) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لَا يَزَالُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ مُقْبِلًا عَلَى الْعَبْدِ ، وَهُوَ فِيْ صَلَاتِهِ ، مَا لَمْ يَلْتَفِتْ ، فَإِذَا الْتَفَتَ انْصَرَفَ عَنْهُ . سنن ابي داؤد كتاب الصلاة بَابُ الإِلْتِفَاتِ فِي الصَّلَاةِ رقم الحديث ۹۰۹ ، سنن النسائي كتاب السهو باب التشديد في الالتفات في الصلاة رقم ۱۱۹۶ .

والالتفات في الصلاة قسمان : الأول : التفات القلب إلى غير الله عز وجل . الثاني : التفات البصر ، وكلاهما منهي عنه وينقص من أجر الصلاة .

عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ : سَأَلْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الإِلْتِفَاتِ فِي الصَّلَاةِ ؟ فَقَالَ : « هُوَ اِخْتِلَاسٌ يَخْتَلِسُهُ الشَّيْطَانُ مِنْ صَلَاةِ الْعَبْدِ . صحيح البخاري رقم الحديث ۷۵۱ بَابُ الإِلْتِفَاتِ فِي الصَّلَاةِ .

ومثل من يلتفت في صلاته ببصره أو قلبه مثل رجل استدعاه السلطان فأوقفه بين يديه وأقبل يناديه ويخاطبه وهو في خلال ذلك يلتفت عن السلطان يمينا وشمالا ، وقد انصرف قلبه عن السلطان فلا يفهم ما يخاطبه به لأن قلبه ليس حاضرا معه ، فما ظن هذا الرجل أن يفعل به السلطان ؟

قال حسان بن عطية : إن الرجلين ليكونان في الصلاة الواحدة ، وإن ما بينهما في الفضل كما بين السماء والأرض ، وذلك أن أحدهما مقبل بقلبه على الله عز وجل والآخر ساه غافل" . الوابل الصيب لابن القيم ص : ۳۶ ط دار البيان .

## ۸ . توَجّه خرابوونکي شيان د مخې نه لرې کول

مونځ گزار ته په کار دي چې د مونځ شروع کولو نه مخکې تول هغه شيان د خپلې مخې نه لرې کړي چې په هغې سره دده توجّه خرابيږي ، او دده په خُشوع کې فرق راځي ، نبي عليه السلام به هم د خپلې مخې نه داسې شيان لرې کول چې په هغې سره به په مانځه کې د دوی توَجّه خرابيده. (١)

---

(١) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﷺ كَانَ قِرَامٌ (ستر فيه نقش ، وقيل ثوب ملوّن) لِعَائِشَةَ رضي الله عنها سَتَرَتْ بِهِ جَانِبَ بَيْتِهَا . فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « أَمِيطِي - أَزِيلِي - عَنَّا قِرَامَكِ هٰذَا ، فَإِنَّهُ لَا تَزَالُ تَصَاوِيرُهُ تَعْرِضُ فِي صَلَاتِي » . صحيح البخاري رقم الحديث ٣٧٤ بَابُ إِنْ صَلَّى فِي ثَوْبٍ مُصَلَّبٍ أَوْ تَصَاوِيرَ ، ورقم ٥٩٥٩ بَابُ كَرَاهِيَةِ الصَّلَاةِ فِي التَّصَاوِيرِ . فتح الباري ١٠/٣٩١ .

عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها أَنَّهُ كَانَ لَهَا ثَوْبٌ فِيهِ تَصَاوِيرُ ، مَمْدُودٌ إِلَى سَهْوَةٍ (بيت صغير منحدر في الأرض قليلا شبيه بالمخدع أو الخزانة) فَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي إِلَيْهِ . فَقَالَ : « أَخِّرِيهِ عَنِّي » (فإنه لا تزال تصاويره تعرض لي في صلاتي) قَالَتْ : « فَأَخَّرْتُهُ فَجَعَلْتُهُ وَسَائِدَ » . صحيح مسلم رقم الحديث ٩٣ (٢١٠٧) بَابُ لَا تَدْخُلُ الْمَلَائِكَةُ بَيْتًا فِيهِ كَلْبٌ وَلَا صُورَةٌ .

ويدل على هذا المعنى أيضا أن النبي صلى الله عليه وسلم لما دخل الكعبة ليصلي فيها رأى قرني كبش فلما صلى قال لعثمان الحجبي :

« إِنِّي نَسِيتُ أَنْ آمُرَكَ أَنْ تُخَمِّرَ الْقَرْنَيْنِ فَإِنَّهُ لَيْسَ يَنْبَغِي أَنْ يَكُونَ فِي الْبَيْتِ شَيْءٌ يَشْغَلُ الْمُصَلِّيَ » . سنن ابي داؤد رقم الحديث ٢٠٣٠ بَابٌ فِي دُخُولِ الْكَعْبَةِ . وهو في صحيح الجامع ٢٥٠٤

ويدخل في هذا الاحتراز من الصلاة في أماكن مرور الناس ، وأماكن الضوضاء والأصوات المزعجة وبجانب المتحدثين ، وفي مجالس اللغو واللغط وكل ما يشغل البصر .

وكذلك تجنب الصلاة في أماكن الحرّ الشديد والبرد الشديد إذا أمكن ذلك فإن النبي صلى الله عليه وسلم أمر بالإبراد في صلاة الظهر بالصيف لأجل هذا . قال ابن القيم رحمه الله تعالى : " إن الصلاة في شدة الحر تمنع صاحبها من الخشوع والحضور ، ويفعل العبادة بتكره وتضجر ، فمن حكمة الشارع أن أمرهم بتأخيرها حتى ينكسر الحرّ ، فيصلي العبد بقلب حاضر ، ويحصل له مقصود الصلاة من الخشوع والإقبال على الله تعالى . "

الوابل الصيب ص ٢٢ ط . دار البيان .

## ۹. په داسې کپړو کې مونځ نه کول چې په هغې کې تصويرونه او نقشونه وي

په مانځه کې د خُشوع پيدا کولو د پاره دا ضروري ده چې انسان به په داسې کپړو (جامو) کې مونځ نه کوي چې په هغې کې د ذِي رُوح تصويرونه وي، يا په کې داسې ليکل او نقشونه وي چې هغې ته په کتلو سره انسان مشغوله کيږي او توَجّه يې د مانځه نه دې شيانو طرف ته اوړي. (۱)

## ۱۰. په مانځه کې خُوله وازې (اَسويلې) کنټرول کول

چې کله انسان ته په مانځه کې خُوله وازې (يعنى اَسويلې) ورشي نو کوشش دې اوکړي چې دا کنټرول کړي، ځکه په احاديثو کې دا خبره ذکر ده چې د خُوله وازي په وخت شيطان د انسان وجود ته داخليږي، او چې شيطان وجود ته داخل شي نو خامخا به انسان ته وَسوسې وراچوي، او خشوع به يې ختميږي. (۲)

---

(۱) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: قَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فِي خَمِيصَةٍ ذَاتِ أَعْلَامٍ، فَنَظَرَ إِلَى عَلَمِهَا، فَلَمَّا قَضَى صَلَاتَهُ، قَالَ: « اِذْهَبُوا بِهٰذِهِ الْخَمِيصَةِ إِلَى أَبِي جَهْمِ بْنِ حُذَيْفَةَ، وَائْتُونِي بِأَنْبِجَانِيِّهِ، فَإِنَّهَا أَلْهَتْنِي آنِفًا فِي صَلَاتِي » . صحيح مسلم رقم الحديث ٦٢ (٥٥٦) بَابُ كَرَاهَةِ الصَّلَاةِ فِي ثَوْبٍ لَهُ أَعْلَامٌ.

(خَمِيصَةٍ) كساء مربع من صوف. (بِأَنْبِجَانِيِّهِ) قال ابن الأثير في النهاية يقال كساء أنبجاني منسوب إلى منبج المدينة المعروفة ... وقيل إنها منسوبة إلى موضع اسمه أنبجان وهو أشبه وهو كساء يتخذ من الصوف وله خمل ولا علم له وهي من أدون الثياب الغليظة. شرح محمد فؤاد عبد الباقي على صحيح مسلم

(بِأَنْبِجَانِيِّهِ) كساء ليس فيه تخطيط ولا تطريز ولا أعلام.

ومن باب أولى أن لا يصلي في ثياب فيها صور وخصوصا ذوات الأرواح كما شاع وانتشر في هذا الزمان.

(۲) قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « إِذَا تَثَاءَبَ أَحَدُكُمْ فِي الصَّلَاةِ فَلْيَكْظِمْ مَا اسْتَطَاعَ، فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَدْخُلُ » . صحيح مسلم رقم الحديث ٥٩ - (٢٩٩٥) بَابُ تَشْمِيتِ الْعَاطِسِ، وَكَرَاهَةِ التَّثَاؤُبِ.

وفي رواية: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: « اَلتَّثَاؤُبُ مِنَ الشَّيْطَانِ، فَإِذَا تَثَاءَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَكْظِمْ مَا اسْتَطَاعَ » . صحيح مسلم رقم الحديث ٥٦ - (٢٩٩٤)

(فليكظم) الكظم هو الإمساك قال العلماء أمر بكظم التثاؤب و ردّه ووضع اليد على الفم لئلا يبلغ الشيطان مراده من تشويه صورته ودخوله فمه وضحكه منه. شرح محمد فؤاد عبد الباقي على صحيح مسلم.

## ۱۱. اَودس ماتي ته د سخت ضرورت باوجود مونځ نه کول

چې کله انسان ته تَش يا ډک اَودس ماتې ټينګ وي او دا په دې حالت کې مونځ کوي نو خامخا به په داسې مونځ کې خُشوع نه وي، ځکه دې به د دې مانځه نه صرف ځان خلاصوي او ژر ژر به يې کوي.

په احاديثو کې هم د دې نه منع راغلې چې انسان ته اَودس ماتې ټينګ وي او دې په دې حالت کې مونځ کوي، لهذا په داسې حالت کې اول قضائې حاجت پوره کول په کار دي، بيا به اَودس اوکړي او په اِطمينان او خُشوع سره به مونځ اوکړي. (۱)

## ۱۲. چې خوراک حاضر شي او دې سخت اوږې وي نو اول خوراک کول

چې کله خوراک حاضر شي او انسان سخت اَوږې وي، خوراک ته يې ډير شوق کيږي نو په داسې حالت کې به هم اول خوراک کوي، بيا به مونځ کوي.

---

(۱) لاشك أنّ مما ينافي الخشوع أن يصلي الشخص وقد حصره البول أو الغائط.

عَنْ أَبِي أُمَامَةَ ﷺ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ « نَهَى أَنْ يُصَلِّيَ الرَّجُلُ وَهُوَ حَاقِنٌ » ، سنن ابن ماجه رقم الحديث ٦١٧ بَابُ مَا جَاءَ فِي النَّهْيِ لِلْحَاقِنِ أَنْ يُصَلِّيَ . وهو في صحيح الجامع رقم ٦٨٣٢ .

( وَهُوَ حَاقِنٌ ) أي حابس للبول أو الغائط . شرح محمد فؤاد عبد الباقي

ومن حصل له ذلك فعليه أن يذهب إلى الخلاء لقضاء حاجته ولو فاته ما فاته من صلاة الجماعة . عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْأَرْقَمِ ﷺ أَنَّهُ خَرَجَ حَاجًّا ، أَوْ مُعْتَمِرًا وَمَعَهُ النَّاسُ ، وَهُوَ يَؤُمُّهُمْ ، فَلَمَّا كَانَ ذَاتَ يَوْمٍ أَقَامَ الصَّلَاةَ ، صَلَاةَ الصُّبْحِ ، ثُمَّ قَالَ : لِيَتَقَدَّمْ أَحَدُكُمْ وَذَهَبَ إِلَى الْخَلَاءِ ، فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، يَقُولُ : « إِذَا أَرَادَ أَحَدُكُمْ أَنْ يَذْهَبَ الْخَلَاءَ وَقَامَتِ الصَّلَاةُ ، فَلْيَبْدَأْ بِالْخَلَاءِ » . سنن ابي داود رقم الحديث ٨٨ بَابُ أَيُصَلِّي الرَّجُلُ وَهُوَ حَاقِنٌ ؟ ، وهو في صحيح الجامع رقم ٢٩٩ .

بل إنه إذا حصل له ذلك أثناء الصلاة فإنه يقطع صلاته لقضاء حاجته ثم يتطهر ويصلي لأنّ النبي صلى الله عليه وسلم قال : « لَا صَلَاةَ بِحَضْرَةِ الطَّعَامِ ، وَلَا هُوَ يُدَافِعُهُ الْأَخْبَثَانِ » . صحيح مسلم رقم الحديث ٥٦٠ بَابُ كَرَاهَةِ الصَّلَاةِ بِحَضْرَةِ الطَّعَامِ الَّذِي يُرِيدُ أَكْلَهُ فِي الْحَالِ وَكَرَاهَةِ الصَّلَاةِ مَعَ مُدَافَعَةِ الْأَخْبَثَيْنِ .

وهذه المدافعة بلا ريب تذهب بالخشوع . ويشمل هذا الحكم أيضا مدافعة الريح .

ځکه که دې اول مونځ شروع کړي نو بيا به يې ټوله توجّه خوراک ته وي ، د مانځه خُشوع به مکمل ختمه شي . (۱)

همدارنګې که يو انسان ته د شپې د تهجدو په وخت سخت خوب ورځي نو دې به اول خوب اوکړي ، بيا به روستو تهجدو ته راپاڅي . ځکه که خوب ته د ضرورت باوجود دې نوافل شروع کړي نو يو خو به دده په مونځ کې خُشوع نه وي ، بل دا چې دده ته به پته هم نه لږي چې زه په مانځه کې څه وايم ؟ (۲)

دا مې درته په مانځه کې د خُشوع پيدا کولو صرف يو څو اَسباب ذکر کړل ، علماء کرامو د دينه علاوه نور اَسباب هم ذکر کړي ، او په دې موضوع يې مستقل کتابونه ليکلي .

---

(۱) فإذا وُضع الطعام وحضر بين يديه أو قُدِّم له ، بدأ بالطعام لأنّه لا يخشع إذا تركه وقام يصلي ونفسه متعلِّقة به . بل إنّ عليه أنْ لا يعجل حق تنقضي حاجته منه .

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « إِذَا وُضِعَ عَشَاءُ أَحَدِكُمْ وَأُقِيمَتِ الصَّلَاةُ ، فَابْدَءُوا بِالْعَشَاءِ وَلَا يَعْجَلْ حَتَّى يَفْرُغَ مِنْهُ » وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ رضي الله عنهما : « يُوضَعُ لَهُ الطَّعَامُ ، وَتُقَامُ الصَّلَاةُ ، فَلَا يَأْتِيهَا حَتَّى يَفْرُغَ ، وَ إِنَّهُ لَيَسْمَعُ قِرَاءَةَ الْإِمَامِ » . صحيح البخاري بَابٌ: إِذَا حَضَرَ الطَّعَامُ وَأُقِيمَتِ الصَّلَاةُ رقم الحديث ۶۷۳ ، صحيح مسلم باب كراهة الصلاة بحضرة الطعام .. رقم الحديث ۶۶ ( ۵۵۹ ) ، سنن ابي داؤد رقم الحديث ۳۷۵۷ ، مشكاة المصابيح باب الجماعة وفضلها الفصل الاول رقم الحديث ۱۰۵۶ ( ۵ ) .

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « لَا صَلَاةَ بِحَضْرَةِ الطَّعَامِ ...» . صحيح مسلم رقم الحديث ۵۶۰ بَابُ كَرَاهَةِ الصَّلَاةِ بِحَضْرَةِ الطَّعَامِ الَّذِي يُرِيدُ أَكْلَهُ فِي الْحَالِ وَكَرَاهَةِ الصَّلَاةِ مَعَ مُدَافَعَةِ الْأَخْبَثَيْنِ .

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « إِذَا وُضِعَ عَشَاءُ أَحَدِكُمْ وَأُقِيمَتِ الصَّلَاةُ ، فَابْدَءُوا بِالْعَشَاءِ ، وَلَا يَعْجَلَنَّ حَتَّى يَفْرُغَ مِنْهُ » . صحيح مسلم رقم الحديث ۶۶ - (۵۵۹) بَابُ كَرَاهَةِ الصَّلَاةِ بِحَضْرَةِ الطَّعَامِ الَّذِي يُرِيدُ أَكْلَهُ فِي الْحَالِ وَكَرَاهَةِ الصَّلَاةِ مَعَ مُدَافَعَةِ الْأَخْبَثَيْنِ .

(۲) عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : « إِذَا نَعَسَ أَحَدُكُمْ وَهُوَ يُصَلِّي فَلْيَرْقُدْ ، حَتَّى يَذْهَبَ عَنْهُ النَّوْمُ ، فَإِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا صَلَّى وَهُوَ نَاعِسٌ ، لَا يَدْرِي لَعَلَّهُ يَسْتَغْفِرُ فَيَسُبُّ نَفْسَهُ » . صحيح البخاري رقم الحديث ۲۱۲ بَابُ الْوُضُوءِ مِنَ النَّوْمِ ، وَمَنْ لَمْ يَرَ مِنَ النَّعْسَةِ وَالنَّعْسَتَيْنِ ، أَوِ الْخَفْقَةِ وُضُوءًا .

وقد يحصل هذا في قيام الليل ، وقد يصادف ساعة إجابة فيدعو على نفسه وهو لا يدري ، ويشمل هذا الحديث الفرائض أيضا إذا أمِن بقاء الوقت . فتح الباري : شرح كتاب الوضوء : باب الوضوء من النوم .

# د زَر زَر مونځ کولو سزا

محترمو مسلمانانو ! په دُنيا کې يو معمولي کار هم تر هاغه وخته پورې کامياب او نَفع مَند نه وي تر څو پورې چې هغه په صحيح طريقې سره اَداء نشي ، نو مونځ خو اُمُّ الأعمال دی ، د الله ﷻ د تقرّب او رَحمت حاصلولو لويه ذريعه ده نو په کار ده چې مسلمان دا په ډير اطمينان، سُکون او صحيح طريقې سره اَداء کړي .

ځکه چې کوم مونځ په تادۍ باندې زَر زَر اوشي ، ددې رُکوع او سجده صحيح نه وي نو داسې مونځ د الله ﷻ په دَربار کې نه قبليږي ، او په داسې مونځ کولو سره انسان د سزا مستحق ګرځي . الله رب العزت فرمايي :

﴿ فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّيْنَ . اَلَّذِيْنَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ ﴾ . (۱)

ترجمه : پس هلاکت دی د هغه مونځ ګزارو د پاره کوم چې د خپلو مونځونو نه غافله (بې خبره) دي .

مفسّرينو د سَاهُوْنَ ډيرې معناګانې بيان کړي ، او ټولې په خپل ځای صحيح دي . (۲)

(۱) سورة الماعون آية ۴ ، ۵ .

(۲) سَاهُوْنَ : غَافِلُوْنَ يُؤَخِّرُوْنَهَا عَنْ وَقْتِهَا . تفسير الجلالين سورة الماعون آية ۵ .
سُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الَّذِيْنَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ . قَالَ : « إِضَاعَةُ الْوَقْتِ » .
قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما هُمُ الْمُنَافِقُوْنَ يَتْرُكُوْنَ الصَّلَاةَ إِذَا غَابُوْا عَنِ النَّاسِ . وَيُصَلُّوْنَهَا فِي الْعَلَانِيَةِ إِذَا حَضَرُوْا . لِقَوْلِهِ تَعَالَى : اَلَّذِيْنَ هُمْ يُرَاءُوْنَ . وَقَالَ فِيْ وَصْفِ الْمُنَافِقِيْنَ : وَإِذَا قَامُوْا إِلَى الصَّلٰوةِ قَامُوْا كُسَالٰى يُرَآءُوْنَ النَّاسَ [سورة النساء آية ۱۴۲] . وَقَالَ قَتَادَةُ : سَاهٍ عَنْهَا لَا يُبَالِيْ صَلّٰى أَمْ لَمْ يُصَلِّ . قِيْلَ : لَا يَرْجُوْنَ لَهَا ثَوَابًا إِنْ صَلَّوْا وَلَا يَخَافُوْنَ عِقَابًا إِنْ تَرَكُوْا . وَقَالَ مُجَاهِدٌ : غَافِلُوْنَ عَنْهَا يَتَهَاوَنُوْنَ بِهَا . وَقَالَ الْحَسَنُ : هُوَ الَّذِيْ إِنْ صَلَّاهَا صَلَّاهَا رِيَاءً . وَإِنْ فَاتَتْهُ لَمْ يَنْدَمْ . وَقَالَ أَبُو الْعَالِيَةِ : لَا يُصَلُّوْنَهَا لِمَوَاقِيْتِهَا وَلَا يُتِمُّوْنَ رُكُوْعَهَا وَسُجُوْدَهَا .
معالم التنزيل في تفسير القرآن ( تفسير البغوي ) ۵ / ۳۱۲ سورة الماعون آية ۵ .
همدارنګې په تفسير خازن کې هم د ساهون ډيرې معاني بيان شوي . تفسير الخازن لباب التاويل في معاني التنزيل ۴۷۸/۴ سورة الماعون آية ۵ .

ابو العاليه ددې معنى دا هم نقل کړى :

لَا يُصَلُّوْنَهَا لِمَوَاقِيْتِهَا وَلَا يُتِمُّوْنَ رُكُوْعَهَا وَسُجُوْدَهَا . (۱)

دوى مونځ په خپل وخت نه کوي ، همدارنګې رُکوع او سجده يې هم پوره نه اَداء کوي .

امام ذهبي رحمه الله په دې باندې مستقل فصل قائم کړى " فَصْلٌ فِيْ عُقُوْبَةِ مَنْ يَنْقُرُ الصَّلَاةَ وَلَا يُتِمُّ رُكُوْعَهَا وَلَا سُجُوْدَهَا " دا فصل دى په بيان د هغه چا کې چې هغه په مانځه د کارغه په شان ټونګې وهي ، او ددې رُکوع او سجده په کاملې طريقې سره نه اداء کوي .

بيا امام ذهبي رحمه الله د سَاهُوْنَ په تفسير کې دا معنٰى نقل کړى :

... أَنَّهُ الَّذِيْ يَنْقُرُ الصَّلَاةَ وَلَا يُتِمُّ رُكُوْعَهَا وَلَا سُجُوْدَهَا .

دا هغه خلق دي چې په مانځه کې ( د کارغه په شان ) ټونګې وَهي ، ددې رُکوع او سجده صحيح نه کوي .

## زر زر مونځ کوونکي ته نبي عليه السلام دوباره دمانځه کولو حکم اوکړو

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دى ، حضرت ابو هريرة ﷺ فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم جُمات ته تشريف راوړو ، په دې کې يو کس هم جُمات ته راننوَت ، مونځ يې اوکړو ، ( بيا راغى ) او په نبي کريم صلى الله عليه وسلم يې سلام واچول ، نبي عليه السلام ورته د سلام جواب ( وعليکم السلام ) ورکړو ، او ورته وې فرمايل :

اِرْجِعْ فَصَلِّ . فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ .

واپس لاړ شه ( دُوباره ) مونځ اوکړه ، ځکه تا ( صحيح ) مونځ ندې کړى .

دا سړې واپس واپس لاړ ، او هماغه شان مونځ يې اوکړو څنګه يې چې مخکې کړې وُ ، بيا راغى او په نبي عليه السلام يې سلام واچول ، دوى ورته وفرمايل :

اِرْجِعْ فَصَلِّ . فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ .

واپس لاړ شه بيا مونځ اوکړه ځکه تا خو ( صحيح ) مونځ ندې کړى .

(۱) معالم التنزيل في تفسير القرآن ( تفسير البغوي ) ۵ / ۳۱۲ سورة الماعون آية ۵ ، تفسير المظهري ج ۱۰ ص ۳۴۹ سورة الماعون .

دا سري درې (۳) پيرې راغی ، سلام به يې واچول ، او نبي عليه السلام به په هره پيره ورته همدا فرمايل چې واپس لاړ شه بيا مونځ اوکړه ځکه تا خو مونځ ندې کړی .

په آخر کې هغه کس رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وفرمايل :

وَالَّذِيْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا أُحْسِنُ غَيْرَهُ ، فَعَلِّمْنِيْ .

زما دې قسَم وي په هغه ذات باندې چې تاسو يې بَرحق رسول رالېږلې يې چې زه د دينه بهتر مونځ نشم کولی ، لهذا تاسو ماته صحيح مونځ اوښايئ .

نبي عليه السلام ورته وفرمايل :

إِذَا قُمْتَ إِلَى الصَّلَاةِ فَكَبِّرْ ، ثُمَّ اقْرَأْ مَا تَيَسَّرَ مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ ، ثُمَّ ارْكَعْ حَتّٰى تَطْمَئِنَّ رَاكِعًا ، ثُمَّ ارْفَعْ حَتّٰى تَعْدِلَ قَائِمًا ، ثُمَّ اسْجُدْ حَتّٰى تَطْمَئِنَّ سَاجِدًا ، ثُمَّ ارْفَعْ حَتّٰى تَطْمَئِنَّ جَالِسًا ، وَافْعَلْ ذٰلِكَ فِيْ صَلَاتِكَ كُلِّهَا . (۱)

چې کله ته مانځه ته اُودرېږې نو تکبير اُووايه ، بيا چې تاته د قرآن کريم څه حصه آسانه وي هغه اُولوله ، بيا رکوع اوکړه تر دې چې ته په رکوع کې ښه مطمئن شې ، بيا د رُکوع نه سَر راپورته کړه تر دې چې ته ښه برابر اُودرېږې ، بيا سجده اوکړه تر دې چې ته په سجده کې ښه مطمئن شې ، بيا د سجدې نه سَر راپورته کړه تر دې چې ته ښه په اِطمينان کينې ، او دا کار ته په ټول مانځه کې کوه (يعنی ټول مونځ ته همداسې په اِطمينان سره کوه) .

---

(۱) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ الْمَسْجِدَ فَدَخَلَ رَجُلٌ ، فَصَلّٰى ، فَسَلَّمَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فَرَدَّ . وَقَالَ : « ارْجِعْ فَصَلِّ ، فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ » . فَرَجَعَ يُصَلِّيْ كَمَا صَلّٰى ، ثُمَّ جَاءَ ، فَسَلَّمَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فَقَالَ : « ارْجِعْ فَصَلِّ ، فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ » ثَلَاثًا ، فَقَالَ : وَالَّذِيْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا أُحْسِنُ غَيْرَهُ ، فَعَلِّمْنِيْ ، فَقَالَ : « إِذَا قُمْتَ إِلَى الصَّلَاةِ فَكَبِّرْ ، ثُمَّ اقْرَأْ مَا تَيَسَّرَ مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ ، ثُمَّ ارْكَعْ حَتّٰى تَطْمَئِنَّ رَاكِعًا ، ثُمَّ ارْفَعْ حَتّٰى تَعْدِلَ قَائِمًا ، ثُمَّ اسْجُدْ حَتّٰى تَطْمَئِنَّ سَاجِدًا ، ثُمَّ ارْفَعْ حَتّٰى تَطْمَئِنَّ جَالِسًا ، وَافْعَلْ ذٰلِكَ فِيْ صَلَاتِكَ كُلِّهَا » . صحيح البخاري رقم الحديث ۷۵۷ بَابُ وُجُوبِ الْقِرَاءَةِ لِلْإِمَامِ وَالْمَأْمُومِ فِي الصَّلَوَاتِ كُلِّهَا ... و رقم ۷۹۳ بَابُ أَمْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّذِيْ لَا يُتِمُّ رُكُوعَهُ بِالْإِعَادَةِ ، و رقم ۶۲۵۱ ، و رقم ۶۶۶۷ . صحيح مسلم رقم الحديث ۴۵ (۳۹۷) باب : اقْرَأْ مَا تَيَسَّرَ مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ . سنن ابي داؤد رقم الحديث ۸۵۶ ، سنن الترمذي رقم ۳۰۳ ورقم ۲۶۹۲ .

**فائده** : ددې حديث نه دا معلومه شوه چې مونځ ښه په اِطمينان او سُکون سره په کار دی، او که يو سړې داسې زَر زَر مونځ کوي چې د مانځه اَرکان پوره اَداء نشي نو داسې مونځ دوباره کول واجب دي. (۱)

## د يو سوال جواب

**سوال** : دلته ذِهن ته يو سوال راځي چې نبي ﷺ دې کس ته په اول ځل باندې ولې د مانځه صحيح طريقه او نه خوده چې په دريم ځل مونځ کولو نه روستو يې ورته اُوخوده ؟

**اول جواب** : ددې اول جواب دادی چې رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ددې اِنتظار کولو چې په دې کس کې په خپله ددې طلب پيدا شي، او په خپله د صحيح مونځ زده کولو مطالبه اوکړي. ځکه بعضې وخت يو انسان ته د هغه د طلب نه بغير هغه ته تعليم ورکول بېکاره وي ، دغه وجه ده چې کله د دريم ځل نه پس هغه په خپله د صحيح مونځ خودلو مطالبه اوکړه نو بيا پيغمبر عليه السلام ورته د صحيح مونځ کولو طريقه اُوخوده.

**دويم جواب** : دويم جواب دادی چې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم مقصد داؤ چې درې (۳) پېرې مونځ کولو نه پس چې کله ده ته د صحيح مونځ کولو طريقه اُوخودلې شي نو دا به دده په زړه کې په ښه طريقې سره محفوظه شي، او ددې اَهميت به هم ورته معلوم شي. (۲)

## زَر زَر مونځ کوونکې د نبي عليه السلام د دِين او طريقې اِتباع نه کويْ

۱ . په صحيح ابن خزيمه کې داحديث ذکر دی کوم چې د ډيرو صحابه کرامو نه نقل دی حضرت ابوعبدالله الاشعري فرمايي چې يو ځل رسولُ الله صلى الله عليه وسلم صحابه کرامو ته مونځ اوکړو ، بيا د صحابه کرامو د يوې ډلې سره کيناست ، په دې کې يو کس

(۱) معارف الحديث حصه سوم ص ۱۴۵.

(۲) خطبات عثماني ج۱۴ ص ۲۱۱ /. **نوټ** : مولانا يوسف بنوري رحمه الله په معارف السنن ج۳ ص ۱۳۲ کې ددې اِعتراض پنځه جوابونه په پوره تفصيل سره نقل کړي . ابوالشمس عفي عنه

جماعت ته راننوت ، په مانځه اودريد ، په جلتئ سره يې رکوع اوکړه ، او په سجده کې يې ټسې ( د کارغه په شان ) ټونګې اووهلې ، پيغمبر عليه السلام ( په دې ليدلو سره ) صحابه کرامو ته وفرمايل :

أَتَرَوْنَ هٰذَا، مَنْ مَاتَ عَلَى هٰذَا مَاتَ عَلَى غَيْرِ مِلَّةِ مُحَمَّدٍ . يَنْقُرُ صَلَاتَهُ كَمَا يَنْقُرُ الْغُرَابُ الدَّمَ . (۱)

آيا تاسو دا کس ګورئ ؟ ( چې ده په څه طريقې سره مونځ اوکړو ؟ ) څوک چې په داسې حالت کې مړ شي نو دا به د محمد (ﷺ) په طريقه باندې نه مړ کيږي ، دې خو په مانځه کې داسې ټونګې لږوي لکه کارغه چې په وينه کې ټونګې لږوي .

۲ . د بخاري شريف حديث دی ، حضرت حذيفه رضي الله عنه يو کس اوليد چې رکوع او سجده يې صحيح نه کوله ، ده ورته وفرمايل :

مَا صَلَّيْتَ ، وَلَوْ مُتَّ مُتَّ عَلَى غَيْرِ الْفِطْرَةِ الَّتِي فَطَرَ اللهُ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْهَا (۲)

---

(۱) په صحيح ابن خزيمه کې پوره حديث داسې ذکر دی : عَنْ أَبِي عَبْدِ اللهِ الْأَشْعَرِيِّ قَالَ : صَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَصْحَابِهِ ، ثُمَّ جَلَسَ فِي طَائِفَةٍ مِنْهُمْ . فَدَخَلَ رَجُلٌ . فَقَامَ يُصَلِّي . فَجَعَلَ يَرْكَعُ وَيَنْقُرُ فِي سُجُودِهِ . فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « أَتَرَوْنَ هٰذَا، مَنْ مَاتَ عَلَى هٰذَا مَاتَ عَلَى غَيْرِ مِلَّةِ مُحَمَّدٍ . يَنْقُرُ صَلَاتَهُ كَمَا يَنْقُرُ الْغُرَابُ الدَّمَ . إِنَّمَا مَثَلُ الَّذِي يَرْكَعُ وَيَنْقُرُ فِي سُجُودِهِ كَالْجَائِعِ لَا يَأْكُلُ إِلَّا التَّمْرَةَ وَالتَّمْرَتَيْنِ فَمَاذَا تُغْنِيَانِ عَنْهُ . فَأَسْبِغُوا الْوُضُوءَ . وَيْلٌ لِلْأَعْقَابِ مِنَ النَّارِ . أَتِمُّوا الرُّكُوعَ وَالسُّجُودَ » قَالَ أَبُو صَالِحٍ : فَقُلْتُ لِأَبِي عَبْدِ اللهِ الْأَشْعَرِيِّ : مَنْ حَدَّثَكَ بِهٰذَا الْحَدِيثِ ؟ فَقَالَ : أُمَرَاءُ الْأَجْنَادِ : عَمْرُو بْنُ الْعَاصِ ، وَخَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ ، وَيَزِيدُ بْنُ أَبِي سُفْيَانَ ، وَشُرَحْبِيلُ بْنُ حَسَنَةَ رضي الله عنهم . كُلُّ هٰؤُلَاءِ سَمِعُوهُ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . صحيح ابن خزيمه بَابُ إِتْمَامِ السُّجُودِ وَالزَّجْرِ عَنِ انْتِقَاصِهِ رقم الحديث ٦٦٥ ، قال الألباني: إسناده حسن ، المعجم الكبير للطبراني رقم ٣٨٤٠ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ٢٥٧٣ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ٥٢٨ (٧) ، كنز العمال رقم الحديث ٢٠٠٠٩ ، ورقم ٢٥٥٥٢ ، الكبائر للذهبي ص ٢٨ .

(۲) عن زَيْدِ بْنِ وَهْبٍ ، قَالَ : رَأَى حُذَيْفَةُ ﷺ رَجُلًا لَا يُتِمُّ الرُّكُوعَ وَالسُّجُودَ ، قَالَ : « مَا صَلَّيْتَ ، وَلَوْ مُتَّ مُتَّ عَلَى غَيْرِ الْفِطْرَةِ الَّتِي فَطَرَ اللهُ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْهَا » . صحيح البخاري رقم الحديث ٧٩١ بَابُ إِذَا لَمْ يُتِمَّ الرُّكُوعَ . شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ٦١٦ .

تا ( کامل ) مونځ ندې کړی ، که چیرته ته په دې حالت کې مړ شوې نو ته به د هغې طریقې ( او دین ) خِلاف مَړ شې په کومه طریقه باندې چې الله ﷻ ( خپل پیغمبر ) محمّد صلی الله علیه وسلم پیدا کړې وُ . (۱)

۳ . په مُسند احمد کې دا حدیث ذکر دی ، چې یو ځل حضرت حُذیفه رضي الله عنه جمات ته داخل شو ، یو کس یې اُولید چې مونځ یې کول ، خو رُکوع او سجده یې په صحیح طریقې سره نه کوله ، کله چې د مونځ نه فارغ شو حضرت حذیفه رضي الله عنه ورنه پوښتنه اوکړه :

مُنذُ کَمْ هٰذِهٖ صَلَاتُكَ ؟ د څومره زمانې نه ته دغه شان مونځ کوې ؟

هغه ورته وویل :

مُنذُ أَرْبَعِيْنَ سَنَةً . د څلوېښتو (۴۰) کالو نه را په دیخوا زه دغه شان مونځ کوم .

حضرت حذیفه رضي الله عنه ورته وفرمایل :

**مَا صَلَّيْتَ مُنْذُ أَرْبَعِيْنَ سَنَةً وَلَوْ مُتَّ وَهٰذِهٖ صَلَاتُكَ لَمُتَّ عَلٰى غَيْرِ الْفِطْرَةِ الَّتِيْ فُطِرَ عَلَيْهَا مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .** (۲)

---

(۱) ( مَا صَلَّيْتَ ) حقيقة أي الصلاة كاملة . ( عَلٰى غَيْرِ الْفِطْرَةِ ) على خلاف الطريقة التي جاء بها محمد صلى الله عليه وسلم . تعليق مصطفى البغا على البخاري

(۲) عَنْ زَيْدِ بْنِ وَهْبٍ قَالَ: دَخَلَ حُذَيْفَةُ الْمَسْجِدَ فَإِذَا رَجُلٌ يُصَلِّيْ مِمَّا يَلِيْ أَبْوَابَ كِنْدَةَ فَجَعَلَ لَا يُتِمُّ الرُّكُوْعَ وَلَا السُّجُوْدَ . فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ لَهُ حُذَيْفَةُ: « مُنْذُ كَمْ هٰذِهٖ صَلَاتُكَ ؟ » . قَالَ: مُنْذُ أَرْبَعِيْنَ سَنَةً . قَالَ: فَقَالَ لَهُ حُذَيْفَةُ رضي الله عنه : « مَا صَلَّيْتَ مُنْذُ أَرْبَعِيْنَ سَنَةً وَلَوْ مُتَّ وَهٰذِهٖ صَلَاتُكَ مُتَّ عَلٰى غَيْرِ الْفِطْرَةِ الَّتِيْ فُطِرَ عَلَيْهَا مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ » . قَالَ: ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَيْهِ يُعَلِّمُهُ ... مسند احمد ۳۸۰ / ۲۹۲ رقم الحديث ۲۳۲۵۸ حَدِيثُ حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، و رواه النسائي في المجتبى بر ۱۳۱۲ ، وفي الكبرى برقم ۶۱۱ ، وصححه الالباني في صحيح النسائي ۱ / ۴۲۱ .

وفي رواية : رَأَى حُذَيْفَةُ رضي الله عنه رَجُلًا لَا يُتِمُّ الرُّكُوْعَ وَالسُّجُوْدَ قَالَ: مُذْ كَمْ صَلَّيْتَ ؟ قَالَ: مُنْذُ أَرْبَعِيْنَ سَنَةً . قَالَ : " مَا صَلَّيْتَ وَلَوْ مُتَّ مُتَّ عَلٰى غَيْرِ الْفِطْرَةِ . السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۳۹۹۸ بَابُ مَا رُوِيَ فِيْمَنْ يَسْرِقُ مِنْ صَلَاتِهٖ فَلَا يُتِمُّهَا . كنز العمال رقم الحديث ۲۲۵۴۲ ، السنن الكبرى للنسائي رقم ۱۲۳۶ .

تا ګويا د څلويښتو (۴۰) کالو نه راپه ديخوا د سره (کامل او صحيح طريقې سره) مونځ ندې کړی، که چيرته ته مړ شوی او ستا مونځ همدغه شان وي نو ته به د هغې طريقې (او دين) خلاف مړ شې په کومه طريقه چې محمد صلى الله عليه وسلم پيدا شوې وُ

بيا حضرت حُذيفه ﷺ هغه کس ته د مانځه طريقه اوخوده.

## زر زر مونځ کول الله ﷻ ته مقبول ندی

**۱.** د ابن ماجه شريف او ترمذي شريف حديث دی، رسول الله ﷺ فرمايي:

لَا تُجْزِئُ صَلَاةٌ لَا يُقِيمُ الرَّجُلُ فِيهَا صُلْبَهُ فِي الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ
هغه مونځ نه صحيح کيږي په کوم کې چې سړی خپله مَلا په رکوع او سجده کې برابره نه کړي.

**۲.** حضرت ابو هريرة رضي الله عنه د نبي عليه السلام دا حديث رانقل کړی:

إِنَّ الرَّجُلَ لَيُصَلِّي سِتِّينَ سَنَةً مَا تُقْبَلُ لَهُ صَلَاةٌ. لَعَلَّهُ يُتِمُّ الرُّكُوعَ وَلَا يُتِمُّ السُّجُودَ. وَيُتِمُّ السُّجُودَ وَلَا يُتِمُّ الرُّكُوعَ. (۲)

---

(۱) سنن ابن ماجه رقم الحديث ۸۷۰ بَابُ الرُّكُوعِ فِي الصَّلَاةِ. سنن الترمذي رقم الحديث ۲۶۵ بَابُ مَا جَاءَ فِيمَنْ لَا يُقِيمُ صُلْبَهُ فِي الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ، سنن النسائي رقم الحديث ۱۰۲۷، ورقم ۱۱۱۱، صحيح ابن خزيمة رقم ۶۶۶، صحيح ابن حبان رقم ۱۸۹۲، شرح السنة للبغوي رقم ۶۱۷، كنز العمال رقم الحديث ۱۹۷۳۷، الكبائر للذهبي ص ۲۷.
وفي رواية: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « لَا يَنْظُرُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ إِلَى صَلَاةِ عَبْدٍ لَا يُقِيمُ فِيهَا صُلْبَهُ بَيْنَ رُكُوعِهَا وَسُجُودِهَا ». مسند احمد ۲۶/۲۱۱ رقم الحديث ۱۶۲۸۳ حَدِيثُ عَلِيِّ بْنِ عَلِيٍّ. المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۸۲۶۱، وقال الالباني في صحيح الترغيب والترهيب ۱/۳۶۴: هذا حديث حسن صحيح.
وفي رواية: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « لَا يَنْظُرُ اللهُ إِلَى صَلَاةِ رَجُلٍ لَا يُقِيمُ صُلْبَهُ بَيْنَ رُكُوعِهِ وَسُجُودِهِ ». مسند احمد ۱۶/۳۶۶ رقم الحديث ۱۰۷۹۹ وحسنه محققو مسند احمد.

(۲) صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۵۲۹ (۸) الترهيب من عدم إتمام الركوع والسجود وإقامة الصلب بينهما. وحسنه الالباني في سلسلة الاحاديث الصحيحة ج۶ ص ۸۱ رقم ۲۵۳۵، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۲۹۶۳ فِي الرَّجُلِ يَنْقُصُ صَلَاتَهُ وَمَا ذُكِرَ فِيهِ وَكَيْفَ يَصْنَعُ.

بيشکه يو سړی به شپيته (۶۰) کاله مونځونه کوي خو ليکن دده يو مونځ به هم نشي قبلولی، ځکه که دی رکوع پوره صحيح أداء کوي نو سجده به صحيح نه کوي، او که سجده صحيح کوي نو رکوع به صحيح نه کوي.

## د مونځ دعا او ښېرې

۱. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: څوک چې مونځونه په خپل وخت باندې أداء کړي، ددې د پاره په ښه شان سره أودس اوکړي، ددې ولاړه رکوع او سجده هم په خُشوع او صحيح طريقې سره اوکړي، نو دا مونځ رُوښانه ځليدونکې جوړ شي، او ددې مونځ گُزار د پاره دا دُعا کوي: حَفِظَكَ اللهُ كَمَا حَفِظْتَنِيْ.

الله تعالی دې ستا داسې حفاظت اوکړي څنگه چې تا زما حفاظت اوکړو.

او څوک چې بې وَخته مونځ اوکړي، ددې د پاره أودس هم په صحيح طريقې سره اونکړي، ددې د خُشوع، رکوع او سجدې لحاظ هم او نه ساتي نو دغه مونځ تَک تور بَدشکله جوړ شي او ده ته دا ښېرې کوي: ضَيَّعَكَ اللهُ كَمَا ضَيَّعْتَنِيْ.

الله تعالی دې تا داسې ضائِع (او بَرباد) کړي لکه څرنگې چې تا زه ضائع کړم.

بيا چې الله ﷻ اوغواړي نو دا مونځ داسې راغونډ کړې شي لکه څرنگې زړې جامې راغونډولې شي، ثُمَّ ضُرِبَ بِهَا وَجْهُهُ. (۱)

---

(۱) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « مَنْ صَلَّى الصَّلَاةَ لِوَقْتِهَا، وَأَسْبَغَ لَهَا وُضُوْءَهَا، وَأَتَمَّ لَهَا قِيَامَهَا وَخُشُوْعَهَا وَرُكُوْعَهَا وَسُجُوْدَهَا خَرَجَتْ وَهِيَ بَيْضَاءُ مُسْفِرَةٌ، تَقُوْلُ: حَفِظَكَ اللهُ كَمَا حَفِظْتَنِيْ. وَمَنْ صَلَّى الصَّلَاةَ لِغَيْرِ وَقْتِهَا فَلَمْ يُسْبِغْ لَهَا وُضُوْءَهَا، وَلَمْ يُتِمَّ لَهَا خُشُوْعَهَا وَلَا رُكُوْعَهَا وَلَا سُجُوْدَهَا خَرَجَتْ وَهِيَ سَوْدَاءُ مُظْلِمَةٌ، تَقُوْلُ: ضَيَّعَكَ اللهُ كَمَا ضَيَّعْتَنِيْ، حَتَّى إِذَا كَانَتْ حَيْثُ شَاءَ اللهُ لُفَّتْ كَمَا يُلَفُّ الثَّوْبُ الْخَلَقُ، ثُمَّ ضُرِبَ بِهَا وَجْهُهُ» المعجم الأوسط للطبراني رقم الحديث ۳۰۹۵ مَنِ اسْمُهُ بَكْرٌ، مجمع الزوائد ومنبع الفوائد رقم الحديث بَابٌ فِي الْمُحَافَظَةِ عَلَى الصَّلَاةِ لِوَقْتِهَا، و رواه السيوطي في الدر المنثور ۱/۱۹۵، والزبيدي في الاتحاف ۳/۱۰۹، والهندي في الكنز رقم ۱۹۰۵۲، وكذا في الترغيب و عزاه في المنتخب الى البيهقي في الشعب، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۵۲ ثواب الصلاة في اول وقتها.

بيا په دې باندې ددې مونځ ګزار مَخ اوويشتلې شي.

٢. په يو بل روايت کې دا حديث په دې الفاظو ذکر دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: څوک چې په صحيح طريقې سره اَودس اوکړي، بيا پاځي مونځ اوکړي، ددې رُکوع، سجده او قِرأة په صحيح طريقې سره اَداء کړي نو مونځ ورته دا دُعا کوي:

حَفِظَكَ اللّٰهُ كَمَا حَفِظْتَنِيْ.

الله تعالى دې ستا داسې حفاظت اوکړي څنګه چې تا زما حفاظت اوکړو.

بيا دا مونځ په داسې حالت کې آسمان ته پورته کړې شي چې ددې د پاره رَڼا او نُور وي، ديته د آسمان دَروازې کلاؤ کړې شي، حَتّٰى تَنْتَهِيَ بِهَا إِلَى اللّٰهِ فَتَشْفَعُ لِصَاحِبِهَا.

تر دې پورې چې دا مونځ الله ﷻ ته اُورسيږي، او دا د خپل مونځ ګزار د پاره (د الله ﷻ د وړاندې) شفاعت کوي.

او چې کله د مونځ رُکوع، سجده او قِرأة صحيح طريقې سره اَداء نه کړې شي نو دا مونځ ده ته دا خبرې کوي: ضَيَّعَكَ اللّٰهُ كَمَا ضَيَّعْتَنِيْ.

الله تعالى دې تا داسې ضائع کړي لکه څرنګې چې تا زه ضائع کړم.

بيا دا مونځ په داسې حالت کې آسمان طرف ته پورته کړې شي چې په دې باندې ظُلمت او تياره وي، پس ده ته د آسمان دَروازې بَندې کړې شي،

ثُمَّ تُلَفُّ كَمَا يُلَفُّ الثَّوْبُ الْخَلَقُ فَضُرِبَ بِهَا وَجْهُ صَاحِبِهَا. (١)

---

(١) عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ تَوَضَّأَ فَأَبْلَغَ الْوُضُوْءَ، ثُمَّ قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ فَأَتَمَّ رُكُوْعَهَا، وَسُجُوْدَهَا، وَالْقِرَاءَةَ فِيْهَا. قَالَتِ الصَّلَاةُ: حَفِظَكَ اللّٰهُ كَمَا حَفِظْتَنِيْ. ثُمَّ صُعِدَ بِهَا إِلَى السَّمَاءِ وَلَهَا ضَوْءٌ وَنُوْرٌ فَفُتِحَتْ لَهَا أَبْوَابُ السَّمَاءِ حَتّٰى تَنْتَهِيَ بِهَا إِلَى اللّٰهِ فَتَشْفَعُ لِصَاحِبِهَا، وَإِذَا لَمْ يُتِمَّ رُكُوْعَهَا، وَلَاسُجُوْدَهَا، وَلَا الْقِرَاءَةَ فِيْهَا قَالَتْ: ضَيَّعَكَ اللّٰهُ كَمَا ضَيَّعْتَنِيْ. ثُمَّ صُعِدَ بِهَا إِلَى السَّمَاءِ وَعَلَيْهَا ظُلْمَةٌ فَغُلِّقَتْ دُوْنَهَا أَبْوَابُ السَّمَاءِ ثُمَّ تُلَفُّ كَمَا يُلَفُّ الثَّوْبُ الْخَلَقُ فَضُرِبَ بِهَا وَجْهُ صَاحِبِهَا ". شعب الايمان رقم الحديث ٢٨٧١ تحسين الصلاة والاكثار منها ... ، كنز العمال رقم الحديث ١٩٠٥٣، الترغيب في فضائل الاعمال وثواب ذلک لابن شاهين رقم الحديث ٤٢، تنبيه الغافلين، ومثل هذا في سنن ابي داؤد الطيالسي رقم الحديث ٥٨٦.

بيا دا مونځ داسې راغونډ کړې شي لکه څرنګې چې زړې جامې راغونډولې شي ، او دا ددې مونځ ګزار په مخ وَر او ويشتلې شي .

## بَدترين غل هغه دی چې د مانځه نه غلا کوي

په مسنداحمد او مشکوة شريف کې دا حديث ذکر دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : أَسْوَأُ النَّاسِ سَرِقَةً الَّذِي يَسْرِقُ مِنْ صَلَاتِهِ .

په خلقو کې بَدترين غَل هغه دی چې د مونځ نه غلا کوي .

صحابه کرامو ورته وفرمايل : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! وَكَيْفَ يَسْرِقُ مِنْ صَلَاتِهِ ؟

اې د الله رسوله ! دې د مانځه نه څنګه غلا کوي ؟

نبي عليه السلام ورته وفرمايل : لَا يُتِمُّ رُكُوْعَهَا وَلَا سُجُوْدَهَا . (۱)

( د مانځه نه غلا داده چې ) دې د مونځ رکوع او سجده پوره ( صحيح طريقې سره ) نه اَداء کوي .

## زَر زَر مونځ کوونکې ګويا د الله ﷻ سره مُناجات نه خوَښوي

مونځ دَر حقيقت د الله ﷻ سره مُناجات او د راز و نِياز خبرې کول دي ، د بخاري شريف حديث دی رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

---

(۱) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي قَتَادَةَ ، عَنْ أَبِيْهِ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « أَسْوَأُ النَّاسِ سَرِقَةً الَّذِي يَسْرِقُ مِنْ صَلَاتِهِ » . قَالُوْا : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! وَكَيْفَ يَسْرِقُ مِنْ صَلَاتِهِ ؟ قَالَ : « لَا يُتِمُّ رُكُوْعَهَا وَلَا سُجُوْدَهَا » أَوْ قَالَ : « لَا يُقِيْمُ صُلْبَهُ فِي الرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ » . هذا حديث حسن صحيح . مسند احمد رقم الحديث ۲۲۶۴۲ حَدِيثُ أَبِي قَتَادَةَ الْأَنْصَارِيِّ ، و رقم ۱۱۵۳۲ مُسْنَدُ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ . صحيح ابن خزيمة رقم الحديث ۶۶۳ ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ۱۸۸۸ ، مشكوة المصابيح باب الركوع الفصل الثالث رقم الحديث ۸۸۵ ( ۱۸ ) ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۳۹۹۶ ، مسند ابي داؤد الطيالسي رقم الحديث ۲۳۳۳ ، كنز العمال رقم الحديث ۱۹۷۳۳ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۵۲۴ ( ۳ ) ، وصححه الالباني لغيره ، و صححه محققو مسند الامام احمد ۳۷ / ۳۱۹ .

إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا صَلَّى يُنَاجِي رَبَّهُ... (۱)

بیشکه کله چې په تاسو کې یو کس مانځه ته اودریږي نو یقیناً چې دې د خپل رَب سره مُناجات کوي.

اوس چې یو کس د مانځه نه هسې ځان خلاصوي او زَر زَر يې کوي نو ددې مطلب خو دادی چې دا کس د الله ﷻ سره د راز و نیاز او هَمکلامی سعادت حاصلول نه غواړي ، دا خو یقیني په خپل ځان باندې ظُلم کوونکې دی.

لهذا انسان ته په ډیر اطمینان او اَدب سره مونځ کول په کار دي.

## مونځ د نبي علیه السلام د سُنتو موافِق کول په کار دی

هغه مونځ د الله ﷻ په نزد مقبول او معتبر دی چې هغه د نبي علیه السلام د سُنتو موافق وي : په قِیام، قِرأت، رُکوع، سجده وغیره کې چې د پیغمبر علیه السلام نه کومه طریقه نقل شوی په هماغه طریقې سره مونځ کول په کار دي ، په مونځ کې د ځان نه کمې یا زیاتې کول ندي په کار. رسولُ الله صلی الله علیه وسلم هم صحابه کرامو ته فرمایلي وو :

صَلُّوا كَمَا رَأَيْتُمُونِي أُصَلِّي . (۲)

تاسو داسې مونځ کوئ لکه ځرنګې چې تاسو زه په مانځه کولو اُولیدم.

دغه وجه ده چې صحابه کرامو به ددې خبرې ډیر اِهتمام کولو چې د نبي علیه السلام د مانځه طریقه زده کړي ، او نورو ته یې هم اُورسوي.

حضرت عُمر ، حضرت عثمان ، او حضرت علي رضي الله عنهم دوی د نیمې دُنیا نه په زیاته حِصه حکومت کړې وُ ، دوی به چې چیرته لاړل د هغه ځای خلقو ته به یې د نبي علیه السلام د مانځه طریقه خوده ، خلقو ته به یې وویل :

راشئ چې تاسو ته د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم د مانځه طریقه اُوښایم.

---

(۱) صحیح البخاري بَابٌ: اَلْمُصَلِّي يُنَاجِي رَبَّهُ عَزَّ وَجَلَّ رقم ۵۳۱ ، و رقم ۴۰۵ بَابُ حَكِّ الْبُزَاقِ بِالْيَدِ مِنَ الْمَسْجِدِ ، و رقم ۴۱۳ ، صحیح مسلم رقم ۵۴ (۵۵۱) باب النهي عن البصاق في الصلاة وغيرها ، مسند ابي داؤد الطيالسي رقم ۲۰۸۶ ، مشكوة المصابيح باب القراءة في الصلاة الفصل الثاني رقم الحديث ۸۵۶ (۳۵) ، و رقم ۷۴۶ (۵۸).

(۲) مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. مشكوة المصابيح رقم الحديث ۶۸۳ (۴) بَابُ تَأْخِيرِ الْأَذَانِ الفصل الاول.

بيا به يې په خپله د نبي ﷺ په طريقه مونځ اوکړو ، او دوی ته به يې اوخودو .
حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه خپلو شاګردانو ته وفرمايل :
أَلَا أُصَلِّيْ لَكُمْ صَلَاةَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ؟ (۱)
آيا زه تاسو ته د رسول الله ﷺ د مانځه په شان مونځ اوکړم ؟ (بيا به يې ورته صحيح طريقه اوخوده) .

## د غونډ تقرير خلاصه

د غونډ تقرير خلاصه دا راووته چې په قرآن کريم او احاديثو کې په خُشوع سره د مونځ کولو ډير اَهميت او فضيلت بيان شوی ، خُشوع د مونځ رُوح ګرځول شوی ، په خُشوع سره مونځ کوونکي ته الله ﷻ متوَجِه کيږي ، ګناهونه يې معاف کيږي ، جنت ورته نصيبه کيږي ، د الله ﷻ محبوب جوړيږي ، د قيامت په ورځ د الله رب العزت د وړاندې اُودريدل ورته آسانيږي .

او چې څوک زر زر مونځ کوي نو د هغوی د پاره سخت وعيدونه ذکر شوي ، او داسې خلقو ته د مونځ پوره ثواب نه ملاويږي .

## دُعا

الله تعالی دې مونږ ټولو ته په خُشوع ، عاجزۍ او اِخلاص سره د مونځ کولو توفيق رانصيبه کړي . آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن . وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ .

---

(۱) عَنْ سَالِمٍ الْبَرَّاد قَالَ: قَالَ لَنَا أَبُوْ مَسْعُوْدٍ الْبَدْرِيُّ : أَلَا أُصَلِّيْ لَكُمْ صَلَاةَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ؟ قَالَ : " فَكَبَّرَ . فَرَكَعَ . فَوَضَعَ كَفَّيْهِ عَلَى رُكْبَتَيْهِ ، وَفُصِلَتْ أَصَابِعُهُ عَلَى سَاقَيْهِ . وَجَافَى عَنْ إِبْطَيْهِ حَتَّى اسْتَقَرَّ كُلُّ شَيْءٍ مِنْهُ . ثُمَّ قَالَ: سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ . فَاسْتَوَى قَائِمًا حَتَّى اسْتَقَرَّ كُلُّ شَيْءٍ مِنْهُ . ثُمَّ كَبَّرَ . وَسَجَدَ . وَجَافَى عَنْ إِبْطَيْهِ حَتَّى اسْتَقَرَّ كُلُّ شَيْءٍ مِنْهُ . ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ . فَاسْتَوَى جَالِسًا حَتَّى اسْتَقَرَّ كُلُّ شَيْءٍ مِنْهُ . ثُمَّ سَجَدَ الثَّانِيَةَ " . فَصَلَّى بِنَا أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ هٰكَذَا . ثُمَّ قَالَ : هٰكَذَا كَانَتْ صَلَاةُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . أَوْ قَالَ : هٰكَذَا رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى . مسند احمد رقم الحديث ۱۷۰۷۶ .

# د مونځ معنٰی

نوټ: مخکې دا خبره تېره شوه چې په مانځه کې د خُشوع پيدا کولو د پاره يو سبب دا هم دی چې انسان د مانځه کوم الفاظ يا دُعاګانې وايي دې به د دې په معنٰی کې تَدَبُّر کوي نو په دې سره به په خپله د ده په مانځه کې خُشوع پيدا کيږي.

خو د دې د پاره دا ضروري ده چې انسان ته به د مانځه د الفاظو معنٰی ياده وي، په همدې خاطر درته د ټول مونځ معنٰی ذکر کوم:

## تکبير

اَللّٰهُ اَكْبَرُ. الله ډير لوي دی.

## ثناء

سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالٰى جَدُّكَ وَلَآ إِلٰهَ غَيْرُكَ.

پاکي ده تا لره اې الله! او ثناء ده تا لره (يعنی مونږ ستا پاکي بيانوو، او ستا تعريف کوو)، او مُبارک دی نوم ستا، او اُوچت دی شان ستا، او نشته دی لائق د عبادت بَغير د تا نه.

## تعوذ

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ.

زه پَناه غواړم په الله ﷻ سره د شيطان رَټلي شوي نه.

## تسميه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ.

شروع کوم په نامه د الله ﷻ چې ډير مهربان او زيات رَحم کوونکې دی.

## سورة فاتحه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ① الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ② مٰلِكِ یَوْمِ الدِّیْنِ ③ اِیَّاكَ نَعْبُدُ وَاِیَّاكَ نَسْتَعِیْنُ ④ اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِیْمَ ⑤ صِرَاطَ الَّذِیْنَ اَنْعَمْتَ عَلَیْهِمْ غَیْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَیْهِمْ وَلَا الضَّآلِّیْنَ ⑦

ټول تعريفونه الله لره دي (کوم چې) پالونکې د (ټولو) مخلوقاتو (دی). ډير مهربانه زيات رحم کوونکې (دی). مالِک د ورځې د قيامت (دی). (اې الله!) مونږ خاص ستا عبادت کوو، او هم تانه مدد غواړو. اُوښايه مونږ ته نېغه لاره. لار د هغه خلقو چې تا انعام کړې په هغوی باندې، نه (لار د هغه خلقو) چې غضب کړې شوې دی په هغوی باندې، او نه (لار) د گمراهانو.

## سورة اِخلاص

قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ① اَللّٰهُ الصَّمَدُ ② لَمْ یَلِدْ وَلَمْ یُوْلَدْ ③ وَلَمْ یَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ④

(اې پيغمبره!) ته ورته اُووايه: هغه الله ايک يَو دی. الله بې نيازه دی (چا ته هيڅ ضرورت نه لري). نه الله اولاد زيږولې دی، او نه دې زيږولې شوې دی (يعنی نه د الله ﷻ نه څوک پيدا دي، او نه دې د چا نه پيدا دی). او نشته دده سره برابر هيڅوک.

## تکبير

اَللّٰهُ اَكْبَرُ. الله ډير لوي دی.

## د رُکوع تسبيحات

سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمِ. پاکي ده رَب زما لره چې ډير لوي دی.

## قومه

سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ ، رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ ،

الله ﷻ د هغه چا آوري (يعنې قبلوي يې) څوک چې دده ثناء وايي. اې ربه زمونږه! تا لره ثناء ده.

## تکبير

اَللّٰهُ اَكْبَرُ ، . الله دير لوي دی.

## د سجدې تسبيحات

سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلٰى. پاکي ده رَب زما لره چې دير اُوچت شان واله دی.

## تشهد (اَلتحيات)

اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوٰاتُ وَالطَّيِّبَاتُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَ رَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ ، اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِيْنَ ، أَشْهَدُ أَنْ لَّآ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ، .

ټول قولي، بَدني، او مالي عبادتونه خاص الله ﷻ لره دي، سلام دې وي په تاسو باندې اې پيغمبره، او د الله ﷻ رَحمتونه او برکتونه دې وي (په تاسو باندې)، سلام دې وي په مونږ باندې او د الله ﷻ په نيکانو بندګانو باندې، زه دا ګواهي ورکوم چې نشته دې لائق د عبادت مګر صِرف يو الله ﷻ دی، او زه دا ګواهي ورکوم چې محمّد صلی الله عليه وسلم د الله ﷻ بَنده او د هغه رسول دی.

## درود شریف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى إِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى آلِ إِبْرَاهِيْمَ إِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ . اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى إِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى آلِ إِبْرَاهِيْمَ إِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ .

اې الله ! رَحمت را اُولیږه په محمد صلی الله علیه وسلم او په اَولاد د محمّد صلی الله علیه وسلم باندی، لکه څرنګې چې تا رَحمت رالیږلې وُ په حضرت اِبراهیم علیه السلام او په اَولاد د حضرت ابراهیم علیه السلام باندې ، بیشکه ته ستائِلې شوې ( د تعریف لائِق ) او بزرګۍ واله یې. اې الله ! ته برکت را اُولیږه په محمد صلی الله علیه وسلم او په اَولاد د محمد ﷺ باندې ، لکه څرنګې چې تا برکت رالیږلې وُ په حضرت اِبراهیم علیه السلام او اَولاد د اِبراهیم علیه السلام باندې ، بیشکه ته ستائِلې شوی او لویۍ واله یې.

## د درود شریف نه پس دُعا

اَللّٰهُمَّ رَبَّنَآ اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ .

اې ربه زمونږه ! راکړې مونږ ته په دُنیا کې توفیق د نیکۍ ، او په آخرت کې ثواب د نیکۍ ، او مونږ اُوساتی د عذاب د اُور نه.

## سلام

اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ .

سلام دې وي په تاسو باندې ، او د الله جلّ جلاله رَحمت دې وي ( په تاسو باندې ).

## دُعائې قنوت

د ماسخوتن په وِتر واجبو کې په دریم رکعت کې د اَلحمدُ او سورة ویلو نه پس دا دُعائې قُنوت ویلې شي.

اَللّٰهُمَّ إِنَّا نَسْتَعِيْنُكَ وَنَسْتَغْفِرُكَ ، وَنُؤْمِنُ بِكَ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْكَ وَنُثْنِيْ عَلَيْكَ الْخَيْرَ ، وَنَشْكُرُكَ وَلَا نَكْفُرُكَ وَنَخْلَعُ وَنَتْرُكُ مَنْ يَّفْجُرُكَ ، اَللّٰهُمَّ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَلَكَ نُصَلِّيْ وَنَسْجُدُ وَإِلَيْكَ نَسْعٰى وَنَحْفِدُ وَنَرْجُوْ رَحْمَتَكَ وَنَخْشٰى عَذَابَكَ إِنَّ عَذَابَكَ بِالْكُفَّارِ مُلْحِقٌ ، .

اې الله ! مونږ صِرف هم تا نه مدد غواړو ، او هم تانه طلب د بخَنې کوو ، او په تا باندې اِيمان لرو ، او په تا باندې توکّل ( اِعتماد ) کوو ، او مونږ ستا ښه ثناء وايو (يعنی ستا ښه تعريف کوو ) ، مونږ ستا شکريه اَداء کوو ، او ستا ناشکري نه کوو ، او مونږ جُدا کيږو او پرېږدو هر هغه کس چې څوک ستا نافرماني کوي ، اې الله ! مونږ خاص ستا عبادت کوو ، او خاص ستا د پاره مونځ کوو ، او خاص ستا طرف ته په مَنډه ( او جَلتی ) درځو ، او ستا د دِين خدمت کوو ، او مونږ ستا د رَحمت اُميد ساتو ، او ستا د عذاب نه وِيرېږو ، بيشکه ستا عذاب د کافرانو پورې پيوسته دی ( يعنی دوی ته رسيدونکې دی ) .

**نوټ** : د مانځه د مختلفو موضوعاتو متعلق ضروري فِقهي مسائِل او نور اَهم بَحثونه په اَتم (۸) جِلد کې ذِکر دي .

**ابوالشمس عفي عنه**

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د خوشحالۍ خبر

کله مې چې ددې اووم جلد په ليکلو شروع اوکړه نو اراده مې دا وه چې ددې په غبرګ کې به ټولو هغه موضوع ګانو ته ځای ورکوم د کومو تذکره مې چې د شپږم جلد په آخر کې کړې وه . ليکن د مانځه دا موضوع مې دومره په تفصيل سره اوليکله چې ددې فقهي مسائل او څه نور ضروري بحثونه هم پاتې شو ، اِنْ شَاءَ الله په راتلونکي آتم ( ۸ ) جلد کې به دا باقي پاتې حصه ، د روژې او نورو اَهمو موضوع ګانو باندې همدغه شان تفصيلي ليکنه کوم ، که په خپلو دُعاګانو کې مو زه هم شامل کړم او د يو څو راغلي امتحاناتو نه اووتم نو اِنْ شَاءَ الله ډير زر به آتم (۸) جلد هم ستاسو درانه حضور ته تقديم کړې شي، او د هر ممبر و محراب زينَت به اوګرځي .

## د الله ﷻ په توفيق سره به دا سلسله همداسې جاري وي .

ځکه تر اوسه ډيرې اَهمې موضوع ګانې د ليکلو نه پاتې دي .

**د بعضې مؤلفينو د کتابونو مقبوليت :** په دې کې هيڅ شک نشته چې په دې دوَر کې د تاليف په ميدان کې بعضې داسې شاه سَواران هم شته چې هغوی د تاليف په تار کې داسې قيمتي ملغلرې پائللې دي چې په ليدو يې انسان ګوته په خُله حيران پاتې کيږي ، ځکه دوی د کتاب مضامينو ته دومره په ښُکلي آنداز باندې ترتيب ورکړی ګويا چې دا د هارُونو يوه لړَی ده ،

د اِظْهَارُ مَافِي الضَّمِيْر او مقصود اَداء کولو د پاره يې د الفاظو داسې جوړښت او قالب برابر کړی لکه زَرګر چې سره زَر په قالب کې برابر وي .

الله ﷻ په خپل خصوصي فضل و اِحسان سره د دوی کتابونو ته دومره مقبوليت ورکړی چې د دوی د نوي کتابونو د ليکلو نه مخکې مخکې په زَرهاوُ اهلِ علم د دوی

د کتابونو داسې انتظار کوي لکه خلق چې د اختر د راتلو انتظار کوي.
او د دوی کتابونو ته داسې په شوق کې وي لکه تږی کس چې اوبو څکلو ته په شوق کې وي ،
بیا چې د دوی کتابونه چاپ شي نو په لږ وخت کې دومره زر خواره شي لکه په ځنګل کې چې اور زر خوریږي.
شائقین یې د چاپ کیدو خبر داسې زیرې ګڼري لکه د ډیرو لورانو نه پس د خوي زیری.
د مکتبو نه یې دومره زر پورته کوي لکه باز چې په تیزۍ سره ښکار پورته کوي.
د اخیستلو او لیدلو نه پس ورته دومره خوشحاله وي چې د ډیرې خوشحالی نه په خپلو جامو کې نه ځائیږي.
په بار بار کتلو سره یې سترګې داسې نه مړیږي لکه مسلمان چې د کعبې په لیدلو، یا لکه حریص چې په مال او عُمر نه مړیږي.
بیا یې داسې په خوَند او شوق مطالعه کوي چې خپلې سترګې او تَتَر پرې یَخوي، خپله سینه پرې باغ باغ کوي، خپله علمي تنده پرې ماتوي، او د محسوسوي چې: یقیني مؤلِف ددې په ترتیب کولو کې د غټ اِخلاص او لِلّٰهیت نه کار اخیستی، ډیرې شپې یې رُونړې کړي، ډیر راحتونه یې قربان کړي، او د بې شماره قدیم و جدید کتابونو خُلاصه او نچوړ یې راجَمع کړی.
د مطالعې نه پس دا خلق سَمدستي د ټیلفون په ذریعه د مؤلِف نه د راتلونکي جِلد داسې کلکه پوښتنه او مطالبه کوي لکه صاحبِ حَق چې د خپل حَق کلکه مطالبه کوي.
الله تعالی دې زما د عاجز بنده (ابوالشمس) دا کتابونه هم همدغه شان مقبول کړي، ربِ کریم دې دا د خپلې رضا ذریعه اوګرځوي، او خالقِ کائنات دې دا کتابونه د معاشرې د اِصلاح سبَب اوګرځوي. آمِیْن یَارَبَّ الْعَالَمِیْن.

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ

په خپلو مقبولو دُعاګانو کې مو مه هېروئ.

ستاسو ورور: ابوالشمس نورالهدی عفی عنه

**نوټ:** که د کتاب متعلق یا بله څه مفیده مشوره وي نو مُؤلِف سره په دې نمبر رابطه کولې شي. موبائل نمبر: ۰۳۰۶ ۵۴۴۷۱۷۴

# د استاذ محترم د بعضې کتابونو تذکره

فَضِیلَةُ الشَّیخ، اُستاذِي و اُستاذُ العُلَمَاء **مولانا عبدالباقي حقاني صاحب** دَامَت بَرَکَاتُهُمُ العَالِیَة د دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک د سیاسي علومو اُستاذ ډیر بهترین کتابونه لیکلي دي چې د اهلِ علمو د پاره ډیر ضروري او فائده مند دي، د یو څو کتابونو نمونه یې درته ذکر کوم:

❶ "**د اسلام سیاسي او اداري نظام**" دا کتاب د اسلامي سیاست په موضوع باندې جامع او مُفصّل کتاب دی، په دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک کې یې مولانا صاحب په خپله د دَورهٔ حدیث، موقوف علیه، او نورو دَرجو طالبانو ته ددې دَرس هم ورکوي، دا کتاب مختلفو ژبو ته ترجمه شوی او چاپ شوی:

په اُردو کې د "**اسلام کا نظامِ سیاست وحکومت**" په نوم چاپ شوی،

په فارسي کې د "**نظامِ سیاسي واداري اسلام**" په نوم چاپ شوی،

او په عربي کې د "**اَلسِّیَاسَةُ وَالإِدَارَةُ فِي الإِسْلَامِ**" په نوم چاپ شوی.

❷ "**په اسلام کې د راز د ساتنې اَهمیت او حفاظت**" دا کتاب د راز د ساتنې په موضوع باندې ډیر بهترین کتاب دی، دا کتاب هم پښتو، اُردو، فارسي او عربي ته ترجمه شوی، او چاپ شوی.

❸ "**د اسلامي حاکمانو اَخلاق او صفات**" دا کتاب هم په پښتو، اُردو، او فارسي کې چاپ شوی.

❹ "**په اسلام کې د بَندیانو او توقیف شویو تُورَنو حقوق او اَحکام**" په دې کتاب کې د بَندیانو (قیدیانو) حقوق او احکام پوره په تفصیل سره ذکر شوي.

دا ټول کتابونه د اهلِ علمو د پاره ډیر ضروري دي، دا د پاکستان او افغانستان د هرې علمي مکتبې نه لاس ته راورلې شئ. ابوالشمس عفي عنه





# مکتبه عزازیه

جاده میوند پخته فروشی کابل: 0764857797